ګلدسته

د

عبدالقادر خان خټک

(د ګلستان پښتو ژباړه)

دافغانستان دعلومو اکاډمي
دپښتو څېړنو نړیوال مرکز

د محقق سید محی الدین هاشمي په زیار

دعبدالقادرخان ختتك دګلدستې ددرې سومې کالیزې
دنمانځنې دعلمي څیړنیز سیمینار په ویاړ

ګلدسته

د

عبدالقادر خان ختټک

دسعدي (رح) دګلستان پښتو ژباړه

دافغانستان دعلومو اکاډمي
دپښتو څیړنو نړیوال مرکز
دتالیف او ترجمې څانګه

PROPERTY OF ACKU
14048

دمحقق سیدمحی الدین هاشمي په زیار

دکتاب پېژندنه :

دکتاب نوم:	ګلدسته (دګلستان پښتو ژباړه)
ژباړن :	عبدالقادرخان خټک
مهتمم:	محقق سید محی الدین هاشمي
خپروونکی:	دافغانستان دعلومو اکاډمي دخپرونو ریاست دپښتو څېړنو نړیوال مرکز
کمپوز او ډیزاین:	عبداللطیف " احمدي"
دچاپ نوبت:	څلورم
دچاپ کال:	۱۳۸۳ لمریز هجري
دچاپ شمېر:	(۱۰۰۰)
دچاپ ځای:	آزادی مطبعه، کابل- افغانستان

لړليك

سرليك		مخونه
پيشگفتار	معاون سرمحقق عبدالباری راشد	الف_ج
سريزه	سرمحقق نعمت الله اندړ	د-ح
دعبدالقادرخان ختك ژوند ...	محقق سيدمحی‌الدين هاشمي لومړی- څلورڅلويښتم	
مقدمه:	ډاكترعظيم شاه خيال بخاري	۱-۶۲
دګلدستې متن		۶۳-۴۱۲
ديباچه		۶۳
اول باب:	په بيان د خوی‌خصلت دبادشاهانو	۸۸-۱۵۸
دويم باب:	په بيان د خوی‌خصلت ددرويشانو	۱۵۹-۲۱۶
دريیم باب:	په بيان دقناعت	۲۱۷-۲۵۸
څلورم باب:	په بيان دخاموشۍ	۲۵۹-۲۶۹
پنځم باب:	په بيان دعشق او ځوانۍ	۲۷۰-۳۱۰
شپږم باب:	په بيان دضعف د پيرۍ	۳۱۱-۳۲۱
اووم باب:	په بيان دتاثير دتربيت	۳۲۲-۳۵۸
اتم باب:	په بيان دادبونو دصحبت	۳۵۹-۴۱۲

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

پیشگفتار

داکتاب چې ګلدسته دګلستان دی

ګل چیني کا عبدالقادر ختټ

مرحوم عبدالقادر ختټ شاعر پارسا و عاشق راه خدا(ج) و معنویت که میسراید:

لکه زه په یار مفتون یم بل به نه وي مفتون هسې
لکه زه پسې محزون یم بل به نه وی محزون هسې

او ابر مردیست متفکر که درنظام هستی، عالیترین ارج را به امر تفکر که اساس همهٔ آگاهیها، شناخت ها، اختراعات، اکتشافات و ابتکارات عجیب و غریب بشریست میدهد، وبرای شناختن هرچه دقیقتر هستیو خالق هستی همیشه سر بجیب تفکر است.

او عینک زانوی خودرا که متکای درب ورودی دستگاه تفکر است،جام جهان نمای خویش میخواند و درست میگوید:

آئینه د خپل زنګون وماته جام جهان نما شوه
ځکه سر لرم تل ایښی دفکرت په زنګون هسې

آری! گلدسته، گلچین گلستان سعدی رحمة الله علیه، شاهکاریست_ ادبی، علمیو عرفانی، بقلم توانای عبدالقادر ختټ فرزند شاعرنامدار زبان سوچهٔ پښتو خوشحال خان (ختټ) رحمة الله علیهما که از زبان فصیح و شیرین فارسی با حفظ حلاوت و امانتداری بزبان ناب پښتو، سه صدسال قبل برگردانیده شده.

این اثر یکی از گرانبها ترین آثار ارجدار زبان پښتو است که درهشت باب بخشی از فرهنگ و تعالیم اسلامی را از گلستان فیضبار سعدی(رح) درکمال فصاحت و بلاغت و حفظ امانت در ترجمه

، بیرون آورده و بدسترس استفاده و استفاضه و لذت گیری ادبا و گویندگان ملیونی زبان کهن پشتو، قرار داده است .

باب ها که عبارت اند از بیان :

- خوی وخصلت شاهان
- خوی درویشان
- فضیلت قناعت
- خاموشی
- عشق وجوانی
- پیری و زهیری
- نقش تربیت

وآدب صحبت وحکمت ها، هر یک حاوی پند ها و اندرز های جاویدانه ای اند ، که عمل به هر کدام ، ضامن نجات ورستگاری انسان است.

از مقایسه متون گلستان سعدی(رح) وگلدسته قشنگ آن که بدست گلچین مرحوم عبدالقادر خان ختك انتخاب و ترجمه گردیده، به وضوح برمیآید که ؛ عبدالقادر خان ختك (رح) شاعربزرگ پښتو زبان چه تسلطی برزبان شیوای فارسی وچه سیطره ای برفرهنگ عظمای اسلامی داشته و توانسته است، گلهای خاص و بینظیر گلستان رابا رنگ وبو و ساختار های زیبای ادبی، شعری و صوری و معنوی آن، برای برادران و خواهران پښتون هنرمندانه بسته بندی کند و ملیونها انسان تشنه بحقایق و معارف الهی را از آن سیراب سازد.

بطور نمونه نخستین جملهٔ گلستان سعدی را با ترجمهٔ آن ذکر میکنیم:

((منت خدای را عزوجل که طاعتش موجب قربت است ، و بشکر اندرش مزید نعمت ، هر نفسی که فرو میرود ، ممد حیات

است ، وچون بر میآید مفرح ذات، پس در هر نفس دونعمت موجود است وبر هر نعمت شکری واجب...))

((ثناصفت خدای لره جل جلا له عم نواله ،چې طاعت يې موجب د قربت دی، او شکر يې په نعمت سبب د زياتيدو د نعمت ، هره ساه چې کښته شي، مدد دژوندون ده ، چې را پورته شي خوښي د وجود ، پس په هر نفس کښې دوه نعمته دي موجود ، په هر نعمت شکر لازم ...))

دیده میشود که ترجمه با عین سبک وحتی عین طنین و آهنگ کلمات و جملات وبارعایت کار برد حد اقل عبارات نگارش یافته که در متن گلستان بکار رفته است واین شیوه از نادرات و شهکارهای فن ترجمه بشمار میرودو بدون تردید نشانگر سلطه و حاکمیت عالی مترجم برهر دو زبان وفرهنگ ملت های منسوب مترجم و مؤلف است.

باتوجه به ارزش علمی ادبی این گنجینهٔ معرفت بزبان بزرگ پښتو و نیاز مبرم نسل نو به معنویت وآگاهی های عرفانی، خدا(ج) را سپاسگزارم که اکادمی علوم افغانستان توفیق یافت تا به تجدید چاپ آن اقدام کند.

آرزو مندم انتشار این اثر گهر بار وسیله باشد برای هدایت افکار عامهٔ مسلمانان منطقه.

باحترم

معاون سرمحقق عبدالباری "راشد"
رئیس اکادمی علوم افغانستان

سریزه

دپارسي ژبې او ادب پیاوړی لیکوال او شاعر سعدي شیرازي (رح) (۵۸۱ - ۶۹۱ یا ۶۹۴ هـ ق) چې له کوم لوړ نوم ، شهرت او عا م ټولنیز مقبولیت نه برخمن دی ، ښایي چې د تاریخ په اوږدو کې په نړیواله کچه د ډیرو لږو ګوتو په شمیر شخصیتونو دغه ویاړ په برخه شوی وي.

د سعدي (رح) د لوړ نوم او شهرت بنسټیز لامل هغه شهکار آثار دي چې د خپلو لوړو علمي ، اخلاقي او ادبي ارزښتونو له مخې یې د خلکو فکرونو او زړونو ته لار کړې او دده نوم یې تلپاتې ګرځولی دی.

دنوموړي په منظومو او منثورو آثارو کې تر ټولو مشهور اثر ګلستان (۶۵۶ هجري قمري تألیف) دی چې ډېر اخلاقي ، تعلیمي او نورو عامو ټولنیزو معنوي ارزښتونو او ښیګڼو بر سیره د ژبني فصاحت او بلاغت ډیره غوره بیلګه ده .

داثرله پیړیو پیړیو را هیسې د سیمې په هیوادونو ، په ځانګړې توګه ایران ، افغانستان ، تاجکستان، ازبکستان ، پاکستان، هندوستان او نورو کې په کورونو ، جوماتونو ،

مدرسو ، ښوونځیو او پوهنځیو کې لوستل کیږي او خلك یې له لوستلو پند او خوند اخلي.

ګلستان د سیمې دهیوادونو له ژبو برسیره د نړۍ په لویو او پرمختللیو ژبو هم ژباړل شوی دی، چې داسلامي دایرة المعارف، دلیکنې له مخې یې دفرانسوي ژبې ژباړه په پاریس کې د Andrcdu Ryer لــــه خـــــوا په ۱۶۳۴ م کال، په لاتیني ژبې په امستردام کې د Gentius له خواپه ۱۶۵۱ م کال ، په الماني ژبې د Olearius له خوا په هامبورګ کې په ۱۶۵۴ م کال، او په ۱۷۷۴ م کال په انګلیسي ژبې د Sullivan له خوا ژباړل شوی دی.

د سیمې دهیوادونو په ژوند یو ژبو کې یوه هم پښتو ده چې پکې د یوې علمي ، ښوونیزې او روزنیزې اړتیا له مخې په بیلا بیلو وختونو کې د بیلا بیلو لیکوالو له خوا ددغه علمي ، تعلیمي، اخلاقي ادبي اثر ژباړې شوي دي.

د ترلا سه شویو معلومو اسنادو له مخې په دې لړ کې ترټولو ړومبۍ او غوره ژباړه د پښتو ژبې د پیاوړي شاعر ، لیکوال او عارف شخصیت عبدالقادر خان خټك (۱۰۶۳-۱۱۲۵ هـ ق) ده . نوموړی په ۱۱۲۴ هـ ق کال د سعديؒ له دغه ګلبڼ څخه ډیر خوشبویه ګلونه را ټول کړي او خپلو پښتنو ته یې ترې یوه ښکلې او رنګینه " ګلدسته " جوړه کړې ده.

عبدالقادر خان ختك چې د گلستان ژباړې ته "گلدسته" نوم ورکړی ، په سریزه کې ددغه اثر د ژباړې د اړتیا او اهمیت په اړه لیکي:

" بعضې دوستانو راځخه گلستان کتاب لوست ، ډیر به یې راته ویل چې د عربي د فارسي کتابونه ډیر دي، اما په پښتو ژبه کې کتابونه د پښتو نشته . ستا قوت د تصنیف د ترجمې البته شته ، که تصدیعه په ځان قبوله کړې، گلستان کتاب چې مطبوع او مرغوب دخاصو عامو دی، هم یې لوی سړي گوري نصیحت ترې اخلي، هم یې هلکان لولي برکت ترې اخلي، اساني ډیره وشي. اکثر خلق یې متن ولولي، دویم ځل یې معنا ، که په پښتو ژبه ترجمه شي، پښتنو ته به آسان شي، فایده به یې لویو، هلکو ته ورسي. زما هم بل شغل در پیش نه و، فارغ ناست وم . په شهر رجب کې شروع شه،په رمضان کې په کوتاه عبارت په طریق اختصار په اتمام ورسیده. "

(د پېښور چاپ د گلدستې سریزه ، ۷۳-۷۴ مخونه)

عبدالقادر خان ختكؒ د سعديؒ د شاهکار اثر " گلستان " ژباړه له ټولو لفظي ، معنوي، ادبي ظرافتونو او نزاکتونو سره په ډیره خوږه ، روانه ادبي رنگینه ژبه په داسې شاهکارانه انداز کې کړې چې د نوموړي د لوړ علمي او ادبي استعداد ډیره ښه پېژندویي او ځرگندویي ورځخه کیدای شي.

دعبدالقادر خان ختك دغه ژباړلی شاهکار اثر، چې دمخه د پيښور د پښتو اکېډيمۍ له خوا په بيلا بيلو کلونو کې درې ځله چاپ او خپور شوی دی او اوس يې چاپي نسخې ډيرې نه موندل کيږي، دافغانستان دعلومو اکاډمۍ د پښتو څيړنو نړيوال مرکز ددې تکل وکړ چې ددغه مرکز له خوا د جوړ شوي د عبدالقادر خان ختك د ګلدستې ددرې سومې کاليزې د علمي ـ څيړنيز سيمينار په وياړ د پيښور د پښتو اکېډيمۍ د چاپي نسخې له مخې بيا چاپ او خپور کړي. نو له همدې امله يې د مرکز علمي غړي محقق سيدمحی الدين هاشمي ته دنده ورکړه چې ګلدستې د چاپي نسخې ليکدود له پيښور ي پښتو ليکدود څخه دافغانستان په معياري پښتو ليکدود را واړوي او نور دې هغه ديو علمي امانت په توګه کټ مټ چاپ ته چمتو کړي. دا چار د نوموړي په زيار او اهتمام ترسره شوه او دادی د ګلدستې چاپي نسخه تا سو درنو لوستونکو ته درورسيده .

دافغانستان دعلوموااکاډمي د پښتو څيړنو نړيوال مرکز په داسې حال کې چې په لومړي ځل له قلمي نسخو څخه داروانښاد خيال بخاري په مقابله ، تصحيح ، سريزه او زيار د پيښور پښتو اکېډيمۍ له خوا د ګلدستې چاپ او خپراوي کار ته په درنه سترګه ګوري، د يو علمي اکاډميك امانت په توګه د علم پوهې او ادب مينه والو د استفادې له پاره ګلدسته د څلورم ځل له پاره يوازې د ليکدود په بدلون او دعبدالقادر خان ختك د هر اړخيزې پيژندګلوۍ په زياتولو

سره خپروي. په هیواد ، سیمه او نړۍ کې د سولې، سوکالۍ ،علمي، فرهنګي پرمختیاوواوبریالیتوبونو په هیله

په درنښت

سرمحقق نعمت الله " اندړ"

د پښتو څېړنو دنړیوال مرکز رئیس

کابل ، دتلې لومړۍ، ۱۳۸۳ لمریز کال

دعبدالقادرخان خټک

ژوند، ادبي- عرفاني لاراوآثار

محقق سيدمحى الدين هاشمي

۱۳۸۳ لمريز

دعبدالقادر خان ختکؒ ژوند،
ادبي-عرفاني لار او آثار

عبدالقادر خان ختک له ځو اړخیز شخصیت څخه برخمن دی، د پیژندنې له پاره یې باید دی چې پر ژوند پېښو او د شخصیت هر اړخ ته یې تر ځانګړي سر لیک لاندې ځغلنده ځیرنیزه کتنه او بحث وشي. د ځیرنیزې چارې د اسانتیا له پاره موضوع پر دریو لویو برخو ویشو: په لومړۍ کې یې د ژوند پر حالاتو، ورپسې په ادبي، عرفاني لار او په وروستۍ برخه کې په آثار و بحث کوو:

لومړی _ د ژوند حالات

دعبدالقادر خان ختک د ژوند دحالاتو ډېره برخه هم لکه زموږ د ډېرو نورو د لرغونو زمانو پوهانو، ادیبانو، ملي اتلانو، سیاسي او ټولنیز و شخصیتونو په ځیر دوختونو او زمانو په تیارو کې پټه پاتې ده او ډېر لږ ځرک او تت انځورېې د خپلو آثارو دداخلي شهادتونو او یا هم د هغې زمانې او راوروسته وختونو د لیکلیو تاریخي او ادبي

منابعو له مخې تر موږ را رسيدلي دي. چې د هغو په رڼا کې يې دلته درپيژنو :

زوکړه او کورنۍ:

عبدالقادر خان په قوم کرلاڼی خټک پښتون، د پياوړي اونوميالی فرهنګيالي شخصيت، شاعر، ليکوال د تورې او قلم د ډګر اتل خوشحال خان خټکؒ زوی او دهغه د زامنو دهغه لړ ليك له مخې چې، په تاريخ مرصع کې راغلی، دده نوم په نهمه شميره کې راځي[۱]. موريې د نوښار دصاحب خان مهمنزي لور وه . شهباز خان ، بخت ناك او نوريې خپل سکني ورونه وو.[۲]

دعبدالقادر خان دزوکړې (زيږيدنې) نيټه پټې خزانې ۱۰۶۱ هجري قمري کال د جماد الثاني د مياشتې ۲۳ مه ، او ارواښاد پوهاند عبدالحی حبيبي د عبدالقادر خان خټك دديوان په مقدمه ، تاريخچه سبکهای پشتو او پښتانه شعراء لومړي ټوك کې ۱۰۶۲ هجري قمري کال ښودلې او په ځينو نورو آثارو ، لکه د قاضي عبدالسلام په ادبي سوغات ، تاريخ ادبيات مسلمانان پاکستان و هند ، آريانا دايرة المعارف شپږم ټوك ، د سر محقق زلمی هيواد مل په فرهنګ زبان و ادبيات پشتو لومړي ټوك او د پوهاند صديق الله رښتين د پښتو نثر هنداره کې هم دا سنه ۱۰۶۲ هجري راغلې ده .[۳] خو په تاريخ مرصع کې ، دخوشحال خان خټك هغه تاريخي قطعه چې د عبدالقادر خان خټكؒ

دزوکړې په مناسبت یې ویلې، په هغې کې دنوم (عبدالقادر خان) د توریو د ابجدي ارزښتونو له مخې د زوکړې نیټه ۱۰۶۳ هجري قمري راوځي. هغه تاریخي قطعه داده :

عبدالعزیز خان که کنون جان و هوش ماست
درنیم شب به پنجم ذوالحجه زاد بس
در کاف وهای که ذوالحجه گفته ایم
قادر بزاد وخت سحر شاد باد بس
چون نام او زعین و نون بر شمرده ام
ما را خبر ز مولد وآوان بدا د بس
عین است و باو دال والف،ل و قاف الف
دال است و را خاو الف نون مراد بس[۴]

دعبدالقادر خان ختهك د زوکړې همدا پورتنۍ نیټه اوس ټولو څېړونکو په یوه خوله منلې او نورې ناسمې بلل شوې دي.

زده کړه :

عبدالقادر خان ختهك د خوشحال خان ختهك په څير د یو عالم او فرهنګپال شخصیت په کور کې سترګې نړۍ ته غړولې وې، معلومه ده چې له هماغه وړوکوالي (څلور یا پنځه کلنۍ) څخه به یې دوديزه زده کړه پیل کړې وي.

په معلومو او موجودو اسنادو کې یې دخپلو څرګندونو له مخې لومړنی استاد خپل پلار (خوشحال خان ختهك) ښودل شوی او ګڼل شوی دی. عبدالقادر خان ختهك دخپل ژباړلي اثر ګلدستې په مقدمه کې دې مسئلې ته داسې اشاره

کوي: " اما دی هم زما استاد و ، هم پلار ، داستادانو د اوصافو نه مدحې اکثرو موٴ لفانو په خپلو تالیفونو کې راوړي، ما هم اقتداء په هغو بندګانو پسې وکړه ...." [۵]

البته له اسنادو او مدارکوڅخه لا تر اوسه دا نه ده جوته شوې چې عبدالقادر خان ختټک به له خپله پلاره څو مره او ترکله زده کړه کړې وي، دا هم نه ده معلومه چې کله او چیرته یې له کوم بل استاد څخه دیني علوم او نور فنون لوستي وي، ځکه چې په دې اړه دده پخپلو آثارو او نورو ادبي تاریخي مدارکو کې څرګندونې نشته، خو څه شی چې موږ د نوموړي د لوړې او منظمې زده کړې په بهیر باوري کوي هغه دده لوړ علمي او ادبي صلا حیتونه ، پیاوړی استعداد په عربي او پارسي ژبه په ډیره لوړه کچه پوهیدنه ده چې د نوموړي درا پاتې آثار و له مطالعې څخه ډیر ښه را څرګندیدای شي.

په ځانګړې توګه کله چې نوموړی د ګلدستې د مقدمې په یوه برخه کې دخپل پلار او استاد (خوشحال خان) دعلمي او ادبي صلاحیتونو د ستاینې او ښودنې په لړ کې وایي : " په علم عربی کې یې لږ دخل و، په پارسی کې سرآمد دخپل عصرو، شعر یې پارسي، پښتو ښه انشاء کاوه اما پښتو شعر یې جهان لکه شیخ سعدي ونیو..." [۶] په دې لیکنه کې پرخپل استاد (خوشحال خان) باندې ددې قضاوت له مخې "چې په علم عربی کې یې لږ دخل و " ځینې څیړونکي په دې باور ي کړي چې ووایي:" دې په

عربي ژبه کې له خپل استاده هم دمخه و."(۷) او دعبدالقادر خان په ديوان د يادداشت ليکوال دوست محمد خان کامل مومند خوله دې پورته جملې څخه دا نتيجه اخلي چې:"دغه انتقاد هم له هغه چا سره ښايي چې په عربي اوپارسي علومو کې تاق وي. " (۸)

دعبدالقادر خان ختك دلوړې پوهې او زده کړې د ثبوت په لړ کې دیادونې وړ ده چې نوموړی په عربي ، پارسي او هندي ژبو پوهيده . عربي شعرونه يې په پښتو شعر ژباړلي، دعربي شعر يوه بيلګه يې هم په لاس کې لرو او په فارسي ژبه پوهيدنه خو يې تر دې کچې وه چې د شيخ سعدي د ګلستان او دمولانا جامي د يوسف زليخا غوندې شاهکار ادبي آثار يې پخپل ټول ادبي خوند رنګ سره پښتو ته ژباړلي دي. دپارسي شعر بيلګه يې هم لرواو په ديوان کې يې ځينې داسې کلمې شته چې په هندي ژبه دده پوهيدنه هم ورڅخه را زباتيږي.

دآثارو له مطالعې څخه يې په دې پوهيدی شو چې د مولانا جلال الدين بلخي (۶۰۴- ۶۷۲ هـ ق) شيخ سعدي (۵۸۱- ۶۹۴هـ ق) مولانا عبدالرحمٰن جامي (۸۱۷-۸۹۸ هـ ق) عمر خيام، دخوشحال خان . رحمن بابا او نورو د آثارو ژوره مطالعه يې درلوده او په آثارو او افکارو کې يې دهغوی اغيزې جوتې دي.

ددې پورته څرګندونو د پايلې په توګه ويلی شو چې عبدالقادر خان ختك دخپل عصر ددوديزو ديني او ادبي

علومو منظمه زده کړه کړې او پکې له لوړې پوهې، ژورې مطالعې او پیاوړي استعداد نه برخمن و او په دغو علومو کې یې نور و ته د تدریس اواستادۍ دنده هم ترسره کړې ده.

واده ، اولاد او له کورنۍ سره اړیکي:

له ځینو منابعو او روایاتوڅخه دا جوته شوې چې عبدالقادر خان خټکؒ دخپل سکه تره فقیر جمیل بیګؒ ، چې دخانۍ او سردارۍ ژوند ته یې شاکړې، یو عارف ،صوفي مشر به اوروحاني شخصیت و ، له لور سره یې واده کړی و. د ښاغلي سرمحقق هیواد مل دلیکنې له مخې په تاریخ مرصع کې دافضل خان خټك له ځرګندونو څخه داسې جوتیږي چې عبدالقادر خان خټك دخپل تره له لورسره واده کړی و، او اولاد ونه یې هم درلودل، خو دانه ده معلومه چې واده یې په کوم کال شوی او څو اولاد ونه یې وو؟

نوموړی د اروانباد محمد نواز خټك له قوله لیکي چې: په خټکو کې ځینې کورنۍ اوس هم شته چې ځانونه " قادرخاني" بولي او خپل نسبت تر عبدالقادر خان پورې رسوي.

سرمحقق هیواد مل دحدیقهٔ خټك د سریزې دلیکوال انورالحق دلیکنې له مخې دا یادونه هم کوي چې په شیدو کلي کې دعبدالقادر خان دیوې لور د سلسلې داولاد یو ټبر اوس هم شته چې هغو ته " قادر خیلي" ویل کیږي او په افغانستان کې د پیاوړي لیکوال او انځورګر استاد

عبدالغفور بریښنا په ژوند لیك کې دا درج ده چې نوموړی دلور له خوا دعبدالقادر خان ختټک لمسی و. [۹]

ترکومه چې خبره له خپلې کورنۍ، په ځانګړې توګه له خپل پلار سره په اړیکو پورې اړه لري، ویلای شو چې له عبدالقادر خان ختټکؒ سره پلار ډیره مینه درلوده او له ډیرې مینې یې پلار ده ته د " بابا دل " لقب ورکړی و. په یو بیت کې یې داسې ستایلی دی:

ښه زوی دبابا دل دی
تل دې ژوي په جهان [۱۰]

همدارنګه په ځوانۍ کې یې له خپل پلار خوشحال خان ختټک سره په ځینو مشهورو جګړو کې هم برخه اخیستې چې نوموړی دخپلې ملي او سیاسي مبارزو په لړ کې د پښتونخوا په غرونو رغونو کې دخپلو مخالفینو په وړاندې تر سره کړې دي.

عبدالقادر خان ختټکؒ هم له خپل پلار سره ډیره مینه لرلې ده. دا خبره دهغه له دیوان او نورو آثارو څخه ښه جوتیږي چې ځای په ځای یې پکې دهغه علمي، ادبي او سیاسي مقام په ډیر درناوي ستایلی او هغه یې خپل استاد بللی دی. دګلدستې له مقدمې څخه دا یوه ځلوریزه دبیلګې په توګه رااخلو:

که عقل پوهه که تیغ که دیګ وو
په پښتانه کې دخوشحال بیګ وو

زر يې مړانې ته په شمار دسلو وو
زريې سخا ته دصحرا ريګ وو[۱۱]

له خپلو نورو ورونو او کورنۍ سره يې هم اړيکې ښې معلومېږي. که څه هم په آثارو کې يې داسې کوم څرګند شواهد نشته چې هغه دې پکې د چا غندنې کړې وي او يادې يې په څه مسأله له چاسره مخالفت ښودلی وي، خو دتاريخ مرصع د څرګندونو له مخې د پلار له مړينې وروسته عبدالقادرخان د خپلې کورنۍ او سردارۍ پورې اړوندو مسايلو کې بې تو پيره نه دی پاتې شوی. که داړتيا له مخې په دغو کورنيو شخړو کې لږ و ډير برخه وال شوی هم وي، ده دخپل صوفي مشربه عالمانه او فقيرانه " درويشانه " خوی خصلت له مخې د چاپه خلا ف پوچه او سپکه وينا نه ده کړې. د بيلګې په توګه هغه مهال چې د مشرۍ او سردارۍ دمخالفتونو او کورنيو شخړو په لړ کې له خپل کوروکلي اکوړي څخه دکورنۍ له نوروغړيو، ورونو او وريرونو سره يو ځای نوښار ته په کوچيدو اړوتۍو او هلته يې په ډير ستونز من حالت کې دڅوند شپې ورځې سباکولی، دا پيښه يې دګلدستې په سريزه کې په څو مره سړه سينه ليکلې ده :

" په سن زرسل څليرويشت د هجرت نبوي صلی الله عليه وسلم په سبب دحوادث روزګار، بې ياره بې دياره، بې مونس بې غمګساره، په نوښهر کې په يوه کلبه اندوه کې، لکه دصحرا په غار کې مې اوقات ګوزاري کوله....[۱۲]

دژوند بوختیا وې:

لکه چې دمخه مو هم یادونه وکړه دعبدالقادرخان ختټک د ژوند حالات ډیر نه دي څرګند او د ډیرو لړو ژوند پیښو څرك يې په آثارو او نورو منابعو کې تر سترګو کیږي. د کوچینوالي، نوې ځوانۍ او آن تر پوره ځلمیتوب ، یعنې تر شل کلنۍ پورې دده د ژوند پیښې نه دي راڅرګندې، خو له حالاتواو په راورسته وخت کې دده د ګڼ اړخیزه شخصیت د جوړښت او دکورنۍ دعلمي او فرهنګي چاپیریال له موجودیت څخه لړو ډیر دا معلومیدای شي ددغو کلونو زیاتره وخت به يې ددیني او ادبي علومو په زده کړه او په فکري ، سیاسي او عامه ټولنیزه روزنه تیر شوي وي. وروسته بیا هغه دخپلې کورنۍ د سردارۍ په معاملو او دخوشحال بابا دملي او سیاسي مبارزې دننګ ، جنګ په ډګر او سنګر کې دهغه تر څنګه دیو ننګیالي تورزن په توګه هم راڅرګندیږي.

تاریخ مرصع دخوشحال خان ختټك له بیاض څخه دیو اقتباس له مخې موږ په دې خبروي چې دعبدالقادر خان ختټک او عابد خان په مشرۍ په ۱۰۸۳ هـ ق کال د ختټکو لښکرو د خیر آباد دمغلو پر کوټ حمله وکړه او هغه يې په ډیره میړانه فتح کړ.

همدارنګه له خپل پلار (خوشحال خان ختټك) سره په هغه بریالي برید کې ملګری و چې په ۱۰۸۴ هـ ق د نوښار

په مغلي تا نه ترسره شو. او په هغه مشهوره جگړه کې يې هم برخه لرله چې په ۱۰۸۵ هـ ق کال دخوشحال خان او دهغه له مخالف شير محمد خان بنگښ تر مينځ په گنبت نومي ځای کې پيښه شوې او دواړو لور يو ته ډير ځاني اومالي زيانونه هم اوړيدلي وو، پخپله عبدالقادر خان هم په دغه جگړه کې ټپي شوی و.(۱۳)

دعبدالقادر خان دژوند د پيښنو دتاريخي بهير له څيړنې څخه داسې جوتيږي چې دخوشحال خان ختك له مړينې (۱۱۰۰ هـ.ق) وروسته نوموړی هم دخپلې کورنۍ او سردارۍ په معاملو کې بې پلوی نه دی پاتې شوی او دوخت او حالاتو غوښتنې دې ته اړيستی دی چې دخپلې کورنۍ د پت او عزت د ساتنې او دسيمه ييزې واکمنۍ (سردارۍ) د ټينگښت او پايښت له پاره، چې له بهر نه ددښمن دلاس وهنې او دواك او مشرۍ پرسر په کورنۍ کې ژورو اختلافاتو او خپل منځي شخړو له امله له سخت گواښ او خطر سره مخامخ وه ، سياسي هلې ځلې وکړي او خپل دريځ ځرگند کړي.

داسې هم ويل کيږي چې د اشرف خان هجري له بندي کيدو څخه وروسته عبدالقادر خان ختك دڅه وخت له پاره عملاً دقوم مشر هم پاتې شوی دی.(۱۴)

دده د سياسي هلوځلو په اړه دتاريخ مرصع پر ځينو اشارو برسيره د پټې خزانې د مؤلف محمد هوتك دا ځرگندونې هم دپاملرنې وړ دي چې: " عبدالقادر خان په

۱۱۱۳ هجري په کابل کې ليدل شوی و. چې دختټکو دقوم له خوا کابل ته راغلی و او د کاروانونو د تيريدو خبرې يې د بنګښ پر خوا کولې. " (۱۵)

دعبدالقادرخان ختټك د ژوند د بوختيا وو دا اودې ته ورته نورې سياسي هلې ځلې او په ځانګړې توګه په زلميتوب کې د پلار له حکم سره سم يا د قبيلوي ذهنيت اويابې ننګې څخه دځان ژغورولو او ياهم دنورو مجبوريتونو له مخې به يې دننګ او جنګ ډګر ته وردانګلي وي، خو دنومړي اصلي فطرت، چې اوس يې موږ دهغه په آثارو او افکار و کې ګورو، بيخي بل ډول و. او هغه داروښاد روهې دوينا په تائيد چې: " دهغه فطرت عرفان او علم ته زيات مايل او له سياست نه يې له فرهنګ سره مينه زياته وه ...." (۱۶)

ترکومه چې دده دآثارو له مطالعې څخه جوتيږي ددژوند زياتې اصلي او اساسي بوختيا وې يې تدريس ، تلقين ، ارشاد او علمي-ادبي فعاليتونه وو.

خلکو ته د تدريس په باب د ګلدستې له مقدمې څخه دده خپلې دا څرګندونې هم د بيلګې په توګه د يادونې وړ دي: " اکثر به تنها ناست وم، کله کله به بعضې ياران راغله استفاده به يې دعلم عربي و فارسي کوله. " (۱۷)

دژوندانه په بهير کې د بنسټيزو بوختيا وو او مصروفيتونويوجامع انځوريې په دې لاندې بيت کې ډير ښه وړاندې کړی دی:

چې پرې غم غلطوم درې مې محرم دي
یو قلم ، دویم کتاب، دریم اشعار خپل[۱۸]

عبدالقادر خان ختکؒ ډیر معنوي او روحاني فیوضات له خپل تره فقیر جمیل بیګؒ موندلي، او دنقشبندیه طریقې لاربنود او مرشد یې شیخ سعدي لاهوريؒ (۱۱۰۶ هـ ق مړ) و چې دهغه له لوري د طریقت په سلسله کې دخلیفه مقام ته رسیدلی و، نو ځکه یې آثار او افکار دتصوف او عرفان په ژورې معنا رنګین، له معنوي پند او خوند نه ډك او له مادي نړۍ سره د مینې انځور پکې تت دی.

دژوند وروستي حالات او وفات :

دعبدالقادر خان ختکؒ دوروستي ژوند په هکله هم ډیر معلومات نه دي ترلاسه شوي. دخپل یو ژباړلي اثر "ګلدستې" په سریزه کې یې دومره یادونه کړې ده چې دژوند وروستۍ شپې ورځې یې له خپل کورو کلي اکوړه ختك اوسرای خخه لرې لرې په نوښار کې په ډېرې بیوزلۍ سره تیرې کړي دي.[۱۹] او څیرونکو په وروستي عمر (۶۲-۶۳ کلنۍ) کې دنوموړي د کورو کلي پریښودنې اصلي لامل هماغه کورنۍ خپل منځي شخړې ګڼلي چې دخانۍ اوسرداری پرسر راولاړې شوې وې.

عبدالقادر خان ختکؒ دسعديؒ ګلستان ژباړه په ۱۱۲۴ هجری قمري کال دروژې په میاست کې په نوښار کې ترسره کړې، نو تردغه وخته خو یې ژوند یقیني دی او په

تاریخ مرصع کې دافضل خان ختک دځرګندونو له مخې د ۱۱۲۵ هجري قمري کال د جمادی الا ول پورې لا ژوند ی دی.[۱۹] دمړینې په باب یې زیاترو ادبي څېړونکو د میجر راورټي د لیکنې په استناد لیکلي چې عبدالقادر خان ختک دهمدغو کورنیو شخړو او مخالفتونو په لړ کې په سپینه ږیره دخپل کور و کلي پر ښنو دوته اړ یستل شوی او بیا دافضل خان ختک له لاسه اویا دهغه په اشاره او دستور وژل شوی دي.د بیلګې په توګه دلته د پېښور د پښتو اکیډیمۍ له خوا دعبدالقادر خان ختکؒ د چاپ شوي دیوان دمقدمې لیکوال دراورټي دقول پر بنسټ لیکلی نظر رااخلو:

"دخپل ورارہ افضل خان دوړاندې سر ټیټول دعبدالقادر خانؒ له پاره ګران وو، او دهغه جمله ورونه دعبدالقادر خان په سردار جوړولو کې دهغه سره وو. ولې دا هرڅه بې فایدې ثابت شول. په موروثي بناء دقبیلې متفقه فیصله دافضل خان ختک په حق کې وه . نتیجه دا شوه چې افضل خان د هغه وخت ددستور مطابق ددغه مشکل بس یو قابل عمل حل داو ګڼلو چې دټولو مخالفو عناصرو نه کلي نجات بیا مومي. نو عبدالقادر، دهغه لس ورونه اودهغو متعدد زامن یې په یوه ورځ قتل او په کنده کې ښخ کړل. "[۲۰] خو افضل خان ختک بیا پخپل اثر تاریخ مرصع ۴۰ مخ کې یوازې ددوی په بندیتوب اعتراف کوي او لیکي:

" آخر کار په هسې کار ورسید- چې له صلاح په فساد راغی، ناچار حیران ، پریشان متفکرشوم، مصلحت مې تر وهلو ، شړلو په قید کې ولید. په سن زرسل پنځه ویشت میاشت د جمادي الاول عبدالقادراو شهباز د فرزندانو سره او عبدالله او محمدي مې قید کړه ...."

په هر صورت عبدالقادر خان خټک په خپل طبیعي مرګ مړ وي او که افضل خان خټک وژلی وي، په همدغه ۱۱۲۵ هجري قمري کال شاوخوا مړ دی، خو د کفن دفن ځای ځایګي یې نه دی معلوم، همدغه یې باید دوفات کال وبولو،ځکه چې د نوموړی د ژباړلي اثر ګلدستې هغه قلمي نسخه چې اوس د پیښور په اسلا میه کالج کتابتون کې خوندي ده ، په ۱۱۲۶ هجري قمري کال قطب الدین نومي خطاطی کړې او نوموړي په پای کې لیکلي چې" په اووه ویشتم تاریخ د رجب المرجب، سن زرسل شپږویشت په دسخط د خط شکسته خط قطب الدین ګلستان د پښتو، تصنیف د عبدالقادر ابن خوشحال خان غفر هما مرقوم شد"

په دې لیکنه کې د خطاط له خوا د " غفر هما " کلمې ځخه هم دا توجیه کیدای شي چې عبدالقادر خان خټک به دا وخت مړو. (۲۱)

دویم : ادبي-عرفاني لار :

دعبدالقادر خان خټکؒ دآثارو او افکارو له مطالعې ځخه جو تیږي چې ادبي لارېې هماغه ده چې موږ یې په خپلو

ادبي څیرنو کې "د خوشحال خان ادبي مکتب" یا "د خټکو ادبي مکتب" بولو او بنسټ یې د پښتو ژبې پیاوړي او نومیالی شاعر، لیکوال ، فرهنګپال او توریالي خوشحال خټک (۱۰۲۲-۱۱۰۰ هـ.ق) ایښی دی.

د نوموړي ادبي لار دده زامنو ، لمسیانو او نورو پلویانو دزړه په وینه او مینه پاللې او دیو ادبي مکتب په توګه راڅرګنده شوې ده . عبدالقادر خان هم ددغه ادبي مکتب په لومړنیو او مخکښنو غړیو کې شمېر دی. دمخه تر دې چې د نوموړي په ادبي مقام څه ووایو ، غوره به دا وي چې لومړي ددغه مکتب څو سترې او عامې ځانګړنې دروپېژنو او بیا د هغو په رڼا کې دنوموړي دادبي-عرفاني لارې څرک ولګوو:

دخټکو دادبي مکتب ځانګړنې:

۱_ پښتو ادب یو نوي پرمختیایي او پراختیایي پړاو ته داخلېږي او دودې، پراختیا او پرمختیا له پاره یې په زړه پورې شعوري هڅې او هلې ځلې پیل کېږي.

۲_ په شاعرۍ کې حماسي، رزمي او ملي روحیه ډېره پیاوړې کېږي او تر ډېره د پښتنو د ټولنیز او سیاسي ژوندانه نه رنګ اخلي.

۳_ د مسجع او متکلف نثر پرځای ساده ، روان او دخلکو محاورې ته نږدې نثر لیکنه پیل او دخټکو ځانګړې لیکدود رامنځته کېږي.

۴ـ پښتو شعر د مضمون له پلوه بشپړ شو. په پخوا نیو عشقي، عرفاني، و عظیه اخلاقي موضوعاتو برسیره داجتماعي ژوند بیلا بیل موضوعات، تاریخي پیښې، پرتښولنه ژور انتقاد . له وطن او قوم سره د مینې احساسات په شعر او ادب کې په پراخه پیمانه انعکاس مومي.

۵ـ پښتو ادب ته د شرقي شاعرۍ ټول انواع له غزل ، قصیدي، رباعي، مثنوي، مربع او ... برسیره چې موږ یې تر دې دمخه دروښانیا نو او آن دا چې په لرغونې ادبي دوره کې هم بیلګې لرلې، مسدس ، مثمن ، ترکیب بند، ترجیع بند، ذوالقافتین او نور ډولونه په پښتو شاعرۍ کې همداوخت په پراخه پیمانه رواج مومي.

۶ـ د پښتنو خپلې ځینې ملې کیسې (لکه آدم خان درخانۍ، دلی او شهۍ) ولیکل شوې او هم له نورو ژبو څخه یو شمیر کیسې وژباړل شوې.

۷ـ ددې دورې ادبیات د موضوع درنګارنګۍ او هنري ارزښتونو له پلوه ښه بډای او دسیمې له ادبیاتو سره دسیالۍ جوګه کیږي.

۸ـ شاعران له خپلې مورنۍ ژبې برسیره په فارسي او عربي ژبو هم شعرونه وایي.(۲۲)

موږ دا پورته یادې شوې زیاتره ځانګړنې د عبدالقادر خان خټک رح په آثارو او افکارو کې لیدلی شو.

سرمحقق زلمي هیواد مل دعبدالقادر خان خټک دادبي لارې په اړه لیکلي دي: " دا خبره سمه ده چې دخپل پلار

شاګرد و او په ديوان کې يې دخوشحال بابا په ځمکه ويلې غزلې شتهٔ او په ځينو مواردو کې يې دده پيروي کړې او نهايت کې سړی دی دهماغه سبك له پيرو انو څخه ګڼلی شي چې خوشحال بابا يې موجد دی ، خو دومره ويل به بې ځايه نه وي چې عبدالقادر د شعر سبك خپل ځينې ابداعي او ابتکاري خصوصيات لري چې موږ يې دده خپل ايجاد بللی شو.[۲۳]

تر کومه چې خبره دعبدالقادر خان ختك په ادبي عرفاني او تصوفي لارې پورې اړه لري، دده د خپلو آثارو او هم دهغې زمانې دنورو آثارو په استناد نوموړی دنقشبنديه طريقې کلك پيرو او هم يې دخپل تره فقير جميل بيګ نه ډير روحاني فيوضات موندلي او دهغو ډيرې ژورې اغيزې دده په آثارو او افکارو کې ترسترګو کيږي.

دنوموړي د تصوفي-عرفاني لارې او مقام په اړه کولی شو دديوان دايو بيت:

د مقصود په لورې ځه عبدالقادره
که په رو د نقشبند ځې که د چيشت

او هم په پټه خزانه (۱۱۴۲ هـ ق تأليف) کی دده دمعاصر محمد هو تك دا وينا چې : " نقل کا چې عبدالقادر خان په طريقت نقشبندي کې خليفه و او د پير خلا فت يې کا او دمريد انو ارشاد يې کا ، شيخ رحماني سعدي لاهوريؒ په خلافت ټاکلی دی[۲۴] دخپلې ادعا د ثبوت په توګه وړاندې کړو.

د آثارو، په ځانګړې توګه د اشعارو له مطالعې څخه یې دا جو تیږي چې دعرفان په رموز و اګاه. د تصوف او عرفان ډیر اصطلاحات یې ځای پرځای په خپلو اشعارو کې استعمال کړي او په دیوان کې یې د تصوف رنګ غالب دی. (۲۵)

علمي-ادبي مقام او شهرت:

دعبدالقادر خان ختکؒ دعلمي ادبي مقام په اړه دده دخپلوآثارو ، دده دمعاصرینو او راوروسته ددې اوسنۍ زمانې دځینو لیکوالو ، شاعرانو ، او څیړونکو ددمنظومو منثور لیکنو او څرګندونو په رڼا کې ډیر ځغلنده بحث کوو:

تر کومه چې خبره د عبدالقادر خان ختك په علمي مقام پورې اړه لري، هغه دده داشعارو دیوان او نورو ژباړلو آثارو ته په کتنه او پاملرنه ښه جو تیدای شي. دده را پاتې آثار ددې څرګندوی دي چې دخپل وخت مروجه علوم او فنون یې لوستي او پکې داستادۍلوړ پوړته رسیدلی و.

ادبي مقام او شهرت یې هم دخپلو علمي ادبي آثارو او افکارو په رڼا کې جوت دی. هم پخپل عصر او زمانه کې دلوړ نوم او شهرت خاوند و او هم په راوروسته زمانو کې تر دا ننه لیکوالو او شاعرانو دیو پیاوړي ادیب او شاعر په توګه منلی، ستایلی دی او آثارو یې ډیر مینه وال لرلي دي.

دلته دنوموړي دخپلو ځینو هم مهالواو راوروسته پیړیو او او سنیو څیړونکو د منظومو او منثور و لیکنو او

څرګندونو څو بیلګې را اخلو چې پکې دده دادبي مقام ستاینه او یادونه کوي. لومړی دده د مشر ورور اشرف خان هجري د شعر دا بیت د بیلګې په توګه مخې ته راځي:

قادر خان که بحر بولم دروغ نه دي
چې یې فکر داصلي درو مصدر دی(۲۶)

محمد هوتك یې پخپل مشهور اثر پټه خزانه (۱۱۴۱-۱۱۴۲ ه ق تألیف) کې د"فخر الزمان عبدالقادر خان " په لقب ستایي او دده د ژوند پېښو او آثارو په باب په زړه پورې معلومات وړاندې کوي. (۲۷)

پیر محمد کاکړ یې داسې ستایي:

بیا رنګین شعر بیان عبدالقادر کړ
داشرف دی هم تر ده نه سوزان شعر

شمس الدین کاکړ یې د شعر کان بولي:

ښه مربوط شعر بیان عبدالقادر کړ
ځکه دی په پښتنا نه کې کان دشعر

میرزا حنان وایي:

بل عبدالقادر شاعر د خوشحال زوی و
ښه کتاب یې دی جوړ کړی لکه ګل (۲۸)

همدارنګه کله چې عبدالقادر خان ختک په پخپله یوه غزله کې چې مطلع یې وه :

" لکه زه په یار مین یم، بل به نه وي مفتون هسې

لکه زه پسې محزون یم بل به نه وي محزون هسې"
اوپه مقطع کې یې خپل شاعرانه غرور داسې څرګند کړ:

دا غزل په پښتو ژبه چې بیان عبدالقادر کړ
دروغجن یم که بې خانه وایي بل یو پښتون هسې

هغه مهال او هم په را وروسته وختونو کې زموږ ترزمانې د ډیر و پښتنو شاعرانو پاملرنه دده ادبي مقام ته وراړولې، دده د غزلې په ځواب کې یې شعرونه ویلي او د"هسې" تاریخي مشاعره ورڅخه جوړه شوې ده. په دغوپخوانیو شاعرانو کې د بیلګې په توګه د معزالله مومند ، محمدي صاحبزاده، صدر خان ختټک، اشرف خان خلیل، عثمان ، غفور، عبدل، پیر محمد کاکړ، قنبر علي خان اورکزی ، میرزا حنان او په معاصر و شاعرانو کې د مولوي صالح محمد ، بهایي جان، سید رسول رسا، مسافر مروت او ... نورونومونه یادوو. (۲۹)

برسیره پر دې ددولسمې او دیارلسمې پیړۍ د نومیالیو شاعرانو په دیوانونو کې داسې اشعارهم مومو چې ورڅخه جو تیږي چې هغه یې د عبدالقادر خان ختټک د اشعارو په پیروۍ او تضمین او یا له هغې څخه په ژور ې اغیزې منلو سره ویلي دي. په دغه ډله شاعرانو کې د بیلګې په توګه د کاظم خان شیدا (۱۱۳۵- ۱۱۹۴ ه ق) ، قلندر اکوزي، پیرمحمد کاکړ، قنبر علي خان اورکزی، عبدالقاسم او نورونومونه د یادونې وړ دي.

همدارنگه د نولسمې او شلمې پیړۍ بهرني ختیځ پوهان هم دده له لوړ نوم او شهرت سره آشنا او دده دآثارو او افکارو مطالعه یې کړې وه . په دوې کې ډورن ، راورټي، ترومپ، هیوز، پلاوډن، میکنزي، دریانکوف نومونه د بیلګې په توګه یادوو. (۳۰)

د پښتو په معاصر و لیکوالو کې هم ډیرو د عبدالقادر خان ختک د ژوند ، آثارو او افکارو په باب لیکنې او څیړنې کړي او دده لوړ ادبي مقام یې څیړلی او ستایلی دی، د بیلګې په توګه یې دځینو لنډې یادونې اوڅرګندونې رااخلو:

اروابناد پوهاند عبدالحی حبیبي، دعبدالقادر خان ختکؒ ددیوان په سریزه کې دادبي صلا حیتونو مقام او دشعر د ځانګړنو په باب لیکلي دي: " دعبدالقادر خان کلام ساده دی، له تقلیده او دروند والي څخه تش دی، دهر راز تخیل په اداء مقتدر دی ، ګران مضامین په ساده ډول ویلی شي. په خوږ والي او سلاست کې مثل نه لري ، تمثیلات یې طبیعي او مثبت دي. په تخیل کې دحسن او تعقل تر دایرې نه وځي... اوپه کلام کې یې ډیر ځله ابتکار او دتخیل بداعت لیدل کیږي. " (۳۱)

اروابناد کامل مومندیې په خپل اثر" خوشحال خان ختک" کې دلومړۍ درجې له شاعرانو ګڼي او دده په قادر الکلامۍ اعتراف کوي.

همدارنګه پر اروابناد حبیبي ، استاد کامل مومند برسیره زموږ نورو مشرانو، لکه پوهاند رشاد او پروفیسر

پریشان ختټك او ځینو نورو ورته د لومړی درجه شاعر پوړ ټاکلی او ځینو تر خوشحال وروسته دحق خاوند او ممتاز ادیب بللی دی (۳۲)

اروانباد کاندید اکاډمسین محمد صدیق روهي یې د پښتو ژبې له غوره شاعرانو څخه ګڼي او دده ادبي مقام ؛ د اشعارو ښیګڼې او ځانګړنې داسې په ګوته کوي:

" دعبدالقادر خان دشعر په ښیګڼو کې دوه ټکي دخاصې یادونې وړ دي: لومړی دا چې دده وینا دیوه پاخه عالم وینا ده ، دیو داسې عالم چې په ادب پوهنه باندې احاطه لري او هره کلمه یې په صراحت سره دمافي الضمیر ترجماني کوي. دوهم دا چې په وینا کې یې دآهنګ ښکلا او سندریز ریتم د ژبې خوږ لت ، رواني او هنري صنایع په څرګند ډول لیدل کیږي. داشرف خان په پرتله دده وینا فصیحه ده " (۳۳)

ډاکتر راج ولي شاه ختټك یې دادبي مقام په اړوند لیکلي دي:

" دعشق د محبت دمضمون دانښکلی شاعر هو مره چاپیژندلی او نمانځلی نه دی، لکه څو مره چې پکار و. ددې وجه شاید دا وي چې دخپل دور دوو لویو او مقبولو شاعرانو (خوشحال او رحمٰن) تر مینځه پیدا شوی و او پښتانه چې سخن فهمي کمه او طرفداري ډیره کوي، ددغه خوی په بناء د عبدالقادر خان ختټكؒ له مقامه څوك په پوره ډول خبر نه شول . ګڼې څو مره ښکلي پاك سپیڅلي خیالات

چې ده په شعر کې بيان کړي دي، په کوم کمال يې بيان کړي دي، د هغې ثاني لټول ګران دی. د نادرو تشبيهاتو د ښکلي ځمکو ، مترنم بحرونو او دعلوي خيالاتو شاعر عبدالقادر خان ختکؒ چې د مجازي عشق د محبت او بيا د تصوف د حقيقي عشق د کيفياتو ، مشاهداتو او ادراکاتو بيان څومره په خوږ او دلنشين انداز کې کړی دی، دغه کمال فن د پښتو د ډېروکمو شاعرانو نصيب شوی دی. (۳۴)

سرمحقق زلمی هيواد مل يې دژوند ، فن او شخصيت په باب د هر اړخيزې څېړنې په پايله کې دعلمی ادبي مقام يوه جامع ارزونه کړې چې دلته يې دالفاظو په لنډون سره رااخلو:

عبدالقادر خان ختك چې دخپلې ژبې او ادبياتو دودې له پاره کوم کارونه کړي دي هغه پخپله دده مقام موږ ته راڅرګندوي . دده دموجودو تر لاسه شويو آثارو په استناد ويلی شو:

۱ـ که څوك د پښتو شعر تاريخ ليکي، نو ديوولسمې پيړۍ دپای او دولسمې پيړۍ د پيل داشعارو د تفسير او تحليل په لړ کې ضرور عبدالقادر خان له خپلو مليحو اشعارو سره نه هيروي چې ددې زمانې په اشعارو کې خپل ځای لري.

۲ـ که د پښتو نثر تاريخ ليکل کيږي، نو د پښتو نثر د تحول په مراحلو کې به ضرور دعبدالقادر خان په نثر ي ايجاداتو خبرې کيږي.

۳ـ د ترجمو د تاریخ لیکونکي به د پښتنو د ثقافت په وده کې د عبدالقادرد ترجمو په نقش خبرې وکړي او دا به ضرور ولیکي چې د فرهنګ په تاریخ کې داوخت عبدالقادر خان دا ضرورت محسوس کړی و چې د فارسي شاهکار آثار (ګلستان او یوسف زلیخا) په پښتو وژباړي او هم له عربي څخه دې ته ورته آثار ترجمه کړي او هم د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم څلویښت حدیثونه انتخاب او په پښتو وژباړي.

لنډه دا چې عبدالقادر خان ختکؒ د خپلو آثارو او افکارو په رڼا کې د مطالعې مختلف او ډېر موارد او په هره برخه کې ځانګړی مقام لري، چې نه نور دده مقام نیولی شي او نه دی دنورو مقام. "(۳۵)

دعبدالقادر خان ختك دادبي شهرت په اړه د بحث په لړ کې دا خبره هم دیادونې وړ ده چې نوموړی پخپلو اشعارو کې زیاتره خپل نوم عبدالقادر راوړی، خو کله یې دتخلص په توګه کرلاڼی او " ختك" هم کارولی دی (۳۶) لکه په دې بیلګو کې:

نه له چایې طمع شي نه له چا ویره
څو خبرې رښتیا کړي"کرلاڼي" دي
زه ختك دیار په غم تازه تازه شوم
غور په خپل رحمان که شو ورځنې سترې

برسیره پر دې په خپل وخت کې نورو ده ته ځینې القاب هم
ورکړي: خپل پلار " بابادل" او محمد هوتک " فخر الزمان "
بللی دی او دا چې نقشبندیه په طریقه کې دخلیفه روحاني
مقام ته رسیدلی و، هم هغه مهال کې په "خلیفه" هم مشهور
شوې چې اغیز او انځور یې په لږ راوروسته وختونو کې په
پښتو ادب کې هم جوت دی. د بېلګې په توګه قاسم نومي
شاعر دیوې غزلې په مقطع کې ویلي دي:

دا غزل که د"قاسم"هاله ښکاره وي
"خلیفه"به وپرې خوښ"سکندر"هم لا

او احمدي صاحبزاده (۱۱۵۵- ۱۲۳۳ هـ. ق) وايي:

دعبدالرحمن دیوان دخوشحال خان وو
د اشرف، د"خلیفه" د"بابو جان"وو (۳۷)

لنډه دا چې په پښتو ژبه او ادب کې دیو پیاوړي شاعر،
لیکوال او ژباړن په توګه دعبدالقادر خان ختـﻚ لوړ علمي او
ادبي مقام ښه جوت او دی حق لري چې ووايي:

د سخن خوبۍ همه لرم موجوده
زه عبدالقادر محتاج د سخندان یم (۳۸)

درییم- دعبدالقادر خان ختـﻚ آثار

په پخوانیو منابعو کې لومړنی اثر چې موږ ته
دعبدالقادر خان ختـﻚ دآثارو په باب معلومات راکوي هغه
پټه خزانه (۱۱۴۱- ۱۱۴۲ هـ .ق تألیف) ده . محمد هوتك
په دې باب لیکي:

"عبدالقادرخان دشعر دیوان لري او دیوسف زلیخا قصه یې په سنه ۱۱۱۲ هجري کې نظم کړه، نصیحت نامه یې هم په پښتو وکښله او دشیخ مصلح الدین سعدیؒ ګلستان یې په پښتو راواړوه. په سنه ۱۱۱۵ هـ ق یې یو بل کتاب نظم کا چې نوم یې دی حدیقهٔ ختک"(۳۹)

دمحمد هوتك په څرګندونو کې داشعارو دیوان او حدیقهٔ ختك دوه ځانګړي آثار ګڼل شوي ، حال دا چې اوس دادبي څیړنو په نتیجه کې جوته شوې چې حدیقهٔ ختك دعبدالقادر خان ددیوان نوم دی، نه دهغه ځانګړی اثر.

په دې لړ کې دویم اثر دراورټي پښتو ګرامر دی ، نوموړی دخپل ګرامر په سریزه کې دعبدالقادر خان دآثارو شمیره د شپیتو په شاو خوا کې ښیي او ددې لاندې آثارو نومونه یې اخلي:

داشعارو دیوان ، آدم خان دُرخانی ، دجامي یوسف زلیخا پښتو ژباړه ، د شیخ سعدیؒ د ګلستان او بوستان پښتو ژباړې ، او دمعماوو رساله .

په پورته یادو شویو آثارو کې د بوستان ژباړه ، آدم خان درخانی او دمعماوو رساله تر اوسه نه دي تر لاسه شوي البته دیادونې وړ ده چې دآدم خان درخانی ملي اولسي کیسه دعبدالقادر خان ختك ورور صدرخان په پښتو نظم کړې، قلمي نسخې یې هم شته او لومړی ځل ۱۹۵۹ م کال د پیښور پښتو اکیډیمي له خوا چاپ شوې ده. دعبدالقادر خان ختك دا لاندې شپږ آثارتر اوسه موږ ته معلوم دي:

۱ـ داشعارو دیوان یا حدیقۀ ختټك
۲ـ نصیحت نامه.
۳ـ څلویښت حدیثونه
۴ـ قصیده برده .
۵ـ یوسف زلیخا .
۶ـ ګلدسته .

دیادونې وړ ده چې دعبدالقادر خان ختټك په دغو یادوشویو آثارو کې له دیوان او نصیحت نامې پرته نور ټول ژباړې دي.
دلته یې په لنډه توګه درپیژنو:

۱ـ داشعارو دیوان یا حدیقۀ ختټك:

دپټې خزانې د مؤلف په قول عبدالقادر ختټكؒ حدیقۀ ختټك په ۱۱۱۵ هـ.ق بشپړ کړی دی، خو په دغه دیوان کې دداسې پیښنو په اړه شعرونه هم شته چې په وروسته کلونو پورې اړه لري. د بیلګې په توګه دجمال او عیسٰی پیښه چې په ۱۱۲۳ هـ. ق پیښه شوې ده. دځینو څیړونکو په اند کیدای شي دا ډول شعرونه وروسته ورسره مل شوي وي، څکه داسې بیلګې موږ په خپل ادب کې نورې هم لرو ، لکه دقاسم علي خان اپریدي په پښتو دیوان کې ځینې راغلې پیښې چې ددیوان تر بشپړ یدو وروسته پیښې شوي او بیا په دې اړه دشاعر ویلي شعرونه وورسته په دیوان کې اچول شوي دي (۴۰)

دعبدالقادر خان ختټك په موجود دیوان کې قصیدې، غزلې، رباعي او دشعرنور ډولونه شته، چې دغزلو شمیره یې (۲۶۸) درباعیاتو (۲۳۴) او دقصیدو شمیره (۱۱) ده، په

متفرقاتو کې يومربع،دوه مخمسه، يو ترکيب بند، يو ترجيع بند او شپږ قطعات راغلي دي. موضوعات يې رنګين د مينې ، عرفان ،اخلاقو ، پند او نصيحت ، مرثيه ، ټولنيز تاريخي انتقادي مسايل پکې بيان شوي دي. (۴۱)

دعبدالقادر خان ختک دديوان قلمي نسخې پر افغانستان او کوزې پښتونخوا برسيره دنړۍ په نورو هيوادونو کې هم شته.

دا ديوان دلومړي ځل له پاره په ۱۳۱۷ لمريز کال په کندهار کې دپوهاند جيبي له خوا اوپه راوروسته وختو نو کې: په ۱۹۶۷ م کال په پېښور کې د هميش خليل په زيار ، په ۱۹۶۹ کال دحديقهٔ ختک په نوم د سيدانوارلحق په زيار ، په ۱۳۶۸ لمريز کال دافغانستان دعلومو اکاډمۍ له خوا د نورالله ولسپال په زيار او په ۲۰۰۲ م کال د پېښور پښتو اکيډيمۍ له خوا د پروفيسور جهانزيب نياز په سريزه او زيار چاپ او خپور شوی دی.

دکندهار چاپ ديوان کې دعبدالقادر خان ختک خپله سريزه نه ده راغلې، په نورو کې شته.

۲_ نصيحت نامه :

دعبدالقادر خان ددې اثر بشپړ متن تر اوسه نه دی تر لاسه شوی، يوازې اروانباد حبيبي يې په ۱۳۱۷ لمريز کال دديوان چاپ ته دبرابرولو پر مهال له کومې قلمي نسخې څخه څو بيتونه ترلاسه کړي دي.

عبدالقادر خان ختمك پخپله ددې رسالې دنوم په باب ویلي دي:

په نسیم د محبت لکه ګل وایم
په تجنیس دنصیحت پندونه وایم
رساله به درته وایم په څو وره
و معنو ته یې میړه شه قدم وره

دا رساله ټوله د تجنیس په ادبي صنعت، د مثنوي په شعري قالب ویل شوې ده (۴۲)

۳_ څلویښت حدیثونه :

دا اثر تر اوسه نه دی چاپ شوی، ارواښاد پوهاند حبیبي لومړی ځل په ۱۳۱۷ لمریز کال دعبدالقادر خان ختمك ددیوان په سریزه او بیا وروسته د پښتانه شعراء په لومړی ټوك، دعبدالقادر خان د ژوند لیك په ترڅ کې ددې اثر په باب یادونه کړې ده ، وروسته سرمحقق زلمی هیواد مل د پښتو ټولنې دخطي نسخو په مجموعه کې ددې اثر یوه نسخه موندلې، هغه یې نقل کړې اوپه ۱۳۶۸ لمریز کال یې په فرهنګ مجله کې یوه مقاله پرې لیکلې ده . دنوموړي د څرګندونو له مخې عبدالقادر خان په دغه رساله کې دحضرت محمد صلی الله علیه وسلم څلویښت حدیثونه دمثنوي په کالب کې نظم کړي، د بیتونو شیمره یې ۹۴ ده . ددې رسالې یو بله نسخه د پیښور پښتو اکیډیمی د خطي نسخو په مجموعه کې هم شته . فقیر محمد عباس قادریه پخپل اثر اسماء الحسنیٰ کې دعبدالقادر

خان له دغې رسالې څخه دڅلورو حدیثونو پښتو ژباړنې راوړي دي.

ددې رسالې یو تمهیدي بیت دادی:

مؤمنانو ته بایده دي چې دا حدیث په یادکا
ګنهګار عبدالقادر دې په اخلاص په دعاښاد کا[۴۳]

۴_ قصیده برده :

دا عربي قصیده چې امام ابو عبدالله شرف الدین البوصیری (۶۰۸- ۶۹۵ه .ق) په ۶۵۹ یا ۶۶۰ هجري قمري کال په نظم کړې ده ، عبدالقادر خان خټك هم د قصیدې په کالب کې په نظم په ۱۶۵ بیتونو کې ژباړلې ده د ښاغلي سرمحقق هیواد مل د څرګندونو له مخې ددې اثر دوی قلمي نسخې یوه داروانباد محمد نواز خټك په کتابتون او بله په برټش موزیم کې شته،چاپ شوې هم دي ، یو ځل په ۱۳۰۵ ه ق په ډهلي او بل ځل په ۱۳۴۵ ه ق په لاهور کې . همدارنګه پیاوړي لیکوال او څېړونکي ښاغلي حبیب الله رفیع ددې قصیدې متن د چاپي او قلمي نسخو له مخې چاپ ته برابر کړی دی.

۵_ یوسف زلیخا:

دحضرت یوسف(ع)زلیخا کیسه، چې په قرآن عظیم الشان کې ورته احسن القصص ویل شوي او دنړۍ د ډیرو لیکوالو له خوا له ځینو افسانوي بیانونو سره په نظم او نثر لیکل شوې ده.

په پښتو ژبه کې ددې کیسې ژباړه عبدالقادر خان خټک په ۱۱۱۲ هجري قمري کال د مولانا نورالدین عبدالرحمن جامي (۸۱۷- ۸۹۸ هـ ق) له پارسي یوسف زلیخا څخه د مثنوي په کالب کې کړې ده .

دعبدالقادر خانؒ ددې منظومې کیسې د بیتونو شمیره په ادبي څیړنو کې د ۴۰۰۰ په شاوخوا کې ښودل شوې ده .

ددې کیسې قلمي نسخې په افغانستان ، کوزه پښتونخوا او دنړۍ په نورو هیوادو نو کې ډیرې موندل کیږي او تر اوسه دوه ځله چاپ شوې ده: لومړی ځل په کابل کې د امیر عبدالرحمن خان دواکمنۍ په مهال د نوموړي امیر په حکم په ۱۳۱۵ هـ ق او بل ځل په ۱۳۴۱ هـ ق کال د کندهار د کتابونو د سوداګرو له خوا په لاهور کې چاپ شوې ده. منتخبات یې د ډورن په پښتو منتخبات ، او دراورټي په ګلشن روه کې هم چاپ شوي دي . ددې کیسې څیړنیز انتقادي متن د برابرولو کار څو کاله دمخه ښاغلي حبیب الله رفیع پیل کړی و، خو د ثور د غمیزې په بهیر کې دهجرت له امله ورڅخه نیمګړی پاتې شو. وروسته بیا دافغانستان دعلومو اکاډمۍ دعلمي غړیو نورالله ولسپال او عبدالمتین متین په ګډو هلو ځلوچاپ ته چمتو شو، خو تر اوسه د چاپ ویاړ نه دی ورپه برخه شوی.

۶_ ګلدسته :

عبدالقادر خان خټکؒ د شیخ سعدي (رح) مشهور اثر ګلستان په پښتو ژباړلی او هغه یې " ګلدسته " نومولی دی. د ګلدستې په سریزه کې د نوموړي له څرګندونو څخه جوتیږي

چې ددغه اثر ژباړه یې په نوښار کې د استوګنې په مهال ، د ۱۱۲۴ هـ ق کال درجب په میاشت کې پیل کړې او دروژې دمیاشتې په ۲۴ نیټه یې پای ته رسولې ده . (۴۴)

په ګلدسته کې د عبدالقادر خان ختک له دې لاندې څلوریزې څخه برسیره ه پردې چې دکتاب د ژباړې کال معلومیږي ، دا هم څرګند یږي چې د ګلستان ټول مطالب یې نه دي ژباړلي:

زرسل څلیر یشت د سن کلونه
له ګلستا نه چې دا ګلو نه
ټول شوو ترې جوړه چې ګلدسته شوه
یاد ګار به پاتې شي مونږه به څونه

استاد پوهاند عبدالشکور رشاد چې ګلدسته یې دسعدي له ګلستان سره پرتله کړې د ګلشن روه د سریزې په ۵۸-۵۹ مخونو کې یې دخپلې پرتلنې پایله دا سې لیکلې ده :

" دګلدستې چاپي نسخه چې له ګلستان سره پرتله سوې ده ، په لومړي باب کې څلور، په دوهم باب کې یو ، په دریيم باب کې څلور ، په څلورم باب کي یو، په پنځم باب کې یو، په شپږم باب کې دوه، په اووم باب کې یو حکایت ، ټول څوارلس حکایتونه او دغه راز په اتم باب کې اته ویشت حکمتونه نشته . "

دګلدستې قلمي نسخې له افغانستان ، کوزې پښتونخوا او هند برسیره د نړۍ په نورو هیوادونو کې هم شته :

تر ټولو معتبره او ډیره ارزښتمنه نسخه یې هغه ده چې له ژباړې څخه یو نیم یادوه کاله وروسته په (۱۱۲۶ ه ق کال) قطب الدین نومي خطاط خطاطي کړې او اوس د پېښور په اسلامیه کالج کې خوندي ده . یو ه بله نسخه چې د توریالي او فرهنګپال شخصیت حافظ رحمت خان (۱۱۸۸ ه ق شهید) له پاره لیکل شوې اوس درامپور په رضا لایبریرۍ کې ده . یوه نسخه یې د پښتو ټولنې (اوس دافغانستان دعلومو اکاډمۍ) په کتابتون کې شته ، دو نسخې یې په انګلستان او یوه یې د پېښور پښتو اکېډیمۍ په کتابتون کې په ۱۴۱ نومره خوندي ده . دغه نسخه چې دختکو په څنځیري لیکدود لیکل شوې، ۳۵۵ مخونه لري، د پای له خوا نیمګړې ده ، نو ځکه یې دخطاط نوم او دخطاطۍ کال نه معلومیږي . البته په متن کې یې یو مهر شته چې دامان الله ختك نوم او ۱۱۹۱ ه ق کال پکې لیك دی او په دې مو پوهوي چې دا نسخه دمخه خطاطي شوې او دغه مهال دامان الله ختك په ملکیت کې وه (۴۵)

دګلدستې دمتن ځینې منتخبې برخې لومړی ځل جارج راورټي (۱۸۲۵- ۱۹۰۶ م) په خپل اثر ګلشن روه او میراحمد شاه رضواني په شکر ستان افغاني کې چاپ او خپرې کړې دي.

دګلدستې متن د پېښور د پښتو اکیدیمۍ له خوا دارواښاد ډاکتر عظیم شاه خیال بخاري له یوې مفصلې مقدمې سره لومړی ځل په ۱۹۶۱ م کال چاپ او خپور شوی دی.

ددغه اثر څیړنیز متن څو کاله دمخه د پښتو ټولنې غړي څیړونکي عبدالمتین متین د پېښور د پښتو اکیډیمی د چاپي

نسخې ، د پښتو ټولنې او رضا لایبریرۍ خطي نسخو او دګلشن روه د منتخباتو له مخې چاپ ته برابر کړی و [۴۶] ،البته د یادوني وړ ده چې ددغه متن څه برخې د ثور د غمیزې د پیښو په بهیر کې ضایع شوي دي. او له نوي سره ځیړنیز کار ته اړتیا لري.

دګلدستې دا متن

عبدالقادر خان ختکؒ د ګلدستې ددرې سومې کالیزې په مناسبت دعلمي-څېړنیز سیمینار دانسجام کمسیون پخپله لومړنۍ د۶ ر۱۱ ر ۱۳۸۲ نیټې غونډه کې پریکړه وکړه ، چې د ګلدستې انتقادي متن دې د پېښور **اسلامیه کالج د قلمي** نسخې له مخې ، چې له ژباړې څخه یو نیم یادوه کاله وروسته (۱۱۲۶ ه.ق کال) خطاطي شوې او په موجودو نسخو کې تر ټولو غوره او معتبره ګڼل کیږي، ترتیب او ددغه سیمینار په مناسبت چاپ او خپور شي.

ددې علمي چارې د سر ته رسولو غړ پر ما وشو. ما په ډیره خوښۍ ومانه. کله چې لاس په کار کیدم یوه لویه ستونزه ددې علمي چارې د سر ته رسولو په وړاندې وه او هغه دا چې دګلدستې چاپي نسخه خو زما په واك کې وه. مګر د اسلامیه کالج د قلمي نسخې د مایکروفلم او یا نقل تر لاسه کول اسانه کار نه وو، ځکه ددواړو فرهنګي مرکزونو تر مینځ، خو لا فرهنګي اړیکې څه چې ددواړو هیوادونو(افغانستان او پاکستان) ترمنځ په دولتي سطحه رسمي فرهنګي اړیکې او راشه درشه نه وه او ددغه علمي تعلیمي او فرهنګي مرکز له استادانو سره غیر رسمي ځانګړو تماسونو او ډیرو هلو ځلو په

نتيجه کې هم په دې بريالى نشوو چې ددغه نسخې کوم نقل تر لاسه کړو، نو دغسې دغه چارتر ډيرې مودې له خنډ او ځنډ سره مخامخ شوه. دیادونې وړ ده چې ددغه اثر څېړنيز متن څوکاله دمخه د علومو اکاډمى دغړي څېړونکي عبدالمتين متين له خوا د چاپي نسخې،د پښتو ټولنې د کتابخانې د نسخې او دهنددرضا لايبررۍ دقلمي نسخې او په ګلشن روه کې د ګلدستې دمنتخباتو له مخې ترتيب شوى و ، خو د ثور غميزې د پيښو په بهير کې يې ځينې برخې ضايع شوې وې، له نوي سره يې څېړنيز کار غوښت او په لنډ تنګ وخت کې د سيمينار په مناسبت چاپ ته نشو چمتو کيداى، نو ځکه په دې هوډ او تکل شوو چې ددغه ارزښتناك اثر متن بايد د سيمينار په وياړ دهمدې موجودې د پيښور پښتو اکيډيمى د چاپي نسخې له مخې ترتيب او خپور شي.په دې ډول د ګلدستې د متن دڅلورم چاپ او خپرولو له پاره داپريکړه وشوه چې متن بايد له پيښورۍ پښتو ليکدود څخه دافغانستان پر معياري پښتو ليکدود راواړل شي،چې زموږ لوستونکو ته پرې، چې زياتره له پيښورۍ پښتو ليکدود سره پوره آشنايي نه لري، د پوهيدنې چارې اسانه شي او هم دې د اثر دژباړن عبدالقادر خان خټکؒ پر ژوند پيښو، علمي فرهنګي شخصيت، آثارو او افکارو يوه څېړنيزه ليکنه له متن سره دسريزې په توګه مله شي. د کميسيون له پريکړې سره سم مې دا چار تر سره ، متن مې ترتيب کړ او دادى چاپي نسخه يې تر تاسو دررسيده.

دلته دهغې چاپي نسخې د پیژندنې په اړه، چې دا متن ورڅخه ترتیب شوی او هم دهغو ستونزو په اړه چې ددې چارې د سر ته رسولو په بهیر کې ورسره مخامخ شوي یم . دا لنډې او ځغلندې څرګندونې مناسبې ګڼم:

دعبدالقادر خان خټک دا ارزښتناك اثر (ګلدسته) . لومړی ځل د پېښور پښتو اکېډیمۍ له خوا د پیاوړي عالم او ژبپوهاند اروانباد ډاکتر عظیم شاه خیال بخاري (۱۹۱۷-۱۹۹۰ م) په مقابله ، تصحیح او زیار له یوې مفصلې علمي څیړنیزې سریزې سره چاپ ته چمتو اولومړی ځل په ۱۹۶۱ م کال په ۲۹۲ مخونو کې خپور شوی دی. وروسته بیا په ۱۹۸۱ م او ۱۹۸۹ م کلونو کې دعلمي او تعلیمي اړتیا له مخې ددویم او دریيم ځل له پاره هم چاپ شوی دی.

اروښاد بخاري چې ددې متن په برابرولو (مقابله ، تصحیح) کې کوم زیار او کړ او ګا للی دی ، هغه موږ ته د ګلدستې په چاپي متن کې ددوی له مفصلې عالمانه سریزې او په لمن لیکونو کې د مقابلې د پایلو (نتیجو) د ښودلو او نورو بیلا بیلو توضیحاتو څخه ډېر ښه را څرګند یدای شي.

دوی ته چې دعبدالقادر خان خټک له ژباړلي متن (ګلدستې) سره د سعدي دګلستان د بیلا بیلو نسخو دمقابلې په نتیجه کې څه کمی یا زیاتی ورڅرګند شوی هغه یې په متن کې په شمیرو په نخښنه کړی او په لمن لیك کې یې دهغو له پاره دا لاندې توري کارولي دي:

(ز) : زیاتي عبارت یا شعر چې ژباړن له ځانه ورزیات کړی دی. (دغه عبارت یې په متن کې په غبرګو لینډیو کې نیولی دی)

(ح): دلته ژباړن له اصلي متن څخه څه عبارت حذف کړی دی (اصلی عبارت یې په لمن لیک کې راوړی.)

(۸) : دا نخښه یې هلته کارولې چې ژباړه له اصل څخه په بل رنګ ده . اصلي عبارت داسې دی .(دګلستان هغه اصلي عبارت یې هم راوړی دی)

دځینو توضیحاتو په اړه یې خپل توضیحات او څرګندونې هم په متن کې په شمیر و په نخښه کړي او په لمن لیک کې یې راوړي دي .

دګلدستې چاپي متن ته په کتنه څرګندیږي چې له دوو نسخو څخه چاپ ته برابر شوی دی. اواروانباد بخاري د متن په لمن لیکونو کې هغه یوه داسلامیه کالج او بله د برټش موزیم د نسخې نقل ښودلې ده، خو په دې لړ کې دمتن څیړنې، مقابلې او ترتیب د اوسنیو معاصرو اکاډمیکو اسلوبونو او لارو چارو له مخې دا نیمګړ تیا ترسترګو کیږي چې ددغو دواړو نسخو د پیژندنې او ځانګړنو ، لکه د خطاطی نیټه لیك ، لیکدود او نورو په باب په سریزه کې هیڅ یادونه نه ده شوې. له ځینو چاپي او د پروفو داصلاح او سمون له تیرو تنو برسیره، چې خامخا د متونو په چاپ کې لږ و ډیرې کیږي، په املا ء او لیکدود کې دیو ځانګړې معیار نشتوالی یوه بله ستونزه ده چې دچاپي متن

په بیلا بیلو برخو کې شته او کله کله خو تردې اندازې ده چې دمتن تاریخي اصالت یې لړ و ډیر زیانمن او شکمن کړی دی.

له دې ټولو ستونزو سره سره ماله پیښوری پښتو لیکدود څخه په افغاني اوسني لیکدود دمتن را اړولو په مهال تر خپلې وسې دا هڅه کړې چې دا چار داسې ترسره شي چې دمتن تاریخي اصالت ته کوم زیان و نه رسیږي. دمتن په لمن لیکونو کې چې د سعدي (رح) دګلستان ځینې منظومې او منثورې برخې راوړل شوي په هغو کې هم ځینې وړې لویې املایي انشایي تیروتنې او ستونزې تر سترګو کیدې، او دا اړتیا وه چې د ګلستان له کومې معتبر ې چاپي نسخې سره پرتله او سمې شوې وای، خو دوخت د لنډ تنګ والي له مخې مې دا کار ونکړای شو. همدارنګه د ګلدستې دچاپې نسخې، چې دا متن ورڅخه برابر شوی دی، دوه لمن لیکونه: یو په (۲۵۲) مخ ددي متن(۳۵۳) مخ دوهم نومره لمن لیك او د(۲۵۶) مخ .اتمه نومره لمن لیك ددی متن (۳۵۸ مخ)دویمه نومره لمن لیك چې دمکرر چاپ له امله سولیدلی.تت شوی او د لوستو وړ نه وو، له چاپ څخه پاتې شول.

په هر صورت د متونو دچاپ او خپرونې اوسنیو اکاډیمیکو اسلوبونو ته په کتنه او دعلمي، ادبي تاریخي متونو د بیا چاپ او خپرولو په چارو کې دامانتدارۍ اصل ته په پاملرنه ډیره هڅه شوې چې د ګلدستې دا متن دیو علمي اکاډمیك امانت په توګه دادب او مطالعې مینه والو ته وړاندې شي.

زما له هاند او هڅې سره سره هم ښایي ځینې وړې لویې املایي او چاپې تیروتنې په متن کې پاتې وي، که دلوستنې پرمهال په مخه درځي، نو له نابرابرو حالاتو او امکاناتو له امله به مې معذور وګڼئ او دهغو په اصلاح او سمون به مې دخپل احسان پور وړی کړئ. په داسې حال کې چې دګلدستې د متن د مخکنیو چاپو نو په اړه د پیښوردپښتو اکاډمۍ، په ځانګړې توګه داروانښاد ډاکتر عظیم شاه خیال بخاري دعلمي اکاډمیك کار په درناوي ستاینه او یادونه کوم، نوموړي اوراښاد ته دلوی خدای (ج) په دربار کې د بخښنې او مغفرت په دعا خپلې خپلې خبرې پای ته رسوم.

په درنښت

محقق سید محی الدین هاشمي

د پښتوخېړنو دنړیوال مرکز دتألیف او ترجمې دڅانګې آمر

احمدشاه بابا مینه - کابل

دَتلې شلمه - ۱۳۸۳ لمریز کال

اخځليکونه :

١_ عبدالقادر خان ختټك ژوند ، فن او شخصيت ، (دسيمينار دمقالو مجموعه) دسرمحقق زلمي هيوادمل مقاله: فرهنګيالی عبدالقادر ختټك، ٢٧ مخ .

٢_ افضل خان ختټك، تاريخ مرصع، ددوست محمد خان كامل په زيار، يونيورستي بك ايجنسي پيښور، ١٩٧۴ ع ، ٢۵٩ مخ .

٣_ پورتنی اثر ، پورتنی مخ .

۴_ عبدالقادر خان ختټك، ګلدسته ،دخيال بخاري په مقابله او زيار، پښتو اكيډيمی پيښور، ٧۶مخ .

۵_پورتنی اثر ، ٧٨مخ .

۶_ عبدالقادر خان ژوند ، فن او شخصيت، ٣٩مخ

٧_ پورتنی اثر ، يادشوي مخ .

٨_ همدغه اثر ، ۴۵-۴۶ مخونه .

٩_خوشحال خان ختټك، فراقنامه ، دزلمي هيواد مل په زيار، كابل پوهنتون ، ١٣۶۴ ه ش ، ٣٨ مخ .

١٠_١١_ ګلدسته ، مقدمه ٧٢-٧٩مخونه .

١٢_ دعبدالقادر خان ختټك ژوند ، فن او شخصيت ، ياده شوې مقاله ، ۴٧ مخ.

۱۳_ پورتني اثر، دکانديد اکاډميسن محمد صديق روهي مقاله. دعبدالقادر ختېك د شخصيت انځور دهغه ددیوان په هنداره کې ، ۱۲ مخ .

۱۴_ محمد هوتك، پټه خزانه، دريم چاپ. دپوهاند عبدالحی حبيبي تحشيه او تعليقات... دپوهنې وزارت ۱۳۳۹ ش ۱۲۰ مخ .

۱۵_داستاد روهي ياده شوې مقاله، ۱۲ مخ .

۱۶_ ګلدسته، ۷۳ مخ .

۱۷_ دعبدالقادر خان ختېك ديوان ، تحقيق او ترتيب پروفيسور جهانزيب نياز ، پښتو اکيډيمي پېښور . ۲۰۰۴ م ، ۸۱مخ .

۱۸_ ګلدسته ۷۲ مخ .

۱۹_ د سرمحقق زلمي هيواد مل ياده شوې مقاله. ۵۲ مخ.

۲۰_ دعبدالقادر خان ختېك ديوان . ياد شوی چاپ. ۱۳ مخ .

۲۱_ عبدالقادر خان ختېك ژوند ، فن او شخصيت. ۵۵ مخ .

۲۲_سيد محی الدين هاشمي، ادب پوهنه، داريك د ګرځنده کتابتونو اداره،پېښور، ۱۳۸۲ لمريز کال. ۸۸-۸۹ مخونه .

۲۳_ عبدالقادر خان ختېك ژوند فن او شخصيت . ۹۳-۹۴ مخونه .

۲۴_ محمد هوتك . پټه خزانه، ۱۲۲ مخ .

۲۵_دعبدالقادرخان ختټك ديوان، دپروفيسور جهانزيب سريزه.

۲۶_داشرف خان هجري ديوان ، دهميش خليل په زيار، پېښور ۱۹۵۸ م، ۲۴۸ مخ.

۷۷_ پټه خزانه ۱۲۰ مخ .

۲۸_ دعبدالقادر خان ختټك ژوند فن او شخصيت، ۱۱۳ مخ .

۲۹_ پورتنی اثر، ۱۱۱ مخ .

۳۰_ همدغه اثر، ۱۱۴-۱۱۸ مخونه .

۳۱_ عبدالحی حبيبي، دعبدالقادر خان ختټك ديوان مقدمه ، ۱۳۱۷ لمريز كال، ۱۵ مخ.

۳۲_دعبدالقادر خان ختټك ژوند ، فن او شخصيت ، ۱۲۰ مخ .

۳۳_ پورتنی اثر ، اروابناد روهي مقاله، ۱۴ مخ .

۳۴_ ډاكتر راج ولي شاه ختټك ، دعبدالقادر خان ختټك ديوان ، پيش لفظ، پښتو اكېډيمی پېښور، ۲۰۰۲ م كال، ۳ مخ .

۳۵_ دعبدالقادر خان ختټك ژوند ، فن او شخصيت ، ۱۶-۱۷ مخونه .

۳۶_دسرمحقق مرستيال ، نصرالله ناصر، دګلدستې دژباړن عبدالقادر خان ختټك لنډ ژوند ليك، دسيمينار مقاله .

۳۷_ دعبدالقادر خان ختک ژوند ، فن او شخصیت ، ۴۳- ۴۴ مخونه .
۳۸_ دعبدالقادر خان ختک دیوان ۲۰۰۳ م. ۹۷ مخ .
۳۹_ پټه خزانه، ثلورم چاپ، ۶۵مخ .
۴۰_ دعبدالقادر خان ختک ژوند ، فن او شخصیت ، ۵۸ مخ .
۴۱_پورتنی اثر، پورتنی مخ .
۴۲_ دعبدالقادر خان ختک ژوند ، فن او شخصیت ، ۵۸ مخ.
۴۳_ همدغه اثر ۷۷- ۸۰ مخونه .
۴۴_ ګلدسته، دعبدالقادر خان ختک سریزه، ۷۴ مخ .
۴۵_داستاد حبیب الله رفیع لیکلي یادښتونه .
۴۶_ دعبدالقادر خان ختک ژوند فن او شخصیت دسرمحقق زلمي هیوادمل مقاله ،۸۵-۸۸ مخونه .

مقدمه

ډاکټر عظیم شاه خیال بخاري

پېښور پښتو اکېډیمي

۱۹۶۱ م کال

مقدمه

په ایشیایي ژبو کې د فارسي شاعرۍ لوړ والی او عظمت هر چا ته معلوم دی. ولې په دې شاعرۍ کې هم دایران خلکو درې تنه دټولو نه اوچت ګڼلي دي. او دغه درې تنه فردوسي، انوري او سعدي دي. لکه چې د یوې پخوانۍ قطعې نه څرګنده ده چې:

در شعر سه تن پیمبرانند — هر چند که لانبی بعدی
ابیات و قصیده وغزل را — فردوسي و انوري و سعدي

دا قطعه د ډیرې پخوانۍ زمانې راهیسې د فارسي دادب په تاریخونو کې را روانه ده. دایران خپل عالمان خو دا بالکل درسته ګڼي، ولې مشهور مستشرق ډاکټر براون دفردوسي په شاهنامه او مولینا شبلي نعماني دانوري په قصایدو ګوته ایښې ده. او دادب د پیغمبرۍ وړیې نه ګڼي. ولې د سعدي دغزل دلوړ والی او کمال په حقله ټوله دنیا یوه خوله ده.

دسعدي دغزل آوازه دهغه په ژوند کې یواځې په ایران کې نه وه، ولې په نورو ملکونو کې هم تر لرې لرې رسیدلې وه. او دا یو داسې سعادت او دقدرت یوه داسې ورکړه ده چې ډیرو کمو شاعرانو، ادیبانو او عالمانو ته په خپل ژوند په برخه رسیدلې وي. سعدي یو ګرځنده او سیلانی سړی و او دعمر ډیره برخه یې په سیاحت کې تیره کړې وه او تر لرې لرې ملکونو پورې ګرځیدلی و. هغه چې کوم ملك یا ښار ته،ته، نو نوم به یې وړاندې هلته رسیدلی و. دهغې ځای خلکو به چې ددې سیلاني میلمه نه دوطن پوښتنه وکړه او ده به ورته په جواب کې د شیراز خاوره یاده کړه.

14048

نو دویم تپوس به دهغوی دا و چې آیا سعدي پيژني؟ یا دسعدي څه کلام به راته واوروې؟ دا و ددې لوړ شاعر عالم د شهرت حال!

دغزل ددې پیغمبر دغه نوم او شهرت د هغه په وخت کې خو دده دغزل په وجه و، او دا دب تاریخونه اوس هم دده دغزل دکمال په صفتونو نه مړيږي، ولې د تعجب خبره داده چې په دې ګرده دنیا کې ځنې نور شاعران، لکه واخلې حافظ دده نه ډیر زیات شهرت او مقبولیت لري. بلکه دده ددې لوی نوم او مقبولیت وجه دده دغزل نه زیاته دده ورکوټی شان کتاب دی، چې"ګلستان"نومیږي.

دګلستان یادې سره ترلې د نظم د بل کتاب " بوستان " تعارف او پیژندګلو کول به داسې وي، لکه چې څوك د نمر د ښودلو دپاره ډیوه بله کړي، ځکه چې دا داسې مشهور کتابونه دي چې د مشرق ټولو اسلامي ملکونو کې د پیړیو پیړیو راسې د اخلاقي ، دیني او ادبي شاهکارونو په حیثیت په درس کې شامل دي او دعلم هر یو " طالب" به دخپل تعلیم او زده کړې شروع د" پنج ګنج " او " تحفه " نه پس ددې کتابونو نه کوله . په دې دواړو کې هم دګلستان درجه ډیره اوچته ده . ددې کتاب دادبي لوړ-والي او کمال نه علاوه ددې کتاب اخلاقي او تربیوي اړخ دومره فایده من او موثر دی چې اسلامي دنیا خو یو خواته ، غیر اسلامي ملکونو هم ددې داسې قدروکړ، چې ددنیا ډیرو کمو کتابونو ته دغه درجه په نصیب شوې ده .

که څوك دا وغواړي چې دګلستان په حقله مشرقي او مغربي عالمانو او مترجمینو چې کوم خیالات لیکلي دي، فقط هغه را جمعه کړي. نو هم که زیات نه وي، نو دګلستان دخپل ضخامت نه به په سل چنده یو غټ کتاب ترې ساز شي.

په دې موقع زه فقط دیو عالم مولینا آزاد یو څو ښکلې جملې وړاندې کوم. هغه په سخندان پارس کې لیکي چې:

" او عجیبه داده چې دعارف نه واخله تر یو عالمه پورې او دیو زاهد پرهیزګار نه واخله تر یو بې حیا' رنده پورې ټول یې لولي. او په خوند خوند یې لولي. دی (سعدي) دڅه ښکلي طبیعت او مزاج خاوند و، چې شاهانه فقیرانه ، واعظانه او د بزرګانو هسې وعظ و پند، غرض دکوم مضمون قصه چې غواړې پکې ولوله . دده د بیان شو خي په هر حال کې خپل انداز قایم ساتي"

رښتیا خبره دا ده چې ګلستان ، دفارسي ادب یو تاج محل دی. چې ټوله دنیا یې په حیرت کې اچولې ده . کومې خوبۍ، نزاکتونه او کمال چې په تاج محل کې لیدلی شي هغه واړه په ګلستان کې هم موجود دی. په تاج محل کې مرمر ، اسود ، نیلم ، یاقوت ، زمرد او دغه شان نور بې شمیره قیمتي کاڼي په داسې انداز ، ډول او تناسب لګولي شوي دي چې ددې نه غوره ګلکاري او نزاکت کم نه کم تر اوسه د چا په عقل کې نه دی راغلی . همدغه شان په ګلستان کې هم الفاظ ، مرکبات ، محاورې ، جملې، اشعار، آیاتونه ، احادیث ، مقولې و غیره په داسې موزونیت ، طرز او کمال ځبله ترلي شوي دي چې دنیا ورته حیرانیږي. که په تاج محل کې داسې باریکۍ ، نازکۍ او زړه راښکونې ګلکاري او انځورونه دي چې فن پرې ناز کوي، نو په ګلستان کې هم د جملو ساخت، دالفاظو جوړښت، سجع، قافیه ، رواني، سلاست او خوږ والی څه داسې سره ترغاړه وتي دي چې موسیقي ترې قربانیږي.

تاج محل که دسترګو او نظر جنت دی، نو ګلستان دزړه او روح ارم دی. دا هر څه دي، خو لږ شان فرق هم پکې شته . هغه دا چې کیدی شي چې د زمانې یون ، دیو څو پیړونه پس د تاج محل په ښایست کې څه

فرق یا نقص راولي ، نا ، بلکه خدای مکړه، دا هم کیدی شي چې څه نامساعده حادثه ، تاج محل ددنیا د مخ نه بیخي ورکولی هم شي، ولې ګلستان دا یو داسې تخلیق دی چې دزمانې تګ او نامساعده حادثات او حالات پرې هیڅ اثر نه شي کولی. دا یو ابدي ښایست دی . دا په تل تر تله باقي وي . او داسې ښکاري چې ددې شاهکاردتخلیق په وخت د سعدي په خپل ذهن کې هم دغه خبره پرته وه، ځکه خویې ویلي دي:

" برای نزهت ناظران و قسمت حاضران کتاب گلستان تصنیف توانم کردن که با د خزان را بر اوراق او دست تطاول نباشد و گردش زمان عیش ربیعش بطیش خریف مبدل نگردد"

گل همین پنج روز و شش باشد   وین گلستان همیشه خوش باشد

سعدي د ګلستان په لیك کې یو مخصوص انداز لري. لنډ ی لنډې جملې ، پریکړې پریکړې شان عبارت دي، خو خدای پاك یې په ژبه کې داسې نرمي او په خوله کې داسې خوږ والی ایښی دی چې غوټې دریښمو لچې ښکاري. د صنایعو بدایعو دستکاري پکې نه دي شوې او که څه ځای په ځای ددې مثالونه موندی هم شي، نو هغه آمد دی،آورد نه دی، یعنې سعدي د صنایعو بدایعو دراوستو څه خاص التزام نه دی ساتلی . او داسې قسم الفاظ یې پکې په تکلف او زور نه دي استعمال کړي، بلکه په داسې موقعو کې که چیرته داسې الفاظ راغلي دي، نو په دغو ځایونو کې دوی نه زیات مناسب او موزون الفاظ هډو وو نه او همدغه د سعدي کمال دی چې یو لفظ دیوې جملې نه لرې کړی او ددې په ځای څه بل ټکی هلته کښېږدې، نو ددغې لفظ بې شمیره مترادف او هم معنی الفاظو کې به ددغې نه زیات موزون او ښایسته لفظ پیدا نه کړې. او همدغه حال یې د جملو او عبارت هم دی. د مولینا آزاد په لفظو نو کې: "که چیری په دغه عبارت کې څه نور عبارت (ان که ډیر ښکلی هم وي)

ځای کړی شي، نو صفا داسې ښکاري چې لکه د بخملو په پرده باندې چا د بانا تو پیوند لګولی وي. "

دموۍ جز ، مرصع ، مسجع او مقفي عبارت شروع د سعدي نه ډیر پخوا بدیع الزمان حریري ز محشری او شر ف الدین کړې وه ، او حمیدالدین بلخي د شپږمې صدۍ په منځو ما نه دهغوی په تقلید کې مقامات حمیدي نو مي کتاب ولیکلو او باقاعده یې ددې سبك تشکیل وکړو، ولې په قول دایران د یو نوموړي عالم او فاضل استاد سعید نفیسي:

" سعدي په ګلستان کې مسجع او مقفي عبار ت د ښایست انتهایي درجې ته ورساوه او دا هنر به تل ده سره مخصوص وي. او بل کوم لیکونکی په مسجع مقفي مصنوع و متکلف نثر دهغه (سعدي) په شان سادګي او رواني کې و نه لیکلی شي. "

او ځنو لوړو شاعرانو او ادیبانو په دې میدان کې څه ځغل هم کړی و، ولی چې سعدي راغی نو دنثر دا خصوصیات یې (بې د څه تکلفه) د زمکې نه او چت کړ او د ترقۍ آسمان ته یې دومره هسك کړل چې پخوانې خو څه چې د هغه نه ورستو راتلونکي لوړ لوړ شاعران او ادیبان تر نن ورځې پورې هغې مقام ته ونه رسید ی شو.

دګلستان حیرت انګیز مقبولیت ته د ډیرو لوړو لوړو شاعرانو خوا و غزیده ، او هغوی هم په دې میدان کې یو ن راواخیست چې دسعدي نه وړاندې شي، ولې سره ددې چې هغوی په دغه رنګ کې ډیر ښکلې ښکلې کتابونه ولیکل په دې کې د مولینا عبدالرحمن جامی" بهارستان" د معین الدین "نګارستان" د ټولو نه کامیاب کوششونه دي، ولې دا هم سره دخپل لوړ والي دګلستان ګړ دته هم نه رسي.

شیخ سعدي(رح) دغه کتاب په کال شپږ سوه او شپږ پنحوس هجري (۶۵۶ ھ) کې لیکلی دی. په دغه وخت کې دده عمر تقریباً اویا و کالو ته رسیدلی و. که څه خو شیخ سعدي(رح) له خدای پاك ددی نه پس هم تر ډیره آب و دانه لیکلې وه، ولې دا عمر هم دښه سپین ږیر توب عمر دی.

علاوه ددې نه شیخ سعدي ددې کتاب دلیك نه درې کاله آګاهو ددنیا دلرې لرې ملکونو او ښاریو د سیل او سیاحت او د اوږدو اوږدو سفرونو نه شیراز ته پستنه راګرځیدلی و، ځکه یې په دې کتاب کې د تاریخي اوریدلي او دفرضي قصو نه علا وه ډیرې قصې یې داسې راوړې دي چې دهغه په خپل سر تیر شوي واقعات او تجربې او مشاهدي دي. په دې وجه دا کتاب دشیخ داوږد عملي ژوند د مشاهدو او تجربو یوه خلاصه شان ده. ددې کتاب دلیکلو سبب ښودلو په موقع وایي:

" کلمه چند بطریق اختصار از نوا در وامثال و اشعار و حکایات و سیر ملوک ماضیه درین کتاب درج کردیم، وبرخی از عمر گرانمایه بر خروج موجب تصنیف کتاب گلستان این بود و بالله التوفیق. "

شیخ سعدي دا کتاب په اتو بابونو ویشلی دی. او په اتو بابونو کې د ویشلو تو جیه یې داسې کړې ده:

" تا مرا این روضه رعنا و صدیقه علیا چون بهشت باب اتفاق افتاد"

هر یو باب یو خاص عنوان لري او په دې کې ددغې عنوان سره مناسبې لویې وړې قصې یې راوړې دي. په اولني باب کې یو ځلویښت، په دویم کې یو کم پنځوس، په دریم کې یو کم دیرش، په څلورم کې څوارلس، په پنځم کې یوولس، په شپږم کې اته، په اووم کې نولس قصې او په اتم باب کې شپږ د پاسه سل نصیحتونه، پندونه او حکمتونه دي دکتاب په سرکې یوه ښکلې دیباچه د کتاب لیکلې، اسباب د کتاب

انتساب او دخپل ممدوح حالات ليکلي دي. او په آخر کې يې يوه مختصر شان خاتمه ورکړې ده.

لکه څرنګ چې دګلستان په مختلفو بابونو کې د قصو شميره يو شان نه ده، همدا رنګه په هر باب کې د قصو اوږدوالی هم يو شان نه دی . ځينې قصې خو په کې په کرښه دوو کې خلاصې شي. لکه :

" يکی از پادشاهان پارسای را ديد و گفت: هيچت از ماياد می آيد ، گفت: بلی، وقتيکه خدای را فراموش کنم!"

خو ځينې قصې په ځو ځو مخونو خورې وي. لکه دهغه يو بې کاره او بيزوزګار دآشنا قصه يا دسعدي د چا بل سړی سره د مجادلې واقعات ، په ځينو ځايونو کې په قصه کې نورې نورې قصې هم راغلې دي . او ځينې پکې ښکلې ډرامايي انداز کې ليکلې شوې دي، لکه دهغې پاچا قصه چې يوه شپه يې ده ته " در عشرت کده روز کرده" په مستۍ کې وايي:

"ما را بجهان خوشتر ازين يکدم نيست

کز نيك و بد انديشه و از کس غم نيست"

ددغې دنګ محل د لاندې يو بر بنډ لغړ فقير دغه آواز اوري او دلاندې نه ورته په استغنا سره داسې جواب ورکوي:

" ای آنکه باقبال تو درعالم نيست

گيرم که غمت نيست غم ما هم نيست"

باچا په دې فی البد يهه او ښکلي جواب خوشحاله شي، او دانعام ورکولو په غرض دروپو يوه هميانۍ واخلي او دمحل د کړکۍ نه پرې آواز وکړي چې:

" دامن بدار!"

دغه بر بند لغړ فقير و رته په جواب کې وايي چې:

" دامن از کجا آرم که جامه ندارم! "

بادشاه په دې جواب لا متاثره او خوشحاله شي او يو خلعت هم ورو بخښي. علاوه داخلاقي نتايجو نه چې کومې ددې قصې نه اخذ کيدی شي، ددې قصې ډرامايي رنګ ځومره ښکلی او زړه راښکونکی دی، او بيا ورسره ځو مره فطري هم دی! مختصری اشارې او مختصرې مکالمې دي، ولې دلوستونکي په ذهن کې دباچا محل ، په محل کې د باچا د عيش و عشرت او مستي، ددې محل د لاندی يو بر بنډ لغړ فقير ولاړه ، بيا ددوی داسوال و جواب ، دفقير استغنا چې بدمست باچا ته وايي ، چې که ته غم نه لرې، نو زه هم لتانه کم نه يم بيا دانعام ورکولو منظر، دمحل په کړ کۍ کې د باچا هميانۍ په لاس راښکاره کيدل ، فقير ته ويل چې لمن ونيسه او دفقير جواب ورکول چې جامه نه لرم، لمن دکومې راوړم؟ وغيره وغيره . دا ټول واقعات د سينما دپردې غوندې په خپل اصلي او رنګين شکل کې تير شي. يا داسې ښکاري چې د ټياټر په سټيج باندې دغه منظر لګياه دی پيش کيږي، نه، بلکه يو لوستونکی داسې محسوسوي چې په دغه توره شپه کې هغه چرته پټ ولاړ دی او دا ټول واقعات لګيا دي په خپلو سترګو ويني او دا ټولې خبرې په خپلو غوږو آوري، او هم دغه منظر نګاری کمال ګڼلی شي.

د شيخ سعدي(رح) د لنډ و، لنډ و او پريکړو، پريکړو جملو يا د مسجع ، مقفي او د روان عبارات تعريف به ځوك څه وکړی شي. چې علامه سعدالدين تفتازاني غوندې لوړ او نوموړی عالم هم وايي چې زما ټول مطول[۱] دې رانه واخستی شي او دسعدي يوه فقره " از بستر نرمش به

۱_دعلامه تفتازاني د يوشاهکار کتاب نوم دی چې په علم بيان او معاني وغيره يې ليکلی دی.

خاکستر گرمش نشاندند" دې راله را کړی شي. د شیخ سعدي په گلستان کې دا یوه فقره د قدر وړه نه ده، بلکه په ټول گلستان کې داسې ډیر گلونه خواره واره پراته دي. زه به ترې هسې د مثال په طور یو څو جملې دلته وړاندې کړم چې لوړو لوړو ، عالمانو او دفصاحت او بلاغت پوهانو پرې سرونه د تحسین خو ځولي دي.

د بادشاهانو د مزاج د تلون په حقله یې څه ښکلې او حقه خبره کړې ده :

" وقتی به سلا می بخندند و گاهی بدشنامی خلعت دهند ."

دیو فقیر په حقله وایې چې " سر به آستان کعبه می مالید و می نالید" دحج په لار یو بیابان ته رسیدلی دی . چې هلته ستړی ستومانه شوی دی او دمه کول غواړي،یو ملگری ورته ددغې ځای د شو کمارو و غیره په حقله وایي:

" ای برادر! حرم درپیش است و حرامی از پس، اگر رفتی بردی و اگر خفتی مردی"

دیوه شوم سړی نقشه یې په څه ښکلو الفاظو کې راښکلې ده .

" نانی از دست بجانی ندادی و گربه ابو هر یره را به لقمه ننواختی و سگ اصحاب کهف با استخوانی ننواختی فی الجمله خانه اور ا کس ندیدی در گشاده و سفره او را سر گشاده "

یو بد آوازه ملا چې په زوره زوره یې قرآن وې، دهغه په حقله وایي:

" گفت از برای خدا می خوانم " بل ورته ووې چې "از برای خدا که مخوان "

دښایست تعریف کوي... "جمالیکه زبان فصاحت از بیان صبا حت او عاجز آید"

سړی چې بال بچه دار شي، نو ډیری ذمه داری یې په سر شي او ژوند یې په یوه نو ې لار روان شي. ددی په حقله د یو بال بچه دار سړي د خولې وایې چې " چون کودکان آوردم دیگر کودکی نکردم."

دخپلې يوې جګړې نقشه داسې را کاږي چې : "د شنام داد سقطش گفتم . گريبانم دريد ، زنخدانش شکستم" د فقيرانو ګدا ګر و حال به څوك ددی نه په ښه او واضحه طريقه بيان کړی شي؟ "طائفه هستند قاصر همت کافر نعمت ، که ببرند و نهند و نخورند و ندهند ."

ددې په مقابله کې د ورکړې په حقله وايې چې: " نيکبخت آنکه خورد و کشت و بد بخت آنکه مردو هشت! "

په ځينو ځايونو کې يې تقريباً يو شان خيال څرګند کړی دی، ولې دا تکرار او اعاده نه ښکاري ، بلکه په هره موقع جدا، جدا خوند لري. په يو ځای کې وايي:

" دو کس مردند و تحير بردند: يکی آنکه داشت و نخورد و ديگر آنکه آموخت و نکرد."

په يو بل ځای کې وايي:

" دو کس رنج بيهوده بردندو سعی بی فايده کردند: يکی آنکه اندوخت و نخورد و ديگر آنکه آموخت و نه کرد."

د بادشاهانو طمع او هوس،او ددنيا نا پايداري او بې وفايي داسې ښکاره کوي چې يو سړي يو بادشاه په خوب کې اوليد چې نوروجو د يې خاورې شوی و ، خو سترګې يې لاهغه شان ګرځيدې . ددې خوب تاويل يا تعبير هيچا و نه کړی شه . يو فقير يې تا ويل داسې وکړ چې:" چشمش هنوز نگران است که ملکش با دگران است:"

ديو شوم په حقله وايي:" زراز معدن بکان کندن بدر آيد و از دست بخيل بجان کندن! "

وغيره - و غيره...

دا مثالونه خو يو موټی ووله خرواره . خو ددې نه هم ښه بر سيره کيږي چې د سعدي په جملو کې څو مره سادګي ده ، ښايست دی ،

دلکشي ده ، وقار دی او سره ددې وقاره پکې راوني، وزن او موسيقي ده او دا ټولې خو بۍ او ټوله ښکلا يې بې د څه تکلف او تصنع نه پکې پيدا کړې ده . ددې عبارت د لوستو په وخت داسې معلوميږی چې يو بې تکلفه دوست را ته مخامخ ناست دی او خبرې کوي. خبرې نه، بلکه مرغلرې دوروي. دهغه په وينا کې يوه خاصه شوخي، يو ښکلی ظرافت دی چې د لوستو نکی په زړه باندې يو خوند ناکی کيف او اثر غورځوي او دهغه د پندو نصيحت دا خشکې او ترخې خبرې هم لکه د قند هسې خوږې لګي. سعدي پخپله هم د ګلستان دې خصوصيت طرف ته اشاره کړې ده او ورسره ددغې طرز د اختيار ولو په حقله تو جيه هم کړې ده چې د معترضينو او نکته چينانو خو له بنده شي، هغه وايي:

" غالب گفتار سعدي طرب انگيز است و طيب آميز، کوته نظران را بدين علت زبان طعنه‌دراز که مغز دماغ بيهوده بردن و دود چراغ بيفايده خوردن ، کار خردمندان نيست، و ليکن به رای روشن صاحبدلا ن که روی سخن در ايشان است . پوشيده نماند ، که در موعظتهای صافی در سلک عبارت کشيده است و داردی تلخ نصيحت بشهد ظرافت بر آميخته ، تا طبع ملول انسان از دولت قبول محروم نماند - الحمد ا للهِ رَبِّ العَالمِين "

د نثر ددی ټولوخوبو او کمالاتو نه علاوه چې نثر يې پرې هم لکه د نظم خوږ او دزړه راښکونی کړی دی او دلوستونکي پرې د نظم سود کيږي. په دې قصو کې يې ځای په ځای په مناسبو او موزونو موقعو اشعار، قطعې، رباعيانې ، او مثنوي ګانې... داسې لګولي دي ، لکه چې ماهر زرګر د سره زرو په کالو کې سو چه زلقيدو نکي غمي لګي، دانه ، بلکه د عبارت دغه کالي يې د آياتو نو، حديثونو ، عربي مقولو او په اشعارو يې ښايسته کړي دي.

دګلستان د عالمګیر مقبولیت یوه غټه نخښنه داده چې ددې کتاب اکثرې فقرې ، شعرونه او مصرې ، د فارسي نه علاوه په نورو مشرقي ژبو کې هم لکه د متلونو او مثالونو را وړی شي، لکه واخلئ:

" آن را که حساب پاک است از محاسبه چه باک "، "من آنم که من دانم"، "عطائی او به لقای او (بخشیدم)" "مشک آنست که خود ببوید نه که عطار بگوید". "من نکردم شماحذر بکنید." "درویش هر کجا که شب آمد سرای او ست". "خبر بد به بوم شوم گذار"، " حاجت مشاطه نیست روی دل آرام را" "دهن سگ به لقمه دوخته به" - یا دا شعار چې:

این سعادت بزرو بازو نیست — تا نه بخشد خدای بخشنده
گر بر سرو چشم من نشینی — نا زت بکشم که نا ز نینی
به نادان آنچنان روزی رساند — که دا نا اندران حیرا ن بما ند
ترسم بکعبه نرسی ای اعرابی — کین راه که تومیروی بترکستان است
اسپ تاز ی ا گر ضعیف بود — هم چنا ن از طویله خر بِه

و غیره و غیره ...

ګلستان لکه چې وړاندې وویلی شو، په اتو بابونو کې ویشلی شوی دی . په دی اتو بابونو کې یې ، که دهر ې زمانې نه وي، نو کم نه کم د هغې وخت د ضرورت او اقتضا مطابق ټولې خبرې پکښې راجمع کړې وې ، څکه دهر عمر ، هر طبیعت ، هر مزاج او دهرې طبقی او پایې خلك ترې د خپل خپل ضرورت مطابق سبق اخلي ، او په ډیر خوند خوند یې اخلي، ولې سره ددې هم ، دنوې زمانې دې نوی رجحانا تو تر لاندی خلق د ګلستان په پند و موعظت کې ځینو خبرو ته ګوته نیسي او خپل اختلاف ترې څرګندوي . لکه واخلی:

" جور استاد به زمهر پدر. " یا " دروغ مصلحت آمیز به از راستی شر انګیز."

"اګر شاه روز را ګوید شب است این
بباید ګفتن اینک ماه و پروین "

و غیره.

ددا سې قسم خیالاتو نه ، د اختلاف نه علاوه ځینې عالمان دا هم وایې چې په ګلستان کې ځینې ضعیف حدیثونه راوړلي شوي دي. چې دسعدي غوندې لوی عالم له پکار وو چې ددې نه یې ځان ژغورلی وای، ځینې خلق ددې کتاب په پنځم باب هم داعتراض ګوته کښیږدي چې په دې کې ځینې خبرې داسې بر بنډ ی شان دي، چې د زنانه و دلوستلو خونه دې نه دي، خو دزلمو د کتو هم نه دي ، ځکه چې په دوی څه ښه اثر نه غورځوي. ددې اعتراضاتو یا اختلافاتو په حقله متضاد خیالات دي. او دا یو اوږد بحث دی ، چې دا زمونږ میدان نه دی. صرف دې طرف ته اشاره غوندې ضروري وه ، چې ځینی خلق ددې تعلیماتو او خیالاتو سره اختلاف هم لري. ولې سره ددې اختلافاتو او اعتراضاتو دګلستان دا فادیت او عظمت نه هیڅا انکار نه دی کړیاو نه کولی شي.

ګلستان د پیړیو پیړیو راهیسې په اسلامي ملکونو کې په درسي کتابونو کې شامل پاتې شوی دی - ددی کتاب دافادیت او اهمیت اعتراف یواځې مشرقي ملکونو نه دی کړی، بلکه دغه کتاب مغربي ملکونو هم لاس په لاس اخستی او قدر ولی دی. د مشرق او مغرب ډیر ې کمې ژبی به داسې وي چې په هغو کې د ګلستان ترجمه نه وي شوې. غالباً جارج ګینټس (George Gentius) اولنی عالم و، چا چې په سنه ۱۶۵۱ع کې ددی کتاب ترجمه په لاتیني ژبه کې وکړه ، او دایران دا شاهکاریې یورپ ته وړاندې کړ. اود یورپ خلقو اول خو به د لاتیني ددې ترجمې نه ترجمې کولی، خو بیا ورو ستو د یورپ په نورو ژبو، لکه

انګريزي ، فرانسوي، جرمني او ډچ و غيره ژبو کې ددې کتاب ترجمې شروع شوې او په هره ژبه ددغو ژبو مختلفو عالمانو او مستشرقينو ددې کتاب ترجمې په خپل خپل رنګ کې وکړې. دمثال په طور په متقدمينو کې ددې عالمانو دانګريزی ترجمې مشهور ې دی:

۱_ ګليډون (Glad Win) کلکته، سنه ۱۸۰۹ ع، لندن ۱۸۳۳ع.

۲_ راس (James Ross) لندن، سنه ۱۸۲۳ ع ،بل نوی ايډيشن سنه ۱۸۹۰ع.

۳_ لی (Lee) سنه ۱۸۲۷ع.

۴_ ايسټوك (E.B.East Wick) او هرټ فرډ، سنه ۱۸۵۲ ع بل نوی ايډيشن لندن، سنه ۱۸۸۰ع .

۵_ جانسن (Jonnson) سره د فرهنګه، لندن ،سنه ۱۸۶۳ع.

۶_ پلاټس (Platts) لندن ،سنه ۱۸۷۳ ع.

دانګريزي په دی لنډو ترجمو کې آخري ترجمه، يعنې د پلاټس ترجمه او د ايسټوك نسخې د ټولو نه غوره او صحيح ګڼلی شي.

د مشرق خلق بالعموم په فارسي ژبه پوهيدل ، ځکه يې داصل کتاب نه استفاده کوله، ولې سره ددې په ځينو مشرقي ژبو کې هم ددې ترجمې شوې دي . او په دی ميدان کې پښتو هم دنورو ژبو ورو ستو نه ده پاتې شوې . او يو ځو اديبانو يې ګلستان په ښکلې پښتو کې را اړولی دی. په دوی کې غالباً چې د ټولو نه زړه او دټولو نه غوره ترجمه د عبدالقادر خان خټك ده ، چې دنن نه څه د پاسه دوه نيم سوه کاله اګاهو يې په سنه ۱۱۲۶ ه [1] کې د "ګلدستی" په نوم کړی ده. دا ترجمه تر اوسه پوری په خطي شکل کې وه، او که څه هم ددې کتاب څه لږ ې ډيرې برخې

۱_ دا ښايي دشميرې په ليك کې د خطاط تيروتنه وي، دګلدستې د ژباړې کال ۱۱۲۴ ه ق دی.(مهتمم)

په ځینو کتابونو کې د نمونو په څیر چاپ شوي دي، ولې ټول کتاب لا تر اوسه تر چاپه نه دی رسیدلی. او اوس پښتو اکیډیمی دغه ښکلی او اهم کتاب د پښتو مینو ته وړاندې کوي.

تر اوسه پورې خو زموږ د خبرو موضوع ګلستان و، ولې اوس ښایي چې موږ خپلې اصلي موضوع، یعنې ګلدستې ته راو ګرځو. ګلدسته لکه چې وړاندې وویلی شو دخوشحال خان ختټك زوی عبدالقادر خان ختټك لیکلې ده، ددی کتاب په سر کې دکتاب د تألیف سبب بیانو لو په موقع د لیك کال سنه ۱۱۲۴ ه ښودلی دی. لکه چه وایي:

زرسل څلر یشت د سن کالونه
له ګلستانه چې دا ګلونه
ټول شول چې ترجوړه ګلدسته شوه
یادګار به پاتو شي مونږه به ځونه

ددې نه وروستو یې د تاریخ یوه قطعه هم ورکړې ده. وایي:

دا کتاب چې ګلدسته د ګلستان دی
ګل چیني کا عبدالقادر ختټك
که تاریخ یې دآغاز دانجام غواړې
سن د هجر په شماره و دغق دك

د" غق دك " نه هم سنه ۱۱۲۴ ه جوړیږي. په هم دغه دیباچه کې دی وایې چې (ګلدستی دترجمې کار) " په شهر رجب کې شروع شه په رمضان کې په کوتاه عبارت په طریق اختصار په اتمام ورسیده ...."

د کتاب په آخر کې یې ددې میاشتې تاریخ هم ورکړی دي، لکه چې وایي:

"الحمد الله چې په تاریخ د شلیریشتم درمضان دا کتاب چې موسوم په گلدسته د گلستان دی په اتمام ورسیده. "

که دا ټولې خبرې یو ځای کړو، نو دا به ترې معلومه شي چې عبدالقادر خان دا کتاب درجب په میاشت کې شروع کړی او په شلیریشتم درمضان. کال زرسل شلیریشت کې سر ته رسولی دی، درجب میاشتې سره یې کال نه دی ورکړی، خو ددې نه یې لږ وړاندې دا تصریح کړې ده چې په سنه ۱۱۲۴ ﻫ کې یې په نو ښهر کې د گوشه نیولو او دگلستان د ترجمې دخیال را پیدا کیدلو ذکر کړی دي. ځکه درجب دا میاشت هم ددغې کال کیدی شي، نو په دې حساب دغه کتاب ددغې کال درجب او رمضان دمیاشتی تر مینځه، یعنې په دوو دوه نیمو میاشتو کې ترجمه کړی دی.

په دومره لنډ تنګ وخت کې د گلستان هسې معیاري ، گران او اوچت کتاب ترجمه کول دعبدالقادر خان دعلم او قابلیت یو ښکاره ثبوت دی. یو معیاري کتاب دیوې ژبې نه په بله ژبه کې په همدغه معیار او ښایست ترجمه کول ډیر گران کار دی، او په دې لاره کې مترجم ته چې کومې گرانۍ او مشکلا ت ور دو ځاره کیږی دهغی اندازه فقط هم ددې میدان پیاوړو او مړنو ته وي. ولې یو عام سړی هم په دې غټه خبره پوئ دی چې دیو مترجم دپاره لازمي ده چې هغه نه یواځې په هغه ژبه ښه حاوي وي د کومی نه چې ترجمه کول غواړي، بلکه په کومه ژبه کې چې ترجمه کولی شی، په هغی یې هم ښه عبور وي . او دا داسی خوبي ده چې ډیرو کمو خلکو ته په برخه رسیدلې وي . د پښتو ادب او شاعري خو د خوشحال خان دکورنۍ خاصه ده ، ولې عبدالقادر خان دفارسي او عربي ژبو هم ښه عالم و، لکه چې هغه ددی بیان نه څرګندیږی چې دهغه د گوشه نشینۍ په ورځو کې دهغه ځینو دوستانو به دهغه نه استفاده دعلم عربي او فارسي کوله .

علاوه له دې ځينو دوستانو به ترې ګلستان هم لوست، ځکه خصوصيت سره په دې كتاب ښه حاوي شوی و. او دا كتاب يې هم ، دهغوی په اصرار په پښتو راآړولی دی، لکه چې وايي:

" بعضو دوستانو راڅخه ګلستان كتاب لوست ، ډير ډير به يې راته ويل چې دعربي دفارسي كتابونه ډير دي ، اما په پښتو ژبه كې كتابونه د پښتو نشته ،ستا قوت د تصنيف د ترجمی البته شته . كه تصديع په ځان قبوله كړې ګلستان كتاب چې مطبوع او مرغوب دخاصو عامو دی، هم يې لوی سړی ګوري نصيحت ترې اخلی، هم يې هلكان لولي بركت تر ي اخلي. اكثر خلق يې متن ولولي دويم ځل يې معنی ، كه په پښتو ژبه ترجمه شي. پښتو ته به آساني ډيره وشي. فايده به يې لويو هلكو ته ورسي. زما بل شغل درپيش نه و، فارغ ناست وم...."

په مغربي ژبو كې دفارسي د كتابونو د ترجمو په حقله يو عالم ليكي چې:

Every Poet , however , to be throaty understood and appreciated eight to be read in the language in whined he him alga has within. However good the translation many be) it is wonting in style , the pail, the acutely, the need meaning and rainy anther throng. Shakespeare in ingrained. Date in the Loan, are intimately paint to Thom awed up in any other for gauge. And- the none toy be aid of the pain photo....

ددې عالم دغه وينا په يورپي ژبو كې د ترجمو په حقله ټكی په ټكی درسته ده، ولې هم دغه خبرې دمشرقي ژبو په خپلو ترجمو باندې هم حاوي كيږي . خو سره ددې هم مونږ دا په كلكه ويلی شو. چې دعبدالقادر خان په ترجمو كې دغه كمی ډير كم دی.

د عبدالقادر خان نه پس د ګلستان څه نورې ترجمی هم شوي دي، چې په كې د ښاغلي راحت زاخيلي ترجمه چاپ شوې ده . دا ترجمه تحت-

اللفظ ده . او دګلستان په زده کړه کې دآسانتیا دپاره شوې ده . په داسې ترجمو کې د مفهوم دوضاحت سره سره د لفظونو معنو ته زیاته توجه ورکولی شي. ځکه یو خو داسې ترجمې بې د متن نه چاپ کول بې خونده ښکاري او دویمه دا چې کله کله د لفظ معنو پسې تلل ، یو مترجم، د محاورې نه علاوه د مفهوم نه هم لرې باسي. ددې خبرې دوضاحت دپاره د ګلستان د یوې ترجمی نه زه یو څو مثالونه وړاندې کوم:

ګلستان:

کس نه بیند که تشنګان حجاز   به لب آب شور ګرد آیند

ترجمه :

هیڅوك نه ویني چې تږی دعربستان

په غاړه و تروو اوبو جمع راځي

ګلستان:

هرکجا که چشمه بود شیرین   مردم و مورو مرغ ګرد آیند

ترجمه :

هرچیرته چې خوږه چینه وي

سړی او میږي او مارغه جمع راځي

ګلستان: سربر آورد و ګفت:

ترجمه : سرپورته راوړ او ویې وې:

ګلستان: پاس عزیزان داشتن منت دارد و غنیمت شمارد .

ترجمه : ساتل د زړو نو دعزیزانو لرل به احسان ولري او لوټ به وشماري.

ګلستان: سلطان را سخن او مطبوع آمد .

ترجمه : بادشاه لره خبره ویل دده غوره راغی.

ګلستان: دیګر صیاد دریغ خوردند .

ترجمه : نورو ښکاريانو افسوس وخوړ.

گلستان: درپی کاروان افتاد و برفت.

ترجمه : و روستو د کاروان پریوت او لاړ.

ددې مثالونو ورکولو نه زما غرض ددې خبرې وضاحت دی، چې په لفظي ترجمه کې او په با محاوره ترجمه کې څومره فرق وي. هره ژبه ځان له مخصوصې محاورې لري . الفاظ يې دعامو معنونه علاوه څه اصطلاحي معنیٰ هم لري، بلکه اکثر الفاظ د معنو په لحاظ بې شميره اړخونه لري، ځکه ديوې ژبې د محاورو ، روز مره او دنوو الفاظو مترادف او بالکل يوه معنیٰ لرونکي الفاظ په بله ژبه کې موندل ډير گران دي . ځکه يو مترجم د ترجمې دپاره دداسې محاورو عامه ژبه او دالفاظو لټون کوي، چې که څه هم الفاظ بدل شي، خو چې په مفهوم کې يې هيڅ فرق رانشي. او لا چې د عبارت ښکلا ، باريکي ، نزاکتونه، او نورې ادبي خوبۍ لکه سجع ، قافيه ، وزن او ترصيع يې هم د نظر تر لاندې وي، نو دترجمې کار په سل چنده گران شي.

په ترجمه کې يوه خبره بله هم د ذکر وړه ده او هغه دا چې دکوم کتاب نه ترجمه کولی شي دهغې معيار څه دی، د هغې طرز بيان څنگه دی، او چا ليکلی دی، دليکونکی د کارنامو عام ميدان کوم او ميلان يې کوم خوا دی؟ يوه خبره به يو امي سړی يو شان پيش کوي ، يو عالم به يې په بل انداز کې پيش کوي، يو شاعر اديب به يې په بل رنگ کې وايي، يو فلا سفه به يې په بل ډول ليکي. دغه وجه ده چې ديو کتاب دليکونکي طرز و انداز ، دليك معيار او موضوع وغيره داسې څيزو نه دي چې په ترجمه کې خاص اهميت لري. او همدا خبر ې د ترجمې په کار کې يو نوی رنگ گراني راوړاندې کوي،نو که په دې نقطه نظر وکتی شي،نو گلستان

يو داسې کتاب دی چې ترجمه يې دهر کس کار نه دی . او دعبدالقادر خان دې ځيګر او همت ته سړی ګوته په خوله پاتې شي، چې دګلستان غوندې کتاب ترجمه هم دګلستان په رنګ او انداز کې د پيش کولو کوشش کړی دی او په دې کوشش کې تر دې حده پورې کامياب دی چې سړی په دې ويلو مجبور شی چې دا هم دهغه کار و که چا بل چا دا کوشش کړی وی ، نو ګوري خو، چې هيڅ به ترې نه وو جوړ شوي.

" هرسړی پيدا دی خپل خپل کار لره کنه "

دګلستان په ترجمه کې د ګرانو او ددې دمختلفو ترجمو د ذکر نه پس داخبره هم څرګندول ضروري ښکاری چې د ګلستان په خپلو چاپي او خطي نسخو کې هم ځای په ځای فرق ليدی شي. په چاپي نسخو کې دا دوه نسخې د ټولو نه غوره ګڼلی شوې دي.

۱_ د ای- سپرنګر (A- Springer) نسخه، کومه چې په سنه ۱۸۵۱ ع کې په کلکته کې چاپ شوې وه .

۲_ د جی – ټی- پلاټس (J.T.Platts) نسخه، کومه چې په سنه ۱۸۷۳ ع کې په لندن کې چاپ شوې وه .

دايشيا ملکونو، لکه: ترکی، ايران ، او پاك و هند کې د ډيرو عالمانو په تصحيح او خوښه بې شميره نسخې چاپ شوي ذي . زمونږ په ملك کې د مولوی غياث الدين (دمشهور غياث اللغات مصنف) نسخه کومه چې د بهار باران په نوم چاپ شوې ده . او دګلستان يوه مفصله شرح ده د ټولو نه غوره ګڼلی شي.

دا فاضل شارح دخپلې " بهار باران شرح گلستان " په دیباچه کې دګلستان دمختلفو شارحانو او دهغوی دشرحو[1] دذکر نه پس دخپلې نسخې په حقله لیکي:

" وبقطع مسافت یکصدو دوکرده به لکنهو رسیده از نسخهٔ صحیحهٔ کاشف دقایق علوم واقف حقایق محسوس و مفهوم مولوی محمد مخدوم مرحوم که در سنه هفتصدو پنجاه وسه هجری (۷۵۳ هجری) در بلده کرمان مکتوب شده ...."

ددی لیك نه دا معلومیږي چې دمولوی محمد مخدوم نسخه د نن نه شپږ سوه کاله اګاهوهم صحیح ترین نسخه ګڼلی کیده ، ځکه خو مولوي غیاث الدین مرحوم ورپسې درامپورنه تر لکنهو پورې دومره اوږد مزل وکړ.

د خوش بختی نه په دې دریو صحیح ترینو نسخو کې دوه نسخې یعنې د پلا ټس نسخه او بهار باران ماته په لاس راغلي دي ، یوه قلمي نسخه هم لاس ته راغلې ده ، خو دا ډیره نیمګړې ده .

دګلستان په نسخو کې دفرق ښودلو دپاره مونږ ددې دوو نسخو سره د پیښنور چاپ هغه نسخه د کومې ترجمه چې ښاغلی راحت زاخیلی کړې ده ، دوړاندې کیږدو او دمثال په طور ځینې ځایونه پکې په ګوته کوو.

۱ـ پلا ټس : سیاحی ګیسو یافت (ص ۴۱.)

پیښنور: شهادی ګیسو یافت.

۱ـ شرح میر نور الله اصرادی" خیابان " شرح سراج الدین علي خان آرزو" شکر ستان" شرح ملامحمد سعد د " بهارستان " شرح عبدالغنی ، شرح عبدالرسول و شرح عطاء الله لاهوری و " بهار عمر" شرح مولوی عبدالحی عرف عادل و شرح عربی سروری کاشانی و شرح ولی محمد مرشد آبادي.

بهار باران : سیاحی گیسوان یافته- (دمخدوم په نسخه کې «شهادی" لیکلی دی)

۲_ پلاتس : یکی از ملوك را کنیزك ختنی آوردند .(ص ۴۴ .)

پیښور: یکی را از ملوك کنیزك چینی آوردند .

بهار باران : یکی از ملوك را کنیزك ختنی آوردند .

۳_ پلاتس: ملك را عیش از و منغص شد و چاره ندانست.

پیښور: ملك را عیش از ومنغص بود که طبع نازك تحمل امثال این صورت نه بندد وچاره ندانستند .

بهارباران: ملک را عیش از وگشت و هیچ چاره ندانستند .

۴_ پلاتس: (پادشاهی پارسای را پرسید ....) گفت بلی هرگه که خدای عزوجل را فراموش میکنم یادت می آرم (ص ۵۳.)

پیښور: (یکی او پادشاهان پارسایی را دید ...) گفت بلی وقتی که خدای را فراموش کنم.

بهاران : (یکی او پادشاهان پارسایی را دید ...) گفت بلی هر گه‌که خدای عزو جل را فراموش میکنم ترا یاد می آورم .

۵_ پلاتس: شیخ اجل ابو الفرج شمس الدین جوزی... (ص ۵۵.)

پیښور: شیخ اجل ابوالفرج بن جوزی ...

بهارباران : شیخ اجل شمس الدین ابوالفرج خوزی [۱]

۱_ په گلدسته کې دا نوم شیخ اجل شمس الدین ابوالفتح خوارزمی لیکلی دی . ددې نوم په حقله د بهار باران مصنف لیکي چې: " ابو الفرج" د هغه کنیت دی او خوزي ، خوزستان سره نسبت لري. چې دعراق عرب او فارس په مینځ کې واقع دی . دی علاقې ته

← (۲۳ مخ کی)

۶_ پلاټس: تنی چند از بندگان سلطان محمود حسن میمندی را گفتند....(ص ۹۷.)

پیښور: تنی چند از نزدیکان محمودگفتند حسن میمندی را ...

بهارباران: تنی چند از بندگان سلطان محمود حسن میمندی را گفتند....

۷_ پلاټس: زندیقست اگر چه در عباست (ص ۷۱)

پیښور: رنداست اگر چي در عباست.

بهار باران: رنداست اگر چي در عباست.

۸_ پلاټس: (میراث پیغمبران یافتم، یعنی علم) و تو میراث فرعون یعنی ملك مصر (ص ۷۳.)

پیښور: میراث پیغمبران یافتم یعنی علم و ترامیراث فرعون ، و هامان رسید.

بهارباران: میراث پیغمبران یافتم، یعنی علم و ترامیراث فرعون، و هامان رسید.

۹_ پلاټس: که روزی چه مقدار باید خوردن.(ص ۷۵.)

پیښور: روزی چه مایه طعام (باید) خوردن .

بهارباران : روزی چه مایه طعام باید خورد.

۱۰_ پلاټس: باشد قدری بدهد . (ص ۷۶.)

14048

خوزستان هم وايي او خوزي هم . په دې باره کې د گلستان مشهور شارحان ملاعبدالرسول او ملا سعد دواړه متفق دي. په کومو نسخو کې چې خوارزمي ليکلی دی دا قول هم ضعیف دی . خان آرزو په خپله شرحه کې ابن جوزي ليکلی دی،ولی دا قول هم درست نه دی، ځکه چې ابن جوزي چې د حديث يو لوړ عالم و، دحضرت غوث صمدانی همعصر و. او جناب غوث الثقلين د شيخ سعدي نه تقريباً سل کاله اگهو تير شوی دی.

پیښور: باشد که دریغ ندارد.
بهارباران: باشد که دریغ ندارد.
۱۱_ پلاټس: که حسن ظن بلیغ درحق او داشت (ص ۷۴.)
پیښور: که معتقداو بود.
۱۲_ پلاټس: (یکی را در لب فرو هشته) و ابرو بهم کشیده و تندو ترش نشسته.(ص ۷۷.)
پیښور: (یکی را در لب فرو هشته) و تند نشسته.
بهار باران: (یکی را در لب فرو هشته) و تند نشسته.
۱۳_ پلاټس: با حسن بشره او سیل تمام داشت، تا حدی که غالب اوقاتش درین بودی که گفتی. (ص ۱۰۴.)
پیښور: با حسن بشره او معاملتی داشت، که زجرو تو بیخ که بر کودکان ذکر کردی و حق وی روا نداشتی.
بهار باران: که حسن بشر یت است با بشره او میلی بود............ تا بمثا بتی که چون در خلوتش دریافتی گفتی....
۱۴_ پلاټس: (سرور بیابان نهاده و زمام اختیار از دست داده) و با حیوانات انس گرفته (ص ۱۱۴.)
پیښور او په بهار باران کې دا جمله (و با حیوانات انس گرفته) نشته.
۱۵_ پلاټس:

ترا به درد من رحمت نیا ید
رفیق من یکی همدرد باید
که با او قصه میگویم شب و روز

دو هیزم را بهم خوشتر بود سوز
(ص ۱۱۴.)

دا اشعار د پیښور او بهارباران نسخو کې نشته.

۱۶_ پلاټس: گدا طبع و نا پرهیز گار. (ص ۱۲۸.)
پیښور: کند طبع و ناپرهیز گار.
بهارباران: گنده طبع و نا پرهیزگار.
۱۷_ پلاټس: از خباثت نفس او معلوم کردند.
پیښور: از خیانت نفس او معلوم کردند.
بهارباران: از خیانت نفس او معلوم کردند.
۱۸_ پلاټس: تا پس از مدتی آنچه از نکبت حالش می اندیشیدم بصورت دیدم (ص۱۲۹.)
پیښور: تا پس از مدتی آنچه ازاندیشه من بود از نکبت حالش بصورت دیدم.
بهارباران: تا پس از مدتی آنچه از نکبت حالش می اندیشدم بصورتی دیدم.
۱۹_ پلاټس: سالی چند در پی او رنج برد و سعی کرد بجای نرسید. (ص ۱۲۰)
پیښور: سالی چند برو سعی کرد و بجای نرسید.
بهار باران: سالی چند برو سعی کرد و بجای نرسید.
۲۰_ پلاټس: (وعده خلاف کردی) و شرط وفا بجا نیاوردی. (ص ۱۳۰.)
پیښور: (وعده خلاف کردی) و بجا نیا وردی.
بهار باران: (وعده خلاف کردی) و شرط وفا بجا نیاوردی.

۲۱_ پلا تس: درویشی زن حامله داشت مدت حمل او بسر آمد. (ص ۱۳۱.)

پیبنور: زن درویشی حامله بود، حمل بسر آورد.

بهار باران: درویشی را زن حامله بود و مدت حمل بسر آورد.

۲۲_ پلا تس: این بلا را او به لجا جت از خدا خواسته است. (ص ۱۳۲.)

پیبنور: این بلا را وی بلجاجت از خدای عزوجل خواسته.

بهارباران: این بلا او بلجاجت از خدا خواسته است.

۲۳_ پیبنور:

دل بدست آور که حج اکبر است
ازهزاران کعبه یکدل بهتر است

دا شعر د پلا تس او بهار باران دواړو نسخو کې نشته.

۲۴_ پلا تس: از بی انصافی در سر وردی یکدگر افتادیم. (ص ۱۳۲.)

بهار باران: از بی انصافی در سر وردی یکدگر افتادیم.

پیبنور: از انصاف در سر و ردی هم افتادیم.

۲۵_ پلا تس: در خبر است که "موت الفقراء راحته" درویش چیزی ندارد که بحسرت بگذارد.

د پیبنور په نسخه کې او بهارباران کې د قوسینو دا جمله نشته.

۲۶_ پلا تس: و لقمه او را نوشند. (ص ۱۳۷)

پیبنور: و لقمه او را فروشند.

بهار باران: و لقمه او را فروشند.

۲۷_ پلاتس: من همانا که تقریر این سخن بکردم و دلیل و برهان بیاوردم. (ص ۱۳۹.)

پیبنور: من همان انگار که تقریر این سخن نگفتم و برهان نیاوردم.

بهار باران: هما نا تقریر این سخن نکرده ام و برهان بیان نیاورده ام.

۲۸_ پلاتس: (قاضی چون سخن بدین غایت رسانید) و از حد قیاس مبالغت نمود . ما نیز بمقتضای حکم قضا رضا دادیم . و از ماضی در گذشتیم و بعد از محاذ ا طریق مدارا پیش گرفتیم.

پیبنور: (قاضی ..... الخ) و از حد قیاس اسپ مبالعت درگررانید، بمقتضای حکم قضا رضا دادیم و از ماضی درگذشتیم و بعد از مجاز اطریق مدارا گرفتیم.

بهارباران: (قاضی چون .... الخ) و از حد قیاس اسپ مبالغت در گزرانید بمقتضای حکم قضا رضا دادیم و از ماضی در گذشتیم . لابد بعد زمجاز ا طریق مدارا گرفتیم.

۲۹_ پلاتس: دوستی داشتم و مدتها ندیده بودم، روزی مرا پیش آمد. گفتم کجا یی ..... (ص ۱۰۵.)

پیبنور: یکی دوستی را که زمانها ندیده بود گفت کجایی.....

بهارباران: یکی دوستی را که مدتها ندیده بود گفت‌کجایی...

۳۰_ پلاتس: مرهم به ریش نهی و درهم درپیش. (ص ۱۶۰.)

پېښور: مرهمی بر ریش نهی و معلومی در پیش.
بهارباران: مرهمی بر ریشش نهی و معلومی درپیشش.

دګلستان د مختلفو نسخو دا اختلا فات کوم چې بره ولیکلی شول، د معنو او مفهوم په لحاظ خو دومره اهمیت نه لري، ولې د سعدي په نګارش کې چې ادبي نزا کتونه او باریکی دي په هغې کې دا واړه واړه اختلا فات هم ډیر اهمیت لري. ما دا اختلا فاتو دا یو ځو غټ غټ ځایونه په دی غرض په ګوته کړل، چې یو خو لوستونکی له دی حقیقته آګاه شي چې ګلستان عامې نسخې خو څه چې هما غه نسخې کومې چې صحیح ترینې ګڼلی شي هم یو شان نه دي.

دویمه دا چې که ځوك د ګلستان دا ترجمه (ګلدسته) د ګلستان کومې نسخی سره مقابله کړي او فرق پکې بیا مومي، نو چې سبب یې ورته معلوم وي.

په دې بره ذکر شوې نسخو کې مونږ یوه نسخه هم نه شو په ګوته کولی چې "ګلدسته" ددغی نسخې ترجمه ده ، ځکه چې ګلدسته ځای په ځای واړه نري اختلافات په دیو کې هر ې نسخی سره لري. ددې په مقابله کې دا ویلی شو چې د ترجمې په وخت د عبدالقادر خان تر وړاندې په دیو کې یوه نسخه هم نه وه، ځکه چې په ګلدسته کې د شیخ سعدي دا ستاد نوم شمس الدین ابوالفتح خوارزمي لیکلی شوی دی او په دغو نسخو کې په یوه کې هم دا نوم په دغه ډول نه دی راغلی.

تر اوسه چې مونږ ځومره خبرې وکړې ، هغه اکثر ګلستان سره تړلې وې،خو بیا یې هم څه نا څه تړون ګلدستې سره و. په ګلستان باندې تبصره او تنقید و غیره زموږ میدان نه دی ، ګڼې دا خو دومره وسیع اوارت بیرت میدان دی چې سړی پکې په ارت مټ زغل کولی شي. زموږ دلیك اصلي موضوع ګلدسته ده ، ځکه نو ښایي چې موږ اوس څه داسې خبرې

ولیکو چې زیات تر تعلق یې نیغ په نیغو ګلدستی سره وي . اګر چې په دې هم مور خپله لمن د ګلستان نه نه شو خلا صولی، ځکه چې ګلدسته د ګلستان دترجمې په حیثیت خپله ګلستان سره تړلې ده .

په ګلدسته باندی دځه لیکلو دپاره دا زیاته غوره ښکاري، چې دې غرض دپاره واړه واړه عنوانونو ته کېښودی شي. او بیا هر عنوان تر لاندې په دغه مناسب خبرې او بحث وکړی شي:

۱_ د ګلستان په دیباچه کې تصرف:

عبدالقادر خان دخپلې ترجمه شروع د ګلستان داصل عبارت، یعنی" منت مرخدای را..." نه کړې ده . خو چې څه وخت ذکر محامد پادشاه اسلام..... الخ ته رارسیدلی، دی. نو قلم یې نیولی دی او دقلم د نیولو توجیح یې دا کړې ده چې:

" دستور د منصفانو دی چې مد ح د خپل وخت د بادشاه وکاندي، لکه شیخ سعدي نورالله مرقده ابوبکر سعد بن زنګي صفت په ګلستان کې کړیدی او مور په داسې زمانه کې پیدا یوو چې حاکمان ، بادشاهان ددې عصر واړه ظالمان او مبتدعان دي.... په دا سبب د عهد د بادشاه معینه مدحه و نه شوه ....."

عبدالقادر خان یوازې ددغې عنوان تر لاندی عبارت نه دی حذف کړی ، بلکه ددې نه وروستو راتلونکی عنوانونه یعنې " درسبب تألیف کتاب" ذکر بادشاه زاده جهان سعد بن ابوبکر نورالله قبره " ذکر امیر کبیر فخر الدین ابی بکر بن ابی نصر اطال الله عمره او ذکر تقصیر خدمت و موجب اختیار عزلت یی هم حذف کړی دی او ددې واړو په ځای دخپله ځانه عبارت لیکلی دي چې هم دده ذات سره تعلق لري، لکه " درسبب

تألیف کتاب ". په سلسله کې دخپلې ګلدستې د تألیف سبب یې په دې الفاظو شروع کړی دی.

((سبب د تألیف ددې کتاب چې ترجمه د ګلستان دی)) د شیخ سعدي دممدو حینو په ځای یې دخپل پلار د خوشحال خان ختک محامد او صفتونه لیکلي دي. بیا یې د سعدي د ممدو حینو د حالاتو په ځای دخپل خاندان حالا ت لیکلي دي ، چې دخوشحال خان حالا ت یې پکې لږ زیات تفصیل سره لیکلي دې. په دې سلسله کې د حضرت کا کا صاحب (علیه الرحمه) ذکر یې هم په ډیر اعتقاد او احترام سره کړی دی.

په دې اوږده دیباچه کې عبدالقادر خان په ځنو خبرو کې د شیخ سعدي متابعت غوندې کړی دی ، لکه شیخ د ګلستان سبب تألیف لیکلي دی . ده د خپلې ګلدستی د لیك سبب ښودلی دی. شیخ دخپل ممدوح ستاینه کړې ده او عبدالقادر خان د خپل پلار صفتونه او محامد بیان کړي دي. شیخ د خپلو ممدو حینو د ژوند حالا ت لیکلي دي،ده دخپل خاندان حا لات قلمبند کړي دي. شیخ د خپلې ګوشه نشینۍ او عزلت ذکر کړی دی، ده دخپلې ځان ته دناستی او پښې د قناعت په لمن کې د نغښتلو ذکر کړی دی. شیخ ګلستان دځان دپاره یو تل پاتې کیدونکی یادګار ګرځولی دی او عبدالقادر خان هم ګلدسته په دغه نیت لیکلې ده . په آخر کې شیخ د ګلستان دلیك کال ورکړی دی او عبدالقادر خان هم د هغه پیروي کړې ده . وغیره . سره ددې چې د عبدالقادر خان دا بره ذکر شوې دیباچه خصوصاً ددې هغه برخه په کومه کې چې یې دخپل خاندان یاد خوشحال خان ختك حالات لیکلي دي،بیحده قیمتي او اهمه ده . زموږ دا خیال دی چې عبدالقادر خان له د شیخ دديباچې عبارات لکه څنګه چې د ترجمې اصول دي حذف کول یا خپل عبارت سره خلط ملط کول نه وو پکار، ځکه چې دګلستان سره تړلي د شیخ سعدي دغه دیباچه

هم په خپل ځای هم دادب په لحاظ او هم دتاریخ په لحاظ ډیره اهمه ده . ددې نه به غوره او مناسب دا وه ، چې هغه د شیخ سعدي دیباچه و غیره په خپل ځای ترجمه کړی وی او دغه دیباچه به یې دمترجم په حیثیت ورسره دځانه زیاته کړې وه . په دې صورت کې به دهغې وخت د باچا دمحامد او ستاینې هډو سوال نه وو پیدا شوی.

۲ـ په قصو کې کمی زیاتی:

موږ وړاندې د ګلستان په هر یو باب کې د قصو شمیره ورکړې ده . دا شمار دټـجي ټی پلاټس دنسخې دی . دکومې ذکر چې آګاهو شوی دی. په دې شمیره او دګلستان دنورو نسخو د قصو په شماره کې هم لږ یاډیر فرق لیدی شي. ما دزیات تحقیق دپاره د ګلستان پنځه شپږ مختلفې نسخې سره مقابله کړي او په ټولو کې مې څه نا څه کمی زیاتی ضرور بیا موند. خو په ښو نسخو کې دا فرق ډیر کم دی . دوضاحت دپاره زه د پلاټس د نسخې او دپیښور چاپ د نسخې موازنه وړاندې کوم :

باب	دپلاټس نسخه	د پیښور چاپ نسخه	پوه قلمي نسخه
اول	۴۲	۴۲	۴۲
دویم	۴۷	۴۶	۴۶
دریم	۲۸	۲۹	۱۵
څلورم	۱۴	۱۴	۱۲
پنځم	۲۰	۲۱	۲۱
شپږم	۸	۹	۶
اوم	۱۹	۲۰	۲۰
اتم	۱۱۲	۱۱۷	۸۰

ددی شمیر نه بر خیره ده چې دچاپي نسخو په مقابله کې دقلمي نسخي د قصو ، حکمتونو او پندونو شمیره په ځینو بابونو کې ډیره کمه ده. او په چاپي نسخو کې څه دومره زیات فرق نشته . په دې دوو نسخو کې چې په کومه کومه موقع دیو ې بلې په مقابله کې څه کمی زیاتی دی ، هغه په دې ډول دی:

۱ـ د پلا ټس د نسخې دا قصه چې (یکی را دوستی بود که عمل دیوان کردی....) د پیښور په نسخه کې نشته (په بهار باران کې نشته (دویم باب)

۲ـ د پیښور په نسخه کې دا قصه چې (همچنان درویشی ورقاع بسیط ....) ځان له دیوې بیلې قصې په شکل کې را وړلی شوې ده ، ولې د پلاټس په نسخه کې دغه قصه یوې بلې قصې سره (دیو خبر په حیثیت ترلې ده . (دریم باب)

۳ـ د پیښور د نسخې دا قصه چې (یکی را پرسیدم از معربان ....) د پلاټس په نسخه کې نشته (په بهار باران کې هم نشته) (پنځم باب)

۴ـ په شپږم باب کې د پیښور د نسخې آخري " حکایت منظوم " د پلا ټس په نسخه کې بلې قصې سره دیوې قطعې په شکل کې ترلی دی (په بهار باران کې هم جدا قصې په شکل کې لیکلی دی)

۵ـ د پیښور (او دبهار باران) د نسخو دا قصه چې (هندوی لفظ اندازی می آموخت ....) د پلا ټس په نسخه کې نشته . (اووم باب)

۶ـ په اتم باب کې لاندې لیکلي شوي حکمتونه او پندونه د پیښور په نسخه کې خو شته، خو دپلا ټس په نسخه کې نشته .

۱) عاقلی را پرسیدند...... (په بهار باران کې هم نشته)

۲) عرب گویند .... (په بهار باران کې هم نشته)

۷ـ هم په دې باب کې دا حکمت چې (هر که دشمن کوچك را حقير شمارد .....) دپلا ټس په نسخه کې د پيښور د نسخې نه زيات دی.

۸ـ دپلا ټس په نسخه کې لاندې ليکلي شوي حکمتونه ځان له جدا جدا نه دي ليکلي شوي، بلکه د بل کوم حکمت برخه ګرځولی شوي دي . د پيښور او بهار باران په نسخو کې دا ځان له جدا جدا حکمتونه يا پندونه ګڼلي شوي دي :

۱) رازيکه نهان خواهی........ الخ.
۲) احمق را ستايش .... الخ.
۳) دين بدنيا فروشان .... الخ .
۴) لذت انګور بيوه داند..... الخ.
۵) هرګز دو خصم بحق....... الخ.

۹ـ لاندې ليکلي شوي حکمتونه يا پندونه (داتم باب) د پلا ټس په نسخه کې ځانله بيل ليکلي شوي دي . خو د پيښور په نسخه کې بل کوم حکمت سره يو ځای ليکلی شوي دي .

۱) هر که علم خواند .... الخ
۲) از تن بيدل طاعت نيايد .... الخ.
۳) نه هر که در مجادله چست ..... الخ .

دګلستان په ښو نسخو کې د قصو دې فرق ته لږ ځير شو او په غوريې وګورو، نو دا معمولي شان فرق نور هم غير اهم شي، ځکه چې ديوې نسخې ځينې قصه په بله نسخه کې موجودې خو وي ، خو دبلې قصې برخه يې ګرځولې وي، ځکه په شميره کې فرق راشي. هم دغه حال د حکمتونو او پندونو دی. په يوه نسخه کې څه پندونه او حکمتونه ځانله په جدا شکل کې ليکلي دي. او په بله نسخه کې دوه، دوه،درې ، درې حکمتونه ديو واحد حکمت په شکل کې راوړلي شوي دي، له دې کبله موږ

د ګلستان ښو نسخو کې د قصو او حکمتونو په شماره کې کمی زیاتی له څه زیات اهمیت نه ورکوو، ولې هر کله چې ددغو نسخو شماره موږ د ګلدستې د قصو او حکمتونو او پندونو شمارې سره مقابله کړو ، نو کافي فرق پکې را برڅیره شي . مناسب ښکاري . چې موږ ددې ذکر لږ تفصیل سره وکړو.

۱ـ دلاندې لیکلي شوو قصو ترجمه په ګلدسته کې نشته :

ورومبی باب: ۱ـ پادشاهی بکشتن بیگناهی........ الخ .
ورومبی باب: ۲ـ یکی از وزرا بر زیر دستان .... الخ .
رر ۳ـ دو برادر بودند.................. الخ.
رر ۴ـ گروهی از حکما.................. الخ.
دویم باب: ۱ـ ابوهریره(رض) هر روز........... رر
دریم باب: ۱ـ یکی از ملوك عجم.............. رر
رر ۲ـ رنجوری را گفتند............ رر
رر ۳ـ یکی از عرب در بیابانی......... رر
رر ۴ـ دست و پای بریده .... رر
څلورم باب: ۱ـ ناخوش آوازی ببانگ بلند......... رر
پنځم باب : ۱ـیاد دارم که در ایام جوانی.......... رر
شپږم باب: ۱ـ روزی بغرور جوانی............. رر
رر ۲ـ توانگری بخیل را سیری .... رر
اووم باب: ۱ـ هندوی لفظ اندازی میآموخت .. رر (د پلا ټس په نسخه کې هم نشته)

اتم باب: ۱_ عاقلی را پرسیدند .... رر (د پلا تس په نسخه کې هم نشته)
رر ۲_ عرب گویند.................... رر (د پلا تس په نسخه کې هم نشته)
رر ۳_ برآن سری که داری............ رر
رر ۴_ هر که دشمن کوچك را .... رر
رر ۵_ بر عجز دشمن رحمت مکن... رر
رر ۶_ بد خوی بدست دشمنی ...... رر
رر ۷_ بادشاه را بر خیانت کسی.... رر
رر ۸_ دشمن چو از همه حیلتی..... رر
رر ۹_ فریب دشمن مخور............ رر
رر ۱۰_ احمق را ستایش .... رر
رر ۱۱_ از تن بیدل طاعت .... رر
رر ۱۲_ نه هر که در مجادلت چست است ... رر
رر ۱۳_ ضعیفی با قوی .... رر
رر ۱۴_ حکیمان دیر دیر خورند..... رر
رر ۱۵_ خردمندی که درزمره او باشی.. رر
رر ۱۶_هر که ترك شهوت .... رر
رر ۱۷_ شیطان رجیم .... رر
رر ۱۸_ هر که درزندگی نا نش .... رر
رر ۱۹_ ای طالب روزی .... رر
رر ۲۰_ به نانها ده دست نرسد......... رر
رر ۲۱_ صیاد بی روزی................ رر

رر ۲۲ـ دروغ گفتن بغربت لازم..... رر
رر ۲۳ـ ریشی درون جامه داشتم ... رر
رر ۲۴ـ درویشی بمناجات .... رر
رر ۲۵ـ مفامر راسه و شش باید... رر
رر ۲۶ـ بزرگی را پرسیدند که چندین فضیلت ...رر
رر ۲۷ـ شاه از بهر دفع ستمگاران... رر
رر ۲۸ـ هر گز دو خصم بحق راضی... رر

ب :ـ لاندې ليکلې شوې قصې په ګلدسته کې د پيښور يا پلاټس د نسخونه زياتې دي:

۱ـ یکی را دوستی بود. (د پيښور په نسخه کې هم نشته)

۲ـ یکی را پرسیدم . (د پلاټس په نسخه کې هم نشته)

۳ـ نصیب دغني له دنيا آرايش دی. (په چاپ نسخو کې نشته)

ج : لاندې ليکلې شوې قصې يا حکمتونه په ګلستان يا په ګلدسته کې ديو په ځای په ګڼو برخو ويشلې شوي دي:

۱ـ د پيښور د نسخې يوه مثنوي (يکی پرسيد از ان گم کرده فرزند) چې د يوې قصې برخه ده په ګلدسته کې د يو ې بيلې قصې په شکل کې ليکلې ده . دغه هم په دې باب کې .

۲ـ د پيښور د نسخې مثنوي (ديدم ګل تازه چند دسته) په ګلدسته کې د يوی بيلې منظومې قصې په طور ليکلې شوې ده

۳ـ د پيښور د نسخې ديوې اوږدې قصې يوه برخه (چنانچه يکی از ملوك پارس ....) يې ځانله ديوې جدا قصې په شکل ليکلې ده.

۴ـ د پيښور د نسخې ددريم باب آخرې قصې مثنوي په ګلدسته کې د " حکايت منظومه " دعنوان تر لاندې ليکلې ده .

۵_ په اتم باب کې د پېښور چاپ يو حکمت (حکیمی که با جهان ....) په ګلدسته کې په دوو حکمتونو ويشلي شوی دی.
۶_ په اتم باب کې د پېښور نسخی دا حکمت چې (تلمیذ بی ارادت ....) په ګلدسته کې په دريو حکمتونو ويشلی شوی دی.

۳_ په عبارت کې کمی زياتی:

ترجمه عموماً په دری قسمه وي:

۱_ لفظی يا تحت اللفظ:

يعنی چې ديو عبارت په ترجمه کې ددغې عبارت دالفاظو ترجمه يې په بله ژبه کې کړې وي. په دې کې هم ځينې الفاظ وړاندې وروستو کړي او جملې يې برابرې کړې وي. او ځينو دالفاظو ترجمه بالکل داصل عبارت په ترتيب ليکلې وي. دداسې ترجمو غوره مثالونه دقرآن پاك ځنې ترجمې دي.

۲_ با محاوره :

داسې ترجمه چې ديو کتاب دعبارت په ترجمه کې ددغې ژبې د محاورو ترجمه د بلې ژبې په محاور و کې وکړي. ظاهره ده چې که مترجم قابل وی، نو په دی صورت کې الفاظ خو بدل شي، ولې داصل مفهوم په ښه شان سره په ځای پاتې شي.

۳_ آزاده ترجمه:

داسې ترجمې ته وايي چې يو مترجم (؟) ديو عبارت مفهوم راواخلي او دغه مفهوم سره دخپلې رنګ آميزی په خپلو الفاظو کې بيان

کړي . څرګنده ده چې داسې ترجمه خوند ناکه خو وي ، خو کله داصل مفهوم په دغه بدلون او رنګ آمیزو کې ورك شي.

که مونږ ګلدسته د ترجمې ددغې قسمونو په رڼا کې وګورو، نو حیران شو چې دا ترجمه په کوم قسم کې شمیر کړو. ځکه چې دا ترجمه په یو نیب نه ده روانه . په ځینو ځایونو کې یې با محاوره ترجمه کړې ده او په ځینو ځایونو کې یې د لفظونو خیال هم ساتلی دی. او ډیر ځایونه پکې داسې دي چې بالکل آزاده ترجمه یې کړې ده . ددې نه علاوه په ځینو موقعو کې یې څه خبرې بالکل دځانه هم زیاتې کړي دي. دا اضافي په ځینو ځایونو کې خو تفسیري او وضاحتي رنګ لري، ولې په ځینو ځایونو کې یې اصل سره هیڅ تعلق نشته .

ددغو اضافو نه علاوه په ګلدسته کې په ځینو ځایونو کې داصل عبارت څه ټکړې او ځینې اشعاریې بالکل حذف کړي هم دي . خصوصاً دعربي ټول عبارات، یعنې دقرآن پاك آیاتونه، حدیثونه ، مقولې او دعربي شعرونه او قطعې و غیره یې د سیلمې حذف کړي دي . هن ، که چرته خال خال دیو نیم حدیث و غیره ترجمه یې کړې ده، نو هغه په داسې موقع چې بې دهغې نه ټوله قصه یا عبارت نیمګړی پاتې کیده .

ددغې قسم کمو زیاتو نه ټول کتاب ډك دی ، که لږ ځایونه وي ، نو مونږ به دلوستونکو داستفادې او آسانۍ دپاره دلته راجمع کړي وي. بله دا خبره هم دذکر وړ ده چې دا کمی زیاتی یا بدلون په څه خاص ترتیب نه دی،یعنې یوه قصه کې یې څه کرښې خو بالکل داصل مطابق ترجمه کړي دی، بیا د ځینو کرښو ترجمه یې آزاده کړې ده . په دې وجه لوستونکی ته دا پته نه شي لګیدی چې په دې قصه کې کوم عبارت داصل مطابق دی ،کوم بدل کړی شوی دی او کوم حذف کړی شوی دی. او له دې کبله چې د ترجمې دغه ټول عبارت په ډیر ښکلي طرز او په یو نیب روان دی، ځکه یو

لوستونکی په دی مغالطه کې پریوتی شي چې ګنې دا ټول عبارت دسعدي دخولې دي. ددې غلط فهمی دلرې کولو دپاره مونږ داسې جملې یا اشعار په قوسینو کې لیکلي دي . او لاندې مو ورته د کمي ، زیاتي او بدلون دپاره څه نخښې یا علامې ورکړې دي. چې هغه په دی ډول دی:

ز: زیاتی عبارت یا شعر . کوم چې مترجم دځانه زیاټ کړی دی.

ح: دلته مترجم څه عبارت یا شعر حذف کړی دی.

أ: دلته ترجمه بدله او داصل نه په بل رنګ ده . داصل عبارت داسې دی.

دحذف شوي او بدل کړي عبارتونو نخښو سره داصل (فارسي) عبارت موهم لیکلی دی چې لوستونکی په آسانه دغه بیلتون اوفرق معلوم کړی شي.

۴_ په ترجمه کې دمختلفو قسمونو مثالونه :

۱) په ګلدسته کې د کمي زیاتي دعنوان ترلاندی مونږ په ګلدسته کې دمختلفو قسمونو د ترجمو ذکر کړی دی. دې سره مناسب ښکاري چې څه مثالونو سره ددې وضاحت وکړی شو.

په دې غرض مونږ اول با محاوره ترجمه اخلو. یعنې هغه ترجمه چې داصل مطابق ده ، دګلدستې زیاته برخه دهمداسې ترجمې ده . او تیری کمال یې پکې دا کړی دی چې عبدالقادر خان په خپله ترجمه کې دګلستان مخصوص ښائست هم د بر قرار ساتلو کوشش کړی دی. موږ دلته دمثال دپاره دګلدستې دشروع یو څو کرښې دګلستان اصل عبارت

سره يو ځای رانقل کوو. ددې نه به د ګلدستې عمومي طرز او خصوصيت ښه واضح شي.

ګلستان : "منت مر خدای را عزو وجل که طاعتش موجب قربت است و بشکر اندرش مريد نعمت ، هر نفسی که فرو ميرود ممد حيات است و چون بر آيد مفرح ذات، پس درهر نفسی دو نعمت موجود است و بر هر نعمتی شکری واجب"

ګلدسته :" ثنا صفت خدای لره جل جلا له عم نواله چې طاعت يې موجب دقربت دی او شکر يې په نعمت سبب دزياتيدو د نعمت، هر ساه چې کښته شي، ممد د ژوندون ده، چې راپورته شي خو شی دوجود ، پس په هر نفس کې دوه نعمته دی موجود. په هر نعمت شکر لازم."

دآزادې ترجمې دپاره ددريم باب دا لنډ ه شان قصه يو غوره مثال دی:

ګلستان:" ابلهی را ديدم خلعتی ثمين در بر و مرکبی تازی در زير و قصبی مصری بر سر، کسی گفت سعدي ! چگونه می بينی اين ديبای معلم و بر اين حيوان لا يعلم ؟ گفتم خطی زشتست که بآ ب زر نوشتست:"

ګلدسته :" شيخ وايی يو احمق په ښه تازی آس سور، جامې اغوستې دريښمين زرين ، په شان په شوکت تير يده ، چا راته ووې چې ای سعدي! څرنګ وينې ؟ وې مې خط دی ښکلی په او بو زرو کښلی"

دآزادې او بدلې ترجمې دپاره چې پکې يې دځانه هم څه زيات کړی دی. ددريم باب ديوې قصې څه برخه وړاندې کوم.

ګلستان:"سوم . خو بروی که درون صاحبدلا ن بمخالطت او ميل کند. که بزرگان گفته اند که اندکی جمال به از بسياری مال وروی زيبا مرهم دلهای خسته است و کليد درهای بسته.. لا جرم صحبتش را غنيمت شمارند . و خدمتش را منت دارند "

گلدسته :" دریم. ښائسته که سفر ته ځي گنجائش لري . خو بروی هر چرته سرخروي وي، زړونه د هر چا دده په لور مایل وي . آرزو يې دا وي که له ده واصل وي. که دی اصیل وي که بد ذات وي. دگردن کشانو ورمیږونه ورته مات وي، يويې تر لاس ونیسي چې نن ما کره میلمه شه . ورته وايې:

رباعی

راشه راشه ښائسته را شه زما دغم د جونگړې رڼا شه
په هغې لار چې ته را تللې د هغی لار بلا په ما شه

بل ور ته زاري کا چې ما کره تشریف وفرمایه، ورته وايې:

رباعی

که دزړه نه شي چې راکره ډیر کړي
شل شپې خو بویه چې راکره تیر کړې
زړه مې ډوب کړی اندیښنو پوچو دی
چې هغه واړه راځنې و هیر کړې .

هوښیارانو ویلي دي چې ښائسته .دخسته زړونو مرهم دي. ښائسته لرې کووني دغم دي . لږ جمال بهتر تر ډیره ماله . صحبت يې هر څوك غنیمت گڼي. خدمت يې واړه په ځان منت گڼي. "

د گلستان د ترجمې کومې نمونې چې بره ورکړی شوې هغه د نثر دعبارت دی . په گلستان کې نظم او نثر دواړه سره غاړه غټې دي . ځکه مناسب ښکاري چې دغه شان یو نظر د نظم په برخه يې هم واچوو.

دنثر کومې نمونې چې بره ذکر شوې دي، په دې کې دآخري ټوټې نه دا خبره خو پخپله څرگنده شوه چې په گلدسته کې ځینې اشعار

عبدالقادر خان د ځانه زيات کړي دي. خو داسې قسم (بالکل دځانه) زيات شوی اشعار پکې ډېر کم دي.

په کومو ځايونو کې چې يې د سعدي^(رح) د ابياتو ، رباعياتو ، قطعاتو و غيره و ترجمه کړې ده، نو هغه يې بالعموم داصل مطابق کړې ده . ښکاره ده چې ديوې ژبې د نظم ترجمه د بلې ژبې په نظم کې کول ډېر ګران کار دی، ځکه چې په دې کې د مترجم ذمه واري او مشکلات دنثر په مقابله کې په څو څو چنده زياتې شي. او په تيره تيره چې نظم هم د شيخ سعدي وي.

دشيخ سعدي اکثر اشعار خصوصاً رباعيانې يا قطعې داسې دي چې لکه چې دشعري ښکلا تقاضا ده ، څه نا څه مفهوم يې پکې دلوستونکي فکر او تصور ته پريښودی دی . ولې عبدالقادر خان د شيخ د اکثرو اشعارو ، رباعياتو او قطعاتو د ترجمې نه پس يو نيم شعر د خپله ځانه زيات کړی دی او دا زياتي شعر بالعموم ددغې رباعي قطعې و غيره د مفهوم د وضاحت دپاره يا تفسير دپاره راغلی دی. داسې قسم اضافې په ګلدسته کې ډير ې دي، ځکه دا به په خپله خپله موقع په ګوته کړی شي. دلته دخپل بيان د وضاحت دپاره يو مثال تير وم:

ګلستان:

ترسم بکعبه نرسی ای اعرابی کين راه که توميروی به ترکستان است

ګلدسته:

و کعبې ته به څرنګ ورسيږې
روان شوی چې په لار د ترکستان يې
چې ګاته شي پرې جنت هغه نمونځ بل دی
ته په دا مانځه دوزخ وته روان يې

داخو دهغو اشعارو ذکرو دکومو ترجمه چې عبدالقادر خان داصل مطابق کړې ده، ولې دهغه په ترجمه کې ډیره برخه دآزادۍ ترجمې هم شته . په داسې ځایونو کې ده نه یوازې دا چې تش د شیخ مفهوم یې ادا کړی دی، بلکه ورسره یې څه خیالات خپل هم و رګډ کړي دي. داسې ځایونه هم په ګلدسته کې ډیر دي،ځکه موږ په خپله خپله موقع ورته اشاره کړې ده او دګلستان اصل اشعار موهم ورسره ورکړي دي. زه به دلته ددې بیان د وضاحت دپاره د ګلستان یوه قطعه سره د عبدالقادر خان د ترجمې را نقل کړم:

ګلستان :

"جوانمردی و لطف و آدمیت
همین نقش هیولانی مپندار
هنر باید که صورت میتوان کرد
با یوآنها در از شنگرف و انگار
چون انسان را نباشد فضل و احسان
چه فرق از آدمی تا نقش دیوار
بدست آوردن دنیا هنر نیست
یکی را گر توانی دل بدست آر "

ګلدسته :

جوانمردی آدمیت آدمیت دی
نه موقوف آدمیت په دا صورت دی

ابوذر ، ابوجهل دواړه آدمیان وو
هرګور ډیر تفاوتونه یې تر میان وو
څو د مزکې دآسمان په مینځ کې وت دی
دسړی دسړي هو مره تفاوت دی
سړی والی که په ږیره په دستار وي
داخو لانبائسته کنبلی په دیوار وي
ځنې کنبلی په شنګرف ځنې په زرو

څوك له توره كاڼيه ساز څوك له مرمرو
چې خالي وي له معنو په قدرخوار وي
په معنو د هر څيز قدر په مقدار وي
د انسان چې فضيلت مروت نه وي
يو حيوان دى لا حيوان ورځنې ښه وي
حيوان خو د حيوانيت لره پيدا دى
د انسان حيوان ښه بد ځنې په دا دى
كه حجام دحجام زوي شي عيب يې كوم دى
شاهزاده چې حجام شي نحس دى شوم دي

۵ـ په ترجمه يو عمومي نظر:

۱ـ دنثر برخه :

۱ـ دمسجع ، مرصع او مقفي عبارت ليكل په خپله ژبه كې هم ګران كار دى او چې دبلې ژبې د عبارت په ترجمه كې دا قيدّ د نظر لاندې وساتلى شي،نو دا لا ګران شي او بيا لا چې د ګلستان هسې معياري كتاب د ترجمې دپاره وړاندې كيښودى شي، نو په دې ګرانو نورې ګرانى ور انبار شي. ولې عبدالقادر خان دې غرته هم وراړم شوى دى او ترخپله وسه يې د ګلدستې په عبارت كې د سجع او ترصيع و غيره نه كار اخستى دى ، او هم دا وجه ده چې په ځينو ځايونو كې ترجمه داصل نه اوږده يا لنډه شوې ده او دضرورت دپاره يې پكې څه الفاظ ، بلكه جملې د ځانه زياتې كړې دي لكه لاندې ليكلې شوي يو څو مثالونه واخلې:

ګلستان: " ... يكى ضعيف بودكه روزه داشتى و بعد از دوشب افطار كردى. وديگرى قوى كه روزى سه بار خوردى. "

گلدسته:" یو ضعیف همیشه په روژه کمزوری ، بل قوی هیکل ډیر خوری."

گلستان: خشک سالی در سکندریه پدید آمد،چنانکه خان طاقت درویشان از دست رفته بود و در های آسمان بر زمین بسته و فریاد اهل زمین به آسمان در پیوسته .

گلدسته : خشك سالي په سکندریه کې مخ ښکاره کړ. اکثر خلق له وطنه آواره کړ. زمکه بې نمه شوه بی بارانه . گردونه یې لاړل تر آسمانه

گلستان: محال عقلست که اگر ریگ بیابان دُر شود چشم گدایان پُر شود.

گلدسته : محال دعقل دی چې حریصان دچا په ورکړه ماړه شي، گدایان له سواله ساړه شي. که دُر شي ریګ د بیابان ماړه به نه شي گدایان.

گلستان: .... بنده صالح را به بهشت برند و خداوند فاسق را بدوزخ.

گلدسته :.... دده بنده په سبب دعمل صالح جنت لره روان کا او خواجه یې په دوزخ کې په علت دفسق و عصیان کا .

گلستان: جوانی خردمند از فنون فضائل حظی وافر داشت.

گلدسته :یو ځوان و خردمند ، له علمه له فضله بهره مند ، له هره فنه یې حظ حاصل و.

گلستان :مرا که پیرم با پیر زنان الفت نیست او که حیران باشند بامن که پیرم دوستی صورت نه بندد .

گلدسته : دی ځوانانو ښځو چې زوړ یم را سره مؤ دت نه کیږي.

گلستان: و سیم وزر در سفر محل خطر باشد که دزد یکبار بردیا خواجه بتفاریق بخورد.

گلدسته : زر په محل د خطر وي که يې غل ورځخه په غلا يوسي، که ظالم يې درځنی په رټا يوسي که په موافق يې د مراد وخوري ، زر به در څخه تمام شي.

گلستان :کور مشعله دار است.

گلدسته: عالم نا پرهيز گار ړوند دی مشعله دار.

۲_ لکه چې د بره ذکر شوو مثالونه څرګنده ده . په عبارت کې د نثر دغه خوبی او ښکلا، لکه سجع ، قافيه او ترصيع و غيره د قائم ساتلو دپاره يې عموماً دګلستان خپل الفاظ په ځای ساتلي دي . يايې داسې الفاظ استعمال کړي دي چې په فارسي کې خو آسان او روان دی، ولی په پښتو کې دغه الفاظ ديو عام لوستو نکي دپاره ګران دي. په مسجع مرصع او مقفي عبارت کې داسې کيدل نا ګزيره غوندې وي، ولې په ګلدسته کې ډيره برخه داسې هم شته . چې هلته يې ددې لوازماتو او تکلف نه کار نه دی اخستی، نو هلته هم دفارسي او عربي دګرانو او په پښتو کې عام نه استعماليدونکي الفاظو ډير زور دی . داسې قسم الفاظ نه يوازې دا چې ديو عام لوستونکي دپاره پرې پوهيدل ګران دي ، بلکه په ځنو ځايونو کې خو ترجمه داصل نه هم ګرانه غوندې شي لکه :

گلستان: عابدان جز ای طاعت خواهند و بازرگانان بهای بضاعت.

گلدسته : عابدان جزا د طاعت غواړي او سوداګران بها د بضاعت .

گلستان: تقدير خداوند حقيقی چنين بود.

گلدسته : بلکه تقدير دحق عزا سمه په دا مقدار شوی و.

گلستان: (بادشاه) بفرمود تا مصارعت کنند.

گلدسته : حکم يې وکړ چې سره دې مصارعت وکا.

ګلستان: که فلان در این شهر طبعی کریم دارد و کرمی عمیم.
ګلدسته : چې فلا نه په دی ښهر کې طبع کریم لري . کرم عمیم.
ګلستان: به برخی از ان ما را دستگیری کن.
ګلدسته : وجه قرض دست ګردان څه را کړه .
ګلستان: ملک را سخن او مطبوع آمد.
ګلدسته : د بادشاه دا خبره مطبوع پسنده شوه .
ګلستان: از حیاتش رمقی مانده بود.
ګلدسته : له حیاته یې پاتو رمق.
ګلستان: با جوانی اتفاق مخالطت بود.
ګلدسته : (یو ځوان سره) اتفاق د مخالطت واقع شوی و.
ګلستان: اگر بکرم قدم رنجه شوی مزد یابی.
ګلدسته : که ته تصدیع و څکوې قدم رنجه کړې اجر به بیا مومې.
ګلستان: خرچ فراوان کردن مسلم کسی را باشد که دخل معین دارد.
ګلدسته : ډیر خرڅ کول هغه ته مسلم دی چې دخل معین لري.
ګلستان: عقوبت همی کرد.
ګلدسته : تعذیب یې کاوه .
ګلستان: محک داند که زر چیست.
ګلدسته :محك پوهیږی چې زر مغشوش دي که خالص.
ګلستان: توانگران مشتغل اند بمناهی و مست ملا هی.
ګلدسته : تونګران مشغول په مناهی دی مست په ملاهی.
ګلستان: رسوم فلان را چندان که هست مضاعف کنید.
ګلدسته : دفلا نه خدمتګار یو میه تر سابق مضاعف کاندی .

گلستان: مرد بیگانه دید بازن او بهم نشسته.

گلدسته : له حرم سره يې يو نامحرم په خپل حرم کې ولید.

گلستان: دعوای خدایی کرد.

گلدسته: دعوی يې د ربوبيت کړې وه .

گلستان: (بمقامی) که از دز دان پر خطر بود.

گلدسته : چې له غلو نو له قطاع الطريق خطر ډير و.

گلستان: عطای او به لقای او بخشیدم.

گلدسته : دده عطا مې دده په لقا وبخښله.

۳_ عبدالقادر خان يو لوړ عالم و. ځکه کیدی شي چې هغه دداسې قسم الفاظو گرانتيا نه وي محسوسه کړي ، ځکه يې داصل دا الفاظ په خپل عبارت کې په خپل ځای قايم ساتلي وی. يايې دغه بدل گران الفاظ آسان گڼلي وي، ولې ځنې ځايونه پکې داسې هم شته (اگر که خال خال دي) چې لفظي ترجمه يې دنور ي ترجمې ښکلا سره سمون نه خوري. او د پښتو (کم نه کم نننی) محاورې سره هم سمه نه ښکاري.

گلستان: دریغ آمدم تربیت ستوران .

گلدسته : دريغ راغی چې تربیت کوم د چارپایانو

گلستان: هر دو را حبس کردند .

گلدسته : دواړه يې بندي خانه کړل.

گلستان: و پدر را وداع کرد. یا وداع کردیم.

گلدسته : له پلاره يې وداع وکړه ، یا نور موځبله وداع وکړه .

گلستان: تلطف نمود و تأ سف خورد.

گلدسته : تلطف يې ډير وکړه تأ سف يې وخوړ.

ګلستان: گفت ای حکیم از من چیزی بخواه.

ګلدسته : ورته یې ووې: خپل مقصود معلوم کړه چې حاصل یې کړم.

ګلستان: جان بحق تسلیم کرد.

ګلدسته : ځان یې په حق تسلیم کړ.

ګلستان: پسرش خمر خورده .

ګلدسته : زوی یې خمر خوړلي وو.

ګلستان: وراه از حرامیان پر بود.

ګلدسته : چې له حرامیانو ډیر خطر وو. (حرامیان = غله یا شوکمار)

ګلستان: جمعیت یا تنگدستی صورت نه بندد.

ګلدسته : جمعیت له تنګدستۍ سره صورت نه تړي.

ګلستان: زمین خدمت ببوسید.

ګلدسته : زمکه یې دخدمت ښکل کړه .

ګلستان: خدا یا جانش بستان.

ګلدسته : خدایه ځان یې رانسي.

۴_ په ګلستان کې دځینو افرادو یا د ښار و نو او ځایونو نومونه راغلي دي، عبدالقادر خان په دې کې اکثر نومونه حذف کړي دي. لکه :

ګلستان: گر به ابو هریره را بلقمه ننواختی و سگ اصحاب کهف را استخوان نینداختی.

ګلدسته: پیشو ته اچول طعام ، سپي ته اچول دهډوکي ورته دځان غوښه پریکول هډ ماتول و.

دغه شان : "یکی از ملوک پارس ، بمصلا ی.شیراز ،بر گنبد عضد. نخور محشری و غیره کې یې دغه نومونه نه دي ورکړي."

ب : دنظم برخه :

ترجمه خویو خواته ، دفارسي، اردو (او دپښتو) د ځنو ښو شاعرانو د مثنوي ګانو په حقله دا اعتراض هم کیدلی شي. خو شاعر محض د شعر د پوره کولو دپاره ورسره دویمه مصرع داسې ولګوي. چې دهغې ضرورت نه وي . خو دا خامي د ګلدستې په شعرونو کې د نیشت برابره ده . دعبدالقادر خان دپاره ددې خامۍ نه ځان ژغورل نسبتاً ګران په دې وو چې هغه په اکثرو موقعو کې د شیخ سعدي دیو یو شعر ترجمه په دوو دوو دریو شعرونو کې کړې ده . په دې صورت کې یو شاعر مجبور وي چې څه نا څه الفاظ ، جملې یا خبرې دځانه پکې زیاتې کړي. عبدالقادر خان هم بې شکه چې په داسې موقعو کې داسې کړي دي،خو هغه یې په داسې مناسبت او موزونیت سره کړي دي چې هیڅ غرابت او او پردیوالی پکې نه ښکاري.

دا یوه منلې شوې خبره ده . چې دیو شعر نزاکت ، باریکي او خوبي په بله ژبه کې نشي را آړولی کیدی . بیا د ګلستان خو کمال هم دادی چې هم ددې ژبی لوړ و لوړو شاعرانو سره دخپله کوشش ددې جواب و نه کړی شه ، نو که یو مترجم په دې حقله پاتې راشي، نو ګرم نه دی . په دې ګرانو کې یوه غټه ګرانه دیوې ژبې محاورې په بله ژبه کې په همدغه رنګ کې نه بیا موندلی کیدل دي . لکه د مثال دپاره دسعدي دا رباعي واخلې:

نه بینی که پیش خداوند جباه	ستایش کنان دست بر سر نهند
وگر روز گارش درآرد زپای	همه عالمش پای بر سر نهند

په دې رباعي کې دست بر سر نهند ، پای بر سر نهند ، در آرزو پای داسې محاورې دي چې د رباعي پرې ټول خوند جوړ دی ، ځکه ترجمه يې په بدل رنګ کې کړې ده . يعنې:

د دنيا دولت چې مخ کا وسړی ته
خلقي ورسره کاندي ياري ډيرې
چې نکبت ورته دو خارشي اقبال شاکا
همګي ياران يې کاندي ياری هيرې

دغه شان د شيخ سعدي يو شعر دی چې:

بهم بر مکن تا توانی، دلی		که آهی جهانی بهم بر کند

په دی شعر" بهم بر کردن " کې يو داسې محاوره ده چې دوه ځايه په دوو معنو کې راوستې شوې ده . دې نه علاوه د " آهی " او " جهانی " الفاظو په دې شعر کې زباني لطافت پيدا کړی دی، دغه وجه ده چې ددې ترجمه په همدغه خوند کې و نه شوه . ترجمه يې داده :

يو کور څه چې له دې اوره لوی ښهرونه
هسې سوزي چې عالم يې ننداره کا

په ځينو الفاظو کې يو خاص اثر او کيفيت وي چې هغه په بله ژبه کې نه شي را اړولی کيدی ، لکه د شيخ په دی شعر کې چې:

چه سالهای فراوان و عمرهای دراز
که خلق برسرما بر زمين بخواهد رفت

"سالهای فراوان " او" عمرهای دراز" داسې په اوږدآواز لوستلی شي چې ددې کلونو او عمرونو اوږدوالی يې لا زيات کړی دی . دې سره د "چه " ټکي نو ر هم اثر پيدا کړی دی . او چې ددويمې مصری " خلق بر سرا ما بخواهد رفت " سره دا يو ځای شي، نو شعر څو مره اثر ناك او عبرتناك شي چې لوستونکی يې محض احساس کولی شي. اظهار يې نه شي

کولي. دا تولي خبرې به څوك په بله ژبه کې په همدا شان اثر، خوند او عبرت آميزه لهجه کې راوړولی شي؟

هم دغه وجه ده چې دعبدالقادر خان ترجمه هم په ځينو ځايونو کې اصل ته نه ده رسيدلې، لکه دمثال په طور به يو شعر واخلو ددې شعر ترجمه يې داسې کړې ده:

څو څو کالو نه به راباندې تيرشي
شيرين صورت مې به په بل بل پير شي

که دا شعر د سعدي د شعر په مقابله کې کينبودی شي ، نو په دې کې دزمکې او آسمان فرق دی . هم دغه شان د سعدي يو مشهور شعر دی:

خر عيسی اگر بمکه رود   چون بيايد هنوز خر باشد

ترجمه يې داسې شوې ده :

وخپل اصل ته رجوع دهر څه کيږي   چې پکې دخره رګ و آخر قچر شه
تربيت و ته قابل اصل بايده دي   په بد ذات د تربيت کله اثر شه

(په دې موقع درحمان بابا دا شعر سړي ته ور په ياد شي. کوم چې دسعدي ددغې شعر مفهوم اداءکوي:

دمکې په بزرګۍ کې هيڅ شك نشته
ولې خز به حاجي نشي په طواف

خو داسې قسم ځايونه په ګلدسته کې ډير کم دي او صرف په داسې موقعو کې ليدلی شي، چرته چې هغه په ترجمه کې داصل د مطابقت کوشش کړی دی ، خو عبدالقادر خان ډير هوښيار مترجم دی . هغه داکثرو اشعارو ، رباعياتو يا قطعاتو ترجمه بالکل آزاده کړې ده او دسعدي تش مفهوم يې په خپلو الفاظو کې څرګند کړی دی . په داسې طريقه مترجم ته د خپل قلم زور ښودلو ښه موقع په لاس ورځي. عبدالقادر خان هم په ځينو

ځينو ځايونو کې خپل کمال ښودلی دی، چې د لوستونکي د خولې نه ورته بې ساخته آخ وځي . دمثال دپاره زه يو څو نمونی ورکوم.

سعدي:

از دست وزبان که برآيد　　　کز عهده شکرش بدر آيد

عبدالقادر خان وايي:

څښتن مې رب دی زه يي مربوب يم
بنده دده يم که خوب نا خوب يم
غرق په اوبو کې کله او به ويني
نعمت يې نه وينم په نعمت ډوب يم

په دې کې ددويم شعر جواب نشي کيدی.

دغه شان د سعدي دا شعر ولولئ:

زود بينی شکسته پيشانی　　　تو که بازی بسر کنی با قوچ

عبدالقادر خان يې ترجمه کوی:

زر به وويني سر مات ماغزه وتلي
چې له مږ سره ټکروهي پرې زغلي

په دې کې د " شکسته پيشانی " په مقابله کې سر مات ماغزه وتلي او د " بازی به سر کنی" په مقابله کې" ټکر وهي پرې زغلي" څومره واضحه او فطري منظر کشي ده .

دښکلې او آزادې ترجمې نه علا وه چې بره يې يو دوه مثالونه تير کړی شول ، عبدالقادر خان په ځينو ځايونو کې نه يوازې دا چې دګلستان فارسي يې په پښتو را اړولې ده ، بلکه ورسره يې ماحول هم پښتني پيدا کړی دی . په داسې موقعو کې داسې معلوميږی چې دا ګلدسته دايرانی ګلونو، نه ، بلکه دخپل وطن د ګلونو نه يې تړلې ده . بی ځايه به نه وي که دلته زه يو څو داسې مثالونه وړاندې کړم:

گلستان:

(آ نانکه بکنج عافیت بنشستند
دندان سگ و دهان مردم بستند)
کاغذ برریدند و قلم بشکستند
و از دست و زبان حرفگران رستند

گلدسته:

(چې په کنج د عافیت یې زړه آرام شي
عاقبت دعافیت په ګنج شاد کام شي
ددې ګنج ویره هرګز زوال نشته
هېڅ دولت له دې دولت سره سیال نشته)
چې قانع په خامتائین شي په شړې
غم یې نه وي د بادشاه له امیرۍ

گلستان:

غریبی گرت ماست پیش آورد
دو پیمانه آبست و یک چمچه دوغ

گلدسته:

چې یوه کاسه او به چمچه شنو بی شي
دفقیر کره اوګره هاله شي سپینه

گلستان:

لوح نادرست کرده بشستندی و بر سر همدیگری شکستندی

گلدسته: د تختې و ینځل به یې بهانه کړه په سنید کې به یې لا نبل په دې آخري فقرو کې سعدي خو دایران یا دعامو مکتبونو نقشه راښکلې ده، چې هلکان خپلې تختې استاد ته د ښودلو نه بغیر ووینځي. او بیا په

دغو تختو د يو بل سرونه ماتوي، عبدالقادر خان دغه مکتب (دسرای ياد نوښار) د سيند په غاړه ويني . چې هلکان د تختو د وينځلو په بهانه سيند ته لاړ شي. او هلته تختې په ځای پريږدي او لانبل شروع کړي. دغه شان سعدي يو ځای کې د " سيب " (منې) ذکر کړی دی . عبدالقادر خان د سيب په ځای " شفتالو " ليکلی دی . غالباً دا په دې وجه چې شفتالو د سيبو نه ډير عام څيز دی . په يو ځای کې يو سړي سره د صلح کولو په موقع وايي:

طريق مدار پيش گرفتيم و سر بتدارک بر قدم يکدگر نهاديم و بوسه بر سر و روی داديم .

عبدالقادر خان يې ترجمه داسې کوي:" از روی تدارك موځبله قدم بوسي وکړه، سره بغل ګير شوو. "

په ځينو ځايونو کې خو عبدالقادر خان د ترجمې داصولو او حدودو نه هم ور آوړيدلی دی، يعنې هغه په خپله ګلدسته کې داسې نو مونه راوستي دي ، چې ګلستان سره يې هيڅ تعلق نشته، لکه واخلې دکاکا صاحب عليه الرحمه ذکريې په داسې ډول په متن کې راوستی دی.

چې يې رحمت په عالم اظهار شي
په هغو رحم د کرد ګار شي
نه په نمونځو نو نه په روژه ده
چې رحم کار شي شيخ رحمکارشي

په يوه بله موقع يې دخپل پلار خوشحال خان نوم په متن کې داسې راننه يستی دی، وايي: " په دا مقام رباعي د صاحب قبله ولي نعمي

خوشحال ختټك حق تعالی دی په قبر نور کا، را یاده شوه . په طریق د تبرك مرقوم شوه . "[۱] (باب ۴ ح ۲)

دا خبره د ترجمې د اصولو نه خلاف ده ، ولې داسې ښکاري چې هغه دا تصرف دې بزرګانو سره د خپل اعتقاد په وجه کړې وي. یا به یې په ګلدسته کې پښتني رنګ پیدا کولو دپاره کړې و ي. په دې زمره کې د ځینو داسې نومونو د حذف کولو ذکر وړاندې تیر شوی دی ، کومو سره چې پښتانه بالعموم نامانوسه دي.

په ګلستان او ګلدسته دیو عمومي نظر اچولو نه پس اوس ښایي چې ددې شاهکارونو دلیکونکو په حقله هم یو څو کرښې ولیکلی شي.

شیخ سعدي(رح)

تر اوسه پورې څو دده نوم مصلح الدین مشهور و، ولې د شیخ سعدي د کلیاتو د ټولو نه زړه نسخه کې ، کومه چې دانډیا آفس په کتب-خانه کې پرته ده او دکومې نمبر ۱۱۱۷ دی ، دده نوم یې شیخ شرف الدین بن مصلح الدین لیکلی دی . دانسخه د شیخ سعدي دوفات نه ایله څلور دیرش کاله وروستو لیکلې شوې ده او کاتب یې (ابو بکر بن علی بن محمد) دخپلې نسخې په آخره کې لیکی چې:" منقول من خط الشیخ العارف السعدي .[۲]" نو په دې بنا محققینو اتفاق کړی دی چې د هغه نوم شرف الدین و.

۱_ غم دغلیم و ته له دله دور کړه خاندَه هوس کړه ښادي سرور کړه
که مخ د زیړ شي له دلګیری، ته یي په دواړه څپیړې سور کړه

۲_ شعر العجم په حواله د شیخ عبدالقادر، پروفیسر د پونی ددکن کالج.

دی په شیراز کې پیدا شوی و، د پیداوښت دکال په حقله یې ډیر اختلاف دی، خو دومره یقین سره ویلی شو چې دی د (۵۸۰ ھ) (۱۱۹۳ م) او (۵۸۹ ھ) (۱۱۹۳ م) په منځو ما نه کې پیدا شوی و. تعلیم یې اول په شیراز کې او بیا د بغداد مدرسه نظامیه کې وکړو . ددې نه پس اصفهان ته راغی. دا هغه ورځې وې په کومو کې چې منګولو په ایران باندې خپل تاختونه شروع کړي او لنډی قیامت یې پکې جوړ کړی و. هر کله چې دده محسن تابك سعد (د چا په نامه چې ده خپل تخلص هم اینښی و) دخوارزم د باچا غیاث الدین د لاسه د تخت نه کوز کړی شه ، نو دده دژوند دویم دور شروع شه ، ده خپل وطن پریښو او ددنیا د سیل او سیاحت دپاره ووت . دده دسیلونو او په ملکونو ملکونو د ګرځیدو دادور د ۱۲۲۶ ع نه شروع کیږی او په ۱۲۵۶ ع کې ختمیږي. په دی دوران کې ده بلخ ، بخارا، غزنی، حجاز ، یمن ، شام ، فلسطین و غیره و غیره ملکونه کچ کړل او دهند په ګجرات کې د سومنات ترسنده پورې هم ورسید. په فلسطین کې په یوه غزاکې هم شریك شه، په دغه غزا کې دی د فرانك سپاهیانو ونیوه او دجنګ دقیدي په حیثیت یې طرابلس ته بوته ، هلته یې لکه د نورو قیدیانو سخت مشقت هم وکړو ، آخر یو آشنا پرې پیښ شه ، هغه یې بو نګه(زرقدیه) ورکړه او دی یې را خلا ص کړ. او خپله لور یې ورله په نکاح کې ورکړه . ددې نه وروستو دی بیا په سفر ووت او دقطبي افریقې ځینې ملکونه او په اَیشایي کوچك کې وګرځید. آخر د کال ۶۵۳ ھ (۱۲۲۹ ع) خوا و شا کې بیرته خپل وطن ته راغی . دغه وخت دده عمر اویاو کالوته رسیدلی و. اوس په شیراز کې دسعد د زوی ابوبکر باچاهي وه ، د منګو لو قیامت تیر شوی و، او په ملك کې قلا ره قلا ري وه . ځکه دی په شیراز کې مستقل پاتې شه. او پاتې عمر یې په زهد عبادت او

تصنیف او تألیف کې واړاوه . آخر په ۶۹۱ هـ [۱] کې دیو سل او لسو (۱۱۰) کالونو خواو شا عمر کې په حق ورسیده .

دشیخ سعدي د ژوند په حالاتو که هر څو ډیر کتابونه لیکلی شوي دي، ولې د ځینو نورو لوړو شاعرانو په شان دده د ژوند حالات هم په تیاره کې دي ، خو د خوش بختی نه ده پخپله په ګلستان کې ډیرې قصې او واقعات دخپل ژوند د پیښو، تجربو او مشاهدو په بنا لیکلي دي ، ځکه ددې نه د سعدي د سیلا ني او ژوندي زړه ، ښکلی مذاق ، دجفا کش او قانع طبیعت په حقله ډیرڅه معلومیدی شي.

سعدي دایران دټولو نه لوی شاعر او ادیب ګڼلی شي ، دده په ګڼو تصنیفاتو او تألیفاتو کې ګلستان او بوستان داسې شاهکار ونه دي چې دده نوم به تل تر تله ژوندی ساتي .

عبدالقادر خان ختک

عبدالقادر خان ختک د پښتو ژبې د نومیالي شاعر خوشحال خان ختک زوی و، دی په ۱۰۶۳ هـ (۱۶۵۳ م) کې زیږیدلی و. دده د نوم " عبدالقادر خان " نه دابجد و په حساب دده د پیدا وښت کال راوځي . دده د کلا م نه دا ثا بتیږي چې ده ددغې وخت دټولو مروجه علومو زده کړه کړې وه . په شاعرۍ کې خو برخیره ده چې لکه دنورو وروڼو به ده دخپل پلار نه استفاده کړې وي. دی دیوې او چتې پایې شاعراو ادیب خو و، خو دقلم سره سره لکه د پلار د تورې خاوند هم و . او په ډیرو موقعو کې

۱ـ دسعدي وفات پحقله هم اختلاف دی . حمدالله مستوفي د سعدي د وفات نه ثلویښت کاله پس دده وفات ۶۹۰ هـ (۱۲۹۱ع) لیکلی دی.

یې خپل پلار سره اوږه په اوږه ددښمن مقابله کړې وه ، د ګنبت په جنګ کې خو ژوبل شوی هم و، خو دپلار دوفات نه پس داسې ښکاري چې ده خپله توره تیکي ته واچوله او تر آخري وخته یې بیا د تیکي نه راونه ویسته ،ځکه چې دی طبعاً یو صوفي منش غونډې سړی و او په ګوټ کې دناستې زهد او ریاضت ژوندیې خوښ و. او همدغه وجه وه چې په ۱۱۲۴ ه کې په نوښار ګوشه نشین شه. ددې ذکر په ګلدسته کې دتألیف سبب ښودلو په موقع داسې کړی دی.

" ..... په زر سل څلوېښت هجري نبوي صلی الله علیه وسلم په سبب د حوادث روزګار بې یاره بې دیاره بې مونسه بې غمګساره په نوښهر کې په یوه کلبه اندوه کې لکه دصحرا په غار کې مې اوقات ګذاري کوله "

په دی بیان کې ځنې الفاظو یعنې" په سبب د حوادث روزګار " بې یاره " "بې دیاره بې مونسه بې غمګساره " " کلبه اندوه " نه دا څرګندیږي چې دده دژوند (کم نه کم) آخري ورځو کې د غم او اندوه وریځې را خورې شوې وې . دا هم ویلی شي چې دده خپل وراره افضل خان ختك سره څه زړه بداو ی راغلی و. او ددې وجه دا ښودلې شي چې ده دهغه مشرې نه منله کیدی شي چې دده ددغې غم او فکر وجه هم دغه وي. ددوی دمخالفت په سلسه کې د ې پوري ویلي شوي دي چې عبدالقادر خان په آخره کې دافضل خان دلاسه یا دده په ایماء ووژلې شه .

عبدالقادر خان دخپلی ګوشه نشنۍ دذکر په موقع وایي:

دوه شپیته کاله دې لاړ عمر په لهو

عبادت د په عادت ، نیکي په سهو

ددې نه دا معلومیږی چې دی دخپلې ګوشه نشینۍ په وخت کې ددوو شپیتو کالو و. په هم دغه زمره کې بل ځای ده دخپلې ګوشه نشینۍ نیټه زرسل څلیریشت (۱۱۲۴ ه) ښودلې ده، که ددی نه دوه شپیته کاله

وباسو، نو دده د پیداوښت کال ۱۰۶۲ هـ راوځي . خو په تاریخ مرصع کې دده د پیداوښت کال سنه ۱۰۶۳ هـ ښودلی شوی دی . او همدغه صحیح دی، ځکه چې ددو شپیتو کالو زباني حساب کې د میاشتو فرق راتلی شي. او دمیاشتې نیمې فرق هم د سن په شمیره کې فرق راوستی شي.

دده د ګوشه نشینۍ ژوند څه داسې نه و چې با لکل یی هر څه ته شاکړې وه، بلکه خپل نمونځ اودس او زهد او عبادت سره سره یې د علم خورول هم خپله یوه مشغولا ګڼلې وه . او حقه دا ده چې دا هم یو ښه عبادت دی، په دې حقله هغه خپله وایي :

" باقي عمر ځان ته د ناستې او پښې د قناعت په لمن کې نغښتې بهتر د ي. مشغولا له کتابه ، ورتله په لوري د مسجد ، چې سعادت ددنیا و آخرت دی ، غنیمت ګڼلی بویه . اکثر به تنها ناست وم . کله کله به بعضې یاران راغله استفاده به یې دعلم عربي و فارسي کوله ."

ددې عبارت دآخري جملې نه زموږ ددې خیال تصدیق هم کیږي . چې عبدالقادر خان یو ښه عالم فاضل سړی و. او په عربي او فارسي ژبو علومو کې یې دومره قابلیت لاره چې دهغه دوستانو به هم ترې استفاده کوله . دعربي او فارسي علومو نه د هغې وخت مروجه علوم مراد دي . او دهغې وخت مروجه علومو کې تفسیر ، حدیث ، فقه، منطق و غیره و غیره شامل وو.

په فارسي ژبه یې د عبور یو غټ ثبوت دادی چې هغه د سعدي دګلستان او جامي د یوسف زلیخا ډیرې ښکلې ترجمې کړې دي . او په یوسف زلیخا کې خو یې یو څو شعرونه دعربي ژبې هم لیکلي دي . ددې نه یې په عربي ژبه کې ددسترس اندازه لګیدی شي. په پښتو کې یې د فضیلت د ثبوت دپاره دغه ګلدسته او دهغه دیوان بس دی . دا موږ نه

وايو، بلکه دهغه خپل هم په ځان دومره باور و. په يوه موقع يې د يو غزل په مقطع کې شاعرانه تعلی هم وکړه چې:

لکه زه په يار مفتون يم بل به نه وي مفتون هسې
لکه زه پسې مخزون يم بل به نه وي محزون هسی
پرون غيږ په غيږ له ياره نن ترميان شو هوادونه
دا انصاف دزمانې دی چې نن هسې پرون هسې
په کاته د سترګو زړه وړي په خبر و ځنې صبر
د جهان په مخ به نه وي سحر هسې افسون هسې
په قيامت به هم په هوش د محبت ليوني نه شي
چې به روغ شم بې ديدنه زما نه دی جنون هسې
خط په مخ ددلبر راغی ، شورد زړه په بازار ګډ شه
چې دحسن بادشاه ليږدي ددې خط دی مضمون هسې
د ژوندون فايده داده چې د يدن کوي د ښکلو
چې يې دا فايده نه وي مرګ بهتر تر ژوندون هسې
آيئنه د خپل زنګون و ماته جام جهان نما شوه
ځکه سر لرم تل ايښی دفکرت په زنګون هسې
د دنيا په دښمنۍ کې عيسیٰ لاړ شه تر آسمانه
په دوستۍ کې يې لاځي تحت الثرا ته قارون هسې
دا غزل په پښتو ژبه چې بيان عبدالقادر کړ.
دروغژن يم که بې خانه وايي بل يو پښتون هسې

داهغه تاريخي غزل دی ، چې دهغې وخت لوی لوی شاعران، لکه معزالله ، صدر خوشحال، محمدي يي را لړ زولي وو او هغوی ددې غزل جوابونه ليکلي وو.

دګلدستې متن

مقابله، تصحیح او حواشي

د

ډاکټر عظیم شاه خیال بخاري

۱۹۶۱م

ویلی شي چې دی دلاهور د شیخ سعدي مرید، بلکه دهغه خلیفه هم و او هم په دې وجه به یې ده ته خلیفه صاحب هم وې . لنډه دا چې عبدالقادر خان دخپل وخت یو لوی عالم فاضل شاعر او ادیب و او ورسره یو نیك ، پرهیزګاره ، ګوشنه نشین او صوفي طبع سړی و.

پښتو اکیډیمي په ډیر و کوششونو د ګلدستې دوه نسخې پیدا کړې او دتصحیح او تنقیح نه پس یې چاپ کوي ، زموږ دا کوششونه ستاسو وړاندې دي . دي ته ښه او بد ویل ستاسو کار دی .

خیال بخاري

بِسمِ اللّٰهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِيمْ

ثناصفت خدای لره جل جلاله عم نواله چې طاعت يې موجب دقربت دی او شکر يې په نعمت سبب دزياتيدو دنعمت ، هره ساه چې ښکته شي، مدد دژوندون ده، چې راپورته شي خوښي دوجود، پس په هر نفس کې دوه نعمته دي موجود، په هر نعمت شکر لازم.

رباعي

دښبنتن مې رب دي زه يې مربوب يم
بنده دده يم که خوب نا خوب يم
غرق په اوبو کې کله اوبه و يني
نعمت يې نه وينم په نعمت ډوب يم

دحق تعالی نعمتونه هومره نه دي چې بنده يې دشکر له عهدې ووځي، بويه دا چې اعتراف په خپل عجز وکا . سُبحَانَکَ مَا شَکَرنَاکَ حَقَّ شُکرِکَ جاري په خوله کا[1]

از دست و زبان که برآید کز عهده شکرش بدرآید

قطعه

بنده هغه بهتر دی چې له خپلو تقصیرونو
عذرونه په درګاه دخپل څښتن همیش راوړینه
کله څوك توانیږي لکه حق یې دصفت دی
نبي دي که ولي دی چې ثنا ادا کوینه

(۱)خوان یې د رنګ رنګ نعمتونو په هر لوري غوړولی دی. (مسلمانان دي که کافران دي واړو ته رسیډلی دی(۲) ګناهونهویني پرده پوشي کاندي په سبب دعصیان منع درزق له چانه کاندي.

مثنوی

(پلار چې هومره ډیرمشفق دی په فرزند
که عصیان دده له زویه شي څرګند
البته دده د بخرې نقصان وکا
د بل زوی په دې زوی رجحان وکا
هسې رنګ که یار له یاره لږ آزار شي
وهر چا و ته کښیني څنې یې زارشي

اِعۡمَلُوۡا آلَ دَاوٗدَ شُكۡرًا ؕ وَقَلِيۡلٌ مِّنۡ عِبَادِيَ الشَّكُوۡرُ ؕ
۱- بیران: رحمت بحبانش همه را رسیده
۲_ ز

هسې ورور چې يې زوولی وي له موره
په لړ څه يې چې زړه بد شي نوريې گوره
په خدمت کې که سستي خدمتگار وکا
خپل صاحب يي کامت داد راروکا
اما خدای زموږه هسې مهربان دی
چې کرم يې په ښه بډ باندې يکسان دی
رزق روزي وښوو بدو ور کوينه
په گناه د هيچا رزق نه ورك کوينه
بهره مند د ده له خوانه کل عالم دی
که سړي دي که پيري که گرم ناگرم دی(۱)

باران درحمت يکسان په ښه بده ځمکه و ووري، رنگا رنگ بوټي زرغون کا، له ځينو فايده سترگې واخلي، له ځينو پوزه،ځوك خوراك دانسان ، ځوك دحيوان، بعضې دارو دبيمارانو، بعضې کيميا دکيميا گرانو(۲)

قطعه

لمرسپوږمی بادو ور يځې | چې تل ښکته پورته ښوري
همگي ستا په خدمت دي | شپه و ورځ دتا غمخوري

۱ـ ای کريمی که از خزانه غيب | گبرو ترسا و ظيفه خور داری
دوستان را کجا کنی محروم | تو که با دشمنان نظر داری

۲ـ داصل کتاب عبارت اوړد او بدل دي.

رزق روزي درته موجودکا   د رحمت باران و اوري
دایې ستا دپاره هست کړه   ته غافل د حق له لوري
چې په دا نعمت ړانده شي   په قیامت به وي مختوري[۱]

په خبر کې راغلي دي له سرورکاینات چې ،(خلاصه د موجودات دی. سبب دخلق دمخلوقات دی)[۲]

نظم

په ظاهر دآدم زوی په معنیٰ پلار و دآدم
ظهور یي په آخر په حقیقت کې مقدم
محمدرسول الله چې تل له ما په ده هردم
صلی الله تعالیٰ علی النبي وَسلّم[۳]

قطعه

دامت دیوال دي غم د پرتل نه کا
چې دتاغوندې رسول یي پشتیبان وي
دهغوی بیړه به څرنګه ډوبیږي
چې خود نوح نبي الله یې کشتیبان وي

۱ـ ابرو بادو مه و خورشیدو فلك درکار اند   تاتونانی بکف آری و بغفلت نخوری
همه از بهر تو سرگشته و فرمان بردار   شرط انصاف نباشد که توفرمان نبري
۲ـ ﺭ مفخر موجودات، رحمت عالمیان ، صفوف آدمیان ، تتمه دور زمان.
۳ـ داشعرونه دعربي دیو شعر او دسعدي دیوې مشهورې رباعي په ځای راوړي دي چې اوله مصرع یې داده : بلغ العلی بکماله.

هرگاه چې یو له بندگانو گنهگارانو[۱] چې لاس د پښیمانی ندامت په امید داجابت. په درگاه درب العزت پورته کا. حق تعالیٰ درحمت نظر پروبه کا، بیا بنده زاري وکا، حق تعالیٰ تر اعراض وکا، بیا بنده عاجزي او خواري خپله بیان کا. حق تعالیٰ ووایي چې ای فرښتو! د بنده خواست مې قبول کړ. ومې باخښنه چې دی بې له مانه بل څوك نه لري، چې زه دده حاجت پوره نه کړم، څوك به یي پوره کا؟ دا بنده چې ما ته ډیره ډیره زاري کا، شرم رادرومي چې اجابت یې دخواست ونه کړم.

بیت

کرم عنایت گوره په بنده د کردگار

گناه بندگان وکا، ځنې دی وی شرمسار

(دعبادت کړوني یې به تقصیر دخپل عبادت مقر. چې سبحانك ماعبدناك حق عبادتك. صفت کړوني یې قائل په لاَ اُحصِی ثَنَاءً عَلَیْكَ عارفان یې په خپل عجز معترف. چې سُبحَانَكَ مَا عَرَفْنَاكَ حَقَّ مَعْرِفَتِكَ)[۲]

نظم

داثنا صفت به څه پوښتې له مانه

څه به وایې بیدلان له بې نشانه

۱ـ ح : پریشان روزگار

۲ـ ق:عاکفان کعبه جلا لش به تقصیر عبادت معترفند، که ما عبدناك..." وواصفان علیه جمالش بتحیر منسوب که ماعرفناك..."

عاشقان په تیغ وژلي معشوقې دي
له وژلو آواز کله خیژي جانه

یو له بزرګانو سریې په ګریبان دفکر ننه یستلي و. په سینه کې دمکاشفې مستغرق و. پس له درنګ یې سر راپورته کړ. یو له یارانو چې محرم و، عرض یې وکړ: په دې بوستان کې چې ته وې، مونږ ته دې څه تحفهٔ کرامت راوړه؟ وې ویې چې په خاطرمې ووې چې دګلو ونې ته چې ورشم، لمن به له ګلونو پوره کړم، چې لمن مې له لاسه پریوته.

رباعی

(لاړوم باغ ته په نیت د ګلو
د پر یکولو د ټولولو
په بوی یې مست شوم بیخوده پریوتم
توان مې هیڅ نه و لکه په ملو[۱])

قطعه

اي د سحر چرګه ! عشق حاصل کړه له پتنګه
وسوزي په اور کې هیڅ آواز نه کاله ننګه
هرچې لاف دعشق کا بیا له عشقه ګفتګوی کا
تشې دعوې کاندي په سالوس یې جامه رنګه
ګفت په شریعت کې دی سکوت په حقیقت کې
کله ویل کاندي مقرب دشاه له څنګه

رباعي

اي چې برترېې له وهم وخياله ستا له صفته ژبه ده لاله
مجلس تمام شه عمر آخرشه آغاز دمدح دی ستا له جماله

[۱]پس دخدای تعالی له حمد او درسول الله صلی الله عيله وسلم له نعته دستور دمصنفانو دی چې مدح دخپل وخت د بادشاه وکاندي. لکه شيخ سعدي نورالله مرقده دابوبکر سعد زنګي صفت په ګلستان کې کړی دی. اما موږ په هسې زمانه کې پيدا يوو چې حاکمان بادشاهان ددې عصر واړه ظا لمان او مبتدعان دي. په مدح کې يې مادح دذم شي.تر خالقه تر مخلوقه ګرم شي. په دنيا کې ښه عالم پرې بدګمان شي، په آخرت يې ددين زيان شي، لکه مولوي روم رحمت الله عيله فرمايلي دي.

بيت

مي بلرزد عرش از مدح شقی بدګمان ګردد زمدحش متقی

په داسبب دعصر بادشاه معينه مدح ونه شوه، خو په دا اختصار وشه "اَللّٰهُمَّ اَنْصُرْ مَنْ نَصَرَ دِيْنَ مُحَمَّدٍ-اَللّٰهُمَّ اَخْذَلَ مَنْ خَذَلَ دِيْنَ مُحَمَّدٍ" هر بادشاه حاکم چې سعيد وي که قريب وي، که بعيد وي ،که زنګي که فرنګي وي، که ترك وي که تاجك وي، که حبش وي که دروم وي، که پښتون که هندکی وي چې عادل وي حق تعالٰی دې

۱_ددي نه وروسته دتاريخ تر قطعې پورې اول عبارت دعبدالقادر خان خپل دی، بي ددي قطي نه چې"خاوري واخستي په لاس کې سمن روي..." الخ چې د" سعدي " ددي مشهورې قطعې (ګلی خوشبوی درحمام روزی.... الخ ترجمه ده.

په دنيا کې سيوری په مسلمانانو ممدوده لري. او په عقبیٰ کې دې مرتبه مسعوده لري.

مثنوی

په قيامت به وي دعرش ترسيوري لاندې
بادشاهان چې عادلان شي عدل کاندي
په هر قوم چې کرم د کردګار شي
سرداران به يې ديندار نيکوکار شي
ښه حاکم رحمت په خلقو دسبحان دی
بدصورت که دانسان لري شيطان دی
نشانه د خدای د قهر بد حاکم وي
چې هيڅ عدل انصاف نه لري ظالم وي
په هر لوري کا د ظلم لمبې بلې
پکې زړونه د عالم کا جلې بلې
که هر څو وطن شيرين وي خو يې پرېږدي
چې يې چرته آرام شي هورې ته ليږدي
ظالمان جان و جهان لره بلا دي
هغه خوار شول چې په ظلم مبتلا دي

سبب دتأليف ددې کتاب چې ترجمه دګلستان دی. موسوم په ګلدسته. دا و چې په سنه دزر سل څليريشت دهجرت نبوي صلی الله عليه وسلم په سبب دحوادث دروزګار، بې ياره بې دياره، بې مونس بې غمګساره، په نوښهر کې په يوه کلبه اندوه کې لکه د صحرا په غار کې مې اوقات ګذاري کوله . دنوښهره خلك داخصلت

جبلي ذاتي لري چې په هر میلمه پورې چې سودېي ددنیا وي نه وي، که شیخ وي که عالم وي، که دنیا دار وي که نیست ګار وي، که خپل وي که بیګانه وي، هرګز پرې غرض نه لري . حقایق آګاه معارف دستګاه میا رحیم الدین پیر خیل حق تعالیٰ دې پرې ورحمیږي څوکاله یې پکې تیر کړي وو، راته یې ویل چې فقیر که ګذران کا په نوبنهر کې دې کا. هیڅوك به ورنشي چې یو وقت یې مشوش کا. په وداني کې به لکه بیابان نشین وي. په آزار به یې صابر شي. تحقیق لکه هغه بزرګ فرمایلي وو هغه څه ترې معلوم شول. یوه ورځ یوازې ناست وم.

رباعی

تل مې ناستی و له خلقه ګوښی   خپل پردي واړه را ځنی تښی
دم مې همدم و، کتاب محرم و   سر مې به تل وو په ذانو یښی

په ګذشته عمر مي تأسف کاوه چې واړه په لهو په لعب تیر شه. نه عمل راځخه وشو چې په آخرت پکار شي، نه هسې کار چې په دنیا کې پاتو یادګار شي. په دا فکر مې به کله آه کړ، کله فغان، کله زمزمه په دا بیان .

مثنوی

چې ګذریږي هر دم عمر لکه بادکا
په دنیاکې به عاقل کله زړه ښادکا

دوه شپیته کاله دې لاړ عمر په لهو
عبادت د په عادت نیکي په سهو
هرګناه ورڅخه شوې په اخلاص وي
چې دا خوی لري بې فضل کله خلاص وي
خجل څوک په تش ویل کاندي کارنه کا
وقت دکوچ راشي دی زیرمه دبار نه کا
خوب که خوړ دی دسحر ابن السبیل
لاچار پریږدي چې وقت راشي درحیل
هرڅوک راغله سازیږي نوی عمارت کړ
دمرګ سیندیې عمارت واړه لت پت کړ
دوی ته هم کړه داچار نفس دشیطان غوره
هیڅ یو ه دا عما رت نه کړ ترسره
بي و فا سره یاري مه کړه هوښیاره
محبت و ته نه ښایي دا مکاره
چې ښه بد ته ضرور تله دي له جهانه
مرد هغه چې دښونوم یوسي له ځانه
دسړي دخوشحالۍ اصل شکم دی
څو چې درومي په وار وار هومره بیغم دی
که دتللو لارې بند کا چې نه درومي
هغه دم به د اجل پیا له وشو مي
که روان شي چې هرګز نه شي تړلې
هم به ومري له انجاسه درست لړلې

ځلور طبع مخالفې دي سر کښې
یو څو ورځې روزګار کاځبله خوښې
که یوه شي په ځلور و کې غالبه
هغه دم شیرین ځان ووځي له قالبه
ځلوروارَه ضدبه څو وي سره جمع
چې روښنه به وي ستا دحیات شمع
ځکه هرڅوك چې عارف دانا په زړه وي
تعلق یې په ژوندون باندې هیڅ نه وي
وړاندې استوي دګور توښه چې پوه وي
بې توښې مسافر لاندې تر اندوه وي
کله تا هم موراو پلارپه خیرات یادکړه
په د عا سره دې زړونه ددوی ښاد کړه
چې له خپلو فرزندانو طمع دا کړې
بویه داچې دځان غم ترتلوپخوا کړې
عمر واورې په معنیٰ دنمردهاړدی
لړو تاته پاتې شوی دی ډیر لاړ دی
خالي لاس چې روان شوی وي بازارته
څه به راوړي چې راځي وکورته بیا رته
چې دخپل پټي یې وخوړل خویدونه
ګر ځوي هغه جولۍ په درمندونه
پس مې له ډیرو فکر و نو مصلحت دا ولید چې باقي عمر
ځان ته دناستې او پښې دقناعت په لمن کې نغښتې بهتر دی،مشغولا

له کتابه. ورتله په لوري دمسجد چې سعادت ددنیا دآخرت دی، غنیمت گڼلي بویه. اکثر به تنها ناست وم، کله کله به بعضې یاران راغله، استفاده به یې دعلم عربي و فارسي کوله . بعضې دوستانو راڅخه گلستان کتاب لوست، ډیر ډیر به یې راته ویل چې دعربي دفارسي کتابونه ډیر دي، اما په پښتو ژبه کې کتابونه دپښتو نشته.

ســـــتا قوت دتصنیف دترجمې البته شته. که تصدیعه په ځان قبوله کړې، گلستان کتاب چې مطبوع او مرغوب دخاصو عامو دی،هم یې لوی سرې گوري. نصیحت ترې اخلي، هم یې هلکان لولي برکت ترې اخلي، آساني ډیره وشي. اکثر خلق یې متن ولولي، دویم ځل یې معنیٰ ، که په پښتو ژبه ترجمه شي پښتنو ته به آسان شي. فایده به یې لویو هلکو ته ښه ورسي. زما هم بل شغل درپیش نه و، فارغ ناست وم. په شهر رجب کې شروع شه، په رمضان کې په کوتاه عبارت په طریق اختصار په اتمام ورسیده. اگرچې پښتو ژبه درشته ده، نرمي نه لري. تلخ ده شیریني نه لري، اما امید واري ده چې په تاثیر دشیخ دکلام، چې هم نرم دی هم شیرین، هم فصیح دی هم بلیغ، دا ترجمه چې په پښتو ژبه ده پکې اثر دخوږ والي پیدا شي. دلوستونیو خلق پرې خوږ شي ،لکه په تاثیر دگلونو تیل فلیل شي. په صحبت دمشکو پشک مشک .

حکایت منظومه

خاورې واخستې په لاس کې سمن روی
په تاثیر یې دلاسونو شوې خوشبوی
هغو خاورو ته چا وویل سبب څه دی
چې بوی ستا سې ترعنبر تر عبیر ښه دی
خاورو ووې موږ هغه خاورې یو تورې
لکه دي د تاتر ښېولا ندې دا نورې
یو درنګ واخستو په لاس کې ګلبدنې
عنبر مو ی خو یلې عطر مخ سمنې
خوشبو شوی دخوشبویې په تاثیر یوو
نه موږ مشك یوو ،نه عنبر یوو، نه عبیریوو
دا اثر په موږ همه دهمنشین دی
ګنه خاورې یوو چې اصل مو کمین دی

اګر چې سړي ته تر خاموشی بهتر هیڅ نشته، خاموشي ددانا و قار ده، نادان پرده پوشي، خصوصاً تصنیف کول چې دهر چا داعتراضونو دغشو نشانه شي، باعث یې حسد او عیب جویي وي. اعتراض یې بهانه شي. نظر یې په اصلاح دخبرې نه کاندي، خو افشایې دعیبونو کاندي، په دا وقت دوخ دی چې په دا بیت عمل کاوه شي:

بیت

ژبه پرې کړي ناست صُمٌّ بُکْمٌ بِه دې چې نه وي ژبه په حکم
اما په حکم ددې خبرې چې هوښیارانو ویلي دې:

نظم

عاقبت چې له جهانه سړی لیږدي
بهتر دي چې ښه یادګار په جهان پریږدي
په معنیٰ کې هغه مړ نه دی حیات وي
چې تري پاتو دنیکی کلما ت وي

دا هومره عالم چې له جهانه په وار وار لاړ شه له هیچا نخښې پاته نه شي، که بادشاهان وو که وزیران وو، نه سرایو نه پاتوشول، نه پولونه ، نه یي کوهي، نه یي باغونه، واړه په ګردش دورځو شپو خراب شول، نه یې نخښې شته نه یې ځایونه. اما خبردانبیاوو علیهم السلام او داولیاوو او تصنیفونه دعلماوو زرګونه ، سلګونه کالونه تیر شول، نه ورکیږي، نه زړیږي، بلکه لا تازه کیږي، موږ هیڅ مدان چې ژوندي یوو، هم دچا په یاد نه یوو، پس له مرګه به څوك موږ یادکا، مګر یوه نیمه خبره یا یو کتاب که راځنې یادګار پاتو شي څوك مو یاد آوري وکاندي.

نظم

نظم نثرله سړي پاتو یا دګار شي
دوجود خاورې یې واړه تارپه تارشي
غرض نوم دی چې دښو پاتو له چاشي
اعتما د به دچا څه په دا بقا شي
د شیراز بادشاهان لړ نه دي تیر شوي
په وار وار همګي واړه دي هیر شوي
څوك یې نوم په ژبه نه اخلي چې څه شوو
و جهان و ته راغلي وو که نه وو
دسعدي دحافظ غړ په درست جهان شته
چې ترې پاتې تصنیفونه یادیوان شته
په سبب ددوی مشهور ملك دشیراز شه
تر ایرا نه تر عرا قه په اعزاز شه
مطلب دا چې دا خبره ده څرګنده
تر هر څه د ه ښه خبر ه سر بلنده
موړ هم ګوندې څوك دمرګ د پسته یادکه
په لوستل مو د الحمد ارواح ښادکه

په خدمت لري دمطالعه کړوینو ، التماس عاجز الحق احقر الناس عبدالقادر دخوشحال ختك زوی چې اګر چې په ضمن کې دپلار صفتونه محامد بیانول خپل صفت معلومیږي، لکه بزرګانو ویلي دي:

بیت

گرد نام پدر چه میگردی   پدر خویش شو اگر مردی

امادی هم زما استاد و، هم پلار، داستادانو او صافو نه مدح اکثر و مؤلفانو په خپلو تألیفونو کې راوړي دي. ما هم اقتدا په هغو بزرګانو پسې وکړه. شمه به دده له احواله له خویونو په نظم په نثر کې څه ووایم.

مثنوی

خوشحال خان دشهباز خان و، شهباز خان دیحیی خان
یحییٰ خان داکوړي و سراي اول کړ ده ودان
سخاوت ددواړو خوی و شجاعت یې لاتر تیر
دختکو سرداران وو، خداي پر رحم وکړه ډیر

اما علم پرهیزګاري یې چندان نه وه ، په اعتقاد دواړه اهل سنت والجماعت وو. شهباز خان چې په حکومت په سرداری کښیناست. په هغه وقت ظهور غلغله دعارف کامل مرشد مکمل، بې خدایه جل جلا له له هر څه ویزار، دوست یزداني. شیخ حقاني. شیخ رحمکار قدس الله سره العزیز چې هم له قوم دختکو و. په درست پښتانه په اکثر عالَم وشوه، عالَم ورمات شه، هر چې مستعدان وو دده له صحبته،دده له ارشاده مستفید کیدل، طُالبان دسلوك دلارپه توجه دده تر مطلوب رسیدل.

فرد

ثوك دليدو ثوك له صحبته مراد مومي
ثوك له خبر و دهمه خلك ستا نه يي

حضرت شيخ جيو په تجريد په تفريد په رياضت كې له متقدمينو بزرگانو و ، په دې وقت دا كار ونه لكه له ده ظاهر شوي دي، كم له چا ليدلي شوي يا آوريدلي.

مثنوی

هومره نه دی منقبت [illegible] شيخ رحمكار
چې ادا شي يا په كښل يا په گفتار
د نبي صا حب په فقر معزز و
د خپل عصر په فقراو كې اعز و
كه اقوال ،كه يې افعال، كه يې احوال و
د سنت په موافق دده كل چال و
دډك سيند غوندې بې شوروشر خاموش و
نه سيلاب غوندې پرجوش پرخروش و
په قضا د حق را ضي ورته تسليم و
هر گور ډير متحمل و ډير حليم و
له هستی خپلې فاني په حق باقي و
ډيريې مست دعشق په ميو كره [illegible]
مس وجود د ډيرو شوی له ده [illegible]
په تحقيق دشيخ نظر كيميا اثر و

لکه نمر په تمامي جهان ښکاره دی
زه به څه وایم نه میاشت نه ستاره دی
دآفتاب صفت خو نورد آفتاب کاندي
که اوصاف يې ژبه کاندي ترغاښ لاندي
پس له ده دده په شان بل ظاهر نشته
په دې ملك په درست افغان بل ظاهر نشته
و دنیا و ته یي شاپه عقبیٰ مخ و
چې مر ید به شه دده د هغه سخ و
ښه خلفا ځینې ښکاره په خپل خپل وارشول
د خپل وخت په مریدانو فیض نثار شول
په خلفاوو کې مست فقیر جمیل و
صاحب حال وو مستانه يې قال وقیل و
ابراهیم غوندې خاني میري يې پریښوه
په اختیار يې فقیری ته غاړه کښیښوه
هر یو یار ته يې دنیا ښکاره وه خواره
هیڅا نه پریښوده په کور کې دامرداره
په همه و باندې رحم کردګار کړه
مونږه هم ددوی په دوی عفو غفار کړه

دشهباز خان دهدایت ستوري په آسمان دعنایت طلوع کوله. توفیق الهي رفاقت کاوه، دی هم یوه ورځ ازروي عادت لیدو ته په خدمت دشیخ جیو ورغلي و، دصحبت یا دنظر اثر يې پرې وشه، تائب شه، مال و ملك جامې آغستې دسواري آس واړه يې د شیخ جیو ورته

وفرمائیل چې یو ساعت ستا عدل تر ډیر عبادت بهتر دی. په جامه کې د سرداري فقیر اوسه، هم په موجب دحکم تر مرګه پورې په طاعت په عدالت مشغول و. خداي پرې ورحمیږي. خوی خصلت دشهباز خان مرحوم ډیر حمیده و. له ذمیمه وپستنه و. اکثر به خاموش ناست و، له ضروره به یې خبره تر خولې پر معنیٰ وو ته، ګویا په دایې عمل کړی و. چې "مَنْ صَمَتَ نَجَا"

مثنوی

له اوله سخن سنج اندیښنه وکا
له هغه پسه دا بیرون آواز ترخوله کا
هرګز نه وهي هوښیار بې فکره دم
پاخه وایه که لارغه وایې څه غم
اول فکر کړه بیا پس وهه نفس
پخوا بس کړه چې څوك ووایې چې بس
په خبرو سړي ښه دي له دوابه
دو آب ښه تر تاکه وایې بې صوابه
اول فکر بویه پس بویه ګفتار
بنیاد کیږدي بیا پرې سازکاندي دیوار
چې بیفکره څوك آواز ترخولې بیرون کا
دارنګ خوی یایې احمق یایې مجنون کا

پس دده له وفا ته خوشحال مشر قابل زوی قوم قبیلې دده په ځاي نصب کړه. دستار یې دحکومت دسرادارۍ دده په سر وتاړه،

شیخ جیو هم ډیره مهرباني پرې وکړه . څو حیات و په حال دخوشحال متوجه و. شاهجهان بادشاه دهندوستان په سفارش دکابل د صوبه دار فرمان ورته عنایت کړ. ښه مستقل سردار شه. بندو بست یې تر اباتراجدا ډیرښه وکړ. قبیله پروري، داد ګستري، سر لښکري دده غوندي بویه چې څوك وکاندي. انتقام به یې له بیګانه احیاناً واخسته، له خپلو صله رحم سره که هر څو به یې ده ته ازار ورساوه وریورې به ګرم شول. ده به عفو کول. سوال جواب یې له بادشاهانو سره بالمشافهه کاوه. دوزیرانو دامیرانو به په څو مجلس مصاحب او ندیم شه. په علم عربي کې یې لږ دخل و. په فارسي کې سرآمد دخپل عصرو. شعر یې فارسي پښتو ښه انشاء کاوه، اما پښتو شعر یې جهان لکه شیخ سعدي ونیوه. شعر یې غزل، قصائد، رباعیات، مقطعات، صنایع مثنویات تر لکونو بیتونو متجاوز دي. سخاوت یې تر دې حده و چې شپیته کاله کم بیش ده سرداري وکړه. زکوة پري واجب نشه. مال یې تر نصاب ونه رسیده. په وقت رحلت چې له دار فنا یې و دار بقا ته رحیل کاوه، یوه آغوستې جامه یو جمدهر ترې پاتو شول. لکه ده په مناجات کې له حق تعالي نه مرګ غوښتی و. هغه هسې مرګ یې بیا مونده.

بیت

چې جامه یې پاتو نشې مرده شوې ته
خدایه ورکړې وخوشحال هسې رحلت

په عقل، په پوهه، په سخاوت، په شجاعت، په مروت ضرب المثل
و په پښتانه کې.

رباعی

که عقل پوهه که تیغ که دیګ وو
په پښتانه کې دخوشحال بیګ وو
زریې میړانې ته په شمار دسلو وو
زریې سخا ته د صحرا ریګ وو

یوه ورځ دده په خدمت ناست وم. له یوه ځایه روپۍ راغلې وې . په مستحقانو یي په خپل لاس قسمت کړې. لاسونه یي وکتل تور شوي وو، کوزه خدمتګار راوړه چې لاسونه یي وللږ راته یي وفرمایل چې، لکه لا سونه ددوی په قربت توریږي، زړونه یې په محبت لا تور شي. دلاسونو سیاهي خو په وللو لاړه شي، اما دزړه دسیاهي تله دشوار دي، بې حق تعالٰی دتوفیق له او بو نه سپینیږي . دا بیت یې وفرمایه:

بیت

لکه لاس د زرو پول په شمار توریږي
په دوستۍ یې سړی هم شي روسیاه

دصاحب دقبله علیه الرحمه او صافونه په مغل په پښتانه عیان دي. حاجت یې د بیان نشته، اما څو بیتونه په طریق داختصار دي ګنهکارمعماطور چې په شمار راوړي دي چې دهر مصرع دسر له

حرفه هم په رفتار داسپ درخ هم دفرزین نوم دخوشحال خان خټک ورځني ووځي.

نظم مربع

خدای يې تل لکه خپل نوم لره خوشحال
خوشحالي يي په نصيب وه لا يزال
خرد مند نيکو سيرت نيکو مقال
خودپوهيږي چې خبريې دي په حال
و رکو ل يي بې منته و حا تم و
ورته يو سفال وسنګ دينار درم و
وايي په ځان دهغه چا چې په ده کرم وو
ورځ د شپه به يې کاوه باندې يرغال
شرم ننګ لکه دده و د چا نه و
شجاعت لکه رستم هسې دده و
شوروشر يي تل دميني پروت په زړه و
شان دده دی خودښکاره دده ترقال
حال د هر سړي ښکاره دی تر مقال
حل د هر مشکل کاوه شي له اقوال
حد دچا چې جواب کا دده له قال
حقيقت په مجاز نغښتل دي محال
اور د ننه دعاشق په زړه بليږي
او رنګين شعر لمبې ځنې ښکاريږي

ارمان دادی چې څوك كم په دا پوهيږي
اوس نور څه وايم دمينې حال احوال

لام و بې يې ددلبر دي ستا يلي
لعل و دُر يې دګفتار په تار پيلي
لږ ډير ما دده له حاله دي ويلي
لكه څوك ديار له مخ كا نمر مثال

خاموشي حلم يې ډير درله بردبارو
خپل پردی له ده همه شكر ګذارو
خارپه سترګوددښمن په درست بهارو
ختك درست دده په دور وو نهال

انديښنه يي وه هر ګوره ډيره لويه
اجنبي به يې كم نه ګاڼه تر زويه
افغان ده غوندې چې وزيږي بل بويه
آزاده و هيڅ يې نه درمال منال

نوم يې لاړ و تر دكن ترقندهاره
نه و بل هسې نامي له زمين داره
نيم درم يې هم كورنه ساته له عاره
نور څه هيڅ نه وو دده بې تورې ډال

خيلخانه ورځنې واړه وه خوشنوده
خوش خورم وو همګي دده له جوده
خاص وعام ووتل سودمن دده له سوده
خوش كلام و، خوش معاش و، خوش خصال

تواضع یې د هر چا کړه په مقدار
تر اندا ز ه کم زیات نه و دده کار
تل به ده کړه کبر جن په کبر خوار
تکبر په کبر جنو د ی حلا ل
کلام ډیر دده شیرین ؤ تر نباته
کم دده تر خولې ترخه و تل وچاته
کاریې داو ترحیا ته تر مما ته
کرم وکړه په ده باندې ذولجلال

سبب دتألیف دکتاب بیان شه . دیباچه په اتمام ورسیده، په اته باب کې ادأشه .

رباعي

زر سل خلیریشت د سن کالونه
له ګلستا نه چې د ا ګلو نه
ټول شول ترې جوړه چې ګلدسته شوه
یادګار به پاتې شي موږه به ځونه

رباعي

ځواني چې لاړه بیا نه ځوانیږو
و جا ړ شو بو یه چې و دانیږو
په مخ استوازي دطلب راغله
تاسې خدای ښه ساته موږ روانیږو

قطعه دتاريخ

دا کتاب چې گلدسته دگلستان دی
گل چيني کا عبد ا لقا در ختټك
که تاريخ يې دآغاز د انجام غواړې
سن د هجر په شما ره ودډغق دك

اول باب : په خوی خصلت د بادشاهانو.

دويم باب: په خوی ددرويشانو.

دريم باب: په بيان دفضيلت دقناعت.

څلورم باب: په بيان دخاموشۍ

پنځم باب: دعشق او ځوانۍ

شپږم باب: په بيان دزوروالي او ضعيفۍ

اووم باب: په بيان د تاثير د تربيت.

اتم باب: بيان د ادبونو د صحبت او حکمتونه .

اول باب

په بیان دخوی خصلت دبادشاهانو

حکایت

[۱]

یو بادشاه په وژلو د یو بیګناه اشارت وکړ، بیچاره چې له حیا ته نا اُمید شه هر څې په ژبه ورتله بادشاه ته یې ښیرې کنځل کړ. هر څوك چې لا سونه له ژوندونه پریو ینځې هر چې په زړه ورځي تر خولي وباسي.

مثنوی

چې وخت په سړي تنګ شي نه خلا صیږي له ضروره
لازم ورلره داشي چې لاس ږدي په تیره توره
پیشو چې شي عاجزه سپی یې کا تر سینې لاندې
خواه ناخواه غصه پیدا کا حمله کا په سپیو باندې

بادشاه پوښته وکړه چې څه وایي؟ یو له وزیرانو چې نیك ذات مبارك سرشت و،عرض یې وکړ چې دعا کاندي او هسې وایې چې هر څوك چې غصه ونغري، ګنهګار سړی بخښي، احسان وکا حق تعالي داحسان ښښتن دوست لري. دبادشاه پرې رحم وشه معاف یې کړ. له

وژلویي تیر شه، بل وزیر چې دده ضد او مخالف و، بد نهاد او ښبتن دعناد و ویې وی چې دې سړي بادشاه ته ښکنځل او ناسزا ویل کول تا په خلاف بادشاه ته عرض وکړ. بادشاه مخ دده له خبرو وجار یوست اعراض یې ورځني وکړ،وې فرمایل چې دده دروغ ویل زما پسند شول. ستا له دیو رښتیا ویلو چې دهغه په دروغو کې مصلحت و.اوستا په دا راستۍ کې خباثت. چې هوښیارانو ویلي دي: دروغ چې له مصلحت سره امیزوي بهتر دي له هغو رښتیا چې فتنه انګیز وي.

فرد

هغه څوك چې بادشاه کاندي هر چې دی ورته وایي
چې به بې له ښو څه وایي په هغه باندې نه ښایي

دا لطیفه یعنې نر مه خوږه خبره په ایوان دفریدون بادشاه کښلې وه.

مثنوی

دا جهان به پاتو نشي چا ته وروره
د جها ن پیدا کوو ني و ته ګوره
په هرڅه چې دی خوشنود شي هغه کارکړه
ځان په ښه خصلت نیکانو سره شمار کړه
تکیه مکړه په دنیا په ملك په اصل
ا لبته به د تا شي و رځنې فصل

ډيريې هسك كړه بيا يې وويشتل په مزكه
مينه نه كا هوښياران په دنيا ځكه
چې نيت وكاندي د تللو ارواح پاك
څه مرګ پاسه په تخت باندې څه په خاك

حكايت

[۲]

يوه بادشاه دخراسان دملك په خو ب كې سلطان محمود د سبكتګين زوي وليد ، سل كاله پس دده له مرګه چې درست وجود يې ريژيدلی و، خاورې شوی و، مګر سترګې يي چې په كولكونوكې غړيدلې، نظر يي كاوه. واړه حكيمان معتبران يې له تعبيره عاجز شول، مګر يوه درويش ووې چې اوس يې سترګي وغړيدې چې ملك يي دنورو شه .

بيت

تر اوسه ګوري په سترګو تورو　　چې ملك يې ونيو شاهانو نورو

قطعه

ډير نامدار ځوانان يې لاندې كړه ترخاورو
چې په زمكه له دوی پاتې نشان نشته
خاور وهسې رنګ خوړلي مردګان دي
چې په قبر كې يې يو استخوان نشته

دښو نوم یې لاتر اوسه په جهان شته
مدت وشو چې حاتم نوشیروان نشته
خیر خیرات کړه ای فلا نه تر هغه وړاندې
چې ناګاه وشي غږ چې فلا ن نشته
چې د بل له مرګه واروې ځان وژاړه
چې ستا هم له هغې ورځې امان نشته

حکایت

[۳]

یو ملك زاده و کوتاه قد اوحقیر. نور ورونه یې ښایسته په قامت دلپذیر. یوه روځ، مګر پلار ورته نظر په حقارت وکړ. دی په فراست وپوهیده چې پلار راته په خوار نظر ، نظر کاندي، عرض یې وکړ، چې اي پلاره! خبره کړم که دې نه وي په خاطر ګرانه، چې کوتاه هوښیار بهتر دی له لوړه نادانه، ډیر ځیزونه په قیمت بهتر وي په قامت کهتر، هاتي که لوړ دی مردار دی، مږ هلك دی حلال[1] هسي رنګ لږ مال چې حلال دي بهتر دی تر هغه چې ورځخه حرام ډیر مال وي.

قطعه

کوه طورترهمه غرونو ظاهرکم دی
دا خبره ده هر چا وته ځرګنده

۱ـ اَلشّاةُ نَظِیفَةٌ وَالفِیلُ جِیفَةٌ.

په نيزد دحق چې قدر دده ډير دی
مرتبه يې ده ترقافه لا بلنده

قطعه

يوه ورځ احمق ځار به ته په جدل کې
وکړ دارنګې ډنګر هوښيار مقال
تازي آس تر ښو څربو خرونو بهتر دی
که هر څو ضعيف لاغر وي بديې حال
پلار يي په دا خبره وخندل او[1] ورونه يي ورنځيدل.

قطعه

چې خبره مرد تر خولې ايستلې نه وي
پکې پټ وي دده هر عيب و هنر
په ځنګل کې ګمان مکړه چې خالي دی
شايد وي چې پکې پروت وي شيرنر

اتفاقاً هم په هغه مدت کې بادشاه ته سخت غليم مخ ښکاره کړ. چې دواړه لور يه لښکر ې ځبله ورغلې[2] اول چې ميدان ته ووت. آس يي وترپوه هم هغه هلك و،ويې وې:

قطعه

هغه نه يم چې غليم وته به شا کړم
که په جنګ کې په سنيه په مخ واهه شم

۲ـ ح، وارکان دولت بپسنديدند.
۱ـ ح: - "وقصد مبارزت کردند"

جنګيالي په خپلو وينو بازي کاندي
يا په فتح يا په تورو به واژه شم(۱)

دايې ووي نور يې ورکده کړه څو ځوانان يي دکار پري يستل پلار لره راغي، ځمکه يي دخدمت ښکل کړه و يې وې:

قطعه

اي چې تا ته مي صورت حقير ښکاريږي
زنهار مه ګڼړه د تن څريښت هنر
ډنګر آس په ورځ دجنګ په کار رادرومي
دسواري په وخت نه څو رب ګاو خر

راوړي دي چې لښکر د غليم ډير و دا لږ،ځنو قصد د تيښت وکړ، دې هلك پرې آواز وکړ، چې اي مردانو! بهتر دي تاسې ته مخ په وړاندې کوښښ: چې دروانه غوندي، د ښځو پوشش.نور و ځوانانو لره په ويل دده غيرت ورغی تهوريې زيات شه،واړ و په يوه ځل په غليم حمله وکړه، حق تعالیٰ فتح ورکړه، بری يې بيا موند. پلار پرې مهرباني وکړه، په سر سترګو يي ښکل کړ، په غيږ کې يې ونيوه،ورځ په ورځ يي متوجه په حال شه نظر يې د تربيت پرې کاوه،تر هغه وچې خپل ولي عهد يې مقرر کړ. ورونو يې حسد پيدا کړ، زهر يې دده په طعام کې واچول، خوريې له دريځې وليدل، تنبه يې ووهله ،ده په فراست معلوم کړل، لاس يې له طعام ونيوه.وېې وې چې محال دي چې هنر مندان ومري بې هنران دد وی ځاي ونيسي.

۲ـ ح : وآنکه يگريز و بخون لشکری.

قطعه

که هما ی مرغه دملکه ځوك معدوم کا
د هما ی سیوره به کله حاصل بوم کا
له ازله ځوك مسعود ځيني منحوس شول
سعدنحس نه آسمان نه يې نجوم کا[۱]

پلار يې په دا حال آگاه شه،ورونه يې دده وبلل، گوشمالي يې لکه حق و، هسې ورکړه،هر يوه لره يې حصه د ملك معينه کړه، فتنه يې تر منځ دفع شوه، نزاع ورکه . حکيمانو ويلي دي: لس درويشان په يوه ټغر کې ساعت تير وي. دوه بادشاهان په يوه ملك کې نه ځاييږي.

قطعه

حقاني سړي که نيم ککوړی وخوري
وربه کا و بل فقير هغه بل نيم
که اوه اقليمه خپل کا گمان مکړه
چې به نه کا غم بادشاه دبل اقليم

۱ـ ز

حکایت

[۴]

یوجماعت د عربو دغلو نو په غره کې ځای کړی و، لارېې د کاروان بند کړه، رهزني به یې کوله. رعیت دهغې نواحي پریشان او ترسان شه او لښکر د پادشاه مغلوب په دا سبب چې سخت ځای و، چې دوی په غره کې نیولی و، ورختل د لښکر محال وو، هر چې تدبیر کړوني دهغه ملك وو،سره کښیناستل،مصلحت یې ددوی دمضرت ددفع کولو کاوه. چې که په داروش څو مدت دوی په دا ملك تیر کا، مقاومت به ورسره مشکل شي .(چې لا تازه دي زور قوت یې نیولي نه دی دفع کول یې بویه.)[۱]

قطعه

هره و نه چې تازه وي نهال شوي
په قوت د سړي و خیژي له ځایه
چې یې ولې زرغونې شي ستېه لویه
په څو کسه به وکښه شي راته وایه؟
له اوله زیم دچینې په لږ خه بند شي
چې یې نم تر اوش کاله ګل ولا یه
په څو ورځو یې چې زور داوبو وشي
هاتي هم ځنې جار باسي مخ له ورایه

---

۱ ...

آخر الامر اتفاق په دا وشه، خبره يې مقرر کړه، چې جاسوس دې وریسې تعین شي، تجسس يې جاسوسانو کاوه. يو وخت چې غلونو په يوه قوم باندې تاخت کړی و، ځای دوروستو ددوی[1] خالي پاتې شه، يو څو ځوانان چې کار دیده آزموده وو، وراغله دغره په لمن کې په ناله کې پټ کښیناستل. په شپه چې غلو نه له تاخته ستړي راغله، سفر يې کړي و، خوب پرې زورشوي و، ولجې يې کښیښنوې، ملا يې پرانسې اول غليم چې تاخت پرې وکړ خوب و. هرګاه چې کلك ويده شول[2] هغه[3] ځوانان له پیڅوني وپاڅیدل واړه يې وتړل، صبايې په درګاه د بادشاه حاضر کړ، بادشاه حکم د واړو په وژله وکړ. ناګاه، په میان کې دهغو غلونو يو ځوان و، ښایسته امرد

چې خط يې دعذارونو نوي ټوکیدلي و، بهاريي دحسن تازه غوړیدلي. يوه له وزیرانو پا يه د بادشاه ښکل کړه، عرض يې وکړ. مخ يې دشفاعت په مزکه کښیښنود، چې دې هلك دژوندون له باغ میوه خوړلې نه ده. او دځوانی له بوستانه يې بهره موندلې نه ده. امید له کرمه دبادشاه دا دی چې په بخښل دده دخون په بنده باندې منت کښیږدي. بادشاه مخ له دې خبر ې وجاریوست، موافق يې د بلند فکر رانغله ويې فرمایل:

---

۱. ۱.چندآنکه باسي از شب درگذشت.

۲_ ح: قرص خورشید درسیاهی شد　　　یونس اندر دهان ماهی شد

۳_ ز

بیت

تربیت کله اخلي چې بدذات وي بدنهاد
مړد کي کولي نشي په گنبد باندې ایستاد

نسل او لاد ددوی چې منبع دفتنه دفساد دي، قطع کول یې بهتر(بیخ بتار ددوی له اصل راوکښل مصلحت)[۱] اور مړول بخري پریښول کار د نادانانو دي.

قطعه

که وریځې د ژوندون او به کا توي
و به نه خوري هرگز څوك دولې بر
له بد ذات سره روزگار کول ضایع دي
له درمو به څوك بیا نه مومي شکر

قطعه

که اوره دژوندانه اوبه باران کا
په تاثیر به یي شي واړه ونې لوېې
بیا به واړه ونې اصل ته رجوع کا
شنډې ونې به میوې نه کاندي توي

۱_ح _ افعي کشتن و بچه اش داشتن.

وزير چې دا خبره دبادشاه واوريده، خواه ناخواه يې پسند کړه. د بادشاه دفکر يې تحسين وکړ. آفرين يې ووې، عرض يې وکړ. هر چې صاحب فرمايي عين صواب دی. او مسئله يې ځواب ده. اما دی لا هلك دی دبدانو دخوی اثر پکې شوي نه دی، بغض عناديې په وجود کې متمکن نه دي، ممکن دي که په صحبت کې دنيکانو داخل شي چې له ښو خويونو واصل شي. اثر پرې دصحبت وشي تبديل داخلاق وشي.[1]

قطعه

دنوح زوی چې له بدانو سره کښيناست
د بدانو له صحبته نا خلف شه
پيروي يې دا صحاب کهف وکړه
هغه سپی په سپيو کې اهل شرف شه

دا يې ووې، نوريې بيا عرض مکرر وکړ، امرايان ، مصاحبان نور هم ورسره په شفاعت کې مددګار شول. بادشاه دهغه له خونه تير شه، وزير ته يې معاف کړ، وې فرمايل و مې باخښه اګر چې مصلحت نه و.

مثنوي

ورستم و ته زال پند وايه اي زويه!
کم غليم په زړه کې لو ی ګڼلی بويه

---

۱ ـ ز : -

ما له کمې چینې دی هسې رودلیدلی
چې دبار سره یې اوبن دی رغړه ولی

وزیر دهغه هلك په ناز په نعمت پرورش کاوه، ادیب یې ورته مقرر کړ. لا یق د بادشاهانو دجواب دسوال شه، ناست و لا ړ یې دملوکانو دخدمت حاصل کړ،دهر چا په نظر کې مقبول راغی . یوه ورځ وزیر دده له شمائل صفت باشاه ته وکړ. چې صحبت دعاقلا نو پرې اثر کړی دی، جهل قدیم یې له وجوده ووت. پادشاه وخندل دایې وفرمایل:

بیت

عاقبت به دلیوه بچړی لیوه شي
که هر څو یې پرورش له سړي وشي

دوه درې کاله چې تیر شول، دمحلت له او باشو سره یې موافقت وکړ. په وقت دفرصت یې وزیر له زهمنو سره ووژې، دولت یې ډیر تر قیاس واخست. په هغه ځای کې چې یې پلارونه ناست وو، ورغي کښیناست . عاصي شه، باشاه واوریدل دارمان دحسرت گوتې یې په غاښو نو دفکرت دحیرت وچیچلې،وې فرمایل:

قطعه

له ترخې وسپنې کله ښه تیغ کیږي
کاریگر که هر څو ښه لري دسترس

که هر څو يې تربيت حکيمان وکا

دا محال دی چې ناکس سړی شي کس

باران کله په بارش کې تفاوت کا

ښه خوړه مزکه ګل کاندي ښوره خس

قطعه

په ښوره مزکه کې کله زراعت شي

دامید تخم هرګز پرې مه کره

له بدانو سره ښه بدي له ښوشي

دا وینا ده وهر چا وته کره

عاقبت به دارمان ورغوي ژوي

يوزمان دې بدان نشي چا کره

حکايت

[۵]

شیخ سعدي وايي قدس الله سره العزيز چې یو سرهنګ زاده مي په وره کې د اغلم دسرای لیده چې عقل او پوهه یې زیاته تر بیانه وه. فراست او دانايي يي تيره تر حده، نخښې يې د بزرګی په تندي کې پیدا وې[۱] اونورې دهوښیاري په مخ جلوه ګر.

۱ـ ح: از عهد خـــرومی .

بیت

پاس په سرېي ددولت ستورى رخشان و
خوش منظر شیرین کلام عالي نشان و

په لږ مدت کې مقبول د نظر د باشاه شه چې هم په حسن صاحب جمال و، هم په عقل ښتن د کمال و، حکماوو ویلي دي؛ توا نگري په زړه ده نه په ډېر مال، عقل په سر دی[۱] نه په ډېروالي د کال.

بیت

چې په عقل هلك پیروي | و د انا و ته کبیروي

نور وسیالانو یې حسد رخه پیدا کړه، دده په منصب یې کینه وکړه، دده دوژلویې سعې بې فایده.

مصراع

دښمن هیڅ کولی نشي | چې پرې مهر لري دوست

رباعي

چې هنر مندوي هغه حا سد لري
اغزي گلونه رقیب شاهد لري
په سو به بنه یشي د بومو زاغو
باز چې جاله د شاه ساعد لري[۲]

۱.ا. بزرگي به عقل است
۲ـ ز

بادشاه پوښتنه ورځني وکړه، چې موجب ددوی ددشمنۍ له تاسره څه دی، آزار يې په کوم سبب لتا زړه دی. عرض يې وکړ. چې په سايه مې ستا د دولت هر څوك خوشنود کړي دي. مګر حسود. چې دي نه راضي کيږي،بې زما د نعمت له زواله. ستا اقبال دولت دې ذولجلال باقي لري.

قطعه

توانيږم چې هرګز به زړه دهيچا آزار نه کړم
بې حسده چې زحمت لري په زړه کې دحسد
دی به خلاص له دې زحمت هم هاله شي چې دي ومري
تر حسده په رنځونو کې هيڅ نشته بل رنځ بد

قطعه

بد بختان په آرزو غوا ړي — دنيکبخت زوال دجاه
شاه پيرك په ورځ نه ويني — لمر هيڅ نه لري ګناه
دوی دې واړه پرې ړانده شي — نه دلمر سترګه سياه

حکايت

[٦]

يو له بادشاهانو ظالم و، لاس دظلم يې په مال د رعيت اوږد کړ، خلق د ده له ظلمه په ځان شه، بې وطنه آواره په جهان شه،

محصول د ملك په نقصان شه، خزانه ورکه (سپاه پريشان شه)[۱]
غليمان له هره لوريه پرې ښکاره شول.

قطعه

په محنت کې که څوك غواړي چې دی مله شي
په راحت کې د هر چا کړه دلبري
په احسان به بيگانه لکه برده کړې
ستا د پاره به په شا څکوي وري
دعدل ، داد، کرم ، احسان ولره بويه
سلطنت هسې کار نه دی، سر سري
مل هغه، چې په لرې درسره مل وي
تمامي جهان ډ مل دی د بري[۲]

رُباعي

هغه چې ستا دي چې يې ساتل نه کړې
ويره مې کيږي چې يې دبل نه کړې
که دادې خوی دادې کردار دی
خپل به پردي کړې پردي به خپل نه کړې[۳]

يوه ورځ په مجلس کې شاهنامه لوسته شوه، چې قصه د زوال
دضحاك دملك او فريدون ته بادشاهي رسيدل راغله، وزير له بادشاه

۱ـ ز.
۲- ز.
۳- ز.

نه پوښتنه وکړه چې فريدون خزانه لښکر نه درله ؟ څرنګك ملك په ده مقرر شو؟ بادشاه وويل لکه اوريدلي دې دي خلق په تعصب چې دضحاك له ظلمه پريشان شوي وو، په ده ټول شه، قوت يې ونيو بادشاهي يې واخسته. وزير عرض وکړ: هرګاه چې جمع کيدل دخلق موجب د بادشاهي دي ته خلق ولې پريشان لرې؟ مګر خواهش دې د سلطنت نشته ؟

بيت

شاهانو لره بويه پرورش دسپاهي
بې لښکر و نشي په ملکونو بادشاهي

بادشاه وفرمايل: سبب د جمعيت دلښکر د رعيت څه دي؟

عرض يې وکړ: بادشاه لره کرم بويه چې خلق پرې ټول شي، رحمت بويه چې ملك يې ودان شي[1] تا څخه له دواړو يو نشته.

مثنوی

لکه نشي له ليوانو شباني
هسې نشي له ظالمه سلطاني
خرابي دملك له خپله لاسه کاندي
هر بادشاه چې ستم کا په خلکو باندې

---

(۱) و: تادرپناه دولتش ايمن نشيند.

بادشاه ته پند دوزير ناصح دلپذير نشه، موافق يې د طبع رانغي[۱] زندان ته يي واستوه، په لږ مدت کې وارثان دملك چې دده تربورونه وو، خروج يې وکړ ، ميراث يې دپلار طلب کړ، هغه قوم چې دده له ظلمه پريشان شوی و، په دوی جمع شول. قوت يې ونيو، ملك يې له ظالمه رانيو، دوی پرې مسلط شول.

قطعه

چې ستم په زير دستانو باندې ډير کا
په معنیٰ دزورو رغليم دوستدار دی
دعادل بادشاه لښکر خپل رعيت دی
دعادل بادشاه هم عدل لوی حصار دی[۲]

حکايت

[۷]

يو بادشاه په يو کښتۍ کې ناست و، يو مريی عجمي هم ورسره په خدمت حاضر و، مريي کله سيند ليدلی نه و، دکښتۍ ناستې يې ازميلې نه و، ژړا زاري فريادې آغاز کړ. اندامونه يې واړه په لرزه شول (که هر خو مهرباني د لاسايې کوله آرام يې نه کيده. د

۱ـ دروي از سخنش درهم کشيد
۲ـ غم زيردستان بخور زينهار بترس از زبردستي روزگار

بادشاه طبعيت ورځني برهم شه) له علاج يي عاجز. يو حکيم په هغه بيړۍ کې ناست و، عرض يي وکړ، که حکم وشي زه يې خاموش کړم. بادشاه ووې ډير منت به د ې رابانديې بارشي. حکيم حکم وکړ، مريي يې سيند ته واچوه. څو غوټې يې چې وخوړې،تر ويښتو يې ونيو(بيړۍته يې را واچاوه. په لاس يې بيړۍ کلکه ونيوه) په ګوښه کښيناست آرام يي ونيو. بادشاه تعجب وکړ. وې فرمايل چې په دا کې څه حکمت و؟ حکيم عرض وکړ. چې ده محنت دسيند دغرقيدو ليدلي نه و،(دا دبيړۍ ناستی ده ته زحمت و)[1] هسې رنګ قدر دعافيت هم هغه څخه وي چې په مصيبت ګرفتار شي.

نظم

د ماړه تر فهمه هيڅ نه ده غنمينه
ولې وږي ته حلوا ده اوربشينه
جنتيانو ته اعراف لکه د وزخ دی
د دوزخ عالم اعراف جنت ګڼينه
تفاوت دی چې يې يار په غيږ کې پروت وي
له هغه چې ګوري ور چېرا بشينه
دواصلا نو ته يي زمبل سترګي حجاب شي
مهجوران په تش سلام سره پائينه[2]

۱ـ وقدر سلامت کشتي را ندانسته .
۲ـ ز .

حکایت

[۸]

هُرمز شاهزاده چا و پوښتیده چې دپلار وزیرانو دې څه خطا ولیده چې و دې تړل؟ وې یې: خطا یې معلومه نه ده. اما ومې لیدل چې زما هیبت یې په زړه کې ډیر دی. راځنې په ویره دي، باور یې را باندې نشته، وه ویریدم چې له خپلې ویرې به قصد زما دهلاکت وکا، پس په حکم مې دحکماؤدقول کار و کړ چې ویلي یې دي:

قطعه

که په پوهه په دانش نه یې سقیم
همیشه اوسه په نغته د حکیم
چې له تانه ډار لري ورځنې ډارکړه
که په زور په قوت نه وي ستا سهیم
ځکه مار ګذار په پښه د شپانه کاندي
چې له کاني یې په ویره دی دبیم
پیشو هم دځان له ویرې په پړانګ زغلي
که هر څو حقیر جسه ده پړانګ جسیم

حكايت

[۹]

يو دعربو له بادشاهانو رنځور شه، په وقت د پيرۍ اميد يې له ژوندو نه پرې كړى، چې ناګاه يو سور تروره راننه ووت، زيرى يې پرې وكړ، چې فلانه كوټ موستا له اقباله فتح كړ،[۱] (دښمنان څوك ومړل څوك بند شول، دوستان شادكام اوخورسند شول) ، سپاه رعيت دهغه ملك مطيع فرمان بردار شه (هر چې مفسدان وو، ورك يې بيخ و تبارشه)[۲] بادشاه سوړ آه له ګرمې سينې وكيښ چې دا زيرى زما نه دى بلكه زما دغليمانو دى، يعنې وارثان دملك.

قطعه

حاصل شول مقصدونه د دنيا له هره بابه
عاقبت به په ارمان ورځنې ځم سينه كبابه
دا اميدېې چې پوره شه لا يې زيات اندوه دزړه شه
تللى عمر به را نشي روح له تنه پروا ته شه

۱ـ دشمنان رسيد آمدند.
۲ـ ز

قطعه

اوس د کوچ نغاره وشوه حکم راغی له اجله
اندامونه تاسو واړه و داع کاندئ یو ځبله
سترګو تاسو ته بایده دي وداع وکاندئ له سره
دا بیلتون څه هسې نه دی چې بیا وینئ بې محشره
دصورت خاوري به ګوره نصیب چرته چرته یوسي
تر قیامته به هم هسې تارپتار ځبله ووسي
تاسې اي زما دوستانو غفلت لري کړئ له ځانه
د غلیم په نغته مه ځئ عبرت واخلئ له مانه
مال و ملك که خزانې دي که حشم که سلطاني ده
خالي لاس ورځنې درومم تر حاصل مې پښيماني ده

حکایت

[۱۰]

(شیخ وايي قدس الله سره العزیز چې) څو ورځې په جامع کې د دمشق په زیارت دیحیٰی پیغمبر علیه السلام معتکف وم، یو له بادشاهانو دعغه ملك چې په بې انصافی مشهور و، په زیارت راغی، نمونځ یې اداء کړ، زیارت یې وکړ، حاجت یې وغوښت.

بيت

دروېش دي که غني دی محتاج واړه ددې دردي
بلکه لاتر درويشانو چې غنيان دي محتاج تر دي

بيا يې ماته وويل چې همت ددرويشانو يُمن برکت لري، اميد چې توجه دخاطر له موږ سره کړي، په دعا مو ياد لري چې له زوره ور دښمن انديښنه منديم. ورته مې ووې چې په ضعيف رعيت باندې رحمت شفقت کوه چې له قوي غليمه زحمت ونه وينې.

قطعه

په قوت د ليچو زور په ضعيف مکړه
چې ونه وينې د بل زوره ور زور
که څوك خوږ کړې و پوهيږه چې به خوږ شې
دا مثل دی هرګز نه زړيږي پور
نيك و بد دخپل عمل ورته جاروځي
بيهوده په نورو کړې د کتوتور[1]
دستګيري د افتاده څکه هوښيار کا
چې که پريوځې دستګيري يې وکانور
پنبه و کاږه له غوږو عدل داد کړه
چې غليم دې سر نګون وي کرو کور
دا چې نن درته کمزور ی تر ميږې دي
عاقبت به يې په تا کاندي منګور

۱ـ داکيډيمي په نسخه کې دا مصرع داسي ليکلې وه: "بيهوده به تور د کړ که تو تور"

قطعه

په معنیٰ کې آدم زاد واحد صورت دی
پلار یې یو اصل یې یو یویې فطرت دی
چې په درد شي یو اندام د آدم زاد
بل اندام کله له غمه وي آزاد
که پیدا د پښې په نوك باندې آلم شي
هم له سترګو نه خوب لاړ په هغه دم شي
ته له غمه چې د بل آدم بیغم یې
نه پوهیږم چې حیوان یې که آدم یې

حکایت

[۱۱]

یو درویش مستجاب الدعوات په بغداد کې ښکاره شه، حجاج بن یوسف چا خبر کړ. درویش یې وباله، ورته یې ووې چې دعا راته وکړه. درویش ووې خدایه ځان یې رانسي [۱] حجاج ووې الله ، الله داڅه دعا ده؟ وې ئې دا دعا دخیر ده تا لره او مسلمانانو لره. که ته ومرې ته به له ګناهو نو خلاص شې. مسلمانان ستا له ظلمه.

۱ـ ف ـ خدایا جانش بستان.

رباعي

چې دې له لاسه آزار وي زړونه
مرګ دې بهتر دی له دې ژوندونه
ځو به دې بلې لنبې دظلم وي
آخر به و سوزي دا اور ستا خونه

بیت

هسې رنګه ومره چې خپل ځان له خلقو خلاص کړې
نه چې یې سبب شي دخلاصي ستا رحلت[۱]

حکایت

[۱۲]

یو له بادشاهانو چې په بې انصافۍ په ستم مشهور و، یوه عالم رباني ته یې وویل چې: په عباداتو کې کوم عبادت فاضل تر دی. و بې یې: ستا خوب تر نیمې ورځې چې خلقو ته ځو اوده وې آزارونه رسي. (له جوره یې په آرام وي)[۲]

۱- ز.
۲_ ز.

رباعي

دچا چې خوب له وینبو الیه بنه وي
بیدار یې مکړه پریږده اوده وي
دساعت خوب یې چې هونبره سودلري
ته خو دقیاس وکړه مرګ به یې څه وي

حکایت

[۱۳]

یو له ملوکانو درسته شپه په عیش په عشرت مشغول و ، په عین مستۍ کې وویل :

بیت

په جهان کې ما ته بِه تردې دم نشته
چې دچا دبنو له بدو مې غم نشته

یو درویش په ساړه کې دده تر قصر لاندې بر بنډ پروت و، جواب یې ورکړ:

بیت

اي چې نن د تا څوک سیال په عالم نشته
ستا که هیڅ نشته اندوه زما هم نشته

دبادشاه دده په ضعف رحمت وشه همیانۍ يې دزرو دينارو له دريچې را ويسته غږ يې وکړ، چې اي درويشه لمن ونيسه. درويش وې لمن له کومه راوړم چې جامه نه لرم. دبادشاه شفقت پرې زيات شه سرو پايې او هغه زريې ورلره راستول درويش هغه زر په څو ورځو کې تار په تار کړه بيا راغی.

رباعي

صبر په زړه کې د عاشقانو
دنيا په لاس کې د آزاد ګانو
لکه اوبه په غلبيل کې نه دري
هسې قرار نه کا ای تجربه دانو

(بادشاه ته دا دده صدا موافقه رانغله [1] په غضب شه، مخ يې تر وجاريوست، ځکه هوښيارانو ويلي دي چې د بادشاهانو طبيعت شامل لازم دی. کله يې دماغ صاف وي په کښنځل خلعت ورکا، کله فقير ورته دعا وکاء دي يې له دره بدر کا[2]

۱ـ در حاليکه ملک را پرواى او نبود حال بگفتند.
۲ـ از اينجا گفته اند اصحاب فطنت و خيرت که از حدت و صولت پادشاهان پر عذر بايد بودن که غالب همت اينان معظلمات امور مملکت متعلق باشد و تحمل ازدحام عوام نه کنند. (پاتې په ۱۱۵ مخ لمن ليک کې)

قطعه

په هغه نعمت حرام وي دبادشاه
چې فرصت دعرض نه لري نګاه
چې په وقت دولتمن ته کا عرضونه
و هغه ته ترخه کيږي ځوابونه

حکم يې وکړ چې دا شوخ چشم ګدای دی. بد خرڅ بې باك. لرې يې كانړې نوري مه راپريږدئ. دا هومره ډيره مال يې په ځو ګاهه کې ضايع کړ. خزانه دبيت المال لقمه دمساکينو ده. نه طعمه داخوان الشياطين.

قطعه

هر ابله چې په ورځ شمع کافوري ږدي
بې ډيوې به يې په شپه ووينې کور
چې په خرڅ کې انداز نه لري ساتلی
زريا سوال ته و دري يا غواړي پور[1]

يو له وزيرانو چې ناصح خير خواه د بادشاه او دخلق[2] و عرض يې وکړ چې مصلحت دادی چې ددې هسې خلقو وظيفه په قدر ددوی له حاجت معين شي چې روز مره ورته رسي، اسراف کولی

(د ۱۱٤ مخ لمن لیک پاتې برخه)

دلته چې کومو جملو ترجمه شوې ده. دغه جملې د پیښور او د "بهارباران" په نسخو کې په دې ځای کې نه دي، بلکه هم ددې باب په شپاړسمه قصه "د سپاه ګوش را ګفتند..." کې راغلې دي. دپلاټس په نسخه کې په دواړو ځايونو کې راغلې دي.

۱- ز
۲- ز

نشي، اما زجرو منع د محتاجانو مناسب دصاحب همتانو نه دي، يو ځل اميد وار کول بيا نا اميد له دره شړل خوی دځوانمردانو نه دی.

قطعه

چې يو ځل ځان مشهور په سخاوت کا
نوم د داد و دهش کا په ځان پورې
نور هرګز بايده نه دي و هغه ته
چې به ورکا په محتاج دورکړو پورې
په شيرينو او بو جمع د عالم شي
نه هغه اوبه چې تلخې وي يا شورې

حکايت

[۱۴]

يو بادشاه و په نګاهبانۍ يې دملك سستي کوله، لښکر يې په سختي ساته، په دا سبب سخت غليم ورته مخ ښکاره کړ، لښکر يې ورته شا کړه .

مثنوي

بادشاهان چې له سپاهيانو ساتي زر
په تنګځه به يې سپاهيان وساتي سر
په ميدان به څرنګ جنګ کا له غليمه
چې لاسونه يې خا لي له زرو سيمه

په راحت کې آسوده ساته سپاهیان
چې په وقت د محنت تیر شي تر خپل ځان
هغه څوك چې د سرونو بها خورینه
کوم انصاف دی چې یې څوك ورېي لرینه

شیخ وې یوله هغو سپاهیانو زما اخلاص مند و، ملا مت یې کړ. چې سفله حق ناشناس وي، نمك حرام ناسپاس، چې په لږ تغیر حال خپل صاحب ته شاکا د کالونو حقونه پیمال. وې یې که غذر مې قبلوې شاید آس مي په سبب دلوږي له سوارۍ پاتو شوی وي او زین مي دخپل قوت دپاره گانه. د باشاه چې په زر ورکول سپاهي سره بخیلي کا،سپاهي به په سرورکول څرنگه جوانمردي کا.

رباعي

دملك بادشاهه که دِکشور بویه
تخت د شاهي تاج دې د سر بو یه
شرم ساتوني زرغورزوني شه
له سپاهي نه سر بویه، له تانه زریویه

حکايت

[۱۵]

يو دبادشاه له وزيرانو له وزارته معزول شه. په مجلس ددرويشانو کښيناست، دصحبت اثر پرې وشه،جمعيت يې دزړه حاصل شه، حرص يې ددنيا کُل زايل شه.

رباعي

دښو و بدو صحبت تاثير لري
چې مس پرې زرشي اثر اکسير لري
له درويشانو سره چې کښيني
زړه يې نور بيا مومي زړونه منير لري

بادشاه څو ورځې پس دده له عزل پښيمان شه، بيايې خدمت دوزارت پرې سپاره، نه يې قبلوه. وې يې اى بادشاهه! ما لره دا معزولي ښه ده نه مشغولي.

نظم

چې په ګنج دعافيت يې زړه آرام شي
عاقبت د عافيت په ګنج شادکام شي
ددې ګنج ويره هرګز دزوال نشته
هيڅ دولت له دې دولت سره سيال نشته

چې قانع په خمتا ین شي په شړی
غم یې نه وي د بادشاه له امیری

بادشاه ووې: مالره البته هوښیار وزیر بایده دي چې دملك بندو بست بې دښه وزیر له تدبیره نه کیږي، وزیر عرض وکړچې هوښیار صاحب تدبیر هم هغه دی چې دې کارته هوس نه کا.

قطعه

چې قانع په یوه څاڅکي شي صدف
قیمتي ګوهر یې ځي په هرطرف
چې همای مرغه قانع په استخوان شه
په همه مرغو یې بیا مونده شرف

حکایت

[۱۶]

سیاه ګوش ته چا ووې چې: په څه سبب دې ملازمت دمزري اختیار کړي دی؟ وې یې: پس خورده دده دښکار خورم او له دشمنانو په پناه دده په آرام یم. ورته یې وویل، هرګاه چې اقرار دې دنعمت وکړ او په حمایت دده فراغت یې،ولې نیږ دې نه وردرومې چې له خاصانو له مقربانو دې شمار کا؟ وې:هسې رنګ یې له حملې او له قهر ه په امن هم نه یم.

فرد

که سل کاله پرستش داور گبران کا
یو ساعت که پکښې پریوځي ځان به زیان کا
کله ندیم دبادشاه زر بیا مومي، کله یې سر لاړ شي.

مثنوي

له صحبته د شاهانو کړه پرهیز
طبعیت ددوی تر اوره دی لاتیز
که دا اور هر گور ښالري پرنوردی
فراغت دی هم هغه چې ځنې دوردی
په خپل قدر و قار کار دحکیمانو
ظرافت بازي روش د ندیمانو(۱)

حکایت

[۱۷]

شیخ وایې یو آشنا زما وچې دروزگار له گردش یې کار تنگ و ،اوقات گذاري نه کیده، په قدر حاجت ضروري ، درمانده شوی .و. شکایت یې دخپل احوال یوه ورځ ما وته بیان کړو. چې عیال مي ډیر

۱ـ داسي ښکاري چې دا اشعار داصل ددې عبارت په ځاي راوړي شوي دي چې: "وحکما گفته اند از تلون طبع بادشاهان پرحذر باید بودن که وقتي بسلا مي بخند و دیگر وقت بدشنامخلعت دهندو گفته اند ظرافت بسیار هنر ندیمان است و عیب حکیمان."

دی، آمد مې هيڅ نشته، طاقت دفاقې نه لرم، څو ځله مې په خاطر وګرځيد چې بل ملك لره لاړ شم. ځان له وطنَ وباسم.

بيت

چې دې قدر پکې نه وي وطن څه پکار بې ننګه
پاڅه زرځنې روان شه تا ته نه ده دنيا تنګه[۱]

په هرصورت چې وي په نا آشنا عالم کې ګذران کوم څوك به مي په بد په ښه حال واقف نه وي.

قطعه

ډير مسافر وږي څوك يې نه پيژني څوك دي
که شاه که امرا وي څوك پرې نه وي خبردار
په خپل وطن کې ګران شي ګذران دنيستګارانو
مرګ يې وي هر دم چې نور عزيز ويني دی خوار
هر څو که وطن خوږ وي هم تر خواه ناخواه روان شي
وږی که برمنډ وي روزګار کا په بل ديار

بيا له پيغورونو ددښمنانو انديښنه وکړم چې را پورې به خندا کا، سعی به زما چې په حق يې دعيال کوم، حمل په بيمروتی بې همتی وکا.

۱ــ ز.

قطعه

و به نه ویني هرګز بې حمیّته
په دنیا کې مخ دبخت و داقبال
دخپل ځان په خوشحالیو پسې ورك شه
وخوارۍ و ته یې وسپاره عیال

په علم دحساب دکتاب البته پوهیږم. که ستا په سفارش مې چیرته نوکري وشي په یوه خدمت منصوب شم. چې موجب مې د جمعیت وشي. بقیه عمر به ستاشکر ګذار وم. وې مې ای ورور! عمل د بادشاهانو دوه لوریه لري: یا حاصل دنان یا نقصان د ځان.

قطعه

درویشانو کره هېڅوك نه وردرومي
چې خراج دځمکې راکړه یا د باغ[1]
کله مور کله فاقه روزګار بهتر دی
چې آرام وي دصورت دزړه فراغ[2]
یا قبوله پریشاني کړه غصه نغره
یازړه ورکړه چې تونګي پروهي زاغ
زاغان څوك دي حاسدان معا ندان دي
چې پرې سوزي چې بل ویني دچا چراغ[3]

۱-ج:وخلاف رای خرد مندان باشد بدان... معترض این بیم شدن.
۲_ ز.
۳_ ز.

وبی یې دا خبره دې موافق زما له حاله سره ونکړه. جواب ئې: زما دسوال ونه کړ. اوریدلي دي نه دي چې حکیمانو ویلي دي: هرڅوك چې خیانت پریږدي دي لاس یې په وقت دحساب نه ریږدي.

نظم

چې کاږه وي دهغو له اوره غم وي
څه یې ویره له آتشه وي چې سم وي
له رښتینو سره مل پروردګار دی
راته ووایه څوك ورك په سمه لار دی

هوښیارانو ویلي دي: څلور تنه له څلورو تنو په ځان دي: مفسد له سلطانه، غل له پاسبانه، فاسق له غمازه، روستایي[1] له محتسبه. هرچې په حساب کې پاك وي له محاسبې یې څه باك وي.

قطعه

که ګوزاره دې چې خوله بند کړې دچغلو
په عمل کې روزګار مه کوه بې رنګه
ته پاك وسه باك په زړه کې له چا مکړه
خیرن نمري به وهي دوبي له سنګه
په نیت صاف په خوله شیرین وسه شه وینه
چې په امن وي د بنو بد و له جنګه[1]

۱ـ په اصل نسخه کې روسپي لیکلی دی چې دمې یا بدکاري ښځې ته وائي.

وې مې حکایت دهغې تروړی مناسب ستا دحال دی، چې چا لیده چې تښتیده. کله پریوته کله پاڅیده. یوه وپوښتیده. چې سبب ددې خوف څه دی ، چې دا هسې ګریزانه لرزانه یې؟ وې یې اوریدلي مي دي چې اوښان[۲] په بیګار نیول شي. هغه شخص ورته ووې داوښ له تاسره څه مشابهت دی، ستا له اوښ سره څه مناسبت؟ وې یې:که حسودان ورته ووایي چې داوښ بچړی دی. څوك به غم زما دخلا صي کاندي؟ ترهغه چې تحقیق کاوه شي، زه به هلا که شم.

بیت

له عراقه څو تریاق ورته رادرومي
مارچیچلی به دمرګ پیاله و شومي[۳]

هسې رنګ لکه وایي ستا فضل دیانت او تقوي امانت شته (ا ما دشمنان قابو طلب دي څوتي وهلي دي)[۴] که په خلا ف ستا دسیرت دخصلت تقریر و کا د بادشاه په غضب چې کښیوزې څوك به وي چې ستا د خلا صي غم وکاندي، دچا قدرت به وي چې ستا حقیقت به واقعي عرض کا. مصلحت دا وینم چې دقناعت په ملك سکونت وکړې او ترك دریاست.

۱ـ ز
۲ـپه ځینو اصل نسخو کې د شتران په ځاي شیران هم لیکلي دي.
۳ـداشعر دنثر دیوي مشهورې جملي ترجمه ده چې " چون تریاق از عراق " ...الخ
۴ـ ۹- ولیکن منعنان درکمین اند ومدعیان ګوشه نشین.

بيت

که سود ونه په دريا کې بې شماره دي
خلاص هغه چې ترې ولاړ په کناره دي

دا زما دوستانه ويل په موافق دده د طبع رانغله، دي ښبتن د مطلب، وصاحب الغرض مجنون، خبرې يې راته رنجش آميز وکړې، آزرده خاطر شه وې يې: حکما وو رښتيا وېلي دي چې دوستان هغه دي چې ته په زندان کې وې ستا پکار شي، که نه وي په وقت دسفر دشمنان هم لکه دوستان ښکاريږي.

قطعه

دوست يې مه شماره چې لافي داخلاص کا
په هغه ساعت چې ته وي په نعمت کې
هغه يار رښتنی يار ګڼلي بو يه
دستګيري چې ديار وکا په زحمت کې

وپوهيدم چې متغير شه. نصيحت زما په غرض ګڼي، يو صاحب ديوان چې مي آشنا و. دم يي راسره داخلاص واهه. هغه لره ورغلم، دده احوال او قابليت مې ورته بيان کړ. سفارش مې يې قبول کړ. په يوه مختصر کار يې نصب کړ، پاکيز ګي يې د طبيعت وليده. امانت ديانت يي ورمعلوم شو، له اولي مرتبې يې پورته کړ، په اعلی مرتبه متمکن شه. هسي رنګ ستوري يي د بخت په ترقي و، تر هغه چې مقرب د بادشاه شه او اعتباري . په دا حال مې دده شکر و کړ، خوشحال شوم وې مې:

قطعه

په محنت کې نا امید له خدایه مه شه
محنتونه که هر څو در باندې ډیر شي
پټ مهرونه د ښبتن په بند کا نو
چې وقت راشي عاقبت باندې برخیرشي
په ظلمات کې دژوندون چینه مونده شي
په غمجن باندې مژده ښادي به ویر شي
چرې نه وي وارخطا کړې په محنت کې
د دنیا محنت کوتاه دی زر به تیر شي

هم په هغه مدت کې اتفاقاً یاران زما حج لره روان شول، زه هم ورسره ولاړم چې پس دحج ګذار لور او جار وتم، دی دوه منزله وړاندې استقبال ته زما راغی. ډیر پریشان احوال، وې مې دا څه حال دی؟ وې یې: لکه تاوې هسي رنګ حاسدانو زما په مرتبه حسد وکړ. په خیانت یې منسوب کړم. بادشاه تحقیق دکار ونه فرمایه. یاران دوستان له حق ویلو خوله پټه شول، حق یې دصحبت وهیر کړ.

قطعه

د دنیا دولت چې مخ کا وسرې ته
خلقې ورسره کاندي یاري ډیرې
چې نکبت ورته دوخارشي اقبال شا کا
همګي یاران یې کاندې یاري هیرې

هسي ړنګ څو مدت په انواع عقوبت ګرفتار وم. چې خبر د حاجيانو دقافلي بادشاه ته راورسيده، شکرانه يې بنديان آزاده ول. زه هم ورسره خلاص شوم. وې مې ما خو اول درته ويلي وو، چې عمل د بادشاهانو لکه سفر د دريا دی. سوديې هم ډير دی، خطر يې لاترسو تير دی.

بيت

سودا ګر کله حاصل له سينده سود کا
کله سيند يې ګکخږ سره وجود کا

زيات مي تر دا مصلحت ونه ليد چې څه مې ويلی. مالګې مې دده په پرهارونو دوړه ولی، خو په دادوه بيته مي خبره کوتاه کړه :

قطعه

نيکخواهان نه کا تقصير په پندويلو
نيکبختان بويه چې غوږ ددوی په پند کا
په سوراخ کې دلړم چې ګوتې ږدينه
خود بخود نادان خپل ځان وته ګزند کا

حکايت

[۱۸]

شيخ وايي قدس الله سره چې: څو تنه ياران زما په صحبت کې وو. ظاهريې آراسته په شريعت. باطن يې بنايسته په طريقت. يو

له دولتمندانو چې په حق ددې طایفې نیك ګمان او معتقد ددرویشانو و . وظیفه یې ددوی یارانو مقرر کړې وه. ناګاه له یوه هسې حرکت ظاهر شه چې مناسبت ددوی دحال نه و، اعتقاد دهغه شخص ورځنې مات شه. بازار ددوی سوړ. هغه چې یې څه مقرر کړي وو منع یې کړ. زما خواهش وشه چې په یوه طریق یې هغه کفاف بیا په ځاي کړم. قصد مې دهغه دولتمند دوړتلو وکړ. دربانان مانع شول، نه یې پریښودم. معذوري مې کړه، لکه هوښیارانو ویلي دي:

قطعه

اول بویه چې حا صله وسیله کړې
له هغه پسې په وره ورشې دبادشاه
سپی، دربان چې مسافر سړی ووینې
ښې ګریوان دسړي نیسي خواه ناخواه

هرګاه چې مقربان دبادشاه په داحال خبر شو،په اکرام په عزت یې وروستم. ښه هسك ځای یې راته دناستې معین کړ، اما زه از روي تواضع کوز کېښناستم، وې مې:

بیت

دمسند لیاقت نه لرم کمین یم
له کمینو سره ښه ناست په زمین یم

وې یېې ازبراي خدا دا څه خبره وایې؟

بیت

پاس په سر زموږه کښینه دلنشین یې
ستا ناز ونه به په سترګو وړو نازنین یې

آخر الامر کښیناستم له هره بابه، ګفتګو مذکور ونه کیدل، عاقبت خبره دیارانو دمذلت تر منځ راغله، وې مې:

قطعه

لږ تقصیر څنې واقع یا واقع نه دی
صاحت منع دیارانو کړه ادرار
بزرګي په خدای ښایي بنده نواز دی
هر ورځ کا ګنا هو نه ګنه ګار
عقوبت یې هر ګز دی په تلوار نه کا
رزق روزي یې په دستور وي برقرار
(سل زرعیب دبنده ورته ښکاره دي
دي ستار دهمه واړو دی ستار)[1]

حاکم دا خبره واوریده. اسباب یې دیارانو دمعاش لکه و په هغه شان بیا مقرر کړ، او ګذشته چې پاتو شوي وو، هغه هم ورکړه. شکر مې دنعمت وې، زمکه مې دخدمت ښکل کړه. عذر مې دګستاخي وغوښت. رخصت شوم .وې مې:

۱ـ ز

مثنوي

دمقصود دکعبه که لرې په هیواد وي
هم ور درومي که اصیل وي که آزاد وي
تا ته بو یه تحمل د محتاجانو
بر هم مشه په تصدیع د فقیرانو
شنډې و نې و ته کله خلق ګوري
کاڼي تل په میوه داره ونهووري

حکایت

[۱۹]

یو بادشاه زاده و، خزانه یې بې قیاسه د پلار له میراثه په لاس کښېوته. لاس یې په سخاوت کښېښو. دولت یې ډیر تر حساب تیر په سپاه په رعیت شانده.

قطعه

له اوله چې ځان وسوزي په اور کې
خوشبویي هاله مونده شي له اګره
د هقانان اول کندوان په کرل تش کا
له هغه پسه بې بهره اخلي له بره
که بزرګي غواړې کرم، ورکره عادت کړه
نوم بې ورکړو دچا نه درومي پسره

یوه همنشین ورته ازروي دولتخواهي نصیحت آغاز کړ، چې بادشاهانو چې گنجونه جمع کړي دي، دیوه مصلحت دپاره دي. دا جهان ځای دحوادث دی[۱] لاس له دې حرکته کوتاه کړه، چې په وقت دحاجت درمانده نشي.

قطعه

خزانه که واړه و و یشي په خلقو
لکه وریژه هر گدا ی وته رسیږي
له هر چا که داوربشې برزر واخلي
خزانه به هره ورځ درته ټولیږي

بادشاه زاده مخ له دې خبري ورجاریوست، موافق يې د طبع رانغله، ورته يې قهر وکړ. ويې فرمایل: خداوند تعالي چې دا دولت ما لره راکړی دی، بویه چې هم يې خورم، هم يې بخښم، نه چې يې ساتم نگهبان يې شم.

قطعه

دقارون که هرڅو ډیر مال او دولت و
څه په کار چې سبب شه دوبال
په ښه نوم دسخاوت حاتم ژوندی دی
که يې نه و دقارون غوندې ډیرمال[۲]

۱ـ که واقعیها در پیش است و دشمنان از پس.
۲ـ(قارون هلاك شد که چهل خانه گنج داشت   نوشیروان نمرد که نام نیکو گذاشت

حکایت

[۲۰]

نوشیروان چې په عدل په انصاف مشهور و. یوه ورځ ښکار ته وتلي و. څه يې وژلي و. کباب يې کاوه، مالګه حاضر نه وه. خدمتګار يې کلي لره واستوه چې ورشه مالګه په بها راوړه چې بدرسمي و نشي، کلي به خراب شي. چا وويل په دا هومره مالګه واوړل به څه خرابي کيږي. ده وې بنیاد ظلم اول لږ و، هر څوك چې حاکمان کیدل په وار وار يې زیاتوه، تر دي حده ورسیده.

قطعه

که بادشاه دچا له باغه شفتالو په ظلم وخوري
دباغ ونې په له ويخه وکاږي دده مريونه
که ستم په يوه هو يه دغريب بادشاه روا کا
سپاهيان به يې چرګان درعيت کا په سيخونه

حکایت

[۲۱]

يو عامل و ظالم ، درعیت خو نه يې خرابه وله، د بادشاه خزانه يې ودانه وله، بې خبر له دې خبره چې هر څوك چې خلق دخداي تعالي آزاره وي، دمخلوق دزړه دبنه کولو دپاره حق تعالی هم هغه مخلوق پرې وګماري چې مکافات دځپل کردار ورښکاره کا .

بيت

هسي رنګ خرابي نه کا اور په خس
لکه آه په جهان کاندي د بيکس

ويلي شوي دي چې سرد حيواناتو مزری دی . کمترين دجانورانو خر، به اتفاق دخردمندانو هغه خر چې بار وړي بهتر دی له هغه مزري چې مردم دردوي.

مثنوي

خر که هر څو بې تميز دی   چې بار وړي هسې عزيز دی
اوښ غوښکي چې بار برداروي   له ظالمه بزرګ وار وي
(د د چې ومري تر ددۍ ځي   دی دوزخ ته په بدۍ ځي)[1]

بادشاه[2] ته يې په وار وار حقيقت دظلم دستم معلوم شه، په شکنجه کې يې وځکاوه. په انواع انواع عذابونو يې ووژه.

قطعه

که دې زړه وي چې بادشاه له تا خورسند شي
شفقت کوه د خدای په خلقو باندې
په هر څه کې رضا جوی د کردګار شه
چې راضي له تا نه خپل بندګان کاندي

۱ـ ز.
۲ـ ح : - باز آمدم به حکايت وزير غافل.

په داسي حال کې يو مظلوم چې دده له لاسه يې ډير ستم ليدلی و، په هغه لار تير يده، دی يې وليده په شکنجه کې[۱] ويې وې:

قطعه

که هر څو يې جاه منصب تسلط ډير وي
ورته نه بويه چې اخلي آزا ر و نه
دا بې کسه عا لم مه ګڼه بې کسه
خپل ښبنتن پوره کوي ددوی کارونه
نمونه ورته ښکاره دخپل عمل شوه
په قيا مت به يې ويني انبارونه[۲]

حکايت

[۲۲]

له يوه مردم آزاره حکايت شوی دی. چې: ديوه صالح سړي سر يې په کاڼي ويشتلي و . هغه درويش عاجز و، توان يې دانتقام نه و. هغه کاڼي يې ځان څخه ساتلي درله، تر هغه چې بادشاه په هغه بر ګشته بخت باندې په عضب شه، په کوهي کې يې واچاوه، بند يې کړ. درويش راغی په هغه کاڼي يې په سر وويشت. وې ويې څوك يې؟

۱ ـ -: درحال تباه وی تأمل کرد.

۱ ـ (ـ زهر که قوت بازو و منصبي دارد * بسلطنت بخورد مال مردان بگناف * بخلق فرو بيرون استخوان دوست * ولي شکم به درد چون بگيرد اندر ناف.

او ولې دې په کاڼي وويشتم؟ وې يې زه فلا نه يم او دا کاڼی هم هغه کاڼی دی چې په فلا نه تاريخ دې زه پرې ويشتلی وم . وې يې دا هومره مدت چيرته وې؟ وې يې ستا له جاهه مې انديشنه کوله. نن مې چې په چاه کې وليدې،فرصت مې غنيمت وګاڼه،خپل انتقام مې واخست.(۱)

قطعه

نالايق سړي چې ووينې بخت يار
عاقلان ورته تسليم کاندي اختيار
چې قوت دانتقام ورڅخه نشته
لا علاج د ظالمانو وړه آزار
صبر وکړه خو به دور دده تيرشي
مخالف به شي دده سره روزګار
ورجار وځي به وده ته کر دخپلې
په سړه سينه ترې و کاږه دې مار

حکايت
[۲۳]

يو له بادشاهانو په هسې زحمت ګرفتار شه چې له ياد ولو يې نه يادول بهتر دي. حکيمان ديونان متفق شول چې دې زحمت لره نور

۱ـ ز

هیخ دار ونشته، مګر تریخی دسړي چې په داسن په دا صفت موصوف وي. طلب یې کړ، دهقان بچه یې بیامونده[۱] مور پلار یې وبلل. زریې ډیر ورکړه، خشنودیې کړل، قاضي هم فتوي ورکړه، چې د بادشاه دسلا متیې دپاره یې مرګ روا دی. جلا د قصد دهلك دوژلو وکړ. هلك آسمان ته وکتل ویې خندل، بادشاه وپوښتیده، چې په دا ځای چې ته یې څه ځای دخندا دی؟ وې یې اي بادشاهه! ناز د فرزندانو په مور په پلار وي او دعوی قاضي لره وردرومي. دا دله بادشاهانو مومي. مور پلار مي په علت ددنیا زما په مرګ راضي شول. قاضي فتوی زما دمرګ ورکړه. بادشاه دخپل صحت دپاره حکم زما دکشتن وکړ، اوس بې خدایه بله اسره پاتې نه شوه.

رباعي

چې مې به طمع دزړه و چا ته شوه

له همه واړو په وار وار ماته شوه

اسرې د خپلو د پر د یو لاړې

اوس مې یوازې اسره وتاته شوه

بادشاه ډیر رقت وکړ، سترګې یې داوښکو ډکې شوې،وې فرمایل: هلاکت زما بهتر دی له وژله دهسې بیګناه. دهلك سترګې یې ښکل کړې . په غیږ کې یې ونیوه. ډیر څه یې ورانعام کړه. آزاد

۱_"همان صورت که حکیمان گفته بودند"

يي کړه، حق تعالي چې ده دا رحمت په مظلوم وکړ خپل رحمت يې په بادشاه وکړ، صحت يې ورعنايت کړ، هم هغه دم روغ شو.[۱]

رباعي

چې يې رحمت په عالم اظهار شي
په هغو رحم د کردګار شي
نه په لمونځو نه په روژه د ه
چې رحم کار شي شيخ رحمکار شي.[۲]

قطعه

ددرياب په غاړه پاس په هاتي سور و
مهاوت کاوه له ځانه قال و قيل
که تر پښو لاندې احوال دميږي زده کړې
هسې ځان ګڼل تر پښو لاندې دفيل
په اولا د داسرائيل فرعون غالب و
حق غالب کړ په فرعون رود نيل

---

۱ ـ ل ـ " هم در آن هفته صحت يافت "
۲ ـ ز

حکايت
[۲۴]

يو مريي دعمر ليث بادشاه تښتيدلی و، څوك يې ورپسې واستول وېې نيو رايي ووست. دوزير ورسره البته څه عداوت په زړه کې و، عرض يي وکړ چې وژل بويه چې د نورو مريونو عبرت وشي. داهسې حرکت و نه کاندي،هغه مريي بادشاه ته سرپه زمکه کښيښود عرض يې وکړ:

بيت

هر چې په ما کيږي چې يي ته پسند ي روا دي
ته صاحب زه دي بنده يم څه زما دعوې له تا دي

اما په موجب ددې خبر ي چې پرورده د نعمت يم، نه غواړم چې په قيامت زما په خون ګرفتار شې. که خواه نخواه زه وژلی شم، بارې په تا ويل مې د شرع ووژنه، چې په آخرت مأخو ذ نشې. بادشاه وويل: تا ويل شرعي څه وکړم. وې يې حکم وکړه چې وزير ووژنم. پس له هغه مايې په قصاص کې ووژنه. بادشاه وخندل، وزير ته يې وويل:څه مصلحت وينې؟ وزير وويل چې په صدقه دخپل پلار، دګور دا شوخ ديده معاف کړه، چې زه ترې خلاص شم. ګناه زما دی چې په قول مې دحکيمانو کارونه کړ، لکه يې ويلي دي:

قطعه

له جاهل سره چې جنګ کوي هوښياره
خو به مات کړې خپل تندی په نادانه يې
چې ګذار دی په غليم د غشي وکړ
ترې حذر لره چې يې اوس نښانه ته يې

حکايت

[۲۵]

ديوه بادشاه[۱] وزير و، ډير نيکخواه او خير خواه دخلا يق و، دلبرې يې دهر چا کوله، رو برويې دهر چا حرمت کاوه، پسې شا به يي ددوست ددښمن صفت، اتفاقاً له ده هسې حرکت واقع شه چې دبادشاه پسند نه و، محبوس يې کړ. هغه نګاهبانان چې ممنون دده داحسان وو، څو ورځې چې دی په قيدو، وارو يې خدمت کاوه. او په هر کار کې ورسره رفق او ملا يمت . دده په دلګيري واړه دلګير وو چې بند دده داحسان په زنځير وو.[۲]

۱_ م_: " ملك زوفن "
۲_ م:- وزجر و معافيت روانه دا شتی

رباعي

خاطر دهر چا په ښه ویل ښاد کړه
چې بد د ې یاد کاته یي په ښه یاد کړه
وایي که بد درته دچا ونه رسي
په دوست دښمن باندې احسان کرم زباد کړه

څو[۱] مدت په سبب د باقي تاوان په زندان کې پاتې شه،یو له بادشاهانو دهغه نواحي چې دده په دیانت په کفایت واقف و. پټ یې ورلره جواب کتابت راستوه، چې دغه پادشاه څخه ستا قدر نه و، ځکه یې په لږ تقصیر داهومره بیحرمتي،بیعزتي درورسوله.[۲] که په دې لوري د نیت دراتلو وي[۳] دا عالم خاص و عام ستا اشتیاق لري. وزیر چې په دا حال خبر شه[۴] مختصر جواب هم په شاد هغه خط وکیښ[۵] روان یي کړ. یو دده له معاندانو چې په دا حال واقف شو بادشاه ته یي وویل چې فلانه چې محبوس دی، دفلا نه بادشاه سره آمد ورفت ترمنځ لري، خط کتابت یي ځبله وردرومي. بادشاه بر هم شه، جاسوسان یي وګمارل چې کشف ددې کار وکا. قاصد یي ونیوه خط یي ولوست. کښلي یي وو چې نیك ګماني د بزرګانو په بنده زیات د بنده تر فضیلته ده. اما درتله د بنده چې په خدمت دحضور

۱ــ ح : - "آنچه مضمون خطاب ملک بود از عهده بعضي بیرون آمد و ....."
۲ــ ا.و بیغیرتي کردند.
۳ــ ا :- دررعایت خاطر ش هر چه تما منز سعي کرده آید.
۴ــ ح:- " از خطر اندیشید."
۵ــح:- " که اگر بر ملا افتد فتنه نه باشد."

مشرف شي امکان ددې امر داجابت نشته. بنده پرورر ده دنعمت ددې خاندان دی. په لږ تغیر حال له مخدوم قدیم جاروتل خدمتګار لره مناسب نه دي. بې وفایي کیږي.

بیت

دهر چا چې عنایت په تا هردم وي
باریې وړه که یي په تا کله ستم وي

دبادشاه دده دا خوی دوفا داری او دحق شناسۍ ډیر پسند شه، خلعت اونعمت یي ورته عنایت کړ، عذر یې ورځنې دماسبق وغوښت چې ما خطا وکړه، چې ته مې بیګناهه آزرده کړې، عرض یې وکړ چې دصاحب په دا کار کې هیڅ خطا نشته ، بلکه تقدیر دحق عز اسمه په دا مقدار شوی و، چې دا محنت به ما ته رسیده. ښه وشول چې هم ستا له لاس راورسیده چې حقونه دې‌دنعمتونو راباندې ثابت دي.

رباعي

که ګاه دوستان که دښمنان دي | چې رسو وني د سود زیان دي
واړه له خدایه ګڼلي بویه | غیر به ونهویني چې عارفان دي[1]

۱ـ ګرچه تیر ازکمان همي ګذرد | ازکماندار بیند اهل خرد

حکایت

[۲۶]

يوه بادشاه دعربو حکم وکړ په خپلو د يو انيانو چې د فلا نه خدمتګار يو ميه تر سابق مضاعف کاندي چې هميشه په خدمت حاضر د حکم منتظر وي. دا نور خدمتګاران په لهو په لعب مشغول دي، په خدمت کې کاهل. يوه صاحب دل واوريدل ويې ژړل، ويې ويل چې مرتبه موندل په درګاه دحق تعالى هم دا مثال لري.

قطعه

په خدمت کې چې حاضر وي دبادشاه
يوه ورځ پرې آخر وکاندي نګاه
عابدان چې عبادت په اخلاص کاندي
ا لبته پري رحم کيږي د الله[۱]

رباعي

که مهتري غواړي فرمان بردار اوسه
په عبادت کې دکردګار اوسه
په ورځ انصاف کړه په شپه بيدار اوسه
دبل آزار وړه ته بې آزار اوسه[۲]

۱ـ ز.
۲ـ "هر که سيماي راستان دارد سرخدمت بر آستان دارد"

حکایت

[۲۷]

یوظالم و، شریر، چې لرګي به یې له درویشانو پیرودل. ازران په زور ،توانګرانو لره به یې ورکول ګران په سود. یوه صاحب دل ورته ووې:

بیت

(مار یې ته چې په هر چا باندي ګذار کړې
یاګنګی چې چیرته کښیني مز که غارکړې[۱]

قطعه

زور قوت دې که پیش ځي په فقیرانو
دځواب توفیق دې نشته ویزدان ته
زنهار مه آخله آزار د فقیرانو
چې آهو نه یې لاړ نشي و آسمان ته

ظالم له دې خبر و رنځیده، مخ یې وجاریوست، التفات یې ونکړ. ناګاه دباورچیخانه اوریې په انبار دلرګیو ولګیده، درست

۱ـ ز.

کوريې له متاع سره وسوه[۱]. اتفاقاً هم هغه درويش چې نصيحت يې ورته ويلی و، ده مخ ترې جار يستلی و[۲] په هغه لار تيريده، هغه ظالم له خپلو يارانو سره خيرې کولې. چې نه پوهيږم دا اور زما په کور له کومه لوريه ولګيده، درويش ورته وويل چې له آه ددرويشانو.

قطعه

په حذر اوسه د خوږ و زړوله آهه
چې آخر دزړه نبنه ژبه ښکاره کا.
ديو کورخه چې له دې اوره لوی ښهرونه
هسې سوزې چې عالم يې ننداره کا[۳]
دالطيفه په تاج د کې خسرو بادشاه کښلې وه.

رباعي

څو څو کالونه به را باندې تير شي
شيرين صورت مې به په بل بل پير شي
دا ملك د نورو و ما ته راغی
بل ته به هسې لما نه و ير شي

۱ــ واز بستر فرش بر خاکستر گرم نشانه
۲ــ ز -
۳ــ (- "بهم برمکن تا توانی دلی که آن جهانی بهم بر کند"

حکایت

[۲۸]

یو پهلوان و چې په هنر کې د پهلوانۍ کامل و، تیر صو شپیته هنره یې فاخر ددې کسب حاصل وو، هره ورځ به یې یو هنر ښکاره و. مګر په یوه شاګرد یې مهرباني تر نورو زیاته پیدا شوې وه. تیر صو یو کم شپیته بندونه یې ورته وښیل، یو بند یې ورځنې پټ کړ، په ښیل کې یې دفع الوقت کاوه. عاقبت هغه هلك هم په هنر کې د پهلوانۍ سر آمد شه. نور شاګردان یې پس کړه، د چا مجال نه و، چې له ده سره یې برابري وکړي. یوه ورځ د بادشاه دوړاندې لاف وواهه چې د استاد په ما باندې فضیلت از روی حقوق داستادۍ دی. چې تربیت کړی یې یم، او که نه په قوت تر ده کمتر نه یم، او په صنعت کې ورسره برابر یم. بادشاه ته دا خبره دشواره ښکاره شوه. بده پرې ولګیده، حکم یې وکړ، چې سره دې مصارعت وکا. میدان یې د پهلوانۍ ورته جوړ کړ. پادشاه ارکان دولت امرایان[1] واړه جمع شول. خلق ډیر ټول شه. هغه ځوان لکه مست هاتي راغی،په هسې دماغ چې که دوسپنو غرېې په مخ کې وی، هم به یې لوړ ولی و، استاد یې فکر وکړ. چې دې ځوان دی. په قوت تر ما ډیر دی، هغه هنر یې چې ترې پټ کړي و ورته یې واچوه. شاګر د یې دفع کولی نه شه، عاجز شه، استاد په دواړه لاسه پورته کړو، تر سریې ځار کړ، په

---

۱ ــ ح :- " زور آوران روی زمین "

ځمکه يي وويشت. شور له خلقه پاځيده، بادشاه وفرمايل چې استاد لره يې خلعت او نعمت ورکړئ، او شاګرد يې ملا مت کړ چې له خپل استاد سره دا هومره شوخي کول څه مناسب، وې يې اي بادشاهه! استاد په ما په زور په قوت غالب نشه، بلکه له ما يې يو هنر پټ کړي و، زه يې نن ورځ په هغه هنر لاندې کړم. استاد وې: ما هم ددې ساعت دپاره له تا دا يو هنر دريغ کړی و، چې هو ښيارانو ويلي دي چې:دوست لره هو مره قوت مه ورکوه چې که احياناً غليم دې شي برابري درسره وکا.[1]

قطعه

يا وفا په دا جهان کې ځاني نه وه
يايې نه کا څوك زموږ په زمانه
له هر چا نه چې ويشتل د غشيو زده کا
هم هغه په عا قبت کا نشا نه
(د دو دام له ديو سړيو وفادار وي
ښه چې ګرځي ليوني په ويرانه)[2]

۱ـ ح : "نشنيده که چه گفت آنکه از پرورده خويش جفا ديد."
۲ـ ز.

حکایت

[۲۹]

یو درویش وو مجرد ګوشه نشین، په صحرا ناست و. دبادشاه پرې ګذر وشه. درویش په ملك د قناعت توانګر و. هیڅ التفات یي ورته ونه کړ، بادشاه په خپل سلطنت مغرور و. ورځني برهم شو. وې ویل چې دا طایفه په مثال د حیواناتو ده. آدمیت اهلیت ورځخه نشته. وزیر دوریش لره راغی ورته یې وویل چې بادشاه ددې ملك په داتیر شه، تا یې ولې خدمت او ادب په ځان رانه وړ؟ درویش ووې: بادشاه تهووایه چې اُمید دخدمت له هغه کوه چې امید ددولت له تا لري. بل دا چې بادشاه ساتندوی درعیت دی. نه رعیت ساتندوی[1] دبادشاه سَیِّدُ الْقَوْمِ خَادِمُهُمْ دا دځمګر تر غوږ نه دي رسیدلي:

مثنوي

په معنی با دشاه خادم درعیت دی
که هرڅو ښبنتن د حکم حکومت دی
رعیت لکه رمه بادشاه یې شپون وي
چې خدمت درمې نه کا شپون زبون وي
هم یې ژغوري له لیوه هم یې ښه پیایي
هم تر قوت هومره اخلي چې پرې پایي

۱ ز

د رمې څښتن مالك پروردګار د ی
تصرف ئې د شپون پرې نه كا كه هوښيار دی

قطعه

د يوه كه كل مراد زړه حاصل دی
د بل زړه په نا مرادۍ زير و زبر
نامراد دې يو څو ورځې صبر وكا
مرګ به زر كاندي دوی دواړه برابر
د پادشاه د ګدا هيڅ تفاوت نشته
چې څيري د مرګ اره ددواړو سر
كه قبر ونه يې څوك وران كا ويې ګوري
څوك به وايي چې دا خوار دی دا توانګر
بادشاه ډير په دا ويل ددرويش خوښ او ممنون شه، ورته يې
وويل چې څه وغواړه. وې يې: دا غواړم چې له ما څه نه غواړې
(غرض را سره نه لري) بادشاه ووې پند راته ووايه:

بيت

دا څو ګاهه غنيمت دي نګاهبان شه دانفاس
كه دې ملك كه ئې دولت يې لاچار درومي لاس په لاس

رباعي

عدل انصاف كړه دملك بادشاهه
څو دې لاګرځي په ځا ن كې ساه

راتلنه کیږي د مرگ نا گاهه
په ځان خبر شه دځان گمراهه

حکایت

[۳۰]

یو وزیر په خدمت د ذوالنون مصري رحمة الله علیه راغی همت یې وغوښت چې په شپه او ورځ په خدمت د بادشاه مشغول یم له خیره یې امید واریم، له شره یې په ویره، ذوالنون وژړل چې که زه له خپله خدایه هسې په ویره په هیبت وی، لکه ته له بادشاهه. له جمله و صدیقانو به وم.

قطعه

که بې خدایه یې امید وچا ته نه کړی
ددرویش قدم به پاسه په فلك و
که وزیر له خدایه هسې ترسنده وی
لکه ترس کا له ملك نور ملك و

حکایت

[۳۱]

وزیران د نوشیروان جمع شوي وو، تدبیریې دیوه ملك د بندو- بست کاوه. هر یوه په موافق دخپل فکر مذکور کړ، بادشاه یو تدبیر

چې په زړه کې یې جوړ کړې و. بیان یې کړ، برز جمهر دبادشاه رایې پسند کړه. نور وزیرانو وویل چې: دبادشاه په رایې کې دې څه خوبي او مصلحت ولیده چې په هومره وزیرانو کې ستا دده مصلحت غوره شه؟ حکیم ووې: په دا سبب چې آخر د کار په یقین معلوم نه دی. او فکر دواړو په مشیت کې د الله تعالی . والله اعلم خطا دی که صواب، پس موافقت د بادشاه له راې سره بهتر چې که احیاناً خلا ف صواب راشي چې متابعت دده دفکر وي. له غضب به دده ایمن وم.

قطعه

د با دشا ه متابعت و رلره بو یه
که څوك ځان عزت دده له قهره ژغوري
رڼاورځې ته که ووایې چې شپه ده
وایه وختې پریو ونې غټ غټ ستوري

حکایت

[۳۲]

یوه شخص ویښته دسر ګیسو کړه چې زه سیدیم، دحجاز له قافلې سره راغي چې له حج راغلي یم، قصیده یې دشعر بادشاه لره یو وړه چې ما ویلې ده. بادشاه خلعت نعمت وروبخښل، یو دبادشاه له همنشینانو هم په هغه کال له سفره راغلی و، عرض یې وکړ چې ما دي دلوی اختر په ورځ په بصره کې لیدلی و. حاجي څرنګ دی؟ بل

ووې: زه يې پيژنم پلار يې نصراني دی، سيد په څه شه. شعر يې دا نوري په ديوان کې بيا موند. ده شعر دزدي کړې ده . بادشاه پرې په قهر شه، حکم يې پرې دوهلو وکړ چې دا هومره دروغ دې دڅه پاره ويل؟ وي يې.[۱] يوه بله خبره که حکم شي ووايم که هغه دروغ شي. نور هر عقوبت چې رارسوې سزاورا يم. بادشاه وفرمايل: ووايه ، ويې وې:

قطعه

چې يو کاسه اوبه چمچې شنو بې وي
دفقير کره اوګره هاله شي سپينه
په دروغو دبنده په غضب مشه
جهان ګرد سړی اکثر دورغ واينه[۲]

حکايت

[۳۳]

دهارون رشيد له زهمنو يو پلار لره راغی، خشمناك، چې فلانه امرا زاده ما ته ښکنځل دمور کړي دي. هارون رشيد ارکان دولت وپوښتيدل چې سزا د هسې سړي څه ده؟ يوه يې اشارت په

۱- ح : - اي خداوند روي زمين.
۲ ح: ملک راخنده گرفت از اين راست تر سخن تا عمر او باشد نگفته است . فرمود: آنچه مامول اوست مهيا دارند و به دلخوشي او را گسيل کنند"

وژلو وکړ، بل ووې دژبې پریکول یې بویه، بعضو یې قید(۱) مصحلت ولید. هارون ووې، اي زویه! نیك خویي او کرم دا دی چې عفو یې کړې او که نه توانیږي ته هم ورته ښکنځل وکړه. نه وي چې له حده تجاوز وکړې. ظلم به هاله ستا له لوریه شي. دعوه به دربانديې دده:

قطعه

مست هاتي خوني مزري سره که جنګ کا
که به لاف دمردي کا ورته نه ښايي
مرد هغه دي په نژدې د ښو څوا نانو
چې په قهر کې باطل چاته نه وايي

حکایت

[۳۴]

شیخ وایي قدس سره چې له بزرګانو سره په بیړۍ کې ناست وم، یوه کشتۍ ډوبه شوه. دوه ورونه په ګرداب کې پریوتل، یوه له بزرګانو ملا ح ته وویل چې دا دواړه وکاږه چې سل دیناره درته انعام کړم(۲) ملاح یو خلاص کړ، یو ډوب شه. وې مې سبحان الله باقي عمر یې پاتو نه و(ځکه په وکښل کې دهغه تاخیر واقع شه.(۳) ملاح وخندل وې یې چې یقین دی په دا کې شك نشته (مرګ دهر چا په

۱_اصل لفظ مصادرت دی.
۲_ ف:- " که به هر یکي پنجاه دینارت بدهم.
۳_ ف:- " از این سبب درګرفتن او تاخیر کردي و در آن دیګر تعجیل"

خپل وار دی[۱] اما بل سبب هم و. وې مې هغه څه دی؟ وې یې دا چې خلاص شه[۲] ، یو وقت په بیابان ستړي شوم (د تلوقوت مې نه و) په اوښ یې سور کړم، تر منزل یي ورسولم، او ددې بل له لاسه مې تازیانه خوړلې وه . وې مې: صَدَقَ اللّٰهُ الْعَظِیْمَ مَنْ عَمِلَ صَالِحاً فَلِنَفْسِهٖ وَ مَنْ اَسَاءَ فَعَلَیْهَا .

قطعه

چې بد ښه عاقبت ځان ته راجاروځي
زنهار مه اخله د هیچا آزارونه
په دنیا په دین خپل کر سړي اخلي
کر د ګلو کوه مه کره خارونه[۳]
تل حاجت پوره کوه دمحتاجانو
چې ستا هم ځبنتن پوره کاندي کارونه

حکایت

[۳۵]

هارون رشید چې ملك دمصر ونیو. وې یې: په خلاف دهغه باغي چې په غرور یې ددې ملك دعوې د ربو بیت کړې وه، و به نه

۱ـ ز
۲ـ ح:- " میل خاطر من برهانیدن این یکي بیشتر بود"
۳ـ ۹:- " تا تواني درون کس فخر ش کاندرین راه خارها باشد"

بخبنم. دا ملك مګر خسیس ترین و ته دمریونو یو حبشي مریي دده وو خضیب نوم، هغه ته يې ملك د مصر و باخبنه. وایي چې حماقت يي تر دې حده و چې رعیت راغی شکایت يې وکړ. چې پنبه مو کرلې وه په کناره درود نیل، باران بې وقته وشه، سیلاب راغی، واړه تلف شوه. وې يې: روخ وه چې تاسي وړیه کرلی وی. یوه صاحب دل واوریدل وې يې:

قطعه

رزق روزي که زیاتیدی دچا په پوهه
په دنیا کې به تل خوارو و نادانان
په کم عقلوباندې هومره دولت ډیرکا
په حیرت شي ورته پاتو دانایان
کیمیا ګر هنر مندان په خواري ومري
ابله مومي خزانه په بیابان

حکایت

[۳۶]

یوه بادشاه ته يې له ختن وینځه راوسته ، خواهش يې ورسره دصحبت وشو. په هغه حال کې چې دی مست و. وینځې ځان ته نه پریښه، منع يې کړ. بادشاه په غضب شه، غلام حبشي ته يې وبخښله

چې ډیر بدرنګ بد قیافه و، پاس شونډه یې تر پوزې رسیدلې وه، او کوزه شونډه یې په ګریوانه پریوتې وه.[۱]

قطعه

لکه ختم په یوسف دحسن کارو
هسې دی په بدرنګ والي کې دوڅارو
دیو به هم ورته نظرکاوه په کرکه
هسې رنګ کریه منظر بغل مردار و[۲]

راوړي دي چې نفس د هغه حبشي دمدتو نو طالب و، شهوت پري غالب و، مهر یې پري پیدا شه، مهر یې تر واخست. صبا په وقت بادشاه وینځه یاده کړه[۳]. احوال یې ورته ووایه، بادشاه په غصه شه. ویې فرمایل چې دواړه سره وتړۍ له کوټې یې وخندق ته واچوئ. یو له وزیرانو چې خیرخواه دخلایق و، عرض یې وکړ چې بیچاره ګناه نه لري. ګناه ترې صادر شوې نه ده، بلکه واړه بندګان امید وار دصاحب له انعامونو دي. او پرورده د نعمتونو پادشاه. وفرمایل چې که یوه شپه یې تاخیر کړی وی ما به بها دوینځې دوچنده ورکړې وه. وې یې[۴] مګر صاحب نه دي اوریدلي چې چا ویلي دي:

۱_ ح:- هیکل که صخره جنسي از طلعت او با سیدي و عین القطي از بغلش بگزیري.
۲_ داشعر په اصل کي نشته، خو داسي ښکاري چې بره یې د نثر د کومو جملو ترجمه نه ده کړې، دا شعر یې د هغو په ځای یې راوړی دی.
۳_ ۹:- بجست و نیافت .
۴_ ح:- آنچه فرمودي راست است.

رباعي

تږي چې ووینې اوبه دوړاندې
که مست هاتي وي په اوبو باندې
ترځان به تیر شي او به به وڅښي
که يې هاتي کا تر پښو دلاندې

رباعي

ملحدوي وږي خونه خالي وي
ډك له طعامه ښښي تا لي وي
غم به هيڅ نه کا له رمضانه
روژه خوړل به يې په خوشحالي وي

پادشاه په دا لطیفه دوزیر خوښ شه، وې فرمایل چې حبشي مي تا ته بخښلی، اما دا وینځه څه کړم؟ وزیر عرض وکړ. چې وینځه هم حبشي ته و بخښه. پس خور ده دسپي سپي ته بويه.

قطعه

که هرڅو يې ښه پوشاك ښه يې زیور وي
د بازار لولۍ بدبو يه وي خبيثه
پس خورده د سپیو سپیو لره ورکړه
نصیحت واخله زما له دې حدیثه[۱]

۱ـ (۱ـ هرگز او را بدوستي مپسنده که رود جاي ناپسند یده . "تشنه را دل نخواهد آب زلال نیم خورده دهان گندیده "

اَلطَّيِّبَاتُ لِلطَّيِّبِيْنَ اَلْخَبِيْثَاتُ لِلْخَبِيْثِيْنَ

په کتاب کې را غلي دينه[۱]

حکايت

[۳۷]

سکندر رومي چا و پوښتيده ، چې ملك دې دمشرق د مغرب په څه وينو، تر تا پخوا بادشاهان چې تير شوي دي ، لښکر خزاني عمرونه يې تر تا زيات وو، دا رنګ فتح ورته ميسره نشوه؟ سکندر وفرمايل: په مدد مې د الله تعالی هر ملك چې وينو رعيت مې نه آزاره وو او نوم مې دبادشاهانو بې نيکۍ په بدۍ نه يادوو.

بيت

په بزرګي به يې هوښيار سړي نه ستايي
سپك ويل چې بزرګانو و ته وايي

قطعه

واړه هيڅ دي چې تير يږي — که دې بخت که دې تخت
د ښو نوم په ښه آ خله — په دوه کونه شه نيکبخت

۱ـ (۱) دست سلطان دگر کجا بيند — چون بسرگين در او فتاده ترنج
تشنه را دل نخواند آن کوزه — که رسيد است بر دهن سکنج

له هر چا شه په خوی نرم — جهان دی له سختو سخت
په خپل وقت عدل انصاف کړه — تل به نه وي د تا وخت
دښه بد قماش معلوم شي — هرڅوك ونغاړي خپل رخت

حکایت

[۳۸]

چا زيرى په نوشيروان عادل باندي وكړ. چې فلانه د ښمن دې حق تعالي له جهان واخست.وې يې: هسې دې اورېدلي دي چې ما به پرېږدي؟

قطعه

دغليم په مرګ چې وار وې هرګز مه کړه ښادماني
نن دی لاړ صبا به ته ځې دا ځای نشته وداني
عاقبت له دې جهانه تله دهر چا په نا کام دي
ته هم نور وغوندې وکړه يو څو ورځې کامراني (۱)

دویم باب

په بیان دخوی خصلت ددرویشانو

حکایت

[۱]

یوه له بزرگانو یو پارسا وپوښتیده په حق د فلا ني عابد څه وایې؟ خلق وزځني خبرې،چې مناسب نه دي، وایي.پارسا ووې: په ظاهر یي عیب نه وینم، په باطن یې په غیب نه پوهیږم.

قطعه

په ظاهر چې څوك ووینې چې پارسا دی
پرهيز ګا ربې وګڼه نیکو کردار
که یې نه یې خبر دار له ا ند رونه
محتسبه ستا په کور د چا څه کار

حکايت

[۲]

شيخ وايي قدس الله سره العزيز چې يو درويش و چې سر يې په آستانه د کعبې ايښي و. ژړل يې مناجات يې کاوه، يا غفور يا رحيم ته پوهيږې چې له ظلوم له جهول به څه کار کيږي.

قطعه

تقصيرونه مې راوړي د خدمت دي
تکيه نکړم په طاعت په خپل کردار
که عاصيان له گناهو نو استغفار کا
عارفان له طاعتونو تو به گار

عابدان جزا د طاعت غواړي، سوداگران بها د بضاعت. زه بنده اميد وار راغلی يم، نه په طاعت په درويزه راغلی يم،نه په تجارت.

قطعه

ای چې وما ته وايې ښه نه يې
ښه چې زه بد يم ښه چې ته ښه يې
زه به هغه کړم لکه چې زه يم
ته هم هغه کړه لکه چې ته يې [1]

۱_داقطعه ددي عبارت ترجمه غوندي ده: اِصْنَعْ بِنَا اَنْتَ اَهْلُهُ وَ لاَ تَفْعَلْ بِنَا مَا نَحْنُ بِاَهْلِهِ

بیت

که مې وژنې که بخښې مې، سر مې ږدی ستا په در دی
څه یم زه، څه مې خواهش دی دتا حکم زما سر دی

قطعه

دکعبې په وره سر ږدی یو سایل و
دا دعا یې خپل ښنتن ته په زار زار کړه
دازه نه وایم قبول زما طاعت کړه
گناهو نه آواره زما بد کار کړه

حکایت

[۳]

شیخ وایې قدس الله سره العزیز چې شیخ عبدالقادر گیلاني رحمة الله علیه مې لیده[۱] چې مخ یې په دیوال د کعبې ږدی و، مناجات یې کاوه، چې ای رب العالمینه! ومې بخښې او که نه لایق دعذابو یم، نو په قیامت کې مې نا بینا پاڅوه چې دنیکانو له مخه شرمنده نه شم.

قطعه

مخ همیش دعاجزۍ په خاوره مږم
هر سحر چې ستا له لوریه راشي باد

۱ـ ۱:- "دیدند" یعنی "چاو لیده" دا درست ښکاري ځکه چې شیخ سعدی (رح) د شیخ عبدالقادر گیلانی (رح) دوفات نه ورستو پیدا شوی دی.

چې يو دم مې له خاطره بيرون نه يې
دا بنده په رحمت هم کړه کله ياد

حکايت

[۴]

يوغل پارسا کره ننوت څه يې بيا نه موندل. نا اميد روان شه. پارسا خبر شه. په هغه گليم چې ملا ست[1] و، وايې خست. دغله په لار کې يې واچاوه چې محروم نه درومي دا يوسي.

قطعه

اوريدل مې چې مردان دخداى دلارې
زړه يې نه وي چې غليم ترې ځي دلتنگ
دا مقام به تا ته کله ميسر شي
چې دې تل وي له دوستانو سره جنگ

هر چې ځوانمردان دي، روبروپسې شا يك همان دي. نه چې پسې شادې عيبونه وايي، روبرو دې صفت کاندي.

نظم

رو برو دې په نفاق کاندي ستاينه
سرومال دې په نيت خوري د زړه دننه

۱_ دکالج په نسخه کې "نماستا" ليکلی دی.

دا چې ته باندې ګمان کړې چې یاران دي
ظاهر ښه له زهرو ډك لکه ماران دي

څوك چې عیب د بل راوړي درته وایي
هسې رنګ به ستا عیبونه بل ته نمایي

حکایت

[۵]

شیخ وایي قدس الله سره چې څو تنه سیاحان وو، شریك درنج دراحت، اراده مې وشوه چې زه هم له دوی سره په سیر د جهان ملګري وکړم، اما نه یې پرېښوم. زما په رفاقت رضا مند نه وو، ورته مې ووې: عجب دی، د بزرګانو له خویه چې مخ له مصاحبته دفقیرانو جار باسي . البته زه هم په ځان کې هومره قوت وینم چې په خدمت کې حاضر وم نه چې باردخاطر وم. یوه له دوی وویل چې له دې خبرې دلتنګ مشه په دا څو ګاهه کې یو غل چې په صورت د صالحانو له موږ سره مل و ،موږ پرې اعتماد وکړ، ده را باندې فساد وکړ.(۱)

مثنوي

ظاهر حال د فقیرانو کند خرقه ده
چې خدمت یې کا ورماته خلقه ده

۱ـ ل:- خود را در سلک صحبت ما منتظم کرد " از آنجا که سلا مت حال درویشان است گمان فضولش نه بردند و به یاری قبول کردند ".

کښنو نی پوه وي چې په دا مضمون نامه ده
دپارسا د سپاهي فرق دلیل جامه ده
قول فعل خپل په شرع برابر کړه
غم دې نشته په تخت کښینه تاج په سر کړه
چې هوا حرص یې لرې کړه فقیر دی
فقیرنه دی چې دنفس په بند اسیر دی
مړ نی و ته اسباب د جنګ بهبود دی
مخنث که بختر واغوندي څه سود دی
چې بې خدایه یې خاطر له هر څه سوړ شي
له هغه پس به پرې نوم د فقیر جوړ شي

القصه یوه ورځ مو پند درسته ورځ وکړ، سترې ستومانه شو، په شپه دیوه حصار لاندې ویده شو، هغه غل پاڅېده، کوزه یې واخسته چې طهارت لره درومم، غارت لره روان شه.

بیت

چې د فقر جامه واغوندي ناکس
دخره څل شي دکعبې کښلی اطلس

هرګاه چې له نظره غایب شه.(برج یې مات کړ، غلایې وکړه)[1] چې صباشه ګلري لاړو، دا یاران یې بې ګناه چې هیڅ په دا حال نه وو آګاه، کوټ ته یې ننه یستل، په زندان یې کړه، پس له

۱_۱:- برخی برقت دور جی بدزدید.

ډیرو عذابونو شد تونو خلاص شوو[۱] دهغه تاریخ په راهیسې مو ترك دصحبت وکړ، اختیار مو عزلت کړ.

قطعه

چې په قام قبیله کې یو بد وکا
په سبب دیوه بد واړه یادیږي
خرغوڅکي دیوه ګډ دچا په کښت شي
بد نامي يې تمام کلي ته رسيږي

وې مې الحمد الله که له صحبته د بزرګانو محروم شوم، اما له دې حکایت مستفید[۲] تمام عمر دا نصیحت را لره کافي دی.

قطعه

یو نا تراش هسې کاروکا په مجلس کې
چې له شرمه درست مجلس پرې سرنګون شي
یو دوه مچ په من فلیلو کې چې پریوځي
همګي فلیل زبون کاندي بد بوی شي

حکایت

[۶]

یو زاهد میلمه د بادشاه شه. طعام يې لږ وخوړ تر خپل عادته[۲] او[۳] قرأت يي اوږده کړو دکور تر قرأته،چې که ارادت د

۱ـ ز.
۲ـ ۹:- " از فواید درویشان محروم نماندم، اگرچه بصورت از صحبت جدا افتادم بدین حکایت که گفتی مستفید گشتم ".
۳-ا:- ارادت.

بادشاه په صلاحیت دده تر اول زیات شي د (عوام خلك په تتبع د بادشاه ورمات شي.)[۲]

قطعه

و کعبي و ته به څرنګه ور سیږې
روان شوی چې په لور د ترکستان یې
چې ګاته شي پرې جنت هغه نمونځ بل دی
ته په دا لمانځه دوزخ وته روان یې[۴]

هرګاه چې کور ته راغی طعام یي وغوښت چې وخوري. زوی یي صاحب فراست و وې یې اي پلاره! په مهماني د بادشاه لاړ وې ولې دې طعام ونه خوړ ؟ وې یې: په نظر مې دودی هومره څه ونه خوړل چې پکار راشي. وې یې سکه نمونځ هم قضاو جارباسه چې هسې به دې نه وي کړی چې دې پکار راشي.

رباعي

عیبونه پټ کړې هنر څرګند کړې
ځان د عوامو و ته پسند کړې
څو به د قلپور و پوخرید کړې
آخر به بند شي دځان ګزند کړې

ا_ ح:- " چون به نماز برخاستند"
۲_ ز.
۳_ ز.

حکایت

[۷]

شیخ وایي قدس الله سره العزیز چې په هلك والي په عبادت مین وم. شب خیز محبت مي ډیر په تقوي په پرهیز. یوه شپه دپلار په خدمت کې ناست وم، قرآن مجید مې په غیږ کې ترسحره مې تلاوت کاوه. بعضې خلك چاپیر تر مونږ او ده وو، تر خولې مې ووتل چې یو هم سر نه پورته کوي. هسې په خوب دغفلت ویده دي چې ګویا مرده دي. پلار راته وویل چې اي زویه! دریغه ته هم اوده وی چې ددوی عیب دې کړی نه وی.

مثنوي

که در وبخنبي حق سترکې خدا بینې
ځان به ته تر همه خلق بتر وینې
دګمان پرده که لرې کړې د وړاندی
همیشه به بد ګمان شې په ځان باندې

حکایت

[۸]

دیوه بزرګ صفت چا په مجلس کې رو برو ډیر کاوه، په ستاینه کې مبالغه وشوه. هغه بزرګ پس له ډیره فکره، سر پور ته کړ، ویې ویل ،من آنم که من دانم.

قطعه

په ظاهر که دعالم ته ښه ښکارېږم
په باطن کې تر هر چا نه شرمساریم
شرمنده تر خپلو پښو لکه طاوس یم
که نور خلکو ته په نقش و په نګاریم

حکایت

[۹]

يو ديونان[۱] دمشايخو چې مقامات يې په ملك د عربو مشهوررو، او كرامات يې په خاص و عام كې مذكور . ددمشق په جامع كې يې د حوض په غاړه اودس كاوه، پښه يې وښويده، په حوض كې پريوت، په ډير مشقت خلاص شه، راووت چې نمونځ يې وكړ. يوه يار ورته عرض وكړ، چې: " زما يو مشكل دي اميد واريم چې حل شي." شيخ ووې ووايه! وې يې په سيند مې دمغرب ليدلې چې پورې و تې. قدمونه ډېتر نه شو. نن ورځې په حوض كې چې قد آدم او به دي پريوتي. له هلاكته څه پاتو نه وو[۲] شيخ سر د فكر په ګريوانه ننه يوست، پس له ډيره درنګه يې پورته كړ. ويې وې: اوريدلي دې نه دي چې خواجه عالم صلي الله عليه وسلم فرمايلي دي: «زما له خدايه سره هسې وقت وي چې نه ځايږي هور ته نه مقربې

۱_ ۱:- لبنان . ياكوه لبنان.
۲_دلته يې څه عبارت حذف كړی دی.

فرشتې، نه انبیاء مرسل، هسې یې ونه ویل. چې همیشه دا هسې وي.

بیت

کله مخ کړې و خپل یار ته کله بیا وده ته څټ کړې
تود بازار دخپل ښایست کړې دی دعشق په لنبوپټ کړې

حکایت منظومه[1]

[١٠]

چا سوال وکړ له یعقوبه دا سرووایه وماته
دیوسف(ع) دکمیس بوي له مصره درغي و تاته
په کوهي کې دکنعان و، ولې ته پرې خبر نه شوې
په تاثیر یې د زلفینو دبوی هیڅ موثرنه شوې
وې یې حال مقام زموږه په معنی لکه بریښنا دی
کله کله له موږ پټ شي کله کله هویدا دی
ګهي پاس په آسمانو نو باندې ګشت کو پروازکړو
ګاه په مزمکه تر پښنو لاندې اغزي نه وینو نماز کړو
که نبي دی که ولي دی، دم په دم په بل بل حال دی
چې تبدیل تغیر یې نشته یو قادر بر کمال دی

١ـ په اصل کې دې ابیا تو ته مثنوي لیکلی دی، یعنې دا د تېرې قصې یو برخه ګرځولې شوې ده.

حکایت

[۱۱]

شیخ وایي قدس الله سره العزیز چې په مسجد جامع کې د بعلبك وعظ مي وایه، یو ځو افسرده، دل مرده راته ناست وو، هیڅ تاثیر پرې نه کیده.[۱] وپوهیدم چې په صورت انسان په سیرت حیوان دی. دریغ راغی چې تربیت کوم دچارپایانو، آئینه داري کوم دکورانو اما ور دمعنی پرانتی شوی و لا چار بیان کاوه شه، په دا خبره ورسیدم.[۲]

قطعه

یار و ما وته تر ما نه لا نژدې دی
عجب دا چې دی نیژ دې زه ځنې دوریم
څه کړم چاوته احوال دزړه بیان کړم
یار زما په غیږ کې ناست زه ترې مهجور یم

زه په پیاله ددي خبري مست وم، تتمه په پیاله کې لاجرعه پاتو وه، چې یو شخص په کناره د مجلس تیریده ، اثر پرې وشه. فریاد یې وکړ، په جوش راغی. هغه نور افسردگان په موافقت دده

۱_ "راه ازعالم صورت به عالم معنیٰ نه برده"
۲_ ۹:- در معنی این آیت وَ نَحْنُ اَقْرَبُ اِلَیْهِ مِنْ حَبْلِ الْوَرِیْدِ. " سخن بجای رسانیده بودم که می گفتم"

په خروش[۱] وې مې سبحان الله لرې خبر دار حضور دی. حضور بيخبر او دور دی.

قطعه

مستمع چې فهم نه کا دخبرې
قوت کم شي د ګفتار دسخن ګوی
دسامع په موافق خبرې کړونې
دګفتار په چوګان وړې د معنو ګوی

حکايت

[۱۲]

شيخ وايي قدس الله سره العزيز يوه شپه په بيابان دمکې دلار ي خوب را باندې زور شه، تلی نه شوم، سر مې ولګوه. شتربان ته مې وويل: چې ته درومه ما پريږده .

قطعه

بيچاره پياده هيڅ ملا مت نه دی
په دا لار که شبګير کولی نه شي
بختی اوښ په دا منزل کې درمانده شي
ومنزل نه تر بار لاندې تللی نه شي

۱ـ "وخانان مجلس درجوش"

بعضو یارانو راته ووې ای ورورہ! حرم دوړاندې دی. حرامي دې دورستو، که لاړې ځان به یو سي. او که اوده پاتو شوې و به مرې.[۱]

قطعه

دشبگیر په شپه خوب ډیر لري لذت
له ضروره مسافر پریږدي راحت
چې جدا له قافلې شي هغه ورك شي
په هرحال ورسره بو یه رفاقت

حکایت

[۱۳]

شیخ وایې قدس الله سره العزیز چې یو پارسامې ولیده، په کناره د سیند پروت و. پړانګ زخمي کړی، جراحت یې په هیڅ دارونه ښه کیده. ډیر مدت رنځوز و. شکر یې دخدای تعالی په هردم وایه چې الحمدالله په مصیبت گرفتار یم نه پر معصیت.

قطعه

که مین توره راوا خلي وکشتن ته مې شي خیر
دا گمان له زړه بدرکړه چې په مرگ به وم زهیر
غم اندوه مې به په داوي چې له ما وشه کوم تقصیر
چې دا هسې مشفق یار مې آ ز ا ر شو ی دی د لگیر

۱ـ" په اصل کې همدغه لفظ راغلی دی،هلته یې معنی د ډاکه ماریا شو کمار ده "

حکایت

[۱۴]

یوه درویش لره ضرور پیښ شه. څه ځیزیې [۱] دیار له کوره پټ کړ. حاکم حکم وکړ، چې لاس یې پرې کاندئ. صاحب دهغه مال[۲] شفاعت وکړ. چې ما بخښلی دی، لاس یې مه پرې کوئ. حاکم ووی: دا سیاست شرعي ما ته نه رسي، چې عفو یي کړم[۳] وې یې رښتیا وایي حکم هسې دی. اما دوقف مال که څوك په غلا یوسي قطع یې لازم نه ده. اَلْوَقْفُ لاَ یُمْلِكُ. هر چې ملك د دوویشانو دی، وقف په محتاجانو د ی. حاکم لاس ورځنې و کښل،ورته یې از روی نصیحت ووې چې جهان در باندي تنګ و، چې دهسی یار له کوره دې غلا کوله ؟ وې: اي بادشاه! آوریدلي دې نه دي، چې هوښیارانو ویلي دي. ددوستانو کور جار وکړه ددښمنانو په وره مه ودره.

قطعه

که سختی درباندې درشی چیرې نه پکې عاجز شې
پوستین اخله ددوستانو پوست وکاږه دغلیم

۱_۱:- گلیمی.
۲_ ۹: گلیم.
۳_ ۹:- گفتار به شفاعت توحد شرع فرونه گذارم.

دا فتوي د شريعت ده اهل حق به پرې پو هيږي
کاښي خوره غابښو نه مات کړه روټۍ مه خوره دليم[۱]

حکايت

[۱۵]

يوه بادشاه يوه درويش ته وويل: هيڅ دې زه هم کله ياد شم.
وې يې: هر ګاه چې حق تعالى مې هير شې ته مې ياد شې.

فرد

چې يې وشړى له دره وهر درته هغه زغلي
کله درومي وبل در ته و خپل درته يې بللي

حکايت

[۱۶]

يوله صالحانو خوب وليده چې بادشاه په جنت کې و. پارسا په دوزخ کې. پوښتنه يې وکړه، چې موجب دده دجنت دورتلو څه دى، سبب دهغه ددوزخ کوم ؟ چې زموږ ګمان په خلاف ددې و" وې يې" بادشاه په ارادت ددرويشانو جنت بياموند. پارسا په صحبت د بادشاهانو دوزخ.

۱ــ ز.

قطعه

که يې لږ خاطر دنيا وته مايل دی
دنيا دار به يې ګڼي چې اهل هوش دی
چې خالي يې ددنيا له مينې زړه کړ
قلندريې وګڼه که زربفت پوش دی

حکايت

[۱۷]

يو درويش[۱] دحجاز له قافلې سره له کوفې را ووت[۲] خرامان خرامان پياده په لار ته، دايې وې:

نظم

شکر شکر چې نه شاه نه يې وزير يم
نه ارباب ديوه ملك نه خان اميريم
نه مريي د چا خواجه نه يې نفريم
نه تر بار لاندې د چا شتر نه خريم
نه د آس داوښ څښتن نه چرو داريم
دچا کار را باندې نشته په خپل کاريم

---

۱ _ ح:- سرو پا برهنه.
۲ _ح:- " وهمراه باشد نظر کردم که معلولی نداشت"؟

نه اندوه د نیستۍ کړم نه د هستۍ

هسي رنګ دبلندۍ نه د پستۍ[۱]

معلوم نشته اندیښنه د معدوم نه کړم

اعتبار په دا جهان موهوم نه کړم

په خوښی مې عمر څي شکر ګذار یم

هر نفس په یاد دخپل پروردګاریم

یوه په اوښ سواره ورته ووې: ای درویشه! وجار وځه. پیاده درومي په سختۍ به ګورې چیرته ومرې. درویش پرې غوږ نه یستل، هم هسې یې قدم په بیابان کښیښ روان شه. هرګاه چې په نخله د بني هلال (چې دیوه منزل نوم و)[۲] قافله ورسیده، هغه تونګر ته اجل ورسیده، درویش یې په سرو دریده، وې بې موږ په سختۍ ونمړو ته په بختې ومړې.

فرد

درسته شپه یې په بیمار باندې ژړا وه

بیمار روغ شو ومړه دی دده قضا وه

قطعه

ډیر تندرست آسونه پاتو شي په لارې

ډنګر خر په ورو ورو ورشي تر منزله

۱ـ ز.
۲ـ ز.

غوځ په تورو رنځوارن له کټه پاځي
تندرستان زلمي مرګ بيل کا له محفله

حکايت

[۱۸]

يو عابد و جاهل بادشاه حضور ته وباله، عابد انديښنه وکړه چې دا رو به وخورم چې بادشاه ته ضعيف نحيف ښکاره شم، چې اعتقاديې را باندې وشي. دارويې وخوړل، خو دهغه زهر کشنده وو له هغه ساعت و مړ، هلاك شه.

قطعه

هغه ځوك چې مې پسته ګانه پر مغز
سر په سر واړه پوستونه لکه پياز و
هر پارسا يې چې يې کعبه دزړه مخلوق وي
که يي ملا په نمانځه خم کړه بې نماز و

بيت

هر زاهد چې په اميد د بکرو زيد وي
له دې زهده به سود بيا نه مو مي شيد وي[۱]

۱ _ ؟:"چون بند خدای خويش خواند – بايدکه بجز خدا نداند"

حکایت

[۱۹]

په زمکه دیونان غلونو کاروان وواهه، ډیر مال یې لوټ کړ. هر څو چې سوداګرانو ژړا زاري کوله، خدای تعالی او رسول یې صلی الله علیه وسلم شفیع کړه، فایده سود یې ورته ونه رسیده.

بیت

غله چې بیامومي بری په کاروان باندې
کله غم دسوداګرله ژړا کاندي

(شاید[۱] په هغه کاروان کې لقمان حکیم و) چا ورته وویل، چې پند نصیحت ورته وکړه، ګوندې دا مال پریږدي. دریغ چې دا هومره متاع بیځایه ضایع کیږي. لقمان وفرمایل: دریغ دی، دوی ته دحکمت خبرې ویل (چې مرغلري په خولو کې د سپیو تلیږي)[۲]

قطعه

هریو تیغ چې مور چه وخوري | په صیقل یې نه ځي زنګ
نصیحت و سیه د ل ته | ګویا میخ وهې په سنګ

۲ـ ز.
۳ـ ز.

قطعه

څو لا جوړ يې خير خيرات کړه په فقراو
چې دعا به ددوی ستا د بلا سپرشي
چې سايل درځنې سوال کاندي څه ورکړه
ګنه مال به دې په زور د ستمګرشي

حکايت

[۲۰]

شيخ وايي قدس الله سره العزيز چې په ابتداءِ حال کې شيخ احد شمس الدين ابو لفتح خوارزمي له آرويدو دسماع په مبالغه منع کولم . امر يې راته دعزلت دخلوت کاوه، اما په ما ځواني غالبه وه. نفس مې دهوا دهوس طالب و. په خلاف مې دده له حکمه سرودآرويده، مجلس مې داهل سماع سره کاوه،چې نصيحت مې به د شيخ ياد شه وې مې:

بيت

که قاضي له موږه کښيني هم به هسك په سماع لاس کا
محتسب که ميخوري کا مست به څه ځنې وسواس کا

يوه شپه اتفاقاً په يوه مجلس پيښ شوم، مطرب يې په منځ کې ناست و.

بيت

رګک وېی به په لرزه شول چې به ده سرو د آغاز کړ
چا به وې په مړه نارې شوې چې له خولې به يې آواز کړ
کله به دحريفانو ګوتې په غوږونو کې وې، چې که دا سرود وانو وري،کله به يې په شونډو کښېښوي، يعنې خاموش اوسه څه مه وايه.

مثنوي

د مجلس عالم به هاله په آرام شه
چې خاموش به شه غزل به يې تمام شه
و مې وې د کور څښتن و ته ای ياره!
وکړه ما سره يو کار له دې دوه کاره
يا پنبه راوړه چې غوږ پرې دواړه بند کړم
ياورلرې کړه چې ووځم زړه خورسند کړم
په هرحال مې ديارانو دخاطر دپاره موافقت وکړ، په ځان مې اختيار مشقت کړ. هغه شپه مې له ضرور تيره کړه .

قطعه

ګړيال د شپې له حاله خبر نه دی
چې ګړيال وهي دا هسې بې هنګامه
حقيقت دشپې پوښته له بيمارانو
چې بې خوبه پرې تير يږي شپه تمامه

صبا په وقت مې دستار له سره کوز کړ، خرقه مې له بره وکښه[۱] دينار مې له ملا پرانت، سرو دي لره مې ورکړه، په غيږ کې مې ونيو، (مهرباني مې پرې وکړه. يارانو ملا مت کړم . حمل يې په خفت د عقل وکړ، ژبه يې د اعتراض را باندې اوږده کړه ، چې داڅه مناسب وو[۲] چې خرقه د بزرګانو دې هسې ډم لره ورکړه ، چې تمام عمر يې درم په ورغوي کې چا نه وويښي [۳](چې يو څل چا لره ورغلی دی بيا يې نه دی پريښی.)[۴]

نظم

وردې نشي دا بد بخت د چا په خونه
و وژلي که نوي ترس دده له خونه
چې يو څل يې په کور د چا ګذرشي
ګمان مه کړه چې به بيا دوباره ورشي
په آواز يې چې دحلق رګونه کلك شي[۵]
په صورت دآرويدوني ويښته لك شي
په نارو نارو بدبخت څيرې خپل حلق کړ
درسته شپه يې تمامی مجلس حلق دلق کړ

۱ـ ز.
۲ـ ف: ويسی شکر ګفتم - ياران ارادت من در حق وی برخلاف عادت ديدند. و بر خفت عقلم نهفته بخنديدند - يکی از آن ميان زبان تعرض دراز کرد و ملامت کردن آغاز ، که اين حرکت مناسب رای خردمندان نکردی.
۳ـ ح :- و قراضه و ردف.
۴ـ ز.
۵ - دا کلمه دکالج په نسخه کې طينګ يعنې ټينګ ليکلې ده .

وې مې: مصلحت دادی چې ژبه د اعتراض کوتاه کاندي بدګماني پريږدي. ګمان رابانديې نيك وکاندي. چې ما ته کرامت دشيخ ظاهر شه. وې يې (موږ هم خبر کړه، وسواس موله زړه بدر کړه. چې کيفيت څرنګ و. چې شبه مو له زړه ووځي[1] وې مې:شيخ بارها راته فرمايل چې سرو دمه غوږ ياسه، ما نه اوريده، مګر نن شپه چې بخت مې رهبري وکړه دولت ياوري، دې ځای لره راوستم ددې مطرب له لاسه مې نن شپه دسماع له اوريدو توبه وکړه چې باقي عمر به يې وانه ورم:

قطعه

که نغمه ورسره نه وي په داځه شي
هرآواز ښايسته دخولې اثر کا
که بدرنګ سړی سرود کا په څو شانه
بيهوده دسامعانو درد سر کا

حکايت

[۲۱]

لقمان حکيم ته چا ووې ادب دې لهچا زده کړی دی؟ وې يې "له بي ادبانو" وې يې څرنګه؟" وې يې" هر فعل چې ددوی راته بدښکاريده ما ترې احتراز کاوه."

۱ـ (۱)- گفت مرا نيز بر کيفيت آن واقف گردان تا همچنين تقرب نمايم و بر مطالبه که رفت استغفار گويم.

قطعه

دمعنو ښښتن عبرت ورځنې واخلي
که په لارې کې پروت وو يني خسړی
که سل بابه دحکمت ورته بيان کړې
همګي واړه به باد ګڼي باد وړی
(هيڅ په ما باندي منت داديب نشته
ما ادب له بې ادبو دی زده کړی)[1]

حکايت

[۲۲]

يو عابد و چې په شپه به يې لس سيره طعام وخوړ، ترسحره به په نمانځه مشغول و. يو صاحب دل واوريدل، وې يې: که نيمه روټۍ يې خوړلی درسته شپه يې خوب کولی له دې شب بيدارۍ ورته بهتر و.

قطعه

اندرون يې چې خالي وي له طعامه
زړه يې هاله ډك په نور دمعرفت شي
چې تر حلقه ګيده ډکه په غله کا
له هغو کله خبرې د حکمت شي

۱ـ ز.

حکايت
[۲۳]

ديو ورك شوي په تياره کې د بيابان د فسق دګمراهۍ، چراغ دهدايت ورته عنايت شه. په حلقه دمحققانو داخل شه، په تاثير د دوی دصحبت[۱] ذميمه خويونه يې په حميده بدل شول. لاس يې له نفساني خويونو کوتاه، اما ژبې دطاعنانو په حال دده هم هسې لااوږدي وې. (چې زهد يې بې اعتباره دی، صلا حيت يې له اضطراره دی)[۲]

نظم

په توبه له ګناهونو سړی خلاص شي
چې تائب دخدای دپاره په اخلاص شي
دا محال دی چې له خلقه نجات مومي
که هرڅو يې مصلي په هوا درومي

طاقت يې دبد ويلو د خلقو رانه وړ، شکايت يې دخپل پير په خدمت يووړ، شيخ وژړل، وې فرمايل چې شکر به ددې نعمت کله په ځای راوړی شې چې ته بهتر وې له هغه چې خلك درته وايي:

۱ــ"به يمن قدم درويشان و صدق نفس ايشان"

۲ــ"که برقاعده اول است و زهد و صلاحش بی معقول"

رباعي

چې ښه وي خلك درته ښه نه وايي
ښه دی چې بد وي درته ښه ووايي
نظر په خدای کړه خلقو ته مه ګوره
که درته بد وايي که درته ښه وايي

(مشکل کار زما دی چې واړه خلك مې صفت کاندي او زه په باطن کې په خلاف د دوی دګمان يم. خلك مې کامل بولي، زه په کمال نقصان يم.[۱])

قطعه

(په ظاهر کښلی ليده شم ډك له زهر و لکه ماريم
له اوصافو ذميمه و په زړه پور لکه اناريم
په دا څه شو که عالم وته عابد زاهد ښکاريږم
زه چې ننه په باطن کې خپل ځښتن ته ګنهګار يم)[۲]

حکايت

[۲۴]

يوه شخص يوه شيخ ته ګيله وکړه چې فلا نه سړی په حق زما په فساد ګواهي کوي. وې يې: په صلا حيت يې شرمنده کړه.

۱ـ(ـ اما حسن ظن بزرگان درحق من بکمالست . و نيک مردی من در عين نقصان روا باشد انديشه بردن و تيمار خوردن."

۲ـ ح: "بيت گرانبها که می دائمی کردی نکو سيرت و پارسا بودی."

قطعه

بد اندیش دې که عیبونه شماري څه شي
ته نیکي کړه په اصلاح کړه خپل اعمال
دی به خود په دیو ویلو شرمنده شي
کړی به نه شي بیا له تانه بد مقال
چې تارونه په آواز کې موافق وي
له مطربه سرود نه مومي ګوشمال

حکایت
[۲۵]

یو له بزرګانو چاو پوښتیده چې حقیقت د تصوف څه دی؟ وې یې: پخوا تر دې هسې عالم و، چې په صورت پریشان په باطن جمع، نن ګانده هسې خلق دي چې په ظا هر جمع وي، په باطن پریشان.

قطعه

هر ساعت چې زړه له تا په هر ځای درومي
ګمان مه کوه چې ته خلوت نشین یې
که دهقان ،که سودا ګر، که سپا هي یې
په معنی خلوت ګزین یې چې حق بین یې

حکایت

[۲۶]

شیخ وایي قدس الله سره العزیزچې له کاروانه سره تمامه شپه مې شبګیر کړی و. سحر په کناره د ځنګل اوده شوو. یو دردمند شوریده حال له موږ سره مل و، فریاد یې وکړ، مخ په بیابان روان شه، له نارو له آهونو یې یو دم آرام ونکړ، چې ورځ روښنه شوه ورته مې ووې دا څه حال و؟ وې یې بلبلي مي لیدې چې په ونو یې نغمه سرایي کولې، زرکو په غرونو کې آوازونه کول، غوکانو په رود بارونو کې نارې وهلې. بهایم په ځنګل کې. نورمې اندیشنه وکړه، چې دا څه آدمیت دی. چې واړه په تسبیح مشغول دي. او ته په خوب اوده .

مثنوي

نن سحر مرغونو غږ کاوه خروش
یو یې وړ زما له دله صبر هوش
بي اختیاره مې آواز ترخولې بیرون شه
له دوو سترګو مې روان دځیګر خون شه
یوه یار را باندې غږ وکړ دا څه کړې
یار حاضر نارې سورې وهې ښه نه کړې[1]

۱ـ ”یکی از دوستان مخلص را ، مگر آواز من رسید بگوش ، گفته باور نداشتم که ترا بانگ مرغی چنین کند مدهوش“

وي مې ځان راته ښکاره لکه حيوان شه
تر حيوا نه لا بتر غا فل انسان شه
کوم انصاف دی چې تسبيح وايي مرغونه
موږه کلك په خوب ويده لکه مړه يونه

حکايت

[۲۷]

شيخ وايي قدس الله سره العزيز چې په سفر دحجاز له يارانو سره تللم. يو صاحب دل و، چې ګاه ګاه به يې نغمه کوله، محققانه بيتونه به يې ويل (يو عابد هم په قافله کې و، انکار به يې په دا کارډير کاوه، منکر و ددرويشانو له حاله. بهره يې اخستې وه له اقواله)[1] هرګاه چې په نخله دبني هلال ورسيدو يو هلك و د عربو له صحرا نشينانو، آواز يې وکيښ چې ډير موثر و. دعابد په اوښ يې اثر وکړ، په رقص ګډ شه،عابد يې پر يوست په بيابان روان شه وې مې اي شيخه ! دسرود اثر په حيوان بې زبان وشه ستا پرې هيڅ تغير حال ونشه.

فرد

چې په اوښ دآواز هسې رنګ اثر دی
په سړي چې اثر نه کا ګاو يا خر دی

۱_"عابدی بود منکر حال درويشان و بيخبر از درد ايشان."

رباعي

چې څوك په ځمكه يا په آسمان دي
په تسبيح واړه دپاك سبحان دي
نقصان په غوږ كې د سامعانو دى
آ شيا يې واړه مُسبِحا ن دي

حكايت

[٢٨]

يو بادشاه و، حيات يي په آخر ورسيده. اجل پرې منگل كښيښوه. قائم مقام يي څوك نه و. وصيت يي وكړ. چې هر څوك چې صبا په وقت ښار ته راننه وځي دملك بادشاه دې هغه وي! اتفاقاً اول چې داخل د ښار شه يو گدا ى و چې همه عمر لقمه ټولوله، خرقه يې په خرقه گنډه له، هر چې اركان دولت او اعيان مملكت وو وصيت د بادشاه په ځاى راوړ،(تاج يي د بادشاهۍ دده په سر كښيښه، په تخت يې د سلطنت كښيناوه)[١] كوټ او خزانې يې پرې وسپارلې،څو مدت يي بادشاهي وكړه. اخر الا مر بعضې امرايانو ورځنې گردن پيچي وكړه. په منازعت يې پاڅيدل (طرفين يې لښكرې جمع كړې)[٢] څه ملك يې ورځنې را ونيوه. دده له تصرفه

١ـ ز.
٢ـ و"وبه مقاومت لشكر آراسته في الجمله سپاه و لشكر بهم بر آمدند".

ووت (په هغو دښمنانو باندې مقرر شه)[۱] له دې واقعې ډير دلګير په زړه خسته شه په دا حال کې يو يې له قديم دوستانو ملاقي شه چې د فقيرۍ له حال يې په توانګرۍ، په پادشاهي کې وليده. شکريې وکړ[۲] چې الحمدالله تعالي بخت درسره مدګار شه چې دولت دې يار شه. اغزی دې د نامرادي له پښو ووت (د مقصود ګل دې شګفته شه په دې مرتبه چې په دنيا کې بله مرتبه داهل دنياو ترې اعلی نشته ورسيدې)[۳] اِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْراً اِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْراً ط

قطعه

که خواري ددې جهان درباندې درشي
زهير مه شه زړه فارغ کړه له اندوهه[۴]
کله ونه په خزان کې برهنه وي
کله بيا خوبي دپاڼو پري ا نبو هه[۵]

وې يې: ای وروره! رخ دی چې تعزيت مې وکړې. څه ځای د تهنيت دی؟ هاله چې تاليدم غم را سره ديوه نان و، اوس راسره غم د ځان او دجهان دی.

نظم

که دنيا راڅخه نه وي په طلب کې يې دردمند وم
چې دولت راته موجود شي لا په مهر يې پای بندوم

۱ـ ز:
۲ـ ز: "که درحالت درويشی قرين او بود. از سفر باز آمد بچنان مرتبتش ديدش گفت."
۳ـ "گلت از خار و خارت از پای بدر آمد. تا برين پايه رسيدی."
۴ـ ز.
۵ـ ز: "شگوفه گاه شگفته است و گاه خوشيده درخت گاه برهنه است و گاه پوشيده"

هیڅ بلا له دې جهانه بله سخته بلا نشته
غم یې لا په شته کې ډیرو ې څه خو لږ وي چې لا نشته

قطعه

که هرڅویې دولت ډیر طالع نیستګاروي
چې قانع په ماحضر شه توانګر دی
اتفاق دی دبزرګانو په دا باندې
تر غني سخي صابر فقیر بهتر دی
که خیرات بهرام ګور کباب دګورکا
میږې پښه دملخي ورکا سخي تردی

حکایت

[۲۹]

شیخ وایي قدس الله سره العزیز چې یو زما له دوستانو په خدمت د بادشاه سرفراز شه، عمل یې ددیوانۍ بیا موند. ډیر په اعزاز شه، مدت وشه چې ملا قات مې ورسره واقع نشه، چا له یارانو وویل لا رغه وشول، چې فلا نی لیدلی شوی نه دی. ما ووې: رضا مې نه کیږي، چې ملا قات ورسره وکړم، یو دوه له خدمتګارانو حاضر وو، وې یې: څه خطایې کړې ده چې نه یې وینې؟ وې مې: هر دوست چې عامل وي هاله لیدلي بویه چې معزول شي.

قطعه

په عمل کې له يارانو فراغت وي
عامل يار ته هاله ورشه چې تغيير شي
چې مشغول په کار وبار دعمالۍ وي
ستا په ورغله ته خوښ وې دی زهير شي
چې معزول شي له خدمته پا حساب شي
د زړو يارانو ها له خبر ګير شي

حکايت

[۳۰]

ديوه شخص مخالف باد په ګيډه کې پيچ وکړ، طاقت يې دضبط نه و بې اختياره ترې آواز صادر شه، وې يې: اي يارانو زما په دا فعل کې اختيار نه و، ګناه به يې هم په ما ونه کئ او راحت ما ته ورسيده . تاسې مې هم از روي ستاري او کرم معذور کاندئ.

رباعي

ګيډه زندان ده دباد هوښياره بنده يې مه لره ای خبر داره
په دم نرم يې له ګيډې لر کړه خپل ځان زرخلاص کړه له بده باره[1]

۱_ح: "حريف ترش روی نا ساز گار چو خواهد شدن دست پيشش مدار"

حکایت

[۳۱]

شیخ وايي قدس الله سره العزیز چې ددمشق له یارانو ملول شوم. په بیابان دقدس روان شوم، څو ګاهه مې له حیواناتو سره انس اختیار کړ، ناګاه په بند دفرنګ ګرفتار شوم. له جهودانو سره يې کار دخندق راباندې کاوه. ختې مې څکولې، اتفاقاً یو آشنا دحلب دملك چې سابقه آشنا يي راسره و ه، پیښ شه، غږ يې را باندې وکړ. چې دا څه حال دی[1]؟ وې مې:

قطعه

له سړ یو تښتید م په بیا با نونو
چې بې خدایه مې له هیچا نه و کار
قیاس وکړه نن ساعت مې به حال څه وي
چې په بند د ناکسانو یم ګرفتار

بیت

بند زندان سړی ته ښه دي چې دوستان وي
بیګانه سره زندان وي که بوستان وي

آخر الامر په حال يې زما رحم وکړ، په لس دیناره يې له قیده دفرنګو خلاص کړم، له ځان سره يې حلب لره راوستم،لوریې ما ته

۱ـ ح: " که موجب ملال است."

په سل دیناره کا بین راکړه (هغه لوریې ډیره بد خویه ستیزه رویه وه، حکم به یې په ځای نه راوړ. نافرمان برداره وه، [1] بدګویه وه) عیش به زما ترې اکثر مکدرو.

نظم

بده ښځه د نیکخوی سړي په کور کې
دوزخ ده، پریو ځي دې په دغه اور کې
پناه غواړه همیشه له بده یاره
بد یاراور دی ترې مې ژغوره کردګاره

یوه ورځ یې ژبه راباندې اوږده کړې وه، پیغور یې راکړ چې ته خو هغه یې چې پلارمې په لس دیناره دفرنګو له بنده خلاص کړی یې. وې مې:هو په لس دیناره یې له هغو خلاص کړم په سل دیناره یې ستا په بند ګرفتار کړم.

نظم

دلیوه له خولې یې خلاص کړ چا زړه و سه په ورغومې
په بیګاه یې په خپل کور کې ده چاړه کښنیښوه په کومې
چې مړه یې پریکو له غړې وکړدا یې ووې
له لیوه دې خلاصولم خبر نه وم ته لیوه وې

1ـ "مدتی برآمد دختر بدخوی ستیزه روی زبان درازی کردن گرفت."

حکایت

[۳۲]

یوه بادشاه له عابد[۱] پوښتنه وکړه چې ګذران څرنګ کوې؟ وې یې: درسته شپه مناجات، سحر طلب دحاجات، په ورځ فکر دعیال داخرجات. بادشاه ددې خبرې په معنو وپوهیده، مضمون یې ورمعلوم شه، مایحتاج یې دعیال مقرر کړ، چې په جمع خاطر طاعت عبادت کاندې.

نظم

اې چې بندیې په غمونو دعیال
فراغت دخاطر خیال ګڼه محال
غم داوړ کیو د جامې اندوه دقوت کا
ګشت به څرنګ په عالم دملکوت کا
درسته ورځ له خپله زړه فکر ونه وکړم
چې نن شپه به په صاف زړه نمونځونه وکړم
زړه حاضر په ډیر محنت کړم چې تکبیر کړم
په قیام کې بیا ددوی د قوت تدبیر کړم
هم مې هسې رنګ رکوع قومه سجود وي
له دې هسې عابد حق کله خشنود وي

۱_ح: "که عیال بسیار است."

حکایت

[۳۳]

یو دشام له عابدانو په ځنګل کې ګذران کاوه، پاڼې یې دونو خوړلې. بادشاه یې په زیارت ورغلی و، پس له ملا قاته یې ورته عرض وکړ، چې: که مصلحت وي ښهر لره راشي، ښه ځای (دسکونت خانقاه دعبادت دپاره به درته ساز کړم)[۱]، چې په جمع خاطر عبادت بهتر له دې مقامه کاوه شي. او ستا سې له برکته نور هم مستفید شي. زاهد دا خبره نه قبلوله، مخ یې تري وجار یوست. وزیر عرض وکړ، چې پاس د بادشاه دخبرې بویه، څو ورځې په ښهر کې تیرې کړه، که صفا دوقت میسر نه شي اختیار باقي دی. په هر حیله چې وه[۲] عابد راضي شه، ښهر لره راغی. (ښه مقام یې په باغ دګلونو آراسته دده دپاره سازکړ.)[۳]

نظم

سره یې ګل لکه رخسار و دخوبانو
سنبل هم لکه ویښته دمحبوبانو
(پکې ونې میوه دارې خوش قامته
تل سر سبزې له خزانه سلا مته)[۴].

۱- ۱ـ تا برای تو مقامی بسازم.
۲ـ ز .
۳- ۱ـ "بستان سرای خاص ملك را بدو پرداختند ، مقامی دید دلکشای روان آسای."
۴- ۱ـ " همچنان از نهیب برو عـنحوز   شیر ناخورده طفل دایه هنوز"

هسې رنګ يي ښه ښايسته خدمتګاره نازنينه، مخ نسرينه ورستوله .

نظم

سرو قده آفتاب رويه زنخ سيبه
خوش خرامه، خوش کلامه دلفريبه
سنبل مويه ، عنبر بويه، مو کمره
ملك خو يه ، ناز پروره تمام زيبه
که جلوه يې صد ساله زاهد ته وکړي
ګمان مکړه چې به نه شي ناشکيبه

بيا يې وريسې ډير صاحب جمال مريي ورستوه چې په صورت سيرت يې دواړه په اعتدال وو.

رباعي

په قد عرعر و په مخ ګلزار و
په غاښو شونډ و جواهر بار و
شيرين ګفتار و هم شيرين کارو
صفت يي څو کړم عجب نګارو

عابد چې څوګاهه لذيذ لذيذ طعامونه وخوړل، الوان الوان سرو پايونه يې واغوستل، په جمال يي ددلبرانو[1] نظر کړ، کار يې

۱ـ(۱ـ غلام و کنيزك

بل شه. اثر يې له مخه د زهدو رياضت زايل شه ، په تنعم عادت شه، ورنه پاتو صورت دعبادت شه [۱] هوښيارنو ويلي دي. [۲]

قطعه[۳]

که عابد دی که زاهد دی — که فقیه دی پاك نفس
چې داخل شه په دنيا کې — شه په شهدو کې مګس
(څو چې خوارو‌ړی محتاج وي — هومره ښه ګڼه دانس)[۴]

بادشاه يي بيا ديدن ته ورغی. عابد يې وليد[۵] سورسپين مسند نشين[۶] فاخري جامې آغوستې (په خدمت يي ولاړيو څو نازنين)[۷] بادشاه يي په دا احوال شاد مانې وکړه له هربابه مذکورونه وشول. بادشاه په دا خبره راغی چې زه دا دوه عالمه ډير دوست لرم: يو عالمان، بل زاهدان. وزير دانا فيلسوف جهان ديده و، عرض يې وکړ: شرط ددوستۍ دادی چې ددواړو طايفو سره احسان کاوه شي، علماوو لره زر ورکوه چې نور هم علم کاندي، زاهدانو لره څه مه ورکوه. چې له زهده پاتې نشي.

۱ـ ز.
۲ـ ح- زلف خوبان زنجیر پای عقل است و دام مرغ زیرك.
۳ـ ح: "درسرو کار تو کردم دل و دین با همه دانش با مرغ زیرك بحقیقت منم امروز تو دامی - فی الجمله دولت وقت زاهد و یا مجموعش، بزوال آمد."
۴ـ ز.
۵ـ ح:- از هیئبت نخستین بگردیده.
۶ـ ح:- و فربه شده.
۷ـ وبربالش دیبا تکیه زده وغلام پر ی پیکر بارو حه طاوس بربالای سرش ایستاده.

فرد

چې زاهدسړی درم واخلي دینار پریږده دا دبل زاهد شه طلبگار

قطعه

چې ښه خوی ښه يې ادب خاطريې صاف وي
که مريي وي که کسبي وي که اشراف وي
په تحقیق هغه زاهد گڼلی بویه
بیهوده دبې ادب د زهد لاف وي
د لبري ته کفایت صورت شیرین کا
که جامه زیور هیڅ نه لري معاف وي[۱]

حکایت

[۳۴]

یوبادشاه و،مهم ورته ضروري مخ ښکاره کړ. نذر يې کښیښ که دا مهم يي موافق په مراد دزړه تمام شي، دا هومره درمه به زاهدانولره ورکړم . چې حاجت يي پوره شه، جمعیت يي دزړه حاصل شه. وفا دنذر په وجود دشرط ورته لازم شوه .یوه خدمتگار لره يي کیسه ډکه درو پو ورکړه، چې ورشه په زاهدانو يې قسمت کړه. هغه خدمتگار ډیر زیرك او هوښیار و، درسته ورځ وگرځیده، په شپه راغی کیسه يې درو پو د بادشاه دوړاندې کښیښوه چې

۱_تامرا هست و دیگرم باید، گر نخوانند زاهدم شاید.

طلب مې ډير وکړ، وګرځيدم، زاهد مې بيانموندده ، بادشاه ووې دا څه خبرې کړې، په دا ښار کې چې زه پيژنم څو نصو زاهدان د ي. وې يې: اي بادشاه هر چې زاهدو، زريې نه اخستل، او هر چې يې اخستل و هغو لره مانه ورکول چې[۱] زاهد نه و. پادشاه وخندل، ويې فرمايل چې څو زما په خدمت د بزرګانو ارادت، هومره ددې شوخ ديده ورسره عداوت دی،اما په (دي مذکور کې)[۲] ،حق دده په لور دی.

بيت

که عابد سرې زر واخلي هم ويل ورته عابد شی
چې زاهد درم اخلي بويه دا چې بل زاهد شي[۳]

حکايت

[۳۵]

له يوه عالم چا پوښتنه وکړه چې دوقف روټی خوړل څرنګ دي؟ وې يې که دجمعيت دخاطر دپاره يې خورې. چې زړه فارغ وي عبادت وعلم وته. ورته روا او حلال او که خود کسب کا په ځای ورته کښيني هم هغه خوري، هغه ته (ناروا او وبال):[۴]

۱ـ ز.
۲ـ ز.
۳ـ ف ـ زاهد که درم گرفت و دنيار زاهد ترازو دگر بدست آر.
۴ـ ف ـ حرام

قطعه

که مقصود دې فراغت دخپل خاطر او عبادت وي
که له وقفه که له سواله چې قوت خوري ورته رخصت وي
او که کسب باندې نشي مسجد و نسي شينکې شي
دمحلت ټوکره چټ پټ کاندي خوراك يي ښنکې شي
ګدايي يې بهانه وي د مسجد دټوکړو سپې وي
په مسجد په مدرسه کې د پريښولو کله دی وي
خواه ناخواه دې وراته شي چې حلال کسب اختيار کا
نه دسوال کا نه دمفت خوري ورکووني بزه ګار کا
مګر دا چې ځان خادم کا کل خدمت دمسجد کاندي
له هغه پسه به حلاله دا ټوکړه شي په ده باندی[۱]

حکايت

[۳۶]

يودرويش چا کره ميلمه شه، څښتن دخونې مرد کريم النفس مهمان دوست و، اهل فضل خلق ورځخه ناست وو،له هر ه بابه حکايت لطائف بيانيده. لکه رسم د فاضلا نو د مجلس دی. درويش کوفته دلارې و، ستړی وږی خو له پټه ناست و، چاورته ووې: ته هم څه ووايه، وې يې زما هومره بلا غت پوهه نشته، که په يوه بيت له

۱ـ دقطعې ددی پنځو شعرونو په ځای په اصل کې دا شعر دی:
نان از برای کنج عبادت گرفته بود . صاحب دلان نه کنج عبادت برای نان

ما قناعت کوي و به وایم. واړو ورته په رغبت وو ې، ووایه په یوه بیت به دې معذورکړو.

بیت

زه وږی محتاج یم سفره یښږې ده یارانو
ناست لکه لونډیم وحمام ته دزنانو

یارانو واړو وخندل، سفره یې دنانونو راوړه، دکور څښتن ووې: که څه خو توقف وکړې، خدمتګاران کوفته کباب تیاره وي. درویش سر پورته کړ ویې وې :

بیت

دسفر په کوفت کوفته یم داوچ نان را ته کوفته دی
په هر ځای چې راشي څملي هر ځای ستړي ته روفته دی

حکایت

[۳۷]

یوه مرید و پیر ته ووې: څه وکړم چې له خلقه خلاص شم، دیدن لره ډیر عالم را درومي، وقت زما مشوش کوي. پیر ورته وفرمایل: هر چې درویشان دي هغو لره قرض ورکوه. او هر چې تونګران دي له هغو قرض غواړه، له دواړو ګروهو په خلاصي بیا مومې.

بيت

داسلام لښکر که ووځي ګدايان يې پيشرو درومي
کافران دسوال دويرې په چين که څوك بيا مومي[۱]

حکايت

[۳۸]

يوه فقير[۲] پلار ته وويل: هيڅ په ما باندې اثر دديو متکلمانو خبرې چې په تمام فصاحت بلاغت يې وايي نه کاندي.[۳]

بيت

بل ته وايي دنيا پرېږده باندې مکره دزړه مينه
دوی يې مټ په ټولول کا کله دا په دين کې دينه

قطعه

هر عالم چې تن پرست شي کامراني کا
دی به څښکله ددين نګهباني کا
چې عمل په علم کا اخلاص يې مل وي
هم هغه به ځان عالم رباني کا[۴]
قوله تعالي اَتَاْمُرُوْنَ النَّاسَ بِالْبِرِّ وَ تَنْسَوْنَ اَنْفُسَكُمْ.

۱_ گر گدا پیشرو لشکر اسلام بود   کافر از بیم توقع برود تادرچین
۲_ ۱:- فقهی
۳_ ح:- بحکم آنکه نمی بینم ایشان را کرداری موافق گفتاری.
۴_ز.

بيت

هر عالم چې تش ويل کاندي نوربس
هيڅ اثر يې ويل نه کا په بل کس[۱]

پلار ورته وويل: اي زويه! په مجرد باطل خيال بنويه له علمه مخ جار يستل او دعالمانو خبرې نه اوريدل، په طلب دعالم معصوم. دعلم له فوايدو پاتو کيدل محروم، لکه يو نا بينا په ختهو کې پريوت، نارې يې وهلې چې چراغ راوړئ چې زه ووځم. يوې ارتينې هسې رنګ ورته ووې: ته چې چراغ نه وينې په چراغ به څه وينې؟ هسې رنګ مجلس د وعظ لکه دکان د بزازانو دی چې نقد درڅخه نه وي رخت به ځرنګ ځنې وړې. چې ارادت رانه وړې له مجلسه په سعادت کله وړې.

رباعي

(زه تاته نه وايم چې نيکو کاريم شيخ يم پارسايم يا پرهيزګار يم
ته په ويلو زما ځان صاف کړه زه که هر څو نا پاك مرداريم)[۲]

قطعه

د عالم خبرې اوره پرې عمل کړه
که ګفتار يې موافق د کردار نه وي
داباطل دی چې ناقص عالم ته وايي
بل به کله بيدار کا چې بيدار نه وي

۱- ح: عالم آنکس بود که بد نکند نه که گوید بخلق وخود نکند
۲- ز.

چې مردان دي البته پرې عمل وکا
کښلي ولې نصیحت په دیوار نه وي

حکایت منظومه

قطعه[۱]

درس ته راغی یوعابد له خانقاهه
ترك یې کړ د سالکانو ښه طریق
وې مې فرق دعابد څه وولـه عالمه
چې اختیاردې لـه هغه کړ دا فریق
وې یې مې عابد دځان په خلاصول کا
عالم سعی کا چې و کاړي غریق
چې یې نفع و عالم و ته رسیږي
هم هغه په مقام کښیني د صدیق[۲]

حکایت

[۳۹]

یو په لار کې مست پروت و، دعقل ویاسته یې له لاسه پریو تلې وه. دعابد پرې گذر وشه، دده په قبیح حال یې په کراهیت نظر وکړ. هغه ځوان سرپورته کړ ویې وې:

۱ـ ا:- قطعه
۲ـ ز.

قطعه

سپك نظر عاصي ته مه کړه پرهيزګاره
درحمت د بخشايش په ده نظر کړه
دی که هر ځو جوانمرد په کردار نه دی
ته په ده دجوانمرد غوندې ګذر کړه

حکايت

[۴۰]

يو درويش چا وواهه، آزار يي کړ[۱] شکايت يي خپل پيرته وکړ[۲] پير يي ووې: اي زويه! جامه ددرويشانو رضا ده. هر چې په دا جامه کې تحمل دنا مرادی نه کاندي مدعي دی، دفقير جامه پرې حرامه.

قطعه

په ويشتل دکاڼيو سيند نه خيرنيږي
هر عارف چې ورنځيږي نرى رود دی
رنځ راحت به عارفان ګني له خدايه
چې له غير ويي ګني دشرك دود دی[۳]

۱ـ(ـ طايفه رندان بخلاف و انکار درويشان بدر آمدند و سخنان ناسزا گفتند و درويشی را بزدند.
۲ـ ح: که چنين حالتی برمن رفت.
۳ـ ز.

قطعه

ته څوک مه آزاره وه که دې آزار کا
په بخښنه به يې ته له جرمه پاك شې
عاقبت چې خاورې کيږې زما ورورہ
درقه بويه چې پخوا ترمړګه خاك شې

حکايت منظومه

[۴۱]

يوه ورځ نشان پردې ته حکايت کړ
له روزګاره يې ودې ته شکايت کړ
دیوه صاحب موږ دواړه خدمتګاريو
په نصيب دتا آرام موږ ناقرار يو
يو ساعت آسوده نه وم له خدمته
ته د کور دننه تل وې فراغته
هميشه مصاحبت کړې له مهرويو
له ښووينځو نازنينو سمن بويو
زه په مخ کې دسوروپلين دوان يم
ګرد آلود جامې ريمنې سرګردان يم
په خدمت چې زه له تانه پيش قدم يم
ته تل کور زه تل حاضر په غره په سم يم

ته په څه سبب غوريزه زه ذليل شوم
دذلت دليل نه مومم بې دليل شوم
پردې ووې زه پرده سرا فګنده يم
يښې سر په آستانه لرم بنده يم
ته خپل سرآسمان ته وړې سر بلندي کړې
تش بادونه پيمايي پرې خورسندي کړې
افتاده وخاص و عامو ته رويدار وي
وهر چا ته ګردن کش بيقدره خوار وي

حکايت

[۴۲]

يوه صاحبدل يو زورور پهلوان سړى وليده. په قهر شوى و، له ډيرې غصې يې ځګ له خولې لوسته. پوښتنه يې وکړه، چې ده ته څه حال پيښ شوى دى ؟ چا ووې يوه شخص ورته ښکنځل کړي دي. په غضب شوى دى.وې يې:دا سفله فرو ما يه سل منه کاڼي اخستي شي، توان ديوې خبرې نه لري.

قطعه

لاف دزور دعوې دې نه کا دمردى
چې عاجز شه وخپل نس ته هغه زن دى

مَرّد هغه ګڼه چې خوله دچا خوږه کا
نه چې خوله دچا په سوك وهي مشت زن دی

قطعه

که په سوك سره تندی دهاتي مات کا
نه دی مرد چې پکې نه وي مردمي
د شیطان اصل داور د آدم خاورې
که ځان خاورې کا هاله دی آدمي

حکایت

[۴۳]

شیخ وایي قدس الله سره العزیز چې یو بزرګ مې وپوښتیده چې خوی ددین دیارانو څرنګه دی؟ وې یې: کمترین مرتبه دیاری داده چې مراد دیارانو په خپل مراد مقدم لري. حکیمانو ویلي دي.(۱)

قطعه

چې خود رای وي هغه کا چې یې زړه خپل وي
بیګانه یې وګڼه که هر څو خپل وي(۲)
چې په لاره ګرځی له ملونو د رومي
دهغه له ملګري به څوك سود مومي

۱ج-برادر که دربند خویشست نه برادر نه خویشست.
۲_دا د برني محذوف عبارت ترجمه ده .

هر عزیز چې بې تقوی بې د یا نته
قطعیت ورځنې بِه تر مؤ د ته[۱]
چې له حق سره آ شنا که بیګانه وي
بیګانه دحق تر ځار که هم خانه وي

حکایت مظومه

[۴۴]

یو پیر مرد و چې لور شوه ورکره لویه
په فکرت یې شه چې شوی ورلره بویه
خبر نه د چا له ا صله له تبا ر ه
بي خبره یې عقد و کړ له چمیا ره
هسې رنګ یې مردك شونډې و چیچلې
چې له شونډو یې سرې و ینې بهیدلې
په صبا یې چې وپلارته حال عیان شو
زوم ته راغی په غضب ورته ګویان شو
چې بې شرمه دار نبي که دې دندان دي
پر یکوې یې دا څرمن ده که لبان دي
دا و یل په هزل نه دی نصیحت دی
هر سړی هغه کوي چې یې عادت دی

۱ـح:- یار دارم که یکی از مدعیان(یامدعی) برقول من اعتراض کرده بود و گفت (کردو گفته) حق تعالی در کتاب مجید از قطع رحم نهی کرده است (فرموده) و بمودت ذولقربی امر فرموده و آنچه تو میگویی مناقض آنست . گفتم غلط کردی که مطابق قرآن است وَ اِنْ جَاهَدَكَ عَلٰی اَنْ تُشْرِكَ بِیْ مَالَیْسَ لَكَ بِهٖ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا.

طبعیت چې له هرڅیزه عادت مومي
باور مکړه چې بې مرګه ځني درومي

حکایت

[۴۵]

دیوه فقیه لور وه، نهایت زشت رویه. که هرڅودولت نعمت یې و، اما په سبب د قباحت چا یې په نکاح رغبت نه کاوه.

رباعي

(د کړ لو نه دی دا دوه خبرې دواړه هرګور دي له عقله لرې
په نامزدۍ چې نغارې وهي یا په بدرنګه ناوې سندرې)[1]

قطعه

که هر څو یې په واده نغارې کښېږدي
په خوړه یې ډیرو ګړي سره ټول کا
دپسا له صفت یې شي درنګ یې نشي
څوك چې پورې په بدرنګه ناوې پسول کا

اخرالامر یې له ضروره دیوه ړانده سره نکاح وتاړه. ناګاه په هغه ښار کې یو حکیم راغی، چې دړندو سترګو دارو یې کول. ډیر ړانده یې په دوا بینا شول. چا فقیه ته وویل: چې ته هم دخپل زوم

---

۱ ـ ز: زشت باشد و بیقی و دیبا که بود بر عروس نا زیبا

دستر گو علاج وکړه. وي يې ويريږم چې که بينا شي زما لور لره به طلاق ورکا.

بيت

هره ښځه چې خيره لري بدرنگه
بويه دا چې ړوند څښتن يې وي دڅنگه

حکايت

[۴۶]

راوړي دي چې يوه بادشاه ددرويشانو په طايفه يوه ورځ نظر دحقارت وکړ، يو له دوی په فراست وپوهيده، وې يې ای بادشاهه! موږ په دنيا کې لتا نه په جيش کمتر يوو، په عيش خوشتر يوو،په مرگ سره دواړه برابر، په قيامت انشاء الله تعالي له تا بهتر يوو.

مثنوي

که دې ملك بادشاه کامران دی
حاجتمند گدای دنان دی
گدای ښه دی له بادشاه
هغه دم چې ووځي ساه
جدا کيږي له سا ما نه
بادشاه ډك ځي له ارمانه
هغه دم چې دواړه مرينه
خو کفن له ځانه وړينه
چې لحد ته دواړه ورشي
فرق يي لاړ شي برابر شي
د فقير پا تو هيڅ نه وي
تر و ارمان به يې دخه وي

ظاهر حال ددرویشانو جامه ده ژانده، او حقیقت یې نفس دي مُرده زړه زنده.

قطعه

نه هغه چې ورته وایي عارف نه یې
له هغه سره دعوی کا په جنګ پاڅي
که له غره دژندری کاڼي پري راپریږدي
عارف نه دی چې له لارې د سنګ پاڅي

قطعه

چې له خپله آشنا نه لري ګِله
له نور چانه به په څه لري ګِله
نه عارف دچا په ښو شکر ګذاروي
نه په بدو ددښنه نه لري ګِله[1]

حقیقت ددرویشانو ذکر فکر دی، شکر صبر، خلوت، قناعت، طاعت، توحید، توکل، تحمل[2]، هرڅوك چې په دا صفتونو موصوف وي په حقیقت کې درویش دی. صادق اګر چې په قبا کې وي، او که بیهوده ګوی، بې نماز، هوا پرست، هوا باز، چې شپه و ورځ په بند د شهوت وي، هر چې مومي په غفلت یې خوري، هر چې په ژبه ورځي هغه وایي مدعي دی، کاذب، اګر چې عبا کې وي.

۱_ ز.
۲_ په اصل کې فکر، صبر، خلوت، نشته، ددې په ځای "خدمت، ایثار، تسلیم دی."

قطعه

آراسته يې په تقویٰ چې ننه زړه وي
که سپاهي وي پرهیزګارېې وګڼه
چې خالي يي له تقوی نه اندرون وي
که کند پوش وي دنیا دار يې وګڼه[۱]

حکایت منظومه[۲]

[۴۷]

په نظر را غله تا زه د سته ګلو نه
چې ترلي د وښو په تا نګی وونه
چا ویل چې څه ګیاه څه يې شرف وي
چې داخل دښایسته ګلو په صف وي
ګیاه وا وریده خبره په ژړا شو ه
په جواب دحال په ژبه ورګویا شوه
زه که هرڅو په دې باغ کې یم ناڅیزه
په صحبت دګلو شوم هسې عزیزه
صحبت کله هیروي چې کریمان وي
هرچي پاس دصحبت نه کا لیمان وي

---

۱ ـ ای درونت برهنه از تقوی — کز برو جامه ریا داری
پرده هفت رنگ را بگزار — تو که درخانه بوریا داری

۲ ـ مثنوی.

زه که هر څو بې جماله یم بې رنګه
لویه شوې یم آخر دګل دڅنګه
زه بنده هم امید واریم له کریمه
پرورده یې د نعمت یم له قدیمه
زه که هر څو بې هنر یا هنر مند یم
بیا له مهره امیدوار دخداوند یم
وسیله مې نه طاعت نه ښه خصلت دی
تکیه ګاه مې دده فضل عنایت دی
زوړ بنده څښتن آزاد کاندي دستور دی
دا دستور په درست جهان کې مشهوردی
اې چې شپه ورځ په خلقو کرم دادکړې
زه هم زوړ بنده یم ستا که مې آزاد کړې
تمام عمر ما بدي تا ستا ري کړه
ما له تا سره جفا تا به یاري کړه
په زوړ والي مې لا کار ترځوانۍ ښه کړه
معزز مې په د نیا په عقبی ته کړه

حکایت

[۴۸]

یو حکیم چاو پوښتیده چې سخاوت بهتر دی که شجاعت؟
وې یې: هر څوك چې سخاوت لري حاجت یې شجاعت و ته پاتې نشي.

رباعي

کښلي په ګور د بهرام ګور دي
سخيان بهتر تر ښتن د زور دي[۱]
(چې ډيرې خوان وي ډير يې اخوان وي
بيل له ممسکه خپل سپين خپل تور دي)[۲]

۱ـ ح: گرفتيم عالم بمردی وزور ولیکن نبرديم باخود بگور
۲ـ دا شعر تيری دی. ددی شعر نه وروستو ديوې قطعې ترجمه نشته
نماند حاتم طائی و ليک تا بابد بماند نام بلندش به نيکويي مشهور
زکوة مال بدرکن که فضلهٔ رزرا چو باغبان ببرد بيشتر دهد انگور

دریيم باب

په بيان د قناعت

حکايت

[۱]

يو سايل[۱] وو په حلب کې د بزازانو په دوکانونو ګرځيده. دا آواز به يې کړه چې: ای دنيا دارانو! که تاسې څخه انصاف وي، موږ څخه قناعت، روش به دسوال له جهانه لاړو.

قطعه

ربه مو ړ مې په دولت دقناعت کړه
چې دده غوندې نعمت بل نعمت نشته
خزانه د صبر بخره د لقمان وه
د هر چا چې صبر نشته حکمت نشته

۱ـ (ـ خواهنده مغربی.

حکايت

[۲]

دوه اميرزاده په مصر کې وو. يوه طلب دعلم کاوه. بل مال ټولوه. آخر الامر هغه علامه د عصر شه،هغه بل عزيز د مصر. يوه ورځ دې تونګر په خواره سترګه په فقيه ورور نظر وکړ، ورته يې ووې چې زه په سلطنت ورسيدم، ته هم هسې په مسکنت کې پاتو شوې. وې يې اى وروره! شکر دنعمت دحق تعالي تر تا په ما ډير واجب دى چې زه يې ميراث ته د پيغمبرانو عليهم السلام و رسولم او ته يې د فرعون او هامان په ميراث کښينولې.

قطعه

وبه نه وو ځم ددې نعمت له شکره
چې قوت يې د آزار د چا رانه کړ
دميږي غوندې پايمال دخاص وعام يم
دمچۍ غوندې يې نيش و ما رانه کړ

حکايت

[۳]

يو درويش و، په اور کې د فقر و فاقې سوه شه. خرقه په خرقه يې ګنډله. په دا بيت به يې تسکين دخاطر کړ:

بيت

قناعت په وچ ټوك ښه دی په خپل ځيرې ځيرې دلق
بار محنت په سرې ښه دی نه پرې بار منت دخلق

چا ورته ووې: څه ناست يې، فلانه په دې ښار کې طبع کريم لري، کرم عميم.

رباعي

طبع کريمه کرم عميم لري
دی خودنيك ذات دی نيك ذات نديم لري
هغه ته ورشه چې آسوده دې کا
غريب نواز دی دا خوی قديم لري

درويش ورته ووې: خوله پټه شه، په لوږه کې مرګ بهتر دی نه حاجت چا ته عرض کول.

بيت

هم خپل کند مرقع ښه دي جامه مښلې
نه رقعه و دنيا دارو و ته کښلې[1]

۱ـ ح ـ حقا که با عقوبت دوزخ برابر است   رفتن بپاي مردي همسايه دربهشت

حکایت

[۴]

یو حکیم چا وپوښتیده[۱] چې په ورځ څو قدر طعام خوړلی بویه ؟ وې یې څو شیر شاهي[۲]، وې یې دا به څه کفایت کاندي؟ وې یې دا مقدار تا ګرځوي چې ترې زیات شي ته یې ګرځوې.

رباعي

خوراك د ذکر د ژوندون د پاره وي
نه ژوندون، دپاره دخوراك ای یاره وي
تل به تندرست وي چې لږ خوراك خوري
تل بیماري د ډیر خور بسیاره وي

اتفاق دی دحکیمانو چې که هر څوك چې ډیر وږی شي هاله طعام خوري او چې لاوږی وي لاس له طعام وکاږي، محتاج به د طبیب نشي.

رباعي

ویل به هاله حکیم آغاز کا　　لاس به لقمې ته هاله د راز کا
چې یې خلل پاخي په نه‌ویل کې　　چې نه‌خوري روح به ځنې پرواز کا[۳]

۱ـ درسیرت آرد شیر با بکان آمده است که حکیم عرب را پرسید.
۲ـ ا: صد درم.
۳ـ ز.

حکایت

[۵]

دوه درویشان وو، په سیاحت په مسافرت هم سفر، هم صحبت ، یو ضعیف همیشه په روژه کمزوری، بل قوي هیکل ډیر خوری[۱] په یوه ښار کې په تهمت د جاسوسی دواړه ګرفتار شو. دواړه یې بندي خانه کړه، وریې ورپسې په دیوال پورې کړ، پس له دوو هفتو معلوم شول چې بیګناهه وو، چې وریې پرانت هغه قوي هیکل مړ و، ضعیف ژوندی. خلق متحیر شو، چې ګمان یې په خلاف ددې و[۲] یوه حکیم وویل د تعجب ځای هاله و چې که ضعیف مړ وی، قوي ژوندی پاتو وی. وې یې څرنګ موږ هم و پوهوه؟حکیم وې[۳] هغه چې مړ دی عادت په ډیر خوراك و، چې څو ورځې فاقه شو تاب یې رانه وړ، هلاك شو دا بل په لوږه عادت شوی و صبر یې وکړ، سلا مت پاتې شو.

قطعه

په ساړه غارمه عادت په لوږه تنده
چې محنت وربانديې راشي قوتناك شي

۱_یکی ضعیف بود که روزه داشتی و بعد از دوشب افطار کردی. و دیگری قوی که روزی سه بار (نان) خوردی.

۲_ ز.

۳_ز.

پرورده د نعمتونو په ناز لوی وي
چې سختي مشقت ویني هلاك شي[۱]

حکایت

[۶]

یوه حکیم زوي ته نصیحت کاوه چې ډیر خوراك مه خوره، سړی رنځور په ډیر خوراك شي. وې یې ای پلاره! سړی چې نه خوري هم هلاك شي.[۲] وې یې: ای زویه! اندازه ساتلې بویه. قوله تعالي كُلُوْا وَاشْرَبُوْا وَلاتُسْرِفُوْا

مثنوي

حق چې امر په تا کړی د کُلُوا دی
نه چې حد یې دربنیلی دګلو دی
هومره قوت چې په قوت یې شي ملا سمه
بیا یې کړې په عبادت د معبود خمه[۳]

بیت

نه هومره خوراك بویه چې په ځان باندې تاوان شي
نه هسې رنګ لوږه چې بیرون له تنه ځان شي

۱ـ دپلاټس په نسخه کې دی پسې دا شعر هم لیکلی دی
تنور شکم دم بدم تافتن مصیبت بود روز نایافتن
۲ـ ح: نشنیده ؟ که ظریفان گفته اند به سیری مردن بِه که بگرسنگی جان سپردن .
۳ـ ز.

قطعه

که هر څو طعام سبب دژوندانه دی
بویه دا چې هومره خوړ شي چې پرې پایي
چې ډیر ورړی شی هاله تناول کړه
په مړه ګیده بیابیا خوراك نه ښایي
ډیر خوراك خوړل منشاء دهر زحمت دی
حکیمان په اتفاق واړه دا وایي
په جهان کې به یو څو دلوږې مړه وي
ډیر خوراك وګورستان ته خلك بیایي

قطعه

هیڅ له خلقه له خالقه شرم نه کړې
پسو خوښ په حیواني په ګاو و شئ(۱) یې
لاس دې یښې په کندو قدم په کنده
مشغول شوی شپه و ورځ په که کشئ(۲) یې

حکایت

[۷]

دیوه بقال څو درمه په یوه له صوفیانو و او ښتل. هر ه ورځ به یې تر ې غوښتل، بیهوده ګویي به یې ورته کوله. تصدیع یې

۱ـدخاروو عادات.
۲ـپولی‌را کښل ، جاروهل، فضول کار ونه کول.

ورسوله. که هر څو خسته دل و.[۱] چاریې بی تحمله بله نه وه. یوه صاحبدل واوریدل. ویې وې نفس لره وعده د طعام ورکولو ډیره آسانه ده تر وعدي د درم ورکولو بقال لره.

قطعه

دخواجه له احسانونو مې توبه شه
خومې مه لیدی جفا د بوابانو
په اُمید دغوښو مړ سړی بهتر دی
تر غوښتنه د بد پور دقصابانو

حکایت

[۸]

یو جوانمرد په جنګ[۲] کې زخمي شه. سخت جراحت ورورسید. چا ورته وویل که له فلانه سوداګر نه نوش دارو وغواړې، شاید دریغ یې نه کا. هغه سوداګر په بخل مشهورو، لکه حاتم په سخاوت.

قطعه

که دنان په ځای یې لمر په سفره پروت وي
ترقیامته به تیاره وه په جهان کې

۱-ل-اصحاب او تعنت او خسته خاطر همی بودند.

۲-و-درجنگ تا تار.

(چې کاله يې پرې مخ صاف د آينې کړی
خاکستر يې هو مره نه وو په ديگدان کې)[۱]

جوانمرد وويل نوش دارو ترې وغواړم گوره را کاندي که يې رانه کاندي. که يې راکا، گوره نافع رالره شي که نشي. اماسوال کول له ده في الحال زهر کشنده دي.[۲] حکماو ويلي دي (که آب حيات په آبرو يې خرخيږي داخستو نه دي.)[۳]

مثنوي

مړه غو نې خوره د لاسه دخوشخويه
نه خوړل دناشپاتي له ترشرويه
(تر صحته دمرگ ښه دی په زحمت کې
دارو مه خوره د بخيل له کوره زويه)[۴]

حکايت

[۹]

يو له علماوو چې خرچ يې ضروری زيات تر آمده و، يوه دنيا دار ته،چې دده معتقد و، احوال بيان کړ چې کفاف لږ لرم، عيال ډير، توان طاقت مې د فاقې دبار نشته. هغه دولت مند مخ ترې وجاريوست، سوال يې ورته قبيح ښکاره شه.

۱_ ز.
۲_ ح: هر چه از دونان بمنت خواستی در تن افزودی و از جان کاستی
۳_ اگر آب حيات فروشند فی المثل بآب رويي ، دانا نخرد که مردن به از زندگانی بذلت.
۴_ ز.

قطعه

که له بخته ګله مند وي تر يو تريخ مه ورځه ويارته
دی به خوښ په عيش ناست وي ته يې عيش مکدر کړې
په خندا په خوشحالی د زړه احوال ورته وو ايه
چې دی لا خوشحال خوشحال شي عرض که هر ځو مکرر کړې

وظيفه يې هغه دولت مند تر اوله زياته کړه، اما ارادت يې تر سابقه کم. پس له څو ورځو چې مجلس واقع شه، هغه ګرمي د صحبت يې ونه ليده ويې وې :

نظم

زيات مي په روز کې دينار درم شه
صحبت د ډيرو کالو برهم شه
له لوړې مړ وی نه دا سوال کړی
روټی می زياته عزت مې کم شه

حکايت

[۱۰]

يو درويش ته ضرور واقع شه، چا ورته وويل چې فلا نه شخص نعمت ډير لري مروت هم، که ستا په حاجت واقف شي، په پوره کول به يې توقف ونه کا. وې يې: زه يې نه پيژنم. تر لاس يې ونيو. رهبري يې وکړه. هغه شخص کره يې ورو وست. درويش چې دی وليده، وچولی يې غوټه، شونډې ځوړ ندې ناست و. هيڅ يې

ورته ونه ویل وجار ووت، چاو پوښتیده چې څه دې وکړه ؟ وې یې: دده عطا مې دده په لقا و بخښله.

قطعه

حاجت مه وړه په نیژدو دترش رویو
په بد خوی بد خاطر فرسوده کاندې
ښایسته شیرین زبان ته مطلب وایه
چې دزړه په یافت نایافت آسوده کاندې

حکایت

[۱۱]

شیخ وایي قدس الله سره العزیز خشك سالي په سکندریه کې مخ ښکاره کړ، اکثر خلك یې له وطنه آواره کړ، ځمکه بې نمه شوه بې بارانه ګردونه یي لا ړل پاس تر آسمانه .

قطعه

که مرغونه که ماهي که نور حیوان وو
شپه و ورځ وو په ژړا په آه فغان
عجب دا چې دا آهونه جمع نه شول
چې وریځ شوی وریدی ځنې باران

په دا هسي کال کې یو مخنث و[۱] صاحب د ډیر مال. خلقو سره یي امداد احسان کاوه.دستګیري د تنګدستانو کوله.دښار خلقوسره یې زر ورکول. په طریق دمساعدت مسافرانو لره به یې طعام ورکاوه از راه ضیافت، بعضې خلك وو، چې فاقه پرې ډیره غالبه شوه. ما لره راغله، مصحلت یي راځنې وغوښت چې په دعوت به یې ورشو. ما موافقت ورسره ونه کړ، ابامې راوړه، او دوی مې هم منع کړه، ورته مې ووې.

قطعه

پس خورده به مرزی نه خوري د سګانو
که له ډیرې لوږي ومري په خپل غار کې
له سفله نه هرګز خواست د طعام مکړه
خپل ځان وو ژنه له لوږې په آزار کې
که دولت یي د قارون ملك دنمرود شي
بې هنر سړی داخل دی په کوم شمار کې
که پوشاك يې د زربفت و دکمخاب وي
چې بې نفع وي څهره ده په دیوار کې

۱_دلته یې یو اوږد عبارت حذف کړی دی.

حکایت

[۱۲]

حاتم طايي چا و پوښتيده چې له ځانه دې هم بلند همت
څوك ليدلی دی، يادې آوريدلی دی؟ وې يې: يوه ورځ مي څلويښت
اوښان ذبح کړي وو، اميران مې دعربو(او فقيران) بللي وو. نا ګاه
مي په صحرا يو خارکش وليده، دلرګيو ګیډۍ په سر، ورته مې
وويل چې په مهمانۍ دحاتم ولې نه وردرومې؟ خلك پرې جمع شوي
دي، دعوت يې عام کړی دی. وې يې:

بيت

هرچې خوري دخپل محنت روټۍ

څه به کاندي دحاتم داوښ بوټۍ

هغه شخص مې په همت په جوانمردۍ ترځان هسك وليده.

حکایت

[۱۳]

موسی عليه السلام يو شخص وليده چې له برهنګۍ، له
خوارۍ په شګو کې ناست و. په شګو يې خپل ستر عورت پټ کړي
وو، عرض يې وکړ چې ای موسی (ع) ! حق تعالی ته زما د پاره
عرض وکړه چې قدر کفاف راکا، له بې طاقتۍ په ځان شوی يم،
مهتر موسي صلوة الله عليه دعا وکړه. حق تعالی دستګاه ورکړ،

پس له څو روځو موسی علیه السلام هغه شخص ولیده، ګرفتار شوی، خلك پرې انبوه، ترې چاپیر شوي، پوښتنه يې وکړه، چې دا څه حالَ دی؟ وې يې خمريې خوړلي و، مست شوی و، يو شخص يي په ناحق ووژی، اوس يې قصاص لره بيايي.

قطعه

لوي حکمت دی چې وزر د پیشو نشته
دی به وکښله دهمه مرغو نو ولې
که دا ښکر چې دغوايي دي که دخره وی
خلقي به يې په ښکر سره وهلې
ډير شل ګوډ چې يې روغ شوي لاس و پښې وي
مالیدلی چې پردی خونې به يې سولې
(که فرعون او نمرود خواروي بې دستګاهه
دوی به کله دخدايي دعوې کولې)[۱]

موسی علیه السلام په حکمت دجهان آفرين آفرين ووې[۲] او په خپلې نادانی اقرار او له خپلی ګستاخی استغفار.

قطعه

چې سفله څښتن دجاه وسیم وزر شي
د پاپوشو ووهل ته يې جوړ سر شي
د میږي چې پرونه نه وي خیریت دی
چې يې وقت دورکیدو راشي په پرشي

۱_ز:- ددې نه ورستو يو آيت او دعربي يو شعر حذف دي.
۲- اقرارکرد.

دی دده په کار ترده بهتر پوهیږي
خوار خوار ښه دی ورته زیان دی که تونګر شي
ګبینه به پلار ها له وزوی ورکا
له صورته یې چې سره مخه بدر شي

حکایت

[۱۴]

یو اعرابي په دکان د جوهري(۱) ناست و، نقل یې کاوه، چې یو وقت مې لار غلطه کړه، په بیابان سر شوم. تو ښه دخوراك هیڅ راځخه نه وه. زړه مې په هلا کت کښیښ، له ژوندون نهِ مې امید قطع شه، ناګاه مې ډکه کځوړه دمرغلرو بیا مونده، هرګز به مې هغه خوشوقتي هیره نشي، چې ګمان مې وشه چې وراته غنم دي. بیامې به هغه غم له زړه فراموش نشي، چې مې ولید ل مرغلرې وې.

قطعه

په بیابان یې چې له تندی وچ لړمون شي
څه سیپی څه مرغلرې په دهان کې
چې له لوږې مسافر شي له تلو پاتې
څه کودري، څه مهران دده په میان کې

۱ـ ۱ : جوهریان بصره .

حکایت

[۱۵]

په میره په بیابان کې یوه مسافر لار غلطه کړه. ډیر وګرځیده، لارې بیا نه مونده، توښه ورځخه نه وه، له سختۍ له لوږې هلاك شه. ځوك پرې برابرشول، ویې لیده مړ پروت و، دینار درم ورته په خاورو پراته وو، په ځمکه یې دا کښلي وو:

قطعه

مسافر که هر ځو سره مهران لرینه
بې توښې دې و سفر ته نه ږدي ګام
مسافر ځخه تر خښتو د سرو زرو
روټۍ ښه ګڼه چې خوږ کا باندې کام

حکایت

[۱۶]

شیخ وایي هر ګز مې دزمانې له جوره نالش کړی نه و، نه مې دایام له ګردشو آه فریاد، مګر یوه ورځ چې له برهنګۍ د پښو چې پاپوش مې نه وو. استطاعت هومره نه و چې موجود شوی، ډیر په زړه کې تنګ شوم. ناګاه مې په جامع دکوفې کې یو کس ولیده چې پښې یې نه وې، شکر مې دنعمت دحق تعالې وکړ، او په خپلو بربنډو پښو صابر شوم.

قطعه

و ماړه ته که ښه چرګ وي تلولی
په نظر يې سپك را ځي له ترکاری
وريت تيپر ورته دچرګ ترکباب ښه وي
چې هميش وږی فاقه وي له خواری

حکايت

[۱۷]

يوبادشاه له څو خاصانو سره ښکار ته لاړ و په ښکار مشغول شه، وقت دژمي وو، له ودانی لرې ووت. په شپه يې ديوه دهقان خونه وليده، وې فرمايل چې شپه به هور ته کړو، چې دسړو زحمت ونه وينو.وزير ورته عرض وکړ چې لا يق د بادشاهانو دقدرنه دي، ددهقان کره ورتله. هم دلته به خيمه قايمه کړو، اوربه بل کړو. دهقان خبر شه، ما حضر يې چې په کور کې موجود و په خدمت يې حاضر کړ، ځمکه يې د خدمت کښبل کړه، عرض يې وکړ، چې دباشاه له بلنده قدر به هيڅ کم شوي نه وو، اما ددهقان دسربلندی نصيب نه و. د بادشاه داخبره مطبوع پسنده شوه. په شپه يې ده کره نقل له هغه مکانه وکړ، ورغی، صبا يې ډير څه ورانعام کړه. بادشاه سور شو، دهقان يې په رکاب کې ته،دايې ويل:

قطعه

د بادشاه له مراتبه څه کم نه شول
په مقدم يې دا ذليل په ډير اعزاز شه
ددهقان سر ستر وی وشه تر آفتابه
په سايه يې په سيالانو کې ممتاز شه

حکايت

[۱۸]

يوحريص ګدای و، ډير دولت يي په ګدايي په خواست جمع کړی و. يوه بادشاه ورته ووې چې معلوميږي مال خزانه زياته ترشماره درځخه ده. ماته مهم پيش شويدی، و جه قرض دست ګردان څه راکړه ، چې محصول را ورسي ادا به شي، وې يې: ته بادشاه د روی زمين يې، لا يق تالره نه دي چې زما غوندې ګدای چې ټوکونه مې ټول کړي دي، خرڅ کړي مې دي، کور په کورګرځيدلی يم، رنځونه مې ځکولي دي. څه مې جمع کړي دي، ته يې راځنې غواړې. بادشاه ووې: غم نشته زه يې کافرانو لره ورکوم اَلۡخَبِيۡثَاتُ لِلۡخَبِيۡثِيۡنَ.

بيت

که کوهي دنصراني پليد ناپاک دی
په اوبو يې مړ جهود وينځی څه باک دی

ګداي شوخ چشم و، مجادله، مباحثه يې آغاز کړه. بادشاه حکم پرې وکړ چې په زور، په زجر يې هغه مال خزانه ترې واخستله دنورو زړه يې ښاد کړ.

مثنوي

په نرمۍ چې تمامښت نشي دکار
و سختي ته آ خر ورشي لا چار
په خپل لاس محافظت دخپل عزت کړه
وړاندې ورستو فهم ښه وکړه حجت کړه

حکايت

[۱۹]

شيخ وايي قدس الله سره العزيز يو سوداګر مې وليده، سل پنځوس اوښان يې د سودا ګرۍ په متاع کښلي. څلويښت يې مريونه دخدمت دپاره وو، زيبا کُښلي. په يوه منزل يې زه خپلې حجرې ته بوتم. درسته شپه يې آرام ونه کړ. پريشان ويل يې کول. چې فلانه انبار مې په ترکستان کې، فلا نه متاع مې په هندوستان کې پروت دی، دا قباله دفلا نه ځمکې ده، په فلا نه مې هومره قرض پور دی فلانه يې ضامن دی، کله به يې وويل چې سکندر يه لره به درومم، هوا ښه لري، کله به يې ويل دمغرب په لور تله نه بويه، تشويش ډير را رسيږي، اي سعدي! يو سفر مې دوړاندې دی چې هغه هم وکړم.

نور به گوښه کښینم، قناعت به اختیار کړم. وې مې: هغه کوم سفر دی؟ وې یې: ګوګړ به له فارسه چین لره یوسم او دیبایې رومي به له رومه هندوستان لره یوسم، او فولاد هندي حلب لره. اوښیښې پیالې حلبي یمن لره، او بردِیمني پارس لره، پس له هغه به ترک د سوداګرې وکړم، په دکان به کښینم. هومره ماخولیایې بیان کړه چې ورته متحیر شوم[1] آخر یې وویل چې ای سعدي ته هم څه ووایه[2] وې مې:

قطعه

په بیان کې سوداګر له اوښه پریوت
په سرلګیده په ځمکه شه نسکور
وې یې سترګې دحرص ددنیا دارو
یایې ډکې قناعت کا یا یې ګور

حکایت

[۲۰]

یو مال دار و، چې په بخل هسې مشهور و،لکه حاتم په سخاوت، امساك[3] یې هسی په وجود کې ځای نیولی و، چې که څوك په یوه لقمه له مرګه خلا صیدی ده به لقمه ورنکړه، پیشو[4] ته

۱ـ(۱)ـ که بیش طاقت گفتن نماند .
۲ـ ح: - زآنها که دیدی و شنیدی.
۳ـ (۱)ـ خست نفس.
۴ـ گربه ابوهریره را.

اچول طعام سپی⁽¹⁾ ته اچول دهډوکي ورته دخان غوښه پرې کول هډ ماتول وو⁽²⁾ آخر په لوري دمغرب په عزم د تجارت په بحر کې په کشتۍ کښیناست. لارېې دمصر ونیوه، خیال یي په زړه کې دفرعونۍ حَتّٰی اَدۡرَکَهُ الۡغَرَقُ مخالف باد والووت⁽³⁾ (دده بیړۍ یې غرقه کړه)⁽⁴⁾ لاس یې په دعا پورته کړل، فریادونه یې بې فایدې ډیر وکړه، اما سودمن نه شول.

بیت

ددعا په وقت لاس اوږد کړی په ساعت دورکړوشل
له دې هسې د عا کله دفرشتو آمین وي مل

رباعي

مال دې په کور کې که زرکه سل وي
دا گمان مه کړه چې ستا به تل وي
بهره په ورکړه ځنې حاصل کړه
دا چې نن ستا دي صبا دبل وي

راوړي یي دی هرگاه چې ده ته مرگ ورسیده. په مصرکې یې خوار عزیزان وو. په بقیه مال یې هغه تونگر شول، زړې جامې یې په ماتم کې څیرې کړې، نوې سرو پایونه یي ځان ته وریښمین

۱_سگ اصحاب کهف را .

۲_ح: فی الجمله کسی خانه او را ندیدی درکشاده . وسفره او را سر کشاده.

بیت: درویش بجز بوی طعامش نشمیدی مرغ از پس نان خوردن او ریزه نچیدی

۳_ح:- باطبع ملولت چې کند دل که نسازد شرط همه وقتی نبود لائق کشتی

۴_ز.

وسکښتل. شيخ وايي يو مې له هغو وارثانو ليده، په يوه بادپايي سور، مريونه دوړاندې په جلب کې زغله، وې مې: سبحا ن الله د بخيل مال هاله له خاورو سرهسك کا، چې دی سر په خاورو ننه باسي.[۱]

بيت

دبخيل په اموال زيری زړه دې شاد کا
چې له قيده به يې مرګ ظالم آزاد کا[۲]

له ماسره يې سابقه آشنايي وه، تر لستوني مې وينو ورته مې ووې:

قطعه

خوره خوروه حاصل ددو جهانو واخله
بد بخت کوم چې دولت ټول وبل ته پرېږدي
نيك بختان يې بهره واخلي له امواله
دی هم هسي خالي لاس ورځنې ليږدي[۳]

حکايت

[۲۱]

يوصياد و ضعيف، ماهی يې په دام کې قوي و نښت، طاقت يې د يستلو نه و، دام يې هم له لاسه يوړ.

۱ـ ز.

۲ـ ده که گر مرده باز گردیدی / بمیان قبیله و پیو ند
رد میراث سخت تر بودی / وارثان را زمرگ خویشاوند

۳ـ بخور ای نیک سیرت و سره مرد / کان نگون بخت گرد کرد و نخورد

قطعه

غلام لاړو چې اوبه راوړي له دوره
ناګاه رود پرراغی یویې وړ غلام
دام دار لاړ چې به ماهي راوړم له سینده
ماهي يو وړ ددام دار له لاسه دام

نورو صیادانو ارمان وکړ او ملا مت یې کړ، چې دا هسې لوی ماهي دې په دام ونښت، هومره مردي درکې نه وه، چې ضبط کړی دې وی. وې یې: معذور مې لرئ زما رزق په کې نه و. دده ګاهه لا رزق و.[1]

بیت

که سړي وي که ماهي رزق یې مقسوم دی
چې طلب د بل دبخرې کا محروم دی[2]

حکایت

[۲۲]

شیخ وایې یو احمق په ښه تازي آس سور، جامې اغوستې، ورښمین زرین په شان په شوکت تیریده، چا راته ووې: ای سعدي! څرنګ یې وینې ؟وې مې خط دی کښلی په اوبو د زرو کښلی.[3]

۱ـ ح ـ وحکما گفته اند" صیاد بی روزی در وجله ماهی نگیرد و ماهی بی اجل بر خشکی نمیرد.
۲ـ ف ـ صیاد نه هر بار شکار می ببرد باشد که یکی روز پلنگش بدرد
۳ـ ف ـ خطی زشتتکه بآب زر نوشتنه.

قطعه

رنګك جامې يې دسړي وينې چار پاى دى
که خبر شې د نا اهل له د رونه
په دا هومره ډير متاع په ډير اسباب کې
هيڅ يې نشته حلال بې دده له خونه

رباعي

شريف که هر څو ضعيف نحيف شي
نه چې به قدر دده ضعيف شي
دوره تنبې يې که د سرو زرو وي
ګمان ومه کړه چې جهود شريف شي

حکايت

[۲۳]

يوه غله و ګداى ته ووې چې: شرم نه لرې چې ددنيا د پاره هر يوه ليم ته لاس ونسې، خواست ورځنې وکړې. ګداى ورته په جواب کې ووې:

قطعه

لاس وبل وته په خواست اوږد کړ ى ښه دى
نه چې دوه درمه پټ کړې لاس دې پرې کا

(داد سوال ځيرې خرقې ګدای ته ښې دي
ته جامې چې بيا يې ستا په وينو سرې کا)[۱]

حکايت

[۲۴]

له يوه مشت زنه نقل دی چې له مخالفه بخته په فرياد و، شکر يې د تندرستۍ او دقدر کفاف په ځای نه راوړ، هميشه به غمجن ،ناشاد و. يوه ورځ يې له پلار مصلحت دسفر وغوښت چې نيت مې شوی د ی چې يوه لورته مسافر شم، په وطن کې سړی بې قدره وي.

رباعي

چې وطن پريږدي غريب ګوهر شي — هاله له خپله قدره خبر شي[۲]
چې ځان يو ځله په اور کې واچوي — ښکاره له پسه ښه بدا ګرشي

پلار ورته ووې: ای زويه ! دا محال خيال له سره لرې کړه، پښې دقناعت په لمن کې ونغاړه، سلامت په دا کې دی. بزرګانو ويلي دي: دولت په ډير کوشش په لاس نه رادرومي ، (دولت په بخت په قسمت مومي.)[۳]

۱ـ ز.
۲ـ ز.
۳ـ چارهٔ آن کم جو شيد نيست.

مثنوي

د دولت لمن نيوی نشي په زور
بی فايدې دي تورول سترګې دکور
که دهر وينبته په سر هنره سل وي
چې بخت نه وي له هنره څه حاصل وای
که هر څو يې قوت ډير په ليچو سخت وي
بيا به نه مومي دولت چې نګون بخت وي

زوي ورته ووې: اې پلاره! فايدې دسفر ډيرې دي. سړی پکې تجربه کارشي، عجايب غرايب ويني، وار وي، ګردش دجهان کله په يوه وار وي، سړی جهان ديده کار آزموده ښه دی.

قطعه

څو به ناست دکوردننه اوسې خامه
ګرم سرد په ځان قبول کړه چې پُخته شې
ننداره دجهان کړه ترهغه وړاندې
چې په مرګ سره له تخته په تخته شې

پلار ورته ووې: منافع د سفر لکه تا وويل تردا زيات دي، اما مسافرت پنځو کسانو لره مسلم دی:

اول: سوداګر چې ډيربضاعت لري، ښه مريونه دخدمت لري، ښايسته وينځې د صحبت لري، څوياران ورسره سواره په سفر کې مله لري. په ښه ښه ځای مقامونه کاندي، ښارونه ګوري، نندارې کوي، دمقصود په لوري په آرام تله لري.

نظم

د نعمت څښتن که غر که بیابان وي
و د اني و یراني ده وته یکسان وي
په هر ځای کې خیمه لکه سازبارگاه کا
هراسباب ورته موجود وي ځان بادشاه کا
نامراد چې په نصیب دده افلاس وي
په وطن کې ناست غریب او ناشناس وي

دویم: چې عالم وي ورته سفر مسلم و ي. په ښه فصیح کلام زړونه دخلکودبلاغت په دام بند کا، که بادشاه که امرا وي خاص وعام یې خدمتونه په ځان پسند کا، هرچیرته چې درومي عزت حرمت مومي، واړه خلق وده ته احتیاج وي، نه چې دی دچا ته محتاج وي.

قطعه

د عا لم سړی و جود په معنی زردی
په هر ملك په هر دیار کې په عزت وي
که جاهل دبادشاه زوی چې مسافر شي
په هر ځای کې به بیقدره بې قیمت وي

دریم: ښایسته که سفر ته ځي گنجایش لري، خو بروی هر چیرې سر خروی دی. زړونه دهر چا دده په لور مایل وي، ارزویې دا وي، که له ده واصل وي. که دی اصیل وي که بدذات وي دگردن

کشانو ورميږونه ورته مات وي، يو يې تر لاس ونسي چې نن ماکره ميلمه شه ورته وايي:

رباعي

راشه راشه ښايسته راشه زما د غم دجونګړې رڼا شه
په هغي لار چې ته راتللې د هغې لار بلا په ما شه

بل ورته زاري کا، چې ما کره تشريف وفرمايه. ورته وايي:

رباعي

که دزړه نه شي چې را کره ډير کړې
شل شپې خو بويه چې دا کره تير کړې
زړه مې ډوب کړی انديښنو پوچو دی
چې همه واړه را ځنې و هير کړې

هوښيارانو ويلي دي چې ښايسته دخسته زړونومرهم دي، ښايسته لرې کووني دغم دي، لږ جمال بهتر تر ډير مال، صحبت يې هر څوك غنيمت ګڼي، خدمت يې واړه په ځان منت ګڼي.

قطعه

که په قهر يې پلار وشړي له کوره
کښلي لا تر کوره بل ځای په عزت وي
چې بيرو نه له صدف شي مرغلرې
څو چې لري ملك ته درومي پُر قيمت وي
د طاوس وزر مې وليد په مصحف کې
وې مې څه دی پرچې هسې يې قربت وي

وزر ووې چې شه هرچې ښايسته وي
په هر چا باندې يي قدر منزلت وي

شلورم: خوش آواز سفر حضر ورته دواړه برابر وي. هر چې زنده دل وي، صحت يې دحواس حاصل وي، محبت به په ښه آواز کاندي. خوش آوازي لويه مرتبه ده، ځکه حق تعالی داؤ د عليه السلام لره په کمال ورکړې وه.

رباعي

دچا چې نرم حزين آواز وي لايق هر چيرته دډير اعزاز وي
د عاشقانو دزړه دمه وي سرود غمجنو سره همراز وي[۱]

پنځم: هنرمند چې ښه حرفت کسب لري، هر چير ته کفاف قدر حاجت، په موافق دخپل هنر ورته موجود وي. محتاج دبل ددرنه وي. خپله آبرو ي يې په ځای وي.

قطعه

که له خپله شهره ووځي مسافر شي
قوت به هر چرې حاصل کا کسب ګر
که بادشاه دولايت وي چې غريب شي
يا خواست غلا کا يا وي وږی بې هنر

هر څوک چې په دا صفت موصوف وي چې بيان وشه. په سفر کې به يې البته جمعيت دخاطر ميسر وي، او هر چې له دې

۱-۱_چه خوش باشد آواز نرم و حزين بگوش حريفان مست صبوح
به از روی زيبا ست آواز خوش که آن خط نفس است و اين قوت روح

اوصافو بی بهره وي له سفره يې بهره خواري، مشقت، مذلت سرګرداني وي.

قطعه

له هر چا سره چې دهر په کينه شي
رهبري يې بيهوده وته ايّام کا
دکوترې چې دانه په جهان نه وي
خواه ناخواه به الوتل په لور ددام کا

زوی ورته ووې: دحکماوو له قوله مخالفت نه بويه، ويلي دي چې رزق اګر چې مقرر او مقسوم دی، اما اسباب يې د تحصيل شرط دی. او محنت بلا اګر چې مقدره او مرقومه ده احتياطِ حذر کول ورځنې واجب.

قطعه

رزق روزي که هر څو رسي بيګمانه
بايده دي بيا طلب لتا له ما نه
بي اجله خو د معلوم چې هيڅوك نه مري
بيا احتياط کړه دا ژورو له دهانه

دا صورت دا قوت چې زه لرم په قوت په دلاورۍ به خرطوم دمست هاتي تاو کړم، په منګلو دمزري منګل. ما رخصت کړه چې سفر وکړم، آزمايش دخپل بخت سرې ته ضرور بويه، نور مې توان د بی نوايي د تنګدستي نشته.

قطعه

چې سړي له خپله کوره مسافر شي
ځه يې غم وي درست جهان شي دده ځای
تونګران په شپه ورځې و ودان سرای ته
ددرويش چې چيرته شپه هغه يې سرای
هيڅ حاجت يي په مقام په منزل نه وي
دخداي ملك تمامي کور دی دګدای

دا يې وويل، له پلاره يي وداع وکړه، دعا همت يې وغوښتل روان شه.(۱) څو منزله چې له خپله ښهره لرې ووت، په کناره د يوه رود ورسيده چې ډير زور ورتيز رود و. سنګ به يې ويشته له سنګه، آواز به يې ته په څو فرسنګه.

قطعه

هسي رنګ په تندي تللي هغه رود و
چې هيليو پکې کړی نشه قرار
په چپو به يې لا هو کړ ترساعته
که دژندري پل يي پروت وي په کنار

په هغه سيند باندې بيړی وه، ملا حانو به له هر چا ملاحي آخسته. پکې به يې کښينول، مشت زن څخه دنيار درم موجود نه و. ژبه يې په دعا په ثنا دملاحانو پرانته، زاري يي ډيره وکړه، اما ملاحانو په دا نظر نه درله، خو زريې غوښتل، ملاح بې مروت دده په اقوال افعال وخندل ناخوال يې وکړ، ورته يي ووې:

۱ـح: با خويشتن همی گفت: هنر ور چو بختش نباشد به کام بجای‌رود کش ندانند نام

قطعه

زور زاري په پردي ملك نه پكاريږي
راوړه زر چې محتاج نږي زاري زورته
(كه څه زر درڅخه شته په بيړۍ كښينه
كه زر نه لرې ورځه پستنه كور ته)[1]

دی ډير دملاح له دې پيغوره برهم شه ، انتقام ته يې عزم محكم شه، اما ملاح بيړۍ روانه كړه، ده ورپسې آواز وكړ چې كه په دا جامه چې مې آغوستې ده، قناعت كاندې دريغ نه ده. ملاح په طمع د جامې بيړۍ وجار ياسته:

بيت

طمع نور دستركو ورك د خرد مند كا
شهبازان طمع داوړكيو په دام بند كا

خو چې بيړۍ وكنار ته ورسيده، دده لاس دملاح وګريبان ته ورسيده، ځان ته يې وخكاوه. بې محابايې لت كاري كړ، نو رو ملاحانوشفاعت وكړ،خلاص يې.ورځنې په ډيرې زارۍ كړ. آخر الامر يې از راه لاچاري اومكاري بې مزده په بيړۍ كښيناوه. په نفاق يې په سر په ستركو كښل كړ، معذرت يې دماسبق ورسره مل كړ.

نظم

په نرمی چې تمامیږي هغه كار
څه حاجت چې رساوه شي تر كارزار

۱ــزرنداری نتوان رفت بزور از دريا زورده مرد چې باشدزريك مرد بيار

چې هاتي سره مهاوت شيرين زبان شي
عاقبت دده په حکم په فرمان شي
که جاهل درته ګرمي کا ته سردي کړه
په عالم کې ځان مشهور په جوانمردي کړه

بيړۍ روانه شوه. ديونان وداني چې درياب ورانه کړې وه، په هغه ځاي ورسيده. هغه ځاى مناره طور ستني وه. دزړو عمارتونو. ولاړه پاتو وه. ملاح وويل چې په دا ځاى د بيړۍ خلل شته. که څوک قوت ناك دلاور مردانه ځوان وي، چې په داستنې وخيژي، رسن د بيړۍ ونسي. ګوندې په خيريت له دې ځايه تيره شي. دمشت زن[۱] خود دا غرور دقوت او دمردانګۍ و، حماقت يې هم ورسره مل، له دښمن آزرده نه يې انديښنه ونه کړه، په قول يې دحکماووعمل ونه کړ، چې يې ويلي دی چې: هرچا ته چې رنج ورسوې که ورپسې سل راحته ورسوې هم يې له مکافاته په امن اوسه. چې تو برې له زخمه په انبور وخيژي. آزار په زړه کې له زړه عجب که په ضرور وخيژي.

قطعه

څه ښه وې وزير بادشاه ته ديمن[۲]
چې څوك خوږ کړي ځنې مه اوسه ايمن
احتياط له بداند يشه درته بويه
د ده زور که دنيم سير وي ستاوي من

۱- (۱- جوان
۲_ چه خوش گفت يکتاش با خيلتاش

قطعه

که له لاسه دې تنګي ورسي چا ته
فراغت مه شه آخر به د زړه تنګ شي
که په ګيتې دې تندي دچا زخمي کړ
ستا په مات د بل له لاسه په لوی سنګ شي
چاره نشته د هيچا له مکافاته
په دا څه که دچا زړدچا په درنګ شي[۱]

هغه نادان ځوان رسن د بيړۍ ترلاس وجاريوست، په ستنې وخوت، ملاح بيړۍ[۲] زر پرې کړه، بيړۍ روانه کړه، دی په مناره ولاړ حيران پاتې شه ،دوه درې ورځي په محنت په مشقت يې په ولاړی په هغه ځاي تيرې کړې. آخر خوب پرې زور وکړ، او بو ته يې پريوست، پس له درې ورځو سيند کنار ې ته واچوه. له حيات يې پاتو رمق، پاڼې د ونو بيخونه يې دګياهانو خوړل، لږ قوت يې حاصل شه. مخ يې په بيابان ونيو، روان شه، له تندې بې طاقته، له لوږې په ځان شه، په يوه کوهي ورسيده چې خلق پرې جمع شوي وو، پياله او به يې په بيه ورکولې. ده څخه پيسه نه وه. طلب يې ورځنې وکړ، زاري بيچارګي يې ظاهر کړه، رحمت يې له چا و نه ليده، نور يې تعدئ آغازه کړه، څو تنه يې ووهل، چې پرې ډير شول وې واهه، زخمي يې کړ.

۱ـز.
۲ـدالفظ همداسی ليکلی دی، خو دلته پری(رسی) زيات موزون ښکاري.

رباعي

ماشي چي ډېر شي هاتي په ځان کا
ورځني تښي ځان ترې پنهان کا
میږي چې ټول شي اتفاق وکاندي
خیرې ځرمن د شیر ژیان کا

از راه ضرور خسته اومجروح په کاروان پسې روان شه (افتان خیزان ورورسیده)[1] په شپه په هسی مقام ورغله چې له غلونو له قطاع الطریق خطر ډیر و، کارواني واړه په لرزه په هیبت وو، له ماله له ځان نا امید. ده ورته وویل، چې هیڅ غم اندوه مه کاندئ، یو زه په تاسو کې بس یم، چې د پنځو سو قوت ناکو ځوانانو ځواب کړم، چې تاسو هم راسره مددګار واستی. (که ډیر وي هم شرمنده به شی)[2] ده په لافو کاروانی قوي دل شول، د ده په صحبت په رفاقت یې خوشحالي وکړه، خوراك یي ډیر ورته ټول کړ، دی د ډیرو ورځو وږې تږی و، په اشتهاء تمام هغه آب و طعام نوش جان کړ، دیویې دنس آرام ونیو اوده شو، یو پیر مرد په کاروان کې و جهاندیده، کار آزموده، وې وې: ای یارانو! زه لکه ستاسي له دی بدرقی په ویره په هراس یم، له غلو نو هومره تشویش نه لرم، لکه نقل دی چې یوه اعرابي ځخه ځو درم ټول شوو، په شپه به دغلونو له ویرې تنها خوب نه ورته. آخریې یو له ځان سره محرم کړ، چې په شپه یې یو ځای ګذران کاوه، وحشت یې برطرف شو، پس له ځو

---

۱ ـ ز.
۲ ـ ح: کسی گفتش حال چیست؟ مگر آن در مهای ترا دزدبرده؟ گفت...

شپو هغه شخص دده له درمو واقف شو، واړه يې ترى يو وړل، بل ملك لره يي سفر وکړ، اعرابي صبا ګريان عريان ګرځيده، کو څه په کوڅه به يې ناري وهلې[۱] چې لا والله بدرقه برد (يعنى سوګند مې دې وي چې مال مي هم هغه يووړ چې ما بدرقه کړى و.)[۲]

قطعه

چي له خويه له خصلته يې خبر شې
له هغه پس فراغت کښينه له ياره
ډيردښنه چې دوستانو په لباس وي
ورته ورسي آزار ددوى له چاره

مصلحت هم دادى چې دى اوده په ځاى باندى پريږدو، خپل متاع بار کړو، وليږدو. شايد دى هم دغلو نو مل وي، دايې راسره واړه مکر و دغل وي، واړو دده رايې خوښ کړ، له هغه ځايه يې هغه ساعت وکښل، دى يې اوده پريښه. مشت زن هاله بيدار او خبر شه چې لمريې په سر جلوه ګر شه، که سترګي يي ومښي نظر يي په هر لوري وکړ، ياران هسي لاړ نه وو، چې په نظر يي کښيوتى، حيران مضطر شو، زړه يې په خپل هلاکت کښيښ، هم په هغه ځاى کښيناست له ځان سره يي دا زمزمه کوله:[۳]

۱ـ ز.

۲ـ جـو مهابى از مشت زن در دل ګرفته.

۳ـ ۱ـسربر آورد – کار دا نيانرا نديد. بى چاره بسى بګرديد و راه بجاى ندانست. تشنه و ګرسنه لا بى نوار وى بر خاك ودل هلاکت نهاده، ميګفت.

نظم

چي يې نه وي دسفر محنت ليدلی
هغه نه وي د وطن لذت موندلی
دبې کسو کسّ! فضل په ماو کړي
دوطن په رسيدو مې خاطر ښه کړې
چې خدمت همیش کوم دغريبانو
له محنته خبر شو م د غر يبا نو

هم هسې رنګ په هغه مقام نااميد له ژوند ونه ناست و، چې يو بادشاه زاده ښکار ته وتلی و، قسمت په ده برابر کړ چې په حال يي دده نظر وکړ، صورت ظاهري پاکيزه ښايسته وليد، پوښتنه يې ورځنې وکړه چې له کومه ځايه راغلې، وطن دې کوم دی؟ سرګذشت يې اول آخر چې څه پرې تير شوی و واړه عرض کړ، دبادشاه زاده شفقت پر باندې وشه، خلعت ډير نعمت يې ورکړ، يو اعتمادي خدمتګار يې ورسره کړ، خپل ښار ته يې ورسوه، پلار يې په ليدلو شادماني وکړه، دده په سلامت حال يې شکر وکړ، په شپه سره ناست وو، د سفر حال يې واړه پلار ته بيان کړ، حقيقت د بيړۍ دملاحانو د بې مروتۍ دکوهي، دکاروان احوال يې يو يو ورته عيان کړ، پلار ورته ووې: اي زويه ! ماخو درته ويلي وو، چې هر څوك خالي لاس وي، که په زړه په زور تر مزري پاس وي، هر چا ته بې قدره خوار وي، که په خپل ملك وي که په بل ديار وي.

رباعي

څه ښه ويلي زورور خوار دي
پند به تر اخلي چې څوك هوښيار دي
تر او يا منه زوره سړي ته
زر داور بشې مقدار پكار دي

زوى ورته ووې چې اى پلاره! څو رنځ يو نسى گنج يونسى، څو دځان خطر اختيار نه كړې په دښمن به ظفر نه مومې، راحت لره به هاله ورسي چې دمحنت په لار درومې. كه مشقتونه مې وڅكول زرمې راوړل.(۱)

نظم

كه له رزق زيات سړى خوړلى نشي
په طلب كې كاهلي كولى نه شي
غو اصان كه انديښنه كه له نهنگه
تر و په څه به يې گوهر رسي ترڅنگه

پلار ورته ووې: اى زويه! داخل خو بخت درسره مدد وكړ، اقبال د رهبري وكړه چې گل دې له اغزيو اغزى دې له پښې را ووت، يو صاحب دولت دربانديې حضر صفت حاضر شه ستا په حال يې رحم وشه، دستگيري يې دتا وكړه، تر وطن يې له نعمت سره را

۱-(۱)- نبينى كه باندك رنجى كه بردم چه راحت آوردم: و نيشى كه خوردم چه مايه عسل بدست آوردم.

ورسولی[۱] ډیر څه یې مفت درانعام کړه، دا هسې په جهان کې نادر واقع کیږي (النا درکا لمعدوم)[۲] نادر لکه نشت هسې دي . اعتبار لره نه ښايي.[۳]

بیت

تل به نه اخلي صیاد بهره له ښکاره
یوه ورځ به پلنګ دی یوسي ترغاره

حکایت[۴]

[۲۶]

یو له ملوکانو ګوتې یې قیمتي په ځای دنشاني کښیښوه، حکم یي په حکم انداز انو چې دده دمجلس و، وکړ چې دهر چا غشي چې ددې ګوتې تر حلقه و ووت دا دهغه. څو نصوتیر اندازان کښیناستل. ګذارونه یي کول، وارو خطا کړه. مګر یو هلك چې د خپل کور په بام ولاړ و هر لورته یي غشوتې غورځول. باد یو غشي دده راوړ تر حلقه یې دګوتې ویوست، بادشاه نعمت او خلعت او هغه ګوتې ورو بخښل. هغه هلك غشي لینده زر وسول، چا ورته وویل چې ولې دا فعل وکړ. وې یې چې اول رونق مې په ځای پاتو شي.

۱ــ ز.
۲ــ ز.
۳ـ ف. زینهار تا گرد این دام نگردی.
۴ـ ف. چنانچه (یعني دا نوی قصه نه ده بلکه تیری قصې سره تړلې ده)

قطعه

کله کله له دانا تجربه کار
موافق د مراد را نشي تدبير
تير انداز حکم انداز نخښنه خطا کا
برابر په نخښنه شي د هلك تير
(بې قضا نخچير نيژدې توپچي خطا کا
دشپانه په سنګ ومري هغه نخچير)[1]

حکايت

[۲۷]

يو درويش و له جهان يې غار اختيار کړی و، لار يې دآمد ورفت دخلق په ځان بند کړې وه، په مسند د قناعت متمکن و، بادشاهان يې دهمت په سترګو کې حقير ښکاريدل.

قطعه

چې يې طمع له بادشاه له امرا وي
هميشه ورته محتاج او نيازمند وي
چې حرص له ځانه لرې کا قانع شي
سرکوزی نه کا وچا ته سر بلند وي

۱ـ ز.

یو له بادشاهانو دهغه لوري دده په زیارت ورغی، عرض یې ورته وکړ چې امید له اخلاقه دبزرگانو داد ی چې په حکم ددې چې اجابت دډعوت سنت دی دبنده روټۍ قبوله شي. شیخ مهماني دده وخوړه. بله ورځ چې بادشاه په زیارت ورغی، درویش ورپاڅیده، بغل گیري یي ورسره وکړه، ډیر پرې مهربان شه، اوصاف حمیده یې د بادشاه بیان کړه، چې بادشاه رخصت شه، یو یار ورته عرض وکړ چې نن دې له بادشاه سره په خلاف عادت صحبت ملا طفت وکړ، څه حکمت و؟ شیخ وې: اوریدلې دې نه دي:

قطعه

چې د چا په بساط کښیني خان میلمه کړې
په سفره و خورې دده، دده طعام
تلافي يې بیا په تابا ندې واجب شي
چې یې کړې په ښه دعا په ښه اکرام

حکایت منظومه[۱]

غوږ توانیږي که په عمر تمام دی
آوازوانه وري د د فو چنگ ونی
سترگې توان لري که ترك لیدل دباغ کا
له ښه بویه ډیر مدت شکیب دماغ کا
خوله که نه مومي حلوا خوړه شیرینه
لا به گوره اتوپ ښه تر حلوا خورینه[۲]

۱ـ ۱ـ مثنوی .
۲ - (دې شمیرې نه په چاپي نسخه کې څه نه دی لیکل شوي - مهتم)

که نهالی د بخمل نه وي تر اړخ لاندې
هم خوب کیږي په پوزي په څمکه باندې[۲]
سر هم خوب کابی دپرونو له بالښته
چې يې کيږدي يا په کاڼي يا په خښته
که په غيږ کې د ځانه وي ښه دلبره
په ساړه کې دواړه لاس ترسينې وره
(که آس نه وي چې پرې سورپه ډيرآرام شي
هم منزل ته رسيدنه په خپل کام شي)[۳]
اما ګيډه چې خالي نه ده له پيچه
بې ډك واليه قراري نه کا له هيڅه

۱ ـ (دې شمېرې نه په چاپي نسخه کې څه نه دي ليکل شوي ـ مهتمم)
۲ـ ز.

څلورم باب

په بیان دخاموشی

حکایت

[۱]

شیخ وايي چې يو له دوستانو و چې خاموشي يې اختيار کړه. ورته مې ووې: سبب د منع له خبرو څه دی؟[۱] وې يې: غالب اوقات په خبرو کې نيك بد واقع کيږي او سترګې ددښمنانو په عيب بينا د ي، په هنر ړندې، وې مې: بهتر هم دا دی، چې دشمن هنر نه ويني:

قطعه

که په سترګو دغليم عيب هنر شي
ښه چې ګل شي ستا دده دسترګو خار[۲]

۱ـ «یکی را از دوستان گفتم که امتناع سخن گفتم، بعلت آن اختیار آمده است...» (يعني خاموشی شیخ سعدی اختیارکړ ي ده نه چي دوست يي.)

۲ـ هنر به چشم عداوت بزرگتر عیبی است   گلست سعدی و درچشم دشمنان خار است.

نور افشان لره خدای نمر په جهان باندې
ښاپيرك وربانديې ړوند وسه تل خوار

حکايت

[۲]

ديوه سوداګر زر دينار نقصان شول. زوی ته يې ووې چې دا خبره چا ته ونه وايې. زوی ورته عرض وکړ: هر چې ستا حکم، نه به وايم، اما په داسَر مې واقف کړه چې پکې څه فايده ده، کوم مصلحت په نه ويل؟ وې يې چې دوه زيانه ونشي، يو نقصان شوه سرمايه‌بل به خوشحال شي زموږ په زيان همسايه.

بيت

که اندوه دې په زړه شي چا ته مه وايه احوال
نيکخواهان به دې ملا ل شي دشمنان به دې خوشحال

په دا مقام رباعيِ د صاحب و قبله ولي نعمی خوشحال خټك حق تعالی دی په قبر نور کاړا ياده شوه په طريق د تبرك مرقوم شوه:

رباعي

غم دغليم و ته له دله دور کړه
خانده هوس کړه ښادي سرور کړه
که مخ دې زيړ شي له دلګيری
ته يې په دواړه څپيړې سور کړه

حکایت

[۳]

یو ځوان و، خرد مند، له عمله له فضله بهره مند، له هره فن یې خط حاصل و، اما په مجلس کې به چې ددانشمندانو ناست و، ژبه یې له ګفتار ه بنده وه. ګفتګوی به یې نه کاوه، پلارورته ووې ته هم چې څه پوهیږې وایه، وې یې: ویریږم چې څوك مې به له هغه پوښتې چې پرې نه پوهیږم شرمسار به شم.

قطعه

یو صوفي د خپلو کوښو — مګر ټك وهل میخونه
سپاهي وینو تر لستوڼي — راشه ټك وهه نعلونه
آس مې تلی بې نعلو نشي — ډیر پاسته لري سومونه
چې خوله پټه سړی ناست وي — څوك پرې نه کاغرضونه
چې تر خولې ویل اظهار کا — نور ترې غواړې حجتونه
خاموشي دا نا ته ښه ده — که هر څو لري علمونه

حکایت

[۴]

یوعالم معتبر په آیات په حدیث خبر، له یوه ملحد سره یې منازعه واقع شوه. په حجتونو په دلیلونو هغه نامعقول معقول نه

شه، عالم ورځني روان شه، ورته يې شاکړه. چا ورته ووې: دا هومره ډير علم لرې، ديندارېې، له دې بې دينه سره مباحثه کولی نه شې، ترې وجاروتې. وې يې: زما علم قرآن،حديث ګفتار دعلما وو دی، خبيث ددېو معتقد نه دی. نه يې آروي، ما ته آوريدل دده دکفر څه فايده؟

بيت

تسلی يې دخاطر چې په آيات په حديث نشي
له هغې سره عالم ته ضروري سکوت بايده شي

حکايت

[۵]

جالينوس حکيم يو ابله وليده، چې ګريبان يې ددانشمند نيولی و، بې حرمتي يې ورته رسوله. حکيم ووې: که دی دانا وی، له نادانه سره به يې کار تر دې حده نه رساوه.

نظم

دوه عاقل په هرګز نه کا ځبله جنګ
نه جاهل سره دعوې اهل فرهنګ
که نادان سړی دا نا ته سخت ويل کا
په نرمي ويل دانا نادان خوشدل کا

دوه هوښیار ځبله ساتي سپڼسی او مړی
دوه جاهل شلوي دا وسپنو سازپړي
ونیك خوی ته چا بد خوی وکړ ښکنځل
نیکخوی ووې ای نیکخو یه نیك فرجامه
دا چې ته وایې زه ډیر تر دا بتر یم
زما پوهه ده تر تا په ځان تمامه

حکایت

[۶]

سحبان وآیل په فصاحت کې بې نظیر و، ضرب المثل شوی دی په عالم کې. په دا سبب چې یو ځل به یې یو لفظ چې بیان کړ، تر کاله به یې هغه لفظ مکرر نه کړ، مذکور به یې په بل بل لفظ کاوه، که اتفاق به هم دهغې ویلې خبرې بیا د ویلو واقع شه، په بل عبارت به یې اداء کړه، دا هم له جمله و دادبونو دی چې یو لفظ بیا ویلی ته بویه.

مثنوي

که خبرې هر څو ښې وي سحر آمیزه
چې بیا بیا شي آخر شي ملا ل انگیزه
چې یو ځل خبره ووایې نو بس کړه
نه یوه وینا بیا بیا په هر نفس کړه
چې خوږه حلوا دې وخوړه یوځله
زر هغې حلوا ته نشې د زړه ځله

حکايت

[۷]

يوه حکيم په خپل نصايح کې ويلي دي چې: هرګز په خپل جهل سړی اقرار نه کا، مګر هغه سړی چې بل خبره کا، دی تر منځ ګډ شي. دهغه خبره ناتمامه پريږدي، دی خپله خبره آغاز کړه.

مثنوي

دخبرې هم آغا ز هم يې انجام وي
په خبره کې خبره کا چې خام وي
هر سړی چې روشن رايه صاحب هوش وي
ويل هاله کا آغاز چې نور خاموش وي

رباعي

چې د خبر و تر منځ خبر ې کا
سپی دی تميزې څوک دې يې کورې کا
چې څوک يې نه پوښتي خاموش دې اوسي
که هر څو تويې ترخولې شکر ې کا

حکایت

[۸]

دسلطان محمود له نوکرانو څخه حسن میمندي ته ووې، چې نن تا ته سلطان په فلا نه مصحلت کې څه فرمایلي وو؟ وې یې: له تاسې به هم پټ نه وي. هغه ورته ووې: (هر چې تا ته وایي موږ غوندې سړیو ته کله وایي) وې یې په دا امید راته وایې چې چا ته به یې نه وایې، پس ولې مې پوښتې؟

رباعي

سرد شاهانو چې څوك نه ژغوري
په سریې کانې دبلا وو رې
چې محرمان دي هغه په ځان دي
بې مرضي کله ګوري یا ښوري

حکایت

[۹]

شیخ وایي یو سرای مې د سکونت دپاره اخست، په بیع کې مترددوم، چې آخلم که نه آخلم. یو جهود راغی راته یې ووې چې: واخله زه ددې محلت کد خدایم، داځای هیڅ عیب نقصان نه لري. وې مې: تر دا به بل عیب کوم وي، چې ته مې به همسایه وې.

قطعه

چې د تا غوندی نا پاك يې همسايه وی
که په لس درمه ارزي دا کور گران دی
چې ته ومرې له هغه پسه که يې اخلې
که پرې زرد رمه ورکاندې ارزان دی

حکايت

[۱۰]

يوشاعر په وخت د ژمی مدح وکړه، دغلونو سردار ته يې وروړه، په دا اميد چې څه به را کا، د ژمي له پوشاك به فارغ شم، حکم يې وکړ چې اغوستې جامې ترې وکاږئ، له وره يې بيرون کاندئ.بيچاره په ساړو کې برهنه روان شه، سپي ورپسې شول. لاس يې کښته کړ. چې کانړی واخلی، سپي له ځانه لرې کا، ځمکه يخ شوې وه، کاڼي يې په لاس نه ورته، وې يې چې حرامزدگان دي، سپی يې پرانتل،کاڼي يې وتړل. دغلونو سردار احوال دده له دريچې وليده، دا دده ويل يې واوريدل، ډيريې وخندل. وې باله، ورته يې ووې: خپل مقصود معلوم کړه، چې حاصل يې کړم[۱] وې يې ستا له انعامه ويزار يم خپلې جامې را وبخښه.

۱ـ (۱)ـ گفت ای حکيم چيزی بخواه.

قطعه

د نیکۍ امید سړی له سړي کا ندي
زه دښو طمع له تانه کړم بدمه کړه
(خام طمعي مې دا منګير شوه تا ته راغلم
خدای رانده له طمع اهل خرد مکړه)[۱]

حکایت

[۱۱]

یو نجومي کورته راغی له حرم سره يې یو نامحرم په خپل حرم کې ولید چې ښکنځل يې ورته وکړ، هغه هم ورته په څواب کې بیهوده ګویي، یاوه ګويي وکړه، شو روغوغا جنګ تر منځ واقع شه، صاحبدل دا حقیقت واوریده وې يې:

نظم

ته چې نه لرې خبر له خپله سرایه
له آسمانه څه خبر يې راته وایه
(بیګانه سره پرته نه ویني زنه
له نجومه لا فې مکړه دروغزنه)[۲]

۱ـ ز.
۲ـ ز.

حکایت

[۱۲]

یو خطیب و، کریه الصوت له آواز یې خلق په ځان وو، اما په سبب دده دجاه بلایې دده بد آوازي ښکوله، هیڅ وینا یې ورته سخته نرمه له دې بابه نه ویله، یو له خطیبانو دهغه محلت چې له ده سره یې عنادو، ورته راغی وي یې: خوب مې لیده چې ستا ډیر ښه آواز دی، خلق ستا له خوش آوازۍ په راحت دي. خطیب یو ساعت اندیښنه وکړه، وې یې: ډیر مبارک خوب دې لیدلی دی، معلوم شول چې آواز ښه نه لرم، خلق زما له بلنده آوازه په زحمت دي، نور مې عهد کړی، چې خطبه به نرمه لولم، لوړ آواز په پریږدم.

قطعه

د یارانو له صحبته آزرده یم
چې زما عیبونه نه ښیي وماته
تر دوی ما وته شوخ چشم غلیم ښه دی
دعیبونو آئینه کیږدي مخ راته

حکایت

[۱۳]

په مسجد کې د بخارا دښار یو مؤذن چې له آواز یې اهل مسجد څه چې اهل محله په تنګ وو، صاحب مسجد مرد نیکو

سیرت او با مروت څوك و، له حیايې منع کولی نشه، چې چیرې آزرده به شي، ورته يې په اشاره وویل چې: ددې مسجد موذنان قدیمي شته، ستا په اذان ویل دوی آزرده خاطر ملول ناست دي، پنځه دیناره مې سالیانه ورکول، تا ته به لس دیناره درکړم که بل ځای لاړ شی، آذان وایې، دوی په دستور اول دلته په دې مسجد کې آذان وايي . ده قبول کړه، لس دیناره يې واخستل روان شه، پس له مدته بیا راغی، صاحب مسجد ته يې وویل چې: تا په ماستم وکړ چې په لس دیناره دې له هغه ځایه لرې کړم، بل ځای ته چې ورغلم شل دیناره راکوي چې بل ځای لره لاړ شه. امیر ډیرو خندل، له ډیرې خندا په زمکه پریوت وې یې: زنهار چې پنځوس درم درنکامه راضي کیږه ، ورځنې مه درومه.

قطعه

له بهشته راوتلی ښه آواز دی
په عالم باندې يې ځکه اثر کیږي
د وزخي به لکه خر هسې آواز کا
په حیوان کې صوت دخرونو انکر کیږي

پنځم باب

په بیان د عشق او د ځوانی

حکایت

[۱]

حسن میمندي ته چاووې چې سلطان محمود هومره ډېر مریونه لري، واړه صاحب جمال، پسندیده افعال، له هېڅ یوه سره دا مهر محبت نه لري، لکه له ایاز سره، څه حکمت دی ، باوجود چې دایاز هومره حسن هم نشته؟ وې یې: هر چې زړه ته پریوځي په سترګو کې کښلی ښکاریږي.

مثنوی

چې د پادشاه مهرپرې وشي   واړه بد د هغه ښه شي
هر سړی چې بادشاه رد کا   خپل پردي یې واړه بدکا
زړه بادشاه قالب رعیت دی   په قالب یې حکومت دی(۱)

۱ــز

رباعي

په چا چې و شي نظر د مينې
که هر څو بد وي ته يې ښه وينې
مجنون ته کله ترليلې کښلې وي
که ليلې توره وه نورې سرې سپينې

حکايت

[۲]

ديوه دولتمند خدمتګار و، ښايسته نادر الحسن، نظر يې ددوستۍ ورباندې ډير و. يوه مصاحب ته يې وې: دريغه دا مريې زما په دا حسن شمايل چې دده دي، که زبان دراز او بې ادب نه وی. هغه ورته ووې چې: هرګاه اقرار ددوستۍ او دمحبت وکړې توقع خدمت ترې مه کوه. چې عاشق معشوق تر منځ راغله مالکي مملو کي پاڅيده.

مثنوي

چې خواجه دخپل بنده سره عشقباز شي
دده ناز دې په سرو ړي که يې پرې نياز شي
که اول يې دی صاحب و اوس نفر دی
عاشق کله له معشوقه برابر دی

حکايت

[۳]

يو پارساو، پرهيزګار، په محبت ديوه شخص ګرفتار، نه يې توان دګفتار، که هر څو يې ملا مت غرامت څکاوه، ترك يې دده دصحبت کولی نه شه. دا به يې وې:

قطعه

ګمان مکړه ای زما د سترګو نوره
چې لمن به دې پرېږدم په تيره توره
نام ناموس که له ماځې پروا دار نه يم
خدای دې نه کاندي ستا مينه له ما دوره

يوه ورځ يوه له دوستانو ملا مت کړ، چې ځان دځه په عالم کې فضيحت کړ، نفسِ خسيس درباندې غالب شه، زړه دې ځکه دهوا په لوري راغب شه، يو زمان يې سر کښته کړ، پس له فکر ته يې داووې:

قطعه

چې سلطان دمحبت په خاطر زورکا
ورته کله د تقوی استقا مت شي
پاك دامن به لمن څرنګ ساتي پاکه
ترګريوانه غرق په لای دمحبت شي

حکایت

[۴]

دیوه زړه له لاسه لاړ و، په خطرناك ځای نښتی چې ویره دهلاکت وه.

نظم

نه په زور په لاس راځي نه په سل زرو
خدای دې نه کا څوك مین په زوره ورو
چې حاصل نشي پرې وصل ددلبرو
تورې خاورې شه په سر دهغو زرو[۱]

چا ورته نصیحت وکړ، چې له دی خیال محال اجتناب وکړه، خلك په دا بند اسیر دی[۲] هیچا ته یې وصال میسر شوی نه دی، که دولتمند که فقیر دی[۳] بیچاره وژړل وې یې:

قطعه

نصیحت وماته مه کاندی دوستانو
په هر څه کې زه مراد غواړم ددوست
که په مهر راڅښنوي شربت دوصل
که په قهر مې وکاږي دسر پوست[۴]

۱ـ چو درچشم شاهد نیاید زرت — زرد خاك یکسان نماید برت.
۲ـ ح:- و پای در زنجیر. ۳ـ ز .
۴ـ جنگ جویان بزور پنجه و کتف — دشمنان را کشند و خوبان دوست

شرط دیاری دمحبت دانه دی چې له ویرې دځان جانان ته شا کوم.

قطعه

چې په مینه کې یې غم دخپل وجود وي
مدعي دی لباسي دی د روغزن
که وصال درته حاصل د جانان نشي
په طلب کې یې مردي ګڼه مردن
یا به بخت دیار آستین درکه په لاس کې
یادده دآستانې کړه خاورې تن

هر چې دده متعلقان دلسوز وو، از راه شفقت او دلسوزي نصیحتونه ورته مقرر کول، اما ده به هم دا مکرر ویل:

رباعي

په سوبه یاره له تانه صبر کړم
یامې به یار شي یا به ځای قبر کړم
عشق مې په مثل د خوني ببر دی
زړه تا په خوله کې دخونې ببر کړم

قطعه

یوه کبنلی خپل عاشق ته په رموز وې
چې ستا زر مې پکار نه دي مرغلرې

که په مینه کې سرخس ګنې نیږدی شه
که دسر و یره لرې بد مرغه لرې

چا هغه بادشاهزاده چې دده منظور نظر و، خبر کړ چې دلته یو ځوان دی، خوش طبع شیرین زبان، درد آمیز خبرې ورځنې عجایب آوریدی شي. هسې معلومیږی چې آشفته دی، شور دمینې په سر کې لري، بادشاه هزاده په سواري کې وروجار ووت،ورغی، درویش دل ریش وپوهیده چې عزم ده ته دراتلو لري. په ژړا په واویلا شه وې ویل:

بیت

هغه چا چې زه وژلی یم را دromي
دلسوزي په خپل مقتول کا ثواب مومي

شاهزاده از روی عاشق نوازي په ملا یمت ورځنې پوښتنه وکړه، چې ځوك يې؟ له کومې راغلی يې؟ حال دځه دی؟ کوم صفت هنر دې حاصل دی؟ هغه درویش هسې په سیند د محبت غرق و چې توان يې ددم دوهلو نه و.

بیت

که ډیر علم يې حاصل چې آشفته شي
په خاطر يې همه واړه نهفته شي

بادشاهزاده ورته ووې چې ولې له ماسره خبرې نه کړې؟ زه هم داخل په حلقه ددرویشانو یم. بلکه ددوی دحلقه بګوشانو یم،

پس يې په قوت دمعشوق داستيناس او له کمال موانسته سرېې ورته پورته کړ، وې يل:

قطعه

زه په مثل لکه چراغ يم ته مثال د لمر رڼايې
چې دمخ نه وينم سوزم مرم چې مخ راته ونمايې[1]
داعجب دی چې وجود زما باقي ستا په وجود دی
بې تا سوزم په تا مرمه زه مړ نه يم ته دې پايې

دا يې ووې ، آه فرياد يې په زوره تر خولې ووت ، ځان يې په حق تسليم کړ.

بيت

په وصال کې که ځوك ومري دا عجب مه ګڼه ښايي
عجب دا چې په هجران کې عاشق څرنګ ژوندی پايي

حکايت

[۵]

يو له متعلمانو چې صورت سيرت يې کمال درله د معلم په واړو شاګردانو کې په ده ميل زيات و، زجر تنبيه يې لکه دنورو هلکانو کاوه، دده يې کړی نشه. کله به يې چې په خلوت کې بيا موند ورته به يې ووې:

۱ـ ز- دا کوم بل شاعر د شعر ترجمه ده.

قطعه

هسی رنګ په تا مشغول یم آفتاب رویه
تر تا ځار شه که دلبر دي که دلبرې
که مې سیخ په سترګو سیخ شي خدای دې نه کا
چې به سترګې ستا له مخ کړم لرې برې

یوه روځ هغه هلك ورته وویل چې لکه تربیت مې دعلم کوې، راته یې ښیې هسې مې نظر په اوصاف په اخلاق هم کوه، په ښه بد مې واقف کړه چې تبدیل یې کوم. ذمیمه په حمیده بدلوم. معلم ورته ووې چې دا پوښتنه له بل چا کوه، چې ما ته ستا بې هنرونو عیبونه نه ښکاریږي.

قطعه

دحاسد د بداندیش سترګې ړندی شه
همیشه دبل په عیب کا نظر
که په ځان کې پسل عیبه یو هنر وي
په نظر ددوست راځي هغه هنر

حکایت

[۶]

شیخ وایې یوه شپه یاد لرم چې یار عزیز تر وره راننه ووت، زه هسې له هوسه په تعجیل بیخوده ورپاځیدم، چې چراغ مې په لستوڼي سره ګل شه،په طریقه دمعذرت مې ورته ووې:

قطعه

بړ بړ راشه په غابښ در په لبومُله
زنخ سيبه بادام چشمه په مخ ګُله
ددې خونې رڼايې ته يې ته دې ناست وې
نقصان نشته که ډيوه شوه له موږ ګُله

ده راته عتاب آغاز کړ، چې زه دې وليدم، چراغ دې مړ کړ، وې ومې په دوه معنیٰ: يو دا چې ګمان مې وشه، چې لمر وخوت، دويم دا په خاطر راورسيده لکه ظريفانو ويلي دي.

قطعه

که چراغ ته خزنده مکروه نيژدې شي
زرله زريې په وژلو خوا سره کړه
که دلبر شيرين زبان شکرين لب وي
تر لستوڼي يې زرنسه شمع مړه کړه

حکايت

[۷]

شيخ وايې يو له دوستانو و، ډير مدت مې ليدلی نه و، ناګاه په وره راننه ووت و ې مې چيرته وې ؟ ډيرښا مشتاق وو، وې يې مشتاقي دوصالت بهتر تر ملا لته .

مثنوي

ډير پس راغلې ای زما يار ه سر مسته
زر به پرې نږدم دتا لمن له دسته
وې يې پس پس ديدن ښه دی ای نادانه
د وصال قدر پيدا شي له هجرانه

ښائسته چې درفيقانو سره درته راشي، و پوهيږه چې نيت د جفا لري، چې تنها درکره قدم رنجه کا، راشي،عزم دوفا لري.

نظم

يو ساعت چې له اغيار سره ګډ يارشي
په خاطر مې اندوه غرونه غرونه بارشي
په خندا يې وې زه شمع د مجلس يم
پتنګان به ډير زما له سره ځار شي

حکايت

[۸]

شيخ وايې په وقت د ځوانۍ زه يو دوست لکه دوه مغزه د بادام په يوه پوست کې مو به صحبت کاوه، اتفاقاً چيرته يې غربت اختيار کړ، پس له مدته بيا راغی، ګله يې وکړه، عتاب يې آغاز کړ، چې په دا هو مره مدت کې تا قاصد را نستوه، وې مې:دريغ افسوس ما ته چې سترګې د قاصد ستا په جمال روشن وي،زه محروم.

قطعه

له غیرته مې زړه تور صورت شي نرم
چې په خط يې مقابل شي د خط توري
ترو په سومې به رشك نشي له قاصده
له ليدو يې زه محروم دی به يې ګوري

حکایت

[۹]

یو دانشمند و په محبت دیوه شخص بند و، رازيې د محبت ښکاره و، په عالم يې ګريوان پاره، جوريې فراوان وليده، تحمل يې زيات تر بيان کاوه، یو ځل یوه یار ورته تصیحت په نرمۍ آغاز کړ، چې اګر چې ستا په دا مودت کې علت نشته، اما بِنايې دمحبت په ذلت یبني ده، لا یق دعلما ؤ دقدر نه دی چې ځان په دا مهتم کا او لمن د فضیلت ملوث.جور د بې ادبانو ښکوئل، جفا دجفا کارونو زغمل، تا ته مناسب نه دي، وې يې: وروره ! لاس دعتاب زما له لمن کوتاه پستنه کړه، بار ها دا نصیحتونه ما زړه ته کړي دي، صبر شکیب دده په جفا را باندې آسان دی نه ليدل، دده دمخ راته ګران دي. حکماو ويلي دي: زړه په مجاهده کښېښول سهل دی ، تر منع کول د سترګو له مشاهدې دشاهد.

رباعي

پند راته مه کړئ برادرانو ودانی ځار شه دعشق تر ورانو[۱]
ږیره په لاس کې دنورو ورکا څوك چې زړه ورکا و دلبرانو[۲]

نظم

تر نباتو لاخواږه دي ستا ترخه ترخه ویل
ډیر دپیر تر دعا بِه دې ستا دخولې ښیرې ښکنځل
دواعظ په نصیحت مې لا په یار مینه زیاتیږي
سرې لنبې دي نه ډیوه ده چې به مړه شي په پوکل

قطعه

هر چې بې له ده روزګار کولی نه شي
که جفا درسره کا بویه چې وړه شي
که په قهر یې سرې په مهر بولي
په هر څه چې دي راضي هم دې هغه شي

حکایت

[۱۰]

شیخ وایې چې په وقت مې دځوانۍ له یوه سره سِر دمحبت و، په حکم ددې چې په خوی په روی ښنتن داعتدال او صاحبِ جمال و.[۳]

۱ـ ز.
۲ـ ح: آهوی پالهنگ در گردن نتواند بخویشتن رفتن
۳ـ ٯ ـ حلقی داشت طیب الاداو خلقی داشت کالبدر فی الدجیٰ.

رباعي

نن چې په حسن دکښلیو سر دی
هم هغه ښکلی زما دلبر دی
سیرت یې لاتر صورته ښه دی
خدای یې را پیرېده عجب بشر دی

رباعي

په خوله په ژبه آب حیات و په شونډو شهد و مصري نبات و
دعارض خط یې نوی نبات و ثویې صفت کړم ترهغه زیات و

اتفاقاً په خلاف زما درأی حرکت ورځنې صادر شه، چې آزرده مې ځنې خاطر شه، لمن مې تر دوستۍ وڅکوله، مهره مې د مهر ورځنې واخستله ورته مې ووې:

قطعه

له دیه پسه ورځه ځان لره خپل کار کړه
چې ېېزړه باندې ښه کیږي هغه یارکړه
موږ ماړه شو ستا له نازه ستا له خیاله
له دیه پسه بل پیدا دناز خریدار کړه[1]
ارویدل مې چې راځخه روان شه په تلل کې راته ویل:

۱ـ ز

مثنوي

ښاپيرك دنمر له وصله كه محروم شه
په ښايست كې دنمر وايه نقصان كوم شه
چې رونق زما د حُسن د بازار وي
ډير به تا غوندې زما دناز خريداروي[۱]

زما په زړه دده ديو بيتونو ډير اثر وكړ، ورپسې مې غږ مكرر وكړ،وې مې:

مثنوي

راشه راشه ما خپل خون درته بخښلی
كه په غم دې هر څو زړه وي زما لښلی
ستا له لاسه ستا په تيغ سره مړ ښه يم
په هجران دې كه ژوندی پايم ښه نه يم

اما ده پستنه التفات ونه كړ،هم هسې په قهر په غضب روان شه.

قطعه

ما له شرمه نور څه نه وې ده له قهره
خو هم هسې رنګك له قهره په تلوار ولاړ
هيڅ نظر مې پستنه نه كړ له عاره
داد عمر آشنا څه بيګا نه وار ولاړ

۱ـ ز

اما شكر منت دباري تعالى چې پس له مدته چې بيا وليد شه هغه صباحت يې په قباحت بدل شوى، دجمال سپوږمۍ يې زوال مونذلى، هغه آوازيې چې دلپذير و، كصوت الحمير هسې شوى و، رونق يې دحسن دبازار مات، اميد وار و چې په كنار كې مې به ونسي. ترې كنار شوم وې مې.

قطعه

هغه ورځ چې ته منظور دخاص وعام وې
تاو وكړى سپك نظر صاحب نظر ته
نن كوم سو د څه فائده د تاله صلح
چې زوړ يار دې هم كتى نشي بشر ته

نظم

پژ مرده دې اوس د مخ تازه بهار شه
هر يو ګل يې و عاشق ته لكه خارشه
تازه ګل د باغ كښيښول شي په دستاركې
دخاشاك سره پريوځي وچ په نار كې
اوس په موږ باندې ډير خيال تكبر مه كړه
قدر ناز پروسږن تصور مه كړه
اوس هغه و ته ورځه چې دې طالب وي
ګنده خورو ګنده پزو ته راغب وي
انتقام واخلي و ښنته د عا شقا نو
چې ښكاره شي په سپين مخ دسنګدلانو

ستا ویښته لکه کبل کله کمیږي
که هر څو یې پریکوې لا به زیاتیږي

رباعي

چې دې په زنې ویښته اظهار شي
په تا مین به له تا کنار شي
ښیګړه اوس کړه چې دې مخ سپین دی
هاله به څه کړې چې تیر دې وار شي

قطعه

په خوږ و شونډو دې دې میږي ټول شوي
که سنبل د مخ په آب دې ټوکیدلي
په خندایې وې د حسن په ماتم کې
مخ تور نمري د ماتم دې آغوستلي

حکایت

[۱۱]

یو له نظر بازانو چاوپوښتیده چې څه وایې په باب دامارد،
یعني پې مخیو؟ وې هیڅ خیر پکې نشته، څو چې ویښته یې
په مخ نه وي. خوبصورت لطیف و نازك اندام وي، سختي، درشتي

کاندي او چې حسن ځنې کناره شي. خط يې په مخ ښکاره شي لطافت نزاکت ترې جدا شي (نرمې دصحبت ګرمي دخلقت واخلي.)[۱].

قطعه

چې يې حُسن په کمال ښکلی شيرين وي
تندې خوی وي،ترخه وايې جفا کار وي
نيک خويې ګډون کوي چې خط يې راشی
څه فايده څه يې حاصل چې تيرېې وار وي

حکايت

[۱۲]

يوله علما ؤ چاوپوښتيده ، چې که څوک له ښايسته سره ناست وي ، په خلوته کې، ور وي تړلی، غير وي تر منځ وتلی. نفس طالب وي، شهوت غالب وي، ممکن دی چې په قوت دپرهيز سلامت پاتو شي؟ وې يې ممکن دی، اما ممکن نه دی چې له ملامته خلاصی بيا مومي.

رباعي

څوک چې له ښکليو سره انباز وي
که هرڅو نيک وي پارسا پاکباز وي

۱ـ تلطف کند و دوستی نمايد.

نجات يې نه شي له ملا مته
پرې به د هر چا زبان دراز وي

حکايت[۱]

[۱۳]

طوطا او کارغه اتفاقاً په يوه قفس کې چا واچول، طوطا دده له ليدو ډير ملا ل و. دده له مشاهدې يې مجاهدې ځکولې. ويل به يې: دا څه کريه الصوت،کريه منظر دی. چې زه پرې ګرفتار شوم، بندمې آسان و، دده له صحبت ډير آزار شوم.

قطعه

که په مخ يې ځوك په وقت د صباح پاځي
په شامت به له غمه پرې نمابنام شي
په صحبت کې ستابل غوندې بايده وو
په صحبت کې د ناجنس کله آرام شي

عجب تر دا چې قارغه هم دده له مجاورته په ځان و، له خپله بخته په فرياد، په آه فغان ګريان و، چې څه نا مبارك وخت و چې له هسې ابله ترش روی سره په يوه پنجره کې بند شوم.

۱ـ د پيبنور په نسخه کې دې قصې ته "مثل" او دلندن نسخه کې حکايت ليکلی دی.

بيت

يو ساعت که دحکيم قرين رندان شي
په حکيم هغه ساعت دکال زندان شي

ژوندی په سيخ پيلی ښه وم، نه دده سره په ګلستان کې، په ځای دزندان ،رنګ آوازې هيڅ نشته، له خودۍ پور دی، سرېې خالي له عقله ډك په غرور دی.

قطعه

هيڅ سړی به يې په سيوره ناستی نه کا
زشت صورت يې که ځوك نقش په ديوار کا
په بهشت کې که دی وي ورته لازم وي
چې دوزخ دې نور مرغونه اختيار کا

دامثال په دا راوړشه، و پوهيږئ چې څو د دانا له نادانه وحشت وي هسې دنادان له دانا نفرت.

قطعه

يو زاهد په سماع ناست و درندانو
ورته ووې په خندا کې يوه کښلي
په صحبت کې که زموږه ته ملول يې
موږ يو واړه ستا د ناستې په غم لښلي

رباعي

موږ واړه گل یوو په گلستان کې
ته وچ لرگی شوی زموږ په میان کې
گرمي د میني درکې هیڅ نشته
یخ یې، یا واوره، په زمستان کې

حکایت

[۱۴]

شیخ وایې یو وار موافق زما و، چې مد تونه موسره یو ځای گذران کاوه، هم په سفر کې سره مله وو، هم په حضر کې، ډیر حقونه موځبله دصحبت طرفین ثابت شوي، آخر الامر په لږه خبره روا دار زما د آزر دگۍ شو، په دوستۍ کې سر دي واقع شوه، اما دلبستگي دواړه لوریه لا باقي وه. یوه ورځ شاید په مجلس کې چا زما دا بیتونه ولوستل:

قطعه

زما یار چې نمکینه خندا وکا
لا پرې زیات شي جراحت د دلریشانو
دریغ سریې دزلفینو په لاس راغلی
گوندې وشو دستگیري د درویشانو

اهل مجلس واړو په موافق دخپل نيك ظن آفرين و تحسين وکړ، هغه شخص چې زما دده تر ميان غبار پريوتلی و، په دا باب يې ډيره مبالغه وکړه، او په فوت يې د صحبت دير ينه تاء سف اعتراف يې په خپلی جفا وکړ. زه په داحقيفت واقف شوم، وپوهيدم چې دده له لوريه رغبت شته، دا بيتونه مې ورستول، صلح مو ورسره وشوه.

قطعه

زما ستا ترميان تل عهد و وفا وو
ما زده نه و چې به ته له ما جفا کړې
له تمامه خلقه ته زړه ته راتير شوې
بيګانه شوم له هر چاته مې آشنا کړې
تر اول به لا وما وته محبوب وې
که دنيت دصلح وي زما رضا کړې

حکايت

[۱۵]

ديوه شخص عورتينه صاحب جماله له دنيا تيره شوه، زړه موريې په علت دکا بين ورکره کښناسته. طلب يې ورځنې دلور د مهر کاوه، دهغه مرد له مجاورته ددې چاره نه وه، چا آشنايانو ورته ووې، څرنګ يې په مفارقت کې ديار عزيز؟ وې يې: نه ليدل دعورتينې په ما باندې هومره دشوار نه دی، لکه ليدل د دې دمور.

نظم

گل خزان په ځمکه پریوست پاتو خارشه
خزانه یې ځنې یوړه پاتو مارشه
چې یې مخ وته نظر کیږي په کرکه
له هغه مخه نظر ښه دی په مزکه

حکایت

[۱۶]

شیخ وایي دسلطان محمود خوارزم شاه دخطا د بادشاه سره صلح کیده، زه هم ورسره په سیل دهغه ملك روان وم[۱] دکاشغر په مسجد جامع کې ورغلم، یو هلك مې ولید، خوش روی، شیرین کلام، لطیف اندام، په مکتب کې ناست و، وې مې:

نظم

معلم درته ښیلې دلبري ده
هومره ناز،هسې جفا ستمگري ده
که پیدا د جبلي دي دا خو یونه
دا ښیوه که دې آخستې له پري ده

۱ ـ ز.

مقدمه يې د نحو[۱] علم لوسته چې ضَرَبَ زَيْدٌ عمراً. وې مې: اى هلكه! خوارزم شاه دخطا د پادشاه سره صلح وكړه، دزيد دعمر عداوت لا هم هسې باقي دى. ويې خندل، وې يې: دكوم ملك يې؟ چيرته زولى يې؟ وې مې: وطن مې شيراز دى، (په سياحت د دې لوري راغلى يم)[۲] و ې يې: دسعدى له خبرو هم څه ياد لرې؟ عربي شعر مې ورته ولوست. وې يې: په دا ملك کې اكثر شعر دده فارسي وايه شي، كه و وايې ګوندې مې ذهن ته ورسي. وې مې:

نظم

ته سبق لولى مشغول يې تكرار كړې دعلم نحو
په نګاه دې له خاطره زما صبر هوش كړه محو
اى چې زړه زما دزلفو په حلقه شو دتا صيد
زه په تا باندې مشغول يم ته مشغول په عمرو زيد

په صباح چې عزم دسفر مصمم شه، روا نيدم، چاله همراهانو ورته ووې چې سعدي هم دى و، په دو راپسې راغى، تلطف يې ډير وكړ، تاسف يې وخوړ چې اول دې ولې راته ځان نه ښيه، چې شكر مې ستا دليدو په ځاى راوړى وى، ملا مې دخدمت ستا په خدمت تړلى وى. وې مې:

۱ـ نحو زمحشرى.
۲ـ ز.

بیت

په وجود به ستا زما کله وجود وي
په ختل دنمر ذره ستوري نا بود وي

وې یې: څه به وشي که څو ورځې په دې ښار کې مقام وفرمایې چې ستا له خدمته مستفید شو. وې مې نه توانیږم په حکم د دې خبرې.

مثنوي

یو بزرګ مې ولیدلی په کوهسار کې
چې کاوه یې ګذران په یوه غار کې
وې یې ولې سکونت په ښهر نه کړې
ګوندې وي چې لرې بار له دله ته کړې
وې یې هورته دې دلبر ښایسته کښلي
چې لای زور شي مست هاتیان پکې ونښلي
دا مې ووې، نور ورسره بوس و کنار شوم. ورته مې ووې.

رباعي

ځبله که هر څو ډیر قربانیږو
د فراق شرح ته نه توانیږو
راشه چې دواړه لوریه دې کښل کړم
تا د خدای ښه ساتي موږ روانیږو[1]

۱-[1]-بوسه دادن بروی یار چه سود
همدران لحظه گردنش پدرود
سیب گویی وداع یاران کرد
روی زین سوی سرخ زان سوزرد

نور مو ځبله وداع وکړه، او دده سترګې هم له اوښیکو ډکې شوې، په ما باندی هم فراق زورشه.

بیت

دوداع په وقت له غریوه ګفتار نشي
خوهم هسې ډکه خواله یاره یار ځي

رباعي

له اوښیو ډکې سترګې نظر کوي
راته د خپلو تللو خبر کوې
چې دجوګیانو جامې دې واغوستې
پوهیږم لرې ملك ته سفر کوې[1]

حکایت
[۱۷]

شیخ وایې یوه درویش و، په کاروان کې دحجاز له ما سره رفیق و، دمساز ، یو دامرایانو دعربو یو سل دیناره ورته بخښلي وو چې نفقه یې دعیال کا. ناګاه غلو نه په کاروان ولګیدل، وی

۱ــز.

واهه، مال يې لوټ کړ، کاروانيو فرياد زاري ډيره وکړه، اما فايده پرې مرتبه نشوه.

بيت

که هر څو ژړا فرياد زاري کا غلو نه
پستنه نه ورکوي وړي مالونه

مګر هغه درويش چې په خپل حال ثابت و، هيڅ تغير پکې پيدا نه و، ورته مې ووې: مګر هغه ستا مال غلو نو نه وي وړی؟ وې: وړی دی، اما زما الفت تعلق ورپورې نه و، چې په مفار قت خسته دل شم.

قطعه

تعلق په هغه څيز چې بی وفا وي
زنهار مه کوه په عقل پوهه کمه
د د نيا دولت په مثل لکه بار دی
کله مخ کا کله څټ کاندي له همه
په هر څه باندی چې زړه دچا ونښلی
قطعيت يې ډير مشکل دی پر المه

وې مې: موافق دې زما دحال دا. مقال وکړ، په وقت مې دځوانۍ له يوه ځوان سره چې نهايت خوش صورت و، اتفاق دمخالطت واقع شوی و.[1] سرمايه مې دعمر دده وصال و، قبله مې دسترګو دده جمال.

۱ـ ح: وصدق مؤدت تا بجائيکه.

قطعه

دآسمان فریښته مګر په دا ښایسته وي
بل دده غونډې بشر نه و په مزکه
چې ښکاره به يې سپين مخ لکه آفتاب کړ
په سپوږمۍ به شوه رڼا د سپوږمۍ ورکه
مستسقی يې زه دکښلی ابدار مخ وم
چې هرګز مې ځنې نه ما تيده سکه[1]

نظم

(دا ښایست چې لکه ستا دی ښایست دارنګې آفتاب نه لري
که يې نور د تاپه شان دی کړه ووړه دا آب و تاب نه لري
کښلې سترګې،وروځې کښلې،پوزه کښلی،خوله خوږه خندايې
هموار غاښ نري سرې شونډې توري زلفی مشکناب نه لري)[2]

ناګهان يې آفتاب دمخ په مغرب د ګور غروب شو، لکه يونس د لحد په ماهي کې ډوب، ځو ورځې يې په قبر په طريق دمجاورت ناست وم، دا مې به له ځانه سره زمزمه کوله :

قطعه

هغه ورځ چې ستا په پښه داجل خارشه
ما په سر خوړلی تيغ دمرګ په سر وی

۱ـ بدوستی که حرام است بعد از و صحبت / که هیچ نطفه چو آدمی نخواهد بود
۲ـ ز.

چې جهان مې بې تا نه لیدی په سترګو
خاورې شوې مې تر تا پخوا بشر وی

رباعي

چې به ترې نه وو ګلو نه لاندې
خوب به يې نشه په نهالۍ باندې
اوس په لحد کې په خاورو پروت دی
پرې زرغونه دي ګنډيري سپاندې

پس دده له مفارقت مې عزم جزم وکړ
چې نور به له چا سره اختلاط او مجلس ونکړم.

نظم[۱]

په خزان کې که نظر په ګلو وکا
ښائسته به په خپل حسن زړه ښه نه کا
يو ساعت يې خوشحالي اندوه دعمر
آشنايي دې هيڅوك نه كاندي كه ښه كا

رباعي

که هر څو سود په درياب کې ډير دی
موج يې کله د سودا ګر و هيردی
وصل ژوندون دی د دوو مينو
بلا بلا د هجران شمشير دی

۱_دا نظم او داسې دوه رباعيانې ددې قطعې په ځای راوړی شوي دي:
رويش چون طاؤس مينا زيدم اندرباغ وصل — ديگرامروز از فراق يار مى پيچم چومار
سود دريا نيک بودى گر نبودى بيم موج — صحبت گل خوش بدى گر نيستى تشويش خار

رباعي

آروې بلبله د بهار څه وايي؟
هر چې ډير نه پايي مينه پرې ته ښايي
نن خو د ګلو ښائست کمال دی
دريغه تر ګانده پورې که و پايي

حکايت

[۱۸]

يودعربو بادشاه ته چا حقيقت دمجنون دمحبت په ليلې ظاهر کړ، چې باوجود فضل و بلاغت سرېې په بيابان ينبی دی، له ډيرې مينې مغلوب العقل شوی دی، بادشاه وفرمايل چې حاضرېې کاندئ، هرګاه چې په خدمت يې حاضر شه، ملا مت يې کړ چې په انسانيت کې دې څه خلل وليده، چې خوی د دبهايم واخست؟ ترک دې دسړيونه وکړ، (ګډون کړی له حيواناتو سره په صحرا پيوستون)(۱) مجنون ووې:

قطعه

ملامت چې ستا په مينه په ما کاندي
دريغه دريغه چې ستا مخ يې وليدلی
چې په ځای يې د ترنجو خپل ورغوی
له حيرته همه وا ړو پرې کو لی

۱ـ ز.

دباداشاه په خاطر وګرځیدل چې دلیلیٰ جمال کتلی بویه، چې څرنګک صورت لري، وې فرمایل چې طلب یې کاندئ[۱] حاضره یې کړه، پادشاه نظر ورته وکړ، مشاهده یې دجمال وکړه، په نظر کې یې ډیره حقیره راغله، چې دده په حرم کې کمتر ینه وینځه په جمال ورځنې بهتره وه، مجنون په فراست وپوهیده، وې یې: ای باداشاه ! دمجنون په سترګه لیلیٰ وته وګوره، چې سریې دمشاهدې جلوه ګر شي.

نظم

دمجنون سترګې پیدا کړه لیلیٰ ګوره
ستا په سترګو به لیلیٰ را درومي توره
په مشتاق باندې حلوا سپوره روټۍ ده
و ماړه وته حلوا لکه لیتۍ ده
روغ هرګز نه وي خبر دچا له درده
ښاد من څه زده دغمجن له آه سرده
چې په عمر لړم نه وي ټك وهلی
پورې خاندې چې آه کا لړم چیچلی
ته چې نه لرې زما غوندې خوږ روغه
دا زما ژړا ده ستا ته په دروغه
بیا در دونه بیروني څوك دروني وي
دروني دردونه سخت تر بیروني وي

۱ــح: دراحیای عرب بگر دیدند و بدست آوردند.

هسې رنګ درونې خوږ په تفاوت وي
ځو دځمکې دآسمان په مینځ کې وت وي
هومره خوږ دزړه تر نورو خوږ و ډیر وي
پرې پوهیږي چې دا خوږ ورباندې تیر وي
په دردونو کې درد سخت دبیلتانه وي
له دې درد سره بل درد برابر نه وي
ستا په لاس باندې پر هار زما په دل دی
کار زما لتا په زر بخرې مشکل دی

حکایت

[۱۹]

قاضی دهمدان دیوه نعلبند په زوی عاشق شه، نعل یې دزړه په اور کې دمحبت پریوت، طالب یې دوصال و، موافق یې دخپل احوال مشغول په دا مقال.

رباعي

دغم ساعت و چې راځرګند شه
په دام دزلفو یې زما زړه بند شه
استاد به تل وې چې نظر بند لره
وهیر مې له دله داستاد پند شه

یوه ورځ په رهګذر کې دقاضي په مخه راغی، شاید چا خبر کړی و، چې قاضي په تا باندې مین دی، ډیر غضب یې وکړ،

ښکنځل يې ورته بې محا با وکړه، کاڼې يې ورته واخست. قاضی ته يې بې حرمتي ډيره ورسوله. قاضي يوه عالم ته چې دده د لا رې رفيق .و، وې:

• قطعه

ظاهر عاشق ته ځان خشمگين لري
له قينجه خياله غوټه جبين لري
په خوله ترخه وايي په زړه شيرين لري
ښايسته واړه هم دا آيين لري[1]

بيت

دحلوا تر نمړی خوږدی ستا له لاسه سوك په خوله
واړه قند شكر ترې دي ستا له خولې ويل ترخه

معلوميږی چې دا هومره غصه يې چې وكړه نيت په زړه كې دمهربانۍ دياری لري، بادشاهان خبرې په صلابت كوي، ننه په زړه كې صلح غواړي.

بيت

(بادشاهان چې دانايان مغفر شگاف وي
پټه صلح کا ښکاره يې دجنگ لاف وي
په جفا ددلبرانو صبر ورته لازم وي
هر څوك چې له دوی اميد دوفا لري)[2]

۱_ح: وعرب گويد ضَرْبُ الْحَبِيبِ زَبِيبٌ.
۲- ز.

بیت

چې ورسي اول په خوله تر وه لګي انګور
که څوورځې صبر وکړې خو د به شي له خوږ و پور

دا يې ووې، نور راغی په مسند د قضا کښيناست ، څو تنه له بزرګانو چې عادلان وو، دده هم مجلس وو. مزکه يې دخدمت کښل کړه، عرض يې وکړ، که اجازت وي، بعضې خبرې دي و به وايو، اګرچې که ترك ادب کيږي بزرګانو ويلي دي:

بیت

نه په هر مذکور کې بحث کول روادي
دبزرګانو چې خطا نسي خطا دی

اما په حکم ددې چې هر چې پرورده دنعمت وي، که يو مصلحت ويني چې پکې دده منعم خيرت وي، خبر ې نه کا مخفي يې پريږدي، يو نوع خيانت کيږي، صلاح ددولت دادی چې من بعد ترك ددې خيال کړې، اميد قطع ددې هلك دوصال کړې، منصب دقضا بارګاه دی منبع او دا فعل دی شنيع، مناسبت سره نه لري، لمن دپاکۍ په دا ګناه مه آلوده کوه، حريف خود هم دا و چې وې وليده، خير يې هم داوې چې دې واوريدلي.

نظم

چې يې مينه په هلك شي | که ډير دروند خوان وي هم سپك شي
که څښتن دلوی عزت وي | هم بې و قاره بې حرمت وي

چې يې تويه بد خو يې کا ځه به غم د آ برو يې کا
لوی هلك هلك ته يو وي هغه کاچې يې خپل خو وي

قاضي نصيحت ديکدلو يارانو پسند کړ. ددوی په نيکخواهۍ يې آفرين ووايه چې ستاسې خبره عين صواب ده او مسأله ده بې جوابه اما ويلي دي:

نظم

که هر څو ورباندې شي ملا متونه
نقصان نه مومي هرګز محبتونه
نصيحت وماته څه کوې نيکخواهه
په ازل ده د زنګي څهره سياهه
که هرڅو مې يار جفا که تل مې زوري
آوښته نشته زما د د ه له لو ري
نعل پريووت اوس زما دعشق په اورکې
وينو ځای نال بند دسترګو په سپين تورکې
رايستل دده له سترګو کارمحال دی
چې مې منع څنې کا دايې خام خيال دی

دايې ووې، نور دقضا دمسنده پاځيد. خلوتګاه لره ورغی، سرې يې ورپسې ريباران کړه، اميد واريې دنعمت فروان کړه، زري ډير ورستول، «زربازي، نظر بازي چې جمع شي د نعلبند زوی څه ددانشمند زوی به هم دده دکور شمع شي»[1] مثل مشهوردی، هرچې زر لری په ترازو کې هغه زور لري په بازو کې.

۱ــ ز.

مثنوي

زر چې وويني رستم ورته زبون شي
که هر څو سربلندان وي سرنګون شي
د فولاد و سينه شي په زرو نرمه
ډير دشرم کښلي زر کاندي بې شرمه

آخرالامر يوه شپه خلوت ميسر شه، کوتوال دښار پرې خبر شه، چې قاضي ته دنعلبند زوی ورغلی دی. وريې له خلقه تړلی دی. په مينو شي مشغول دی.

بيت

(کله لب په لب دجام کله ديار ږدي
په دا شان دنيکبختانو مې نوشي ده)[1]

قاضي درسته شپه شراب په سر کې دلبر په بر کې،خوب سترګو لره نه ورته، په دا زمزمه يې ترنم کوه :

نظم

نن شپه ډير بې وقته بانګ دی دچرګانو
له ياره بس کړي نه دي عاشقانو
چې تروقت پخواداهسې نارې کاندي
چاره سره شه هم ددوی په وينو باندې
په نظر کې مې نه شاه نه يې وزير دی
روبرو چې راته ناست دکښليو ميردی

۱ــ ز.

څو نوبت یې دبادشاه نه دی وهلی
یا آذان یې دمسجد نه دی ویلی
زه به نه، کړم بیارته لب دیار لبه
سرو مال مې شه فدا له دې طربه
(له بادشاهه مې غم نشته له کوتواله
ساقي پاځه پیاله راکړه مالا ماله
محتسب زما تابع قاضي خود زه یم
له نور چا پروا دار ووایه په څه یم)[1]

قاضی په دامستئ په دا احوال کې مستغرق و، یو له متعلقانو ورته راغی، وې یې: څه ناست یې پاڅه تښته، حسودانو دې وقت بیا موند، شحنه یې د شهر ستا له حاله واقف کړی دی، څو لا اور د فتنې ډیر شوې نه دی، فکر یې د مړول بویه، په اوبو نه مړیږي چې لنبه داوړ شي لویه. قاضی تبسم وکړ وې یې:

قطعه

په راتلو د سپیو کله پروا دار وي
چې زمري کاندي خپل ښکارتر سینې لاندې
مخ په مخ له یاره ناست وسه غم مکړه
رقیبان که لکه سپي غپهار کاندي

هم په هغه شپه بادشاه چا آگاه کړ، چې ستا په ښار کې دا فعل کیږي، څه فرمایي؟ بادشاه ووې، چې زه دی یو له فاضلانو

۱ـ ز.

ددهر ګنم، له کبار رو عالمانو دښار، شاید معاندانو تهمت پرې ویلی وي، څو یې په خپلو سترګو ونه وینم په ویلو مې دچا باور نه کیږي، حکماؤ ویلي دي:

بیت

په تندی چې نادان لاس کیږدي په تیغ
عاقبت ورغوي ژوي ددریغ

بادشاه له څو خواصو سره په خلو تګاه دقاضي راغی، شمع یې ولیده چې بلیده، ښائسته ورته ناست شراب توی شوي، پیاله ماته، قاضي له مستی بی خبر پروت و، بادشاه په نرمی په ملا یمت بیدار کړ، چې پاڅه نمرو خوت، قاضي ووې: له کومه لوریه ؟بادشاه ووې چې دمشرق له لوریه، په عادت معهود ویې الحمدلله چې ورد توبې بند نه دی، په حکم د دې حدیث لَا يُغْلَقُ بَابُ التَّوْبَةِ عَلَى الْعِبَادِ حَتَّى تَطْلعُ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا اَسْتَغْفِرُ اللهَ اَللّٰهُمَّ وَ اَتُوبُ اِلَيْكَ. یعنې نه دی بند ور د توبې په بندګانو څو نمر له مغربه نه دی راختلی، ومې بخښې ای پروردګاره و جرار و تم و تاته.

قطعه

دا دوه څیزه مې باعث ددې ګناه شول
یو شهوت دویمه پوهه ناتمامه
که تنبیه مې فرمایې هم سزاوار یم
که بخښې مې عفو ښه تر انتقامه

بادشاه ووې دا ساعت ستا توبه نفع نه کاندي.

قطعه

څه فایده که غله تو به وکاله غلانه
چې کمندیې رسیدی نه شي ترکاخه
له میوې د لاس کوتاه قامت بلند کا
د کوتاه لا سونه نه رسي تر شاخه

دا هسې فعل منکر چې له تا ظاهر شو، خلا صي ستا متصور نه دی، نور دم در حال مؤکلان دعذاب پرې هړ اند شول، قاضي ووې چې: یو عرض مې بل هم په خدمت د بادشاه باقي پاتو دی. بادشاه ووې هغه کوم دی؟ وې یې:

رباعي

دتا که هر څو قهر و ماته شي　　　　څما لا طمع و تانه زیاته شي
اسرې د خپلو پردیو پاتو شوې　　　　اوس مې یواځې اسره و تاته شي

قطعه

که مړوند مې په تیره چاړه څوك پرېکا
هم به پرینږدم لمن د تاله دسته
که په ما دې بندو بست دولا یت شي
زما سر قربان شه ستاله بندو بسته

بادشاه ووې: دا لطیفه خودې بدیع راوړه، اما محال د عقل او خلاف د نقل دی چې نن ورځ دې فضل او هنر زما د عقوبت له

منگلو، خلاص کا، مصلحت دا وينم چې تا له بامه کښته را وغورځوي، چې عبرت د نورو وشي، نصيحت واخلي. قاضی ووې: ای زما خاونده ! زه پرورده دنعمت ستا دخاندان يم، دا گناه ما يوازې په جهان کې نه دی، بل يو وغورځوه چې زه پند واخلم. بادشاه وخندل معاف يې کړ، دده و طاعنا توته يې مخ کړ ويې وې:

رباعي

موږ چې عيبونه د بل اکثر وينو
خپل ځان له نوره خلقه بهتر وينو
سر د جمله و عيبو نو دا دی
چې د بل عيب دځان هنر وينو

حکايت منظومه

[۲۰]

يو پاکباز په ښايسته کښلی مين و
هم مشهور په ځوانمردی په مردو زن و
دوه ليدل شو په ظاهر په باطن يو وو
ځبله د واړه موافق يکدل يکرووو

له قضاو په ګرداب کې پر یو تلي
ملاح هم و په تلوار پسې د نګلي
ځوانمرد ووې وملاح ته چې ما پرېږده
ورشه لاس زما د یار په لاسو کېږده
تصدّ ق شه زما سر د ده له سره
ما به څه کړې لاس دده خلاصي ته وره
که دې خلاص له ډوبیدو کړ زه به خلاص شم
که سیند ډوب کړم لا په مینه کې به خاص شم
که دی ډوب شي ما بیرون کړې له ګردابه
همیشه به شرمنده ګرځم بې آبه
ملاح قصد د ده دیار د وکښو وکړ
په وکښل یې له ګردابه خاطر ښه کړ
بیا یې قصدو کړ دده د خلاصولو
ګوندې وي چې دی هم راشي په منګلو
ناګاه موج وربانديې راغی غرق یې دی کړ
که هر څو ملاح فریاد یایې هی هی کړ
هغه دم چې غرقیده دایې فریاد کړ
خسته زړه یې هم په دا خبره ښاد کړ
شکر شکر چې تریار مې ځان قربان شه
زه شوم ډوب له ډوبیدو مې خلاص جانان شه
محبت یې چې فاني نه وي جاني وي
د ربنتینو په دا شان زندګاني وي

هسې رنګ ده یاري کړی ځوانمردانو
دمطلب یار ي یاري وي دزنانو
صدرحمت شه په رښتیني مینه باندې
په لباس چې له چا خاندې په ځان خاندې
اوسنۍ یارۍ یارۍ نه دي غلول دي
یو ځبله وګرداب ته ټیل وهل دي
په راحت کې همګی ځبله ځاریږي
په محنت کې ځبله واړه ویزاریږي

شپږم باب

په بیان دضعف د پیرۍ

حکایت

[۱]

شیخ وایي په مسجد جامع کې ددمشق له علما ؤ سره ناست وم، مباحثه دعلمي تر منځ کوله شوه، چې یو ځوان له وره راننه ووته وې یې: په تاسی کې څوك شته چې په فارسي ژبه پوهیږي؟ اکثر و اشارت زما ولورته وکړ، وې مې څه کاردې دی؟ وې یې: دسل پنځو سو کالو سړی دی په حالت دنزع دی، په فارسي ژبه څه وایي، موږ پرې نه پوهیږو ،که ته تصدیع وځکوې، قدم رنجه کړې، اجربه بیامومې، شاید څه وصیت کوي. چې په بالین یې ورغلم دا بیتونه یې له ځانه سره وې :

قطعه

څو نَفَس مې دزړه په مراد وکښل

تمام کړی مې لانه وخپل هوس

ما وې زه به له دې خوا نه بهره اخلم

راته وایې ډیر دې وخوړل نور بس

٥ دنفس دتلو راتلو لارې یې بند کړې

وقت مې تنګ شو اوس وکښنې نشم نفس

معنی مې ددیو یو بیتونو په عربي ورته ترجمه کړې، واړه تعجب کاوه، دده په درازۍ دعمر او تأسف په تعجیل دعمر تیرویدو او دده په نه مړیدلو. وې مې: څه ووایه! وې یې څه وایم؟(څرنګ بیان کوم.)[1]

قطعه

نه دي تالیدلي څو سختي په سرې ورشي

غابن چې په انبور سره وکاږي له دهانه

قیاس وکړه په زړه کې چې څه حال هغه ساعت وي

چې روح له تنه دروميي وداع کیږي له جهانه

ورته مې ووې: تصور دمرګ له زړه لر کړه، وهم په طبیعت مه غالب کوه د یونان حکماؤ ویلي دي: رنځ که هرڅو سخت وي ناامیدي دې له ژوندونه نه کا، مزاج که هرڅو مستقیم وي، اعتماد په صحبت نه بویه. که ته وفرمایې طبیت راو بولو چې معالجه دې وکا. سترګې یې راپورته کړې ویې ویل:

قطعه

طبیبان به زما څرنګ دارو کا ندي

چې په طب کې دزړوالي دوا نشته

۱ـ ز.

دزوړ والي دارو مرګ دی مرګ يې خلاص کا
هيڅ اميد و بل طبيب ته زما نشته

مثنوي

خواجه خود مشغول په نقش دايوان دی
دشورې په سبب کور له بيخ وَران دی
يو پير مرد له زنکدنه په ژړا و
له جها نه بيلده په واو يلا و
پيره زن يې چند رکړ په سر پورې
درد سر به داوس ورك شي خود به ګورې
چې مزاج شي مختلف له اعتداله
نه اثر باندې داو و کا نه دسماله

حکايت

[۲]

له يوه زاړه نقل شوی دی، چې يوه جن يې په نکاح کړه[۱] درسته شپه ورسره په خلوت کې ناست و، حکايتونه، نقلونه يې ورته عجايب غرايب کول، خوشحاله وله به يې، چې شايد موانست واخلي، وحشت پريږدي. يوه شپه يې ورته ووې: بخت دې بنه و، طالع دې بيدار دی چې په صحبت کې دجهانديده، ګرم سرد آزموده ،

۱ج- وحجره بگل آراسته و به خلوت باا ونشسته ودیده و دل دراوبسته.

چې حقونه پيژني،شرط ددوستی په ځای راوړي، مشفق، مهربان، قدردان شيرين زبان داخله شوې.

بيت

په هر څه کې به دتاله خو يه ساز کړم
که هر څو راباندې ناز کړې زه به نياز کړم
که طوطا غوندې ګڼل خوراك شکر وي
شيرين ځان به مې هم ځارد تا تر سر وي

شکروکاړه چې په لاس دځوان کبرجن دماغي رانغلې، هرساعت به يې سپك ويل، په لږ تقصير به يې ډير وهل کول، هرځای به کنبيناست، هرچا کره به څملا ست . هره ورځ به يې نوی نوی يارنيوه، پتا پورې به يې تعلق دزړه چندان نه و.

نظم

د وفا اميد به څه کړې له بلبله
چې هردم که آشنايې له هره ګله
ځوان که هرڅو ښايسته پري رخساروي
چې يې خوی دوفا نشته څه پکاروي

پيران روزګار په فضل په ادب کاندي په صحبت کې يې فايده ددين ددنيا حاصل شي، که يې نه زده وي څه ترې زده کا، که ناقص وي ددوی له مجلسه کامل شي.

بيت

دهغه ناستی او لجه دی چې له تا په علم زيات وي
چې له ځان غوندې صحبت کړي دا صحبت درته آفات وي

په دا قسم مذکورونه يې ډير ورته بيان کړه، ګمان يې و شه چې وحشي زړه يې راته رام شه. ناګاه هغې مه روی آه سر دله پر درد سينی راوکيښ. وې ويل: دا هومره حکايتونه چې تا راته روايت کړه، ديوې خبرې سره چې راته دايې کړې ده، دعقل په تله مې وجو کل، نه برابريږی، چې دځواني ښځې په اړخ غشي لك شوي ښه دي، زوړ څښتن يې په څنګ کې ناست ښه نه دی.

قطعه

چې له کټه د څښتن بې رضا پاڅي
له هغې ښځې تل جنګ وغوغا پاڅي
(په ورځ سل پايزاره ورکړه خوشوقتي کا
چې په وقت دايزاربند خوښه راپاڅي)[1]
د همسا د دريدو يې څه مزه وي
چې له مزکې په قوت دهمسا پاڅي
(نه دې ځوان زړه کوي نه دی زوړ ځوانه
مخالف چې ځبله ورشي بلا پاڅي)[2]

۱ـ ز.
۲ـ ز.

امکان یې چې دموافقت نه و، آخر یې تر مینځ مفارقت وشو، پس له عد ته په نکاح دیوه ځوان چې تند خوی،ترش روی و، نیست ګار، تلخ ګفتار، داخله شوه، که هر څویې جور جفالید له هم به یې ثنا دحق تعالی ویله، چې الحمدالله له هغه عذاب الیم خلاصه شوم په دی نعمت عظیم خلا صه شوم.

بیت

که هرڅو یې ستمګار سرکش تندخویه
ستا جفا به په تندي ځکوم خوش رویه

قطعه

کښلی مخ جامې وریښمینې خوشبویي هوا هواس
وا ره ښځو لره بویه دمرد خپله مردي بس

قطعه

تاسره په اور کې زما سول ښه دي نه سیل د باغ او دبستان بې تا
بوي د پیاز و ستا دخولې په ما باندې ښه لګي تر بوی د مشکو ای بتا.
(تل به ستا نازونه زه په سترګو وړم باربه دې په شاځکوم که شي دوتا)[1]

حکایت

[۳]

شیخ وایې په دیار کې دبعلبك دیوه کهن سال کره میلمه وم، مال دولت یې فروان وو، یو فرزندیې و ښایسته، یوه شپه یې راته مذکور کاوه، چې زما په همه عمر کې بې له دې فرزنده بل

(۱) ز.

فرزند شوی نه و، دلته یوه ونه ده، زیارت ګاه دخلق. هرڅوك په حاجت ور درومي، مراد مومي. ځو شپې تر هغه ونې لاندې به بیدار ناست وم، حق تعالی ته مې به زاري کوله، دا فرزند یې را ته عنایت کړه. آرویدل مې چې هغه زوی یې ورو خپلو رفیقانو ته وې چې هغه ونه ما ته چاو بښیلی، چې ورغلی دعا مې وکړې چې دا پلار مې ومړي. وې ومې: سبحا ن الله پلار یې خوشحالي کا چې فرزند مې دانا دی، فرزند یې پیغورونه کاندي چې پلار مې زوړ فرتوت شه،له کاره ووت .

قطعه

د دنیا د پاره ځو ملکونه مرې
دخپل پلار په زیارت هیڅرې نه درومې
چې دپلار په حق تا هیڅ نیکي ونکړه
له فرزنده به ته څرنګ نیکي مومې

حکایت

[۴]

شیخ وایې یوځوان و، ډیر هوسناك چست وچالاك، لطیف خوی شیرین،زبان روزګاریې په عیش په عشرت و، خنده روی او خوش صورت و، په سبب دحوادث مفارقت تر منځ واقع شه، په څوکاله ملا قات میسر نه شه، پس له مدته چې ولید شه، واده یې

کړی و، فرزندان یې پیدا شوي وو،له سابق احواله هیڅ ورپاتو نه وو. نهال یې د نشاط له بیخ لوښتی، دهوس گل یې پژمرده، ساغریې دعشرت او ښتي،ومې پوښتیده چې دا څه حال دی؟ وې یې چې هلکان مې راوړه،هلك والی مې پریښی.

نظم

دجهان گردش یې سر کړ بې غروره
گرفتار یې په اندوه کړ له سروره
خیال دماغ و دځوانۍ ورځنې تښتي
سریې و د ناتوانی په زنگون یښي
زراعت چې وقت یې راشي دریو دلو
حظ یې کله مومي سترگې له لیدلو
په پټې کې سبزه ښه تر گلو نما ی کا
په پخوالي لکه خار زخمي دې پای کا
په زړ والي د ځوانۍ کارونه پریږده
لکه برگ د ریژیدو له غمه ریږده
مکړه نور لکه هلك لوبې با زۍ
نا ز طر ب ظر ا فتو نه طنا زۍ
د ځوانانو خوښي کله زاړه مومي
پستنه تللي جویونه نه رادرومي

قطعه

زړې ښځې سپين ويښته په لباس تورکړه
خوانې ښځې ورته ووې په پيغور
که ځواني دې په ويښتو وه داخو تور شو
اوس بايده دي چې دې ځوان شي صورت نور
خولې ته بيا را وله سپين هموار غاښونه
بيا تازه د مخ گلزار کړه نرگس تور
بيا قامت لکه د سروې هسې سم کړه
په سبب چې د زړ والي د ې نسکور
کهل به بيا په مقام نه شي د کنځلو
غوړ ترې لاړ شه پاتو شويدي پوک سپور

حکايت

[۵]

شيخ وايې يوه روځ مې از روی جهل و نادانی په آوان ځوانی مورته سخته خبره تر خولې ووته. دا دل آزرده لاړه،په کنج کې کښيناسته، په ژړا کې را ته ووېل: هلك والی دې هير شه چې دا هسې درشتې کوې؟

قطعه

څه ښه ووې مور و زوی جفا کارته
چې غلط په زور دلیچو په خپل تن و
که دې یاد د هلك والي حقارت وي
ستا به ماته هسې کله سخت سخن و

حکایت

[۶]

یوه دیر ینه سال ته چاووې چې ولی کورنه کوې؟ وې یې له زړو ښځو سره مې الفت نه کیږي. ورته یې ووې ځوانه ښځه وغواړه دولت مکنت لرې، هرڅه درته موجود دي. وې یې: دځوانو ښځو،چې زوړ یم راسره مؤدت نه کیږي.[۱]

حکایت منظوم

[۷]

د واده هوس پیدا د یوه زال شه
دولت مست کړ ځوانې ښځې ته یې خیال شه
ښایسته زیبا جینۍ وه ګوهر نامه
زرېې خرڅ کړه مور پلاروركړه کام ناکامه

۱ـ دلته د یو ترکي شعر او دیو فارسي شعر ترجمه نشته.

لکه رسم د واده واړه یې وکړ
په راوړه یې و خپل کورته خاطر ښه کړ
چې ورځ تیره شوه هرڅوك په ځای قرارشه
راغله شپه د دو مینو د راز وار شه
په خلوت چې مینه شوه ځبله گرمه
دی له خیاله یاله نازه یاله شرمه
ده لاس وروړ وې یې مه اوړه لاس ماته
په دا هومره "مه" د شیخ همسا شوه ماته
په څو ورځې یې پیدا په کور کې جنگ شه
عاقبت یې دقاضي په کور آهنگ شه
کهن سال به وې چې کور یې زما وران کړ
د پلار کوریې په دولت زما ودان کړ
ښځې وې چې نفقه نه راکوینه
بیگناهه مې وهې هم مې ښکنځینه
دوی مشغول په خصومت سعدي داقال کړ
دمجلس عالم یې واړه پرې خوشحال کړ
چې لاسونه په لرزه د کهن سال وي
د گوهر سوری کول ورته محال وي
(دهجران به دی له هسې رنگ وصاله
په فراق سره خلاصیږي له جنجاله)[1]

---

۱ ـ ز .

اووم باب

په بیان دتاثیر دتربیت

حکایت

[۱]

دیوه وزیر زوی و کودن، په حواله یې ددانشمند کړ، چې تعلیم یې دعلم او دحلم او ادب کوه، مدت ډیر تیر شه، هیڅ اثر پرې نه کیده، آخر الامر استاد یې پلار ته جواب واستوه چې ستا فرزند عقل نه اخلي، امازه یې لیونی کړم.

قطعه

په صیقل دصیقلي صفا نه مومي
په هر تیغ چې درآمد کړی مور چه وي
چې په اصل طبیعت په پوهه کند وي
چې خواري ورپورې کا هغه کچه وي

قطعه

سپی که هر څو ددریا په اوبو وینځې
وچ نجس وء،چې دې تر کړ نجس تر شه
وخپل اصل ته رجوع دهر څیز کیږي
چې پکې دخره رګګ و آخرقچر شه
تر بیت و ته قابل ا صل بایده وي
په بد ذات د تربیت کله اثر شه[۱]

حکایت

[۲]

یوه حکیم زوی ته پند وایه چې ای زویه! سعی دهنر په زده کولوبویه، چې ملك دولت ددنیا اعتماد لره نه ښایي، زر په محل د خطر دي، که یې غل درڅخه په غلا یوسي، که ظالم یې درځنې په رنړا یوسي، که په موافق یې د مراد وخورې زر به درڅخه تمام شي، اما هنر چینه ده زاینده، او دولت دی پاینده، که هنر مند له دولته پریوځي هم یې غم نشته چې هنر خود بنفسه دولت دي. هنر مند هر چیرته په قدر په منزلت دی او بې هنر چې له مسنده پریوځي هر چیرې چې درومي آرزو مند دیو لقمې ګرځي، هم یې په خواری مومي.

۱ـ و : خر عیسی اگر به مکه رود چون بیاید هنوز خر باشد

قطعه

عادت شوی چې په خپل حکم راني وي
چې نور حکم په ده کاندي زنداني وي
ناز پرور د څښتن نه کا بې دولته
یو دم نه مومي خلاصی له مصیبته

قطعه

ناگاه پریوته فتنه دشام په ملك کې
واړه خلق یې هر لوري ته پریشان شه
روستايي چې آراسته په فضیلت و
مقرب د هغه ملك دسلطان شه
چې یې علم هنر نه و که اشراف و
په جلو کې دکم ذات سړي روان شه

قطعه

که میراث غواړی دپلار علم یې زده کړه
په څو ورځې به تمام کړې دپلار مال
د دنیا دولت همه نقصان پذیر دی
د هنر د دولت هیڅ نشته زوال

حکایت

[۳]

یوله فاضلا نو تعلیم د بادشاه دزوی کوه. زجر تنبیه یې ډیر کړ، گاه گاه به یې بې محا با بې صرفې و واهه، یوه روځ شاهزاده حقیقت دخپلې بې طاقتۍ دپلار په خدمت عرض کړ، جامه یې لرې کړه، زخمونه یې دوهلو ورته ښکاره کړه، پلار یې ډیر برهم شه، استاد یې طلب کړ، ورته یې ووې: دا نور هلکان چې درعیت داحد الناس فرزندان دي، نه وهې،زجر کم کوې، زما د فرزندانو تنبیه زیات کوې، سبب او حکمت څه دی ؟ وې یې: سبب دادی، چې هر سړی ته لازم دي چې حرکت پسندیده کوي او بې اندیښې گفتار په خوله نه راوړي، اما بادشاهزا دگانو ته لا تر نورو لا زم تر دي. هر اقوال افعال چې له دوی صادر یږي هر څوك یې خبر ي کا او دعوام الناسو قول فعل چندان اعتبار نه لري.

قطعه

سل نا پسند ی که صادر شي له عوامه
نور عالم به څنې هیڅ نه وي آگاه
له یوه اقلیمه بل ته خبر ورشي
که غلط شي په خبره کې بادشاه

پس واجب دی معلم لره،چې تر نورخلق (چې ارازل وي[۱]) سعې په ترتیب په تعلیم د اشراف خلق ډیره کاندي، علی الخصوص بادشاهزادګان (چې ددوی نفع ضرر وعالم وته رسیږي.)[۲]

قطعه

(چې بادشاه دملك بدخوی عالم بدخوی شي
خدای دې نه کاندي بدخوی بادشاه دچا
هربادشاه په حقیقت جهان پناه وي
ویران مکړه کر دګار پناه دچا)[۳]

قطعه

چې یې ونشي ادب په هلك والي
په لوی والي پرې اثر نه کاندي پند
(تنګي نشته په مراد د استاد درومي
وچ لرګی وته یا اور دی یا بند بند)

پادشاه دده په جوابونو آفرین و رحمت باد ووې، خلعت و نعمت یې ورعنایت کړه ، پایه د منصب تر اول بلنده .

نظم

(هر هلك چې جورنه ویني له پلاره
نه زخمي د استادانو له ګلزاره

۱ـ ز .
۲ـز .
۳ـ ز .

بی ادبه زیست روزگار کا ناز پرورشي
څو جفا ستم به ویني له روزگاره[۱]

حکایت

[۴]

شیخ وایي دمغرب په دیار کې مې یو معلم لیده په مکتب کې ناست، هلکان یې ترش روی، زشت گوی، مردم آزار، نا پرهیزگار، چې په لیده به یې عیش د مسلمانانو بند شه، چې دسبق له ویلو به خاموش و، څخو به زړه خورسند شه، یو څو هلکان ورځخه ناست پاکیزه. یو څو جونکۍ ورته ناستې دوشیزه، نه یې قدرت دخندا و، نه یې توان دگفتار، په غضب په جفا دده گرفتار، دیوه مخ به یې په څپیړه شین کړ، د بل یې ساق په لښتو رنگین، پس له څو گاهه څه خیانت ورځنې ظاهر شه، ویې واهه له هغه ځایه یې وشړه، مکتب یې په بل یوه وسپاره، دیندار، پرهیزگار، پارسا نیک مرد، زغمونی، باربرد چې خبره یې په ضرور له خولې ظاهریده، هر فعل به چې سبب د چا آزار و په لاس په خوله ترې نه واقع کیده، دهلکانو هغه هیبت داستاد سابق له زړونو لاړ شه، ددویم خوی لکه د فرښتو هسې و، دوی واړه دیوان شول، په امید دده دحلم زده کړې علم و هیر شه، اغلب اوقات به یې په مکتب کې لوبې کولې،

۱ ـ ز.

لاس به يې لګول، دتختې و بل به يې بهانه کړه، په سيند کې به يې لنبل.

نظم

چې استاد د هلکانو کم آزار وي
هلکان به څوك په سيند څوك په بازار وي
(هلکان مريونه هاله ستا په لاروي
چې څپيړې يې په مخ په سر پايزار وي)[1]

پس له دوو هفتو مې بيا په هغه مسجد ګذر وشه، اول معلم يې بيا راوستلی و، وې مې: لَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ بيا يې ابليس ولې د فرښتو معلم کړ، دی خو مردود شوی و، يوه پير مرد جهان ديده وار ويدل، وې خندل ويې وې:

نظم

يو بادشاه فرزند مکتب لره روان کړ
په تخته يې مرقوم ده ته دابيان کړ
د استاد جفا په سترګو وړه پسره!
د مور پلار تر دعا داجفا ده غوره

۱ـ ز.

حکایت

[۵]

یوه بادشاه زاده[۱] ته میراث د ترونو تر شماره تیر ورسیده، فسق وفجوریې آغاز کړه په لار د شقاوت روان شه، نه و هسی گناه چې له ده صادر نشه، هیڅ مسکرات نه و، چې د ی پر مسکر نشه، شیخ وایې چې ورته مې وې: دا دې څه پیشه واخسته، خرڅ په اندازه کوه، دخل په معنی آب روان دی. اما خرڅ په مثال لکه ژرنده، ډیر خرڅ کول هغه ته مسلم دي چې دخل معین لري.

قطعه

چې دې نشته پیدا یشت خرڅ په اندازه کړه
دا وینا وایې ما نړگان په سرودونه
که په سر دکوهستان باران ونشي
وبه نه ویني په سمه څوك رودونه

بویه چې عقل ادب واخلي لهو لعب پریږدي، چې نعمت آخر شي، سختي به له روزگاره ویني، ندامت به هاله سود نه کا، دهغه ځوان غوږ ونه په آواز د نی درباب درانه وو، دا زما ویل ورته هیڅ نه وو، بلکه زما په خبرو یې اعتراض وکړ، چې نن راحت پریښول له

۱ـ پارسا زاده.

غمه د صبا دمحنت علامت دحماقت دی، او خلاف رای داهل بصیرت.

قطعه

نیك بختان به خوري، خوروي تل به خوشحال وي
نه له غمه دصبا تنګدل ملا ل وي
ځه ښادي کوه ای یاره دلفروزه
ګرفتار بد بخت ددهر په جنجال وي

زه اوس په مسند دفُتُوت ناست یم، لاس مې د مروت په خاص و عام وادي خبرې زما دانعامونو په هر لوري افشاء دي.

نظم

چې یو ځل په سخاوت په جود علم شي
روخ يې نه دی چې يې بند په چاکرم شي
زما اوس په جهان لاړ د مردۍ نوم دی
چې په بخل يې بدل کړم انصاف کوم دی

وپوهیدم چې نصیحت زما نه اخلي[1] ترك مې يې دصحبت ووې، مخ مې ځنې وجار یوست،[2] عمل مې دحکما وو په قول وکړ، لکه ویلي دي:

قطعه

که پوهیږې چې بدبخت به يې وانه وري
هم بایده دي چې نیکخواه دي کاندي پند

۱_ح: دم گرم من در آهن سرد وی اثر نمیکند.
۲_ ترک مناصحت گرفتم دروی از مصاحبت او بگردانیدم.

خیره سرپند ناشنو به زر ووینی

د نکبت زنځیر په غاړه په پښو بند

تل په غاښ دندامت ورغوي ژوي

چې یې نه منل ویل د دانشمند

پس له مدته مې ولیده تر هغه حاله چې زما تصور و، بد تر، خرقه یې په خرقه ګنډله، لقمه یې ټولو له، دلسوزي مې دده په احوال ډیره وشوه، مروت مې نه لیده په داسې حال کې ملا مت پرې ویل، په زخم یې مالګه دوړول، هم په دا دوه بیته مې اختصار وکړ:[۱]

نظم

سفله نه کا په کمال کې د مستۍ

هرګز فکر، دزوال د تنګدستۍ

په بهار کې ونې واړه برنثار کا

تمام ژمی برهنه ځانونه خوارکا

(په هر څه کې اندازه ساتلې بویه

مرتبه د توسط وګڼه لویه)[۲]

۱ـ پس باخود گفتم.

۲ـ ز.

حکایت

[۶]

یوه بادشاه زوی په ادیب و سپاره چې دا په معنی کې ستا زوی دی، تعلیم تربیت یې کوه، لکه دخپلو زامنو. وې یې: فرمان بردار یم، څو کاله چې تیر شول هر څو استاد سعی دده په تربیت وکړه، فایده حاصل نه شوه، او نور فرزندان دادیب، ښبنتن د فضل وبلاغت شول، بادشاه په دانشمند،چې استادیې و، غصه وکړه چې وعده خلاف شوې، وفا دې په وعده ونکړه، «دخپلو فرزندانو غوندې تا دده تربیت ونه کړ،»[۱] دانشمند غرض وکړه چې تربیت یکسان دی اما طبائع مختلف.

قطعه

سپین اوسره واړه له کانیو پیدا کیږي
له همه کانیو سپین وسره نه وي اظهار
په همه عالم تابش دسهیل سم دی
یو څرمن کا او وړی بله ، بلغار

بیت

«دمرشد و هر مرید ته سم ارشاد شي
تربیت یې موافق په استعداد شي»[۲]

۱ــ ز.
۲ــ ز.

حکایت

[۷]

یوه له بزرگانو مرید ته ازروی نصیحت وفرمایل چې: که تعلق دآدمي زاد لکه په رزق پورې دی ، په رزق رسووني پورې وی په مرتبه به دفرښتو رسیدلی و.

نظم

چې نطفه وي دښښتن فضل هیر نه کړي
په امان يې په رحم کې له هر څه کړي
(پرورش يې د تا کړ په څو څو شانه
عقله شوي بيا مضغه بې استخوانه)[۱]
په رنګ رنګ يې استخوان درکې پيدا کړ
اندامونه يې د تاکښلی زيبا کړ
بيا يې روح درته عطا عقل ادراك کړ
بيا اسباب يې درعطا دتا دژواك کړ
په داهومره مقامونو دې ګذر شه
درحمت يې په هرځای دتا نظر شه
کم همته فکر وکړه عقل هوش
اوس به کله تا ښښتن کا فراموش

---

۱ ـ ز .

حکایت

[۸]

یوه اعرابي فرزندانو ته نصیحت وایه، چې ای زامنو! په قیامت به له تاسې پوښتنه دخوی دعمل شي، چې بد که ښه دی، نه به پوښتنه دنسب شي چې څوك دی څه دی؟

قطعه

دکعبې اطلس هرڅوك په سترګو مږي
نه په داچې اصل ښه لري نامي شه
یو څوګاهه په صحبت کې دعزیز و
دا عزت یې ځکه بیا موند ګرامي شه

حکایت

[۹]

دحکمت په کتابونو کې، راوړی دي، چې دلړم ولادت لکه دنور حیواناتو نه دی، بلکه لړمون دمور وخوري، ګیډه یې څیرې کا، ورځنې راوځي، تار په تار روان شي[۱] شیخ وایې چې دا نقل مې

۱ـ ح :و آن پوست ها که درخانه گژدم ببینید اثر آنست.

یوه ورځ دیوه بزرگ په خدمت ووې، ده وفرمایل چې زړه مې په صدق ددې نقل گواهی لې چې هم هسې به وي، په هلك والي له مور سره دا سلوك وکا، ځکه چې دوی لوی شي دهر چا محبوب وي.

قطعه

یوه پلار و خپل فرزندوته دا پند وړې
ای زما فرزنده یاد لره دا پند
(څوك چې حق دحق دارانو په ځای نه کا
له هر چا به رسي ده وته گزند
چې خصلت یې دوفا د مروت وي
په دولت ددین دنیا شي بهره مند
چې حرمت ته دخپل پلار په ځای رانه وړي
ستا حرمت به څرنگ کا د تا فرزند)[1]

مثل: لړم ته چا وویل چې په ژمي ولې ورچنې نه راوځې؟ وې یې: په اوړي مې څه حرمت بیا مونده چې په ژمي هم راوځم.

حکایت

[۱۰]

دیوه درویش فرزند نه کیده، وعده یې کړې وه[2] چې که خدای تعالی مالره زوی راکا بې له آغوستې خرقه نور هر څه چې

۱ـ هر که با اهل خود وفا نکند نشود دوست روی دانشمند.

۲ـ درویشی زن حامله داشت مدت حمل او بسر آمده ، درویش را همه عمر فرزند نیامده بود گفت.

زما په ملك کې وي واړه په فقراو نثار کړم، په وعده يې وفا وکړه، هر څه مال ومتاع نقد و جنس يې چې څه درلوده واړه يې په شکرانه د فرزند د زوو لو درويشانو لره ورکړه.[۱] شيخ وايې پس له ډيره مدته چې د شام له سفره راغلم، په محله مې دهغه دوست ګذر واقع شه، له احواله مې دده خبر واخست،چا راته وويې، بندي خانه شوی دی، په زندان کې پروت دی، وې مې: په څه سبب؟ وې يې:زوی يې خمر خوړلي وو، مست شوی و[۲] خون يې وکړو تښتيده، په توريې دی ګرفتار شه، وې مې: دا بلا ده له خدايه په دعا په زاری غوښتې وه.

رباعي

بار داره ښځه که ځيني مارزيږي
ښه دی، چې زوی ځنې بدکار زيږي
ځان ته بلا شي مور پلار ته غم وي
زوی ومه زيږه چې ناهموار زيږي

حکايت

[۱۱]

شيخ وايې لا هلك وم خورد سال چې يو بزرګ مې وپوښتيده، چې علامت د بلاغت[۳] څه دی؟ وې وې: په کتاب کې

۱_ اتفاقاً پسر آورد درويش شادمانی کرد وسفره درويشان بموجب شرط بنهاد.
۲- و عربده کرد.
۳_بلوغ.

يې درى علامت راوړي دي: اول چې د پنځلسو كالونو شي. دويم علامت يې احتلام دى . دريم: ظاهر يدل دآب مني[۱] اما په حقيقت كې يوه نښه لري هغه داده چې په هر كار كې خوشنودي دحق تعالى په خپلې خوشنودۍ مقدمه لري، په هر چا كې چې دا صفت نه وي په نزدې دمحققانو بالغ نه دى.

قطعه

چې يې ځاى شه په رحم كې ځلوېښت ورځې
له نطفې نه تركيب شوى دا انسان دى
كه يې علم عقل نه وي څلور ساله وي
سړى مه وايه هغه وته حيوان دى
جوا نمر د ي آ د ميت د ى
نه موقوف آدميت په دا صورت دى
ابوذ ر، ابو جهل د واړه آدميان وو
هر ګوره ډيرتفاوتونه يې تر ميان وو
څو دځمكې دآسمان په منځ كې وت دى
د سړي د سړي هومره تفاوت دى
سړي والى كه په زيره په دستار وى
داخو لا ښايسته كښلى په ديوار وى
ځنې كښلى په شنګرف ځنې په زرو
څوك له توره كاڼي ساز څوك له مرمرو

۱_ (۱_ آمدن موى زهار.

چې خالي دی له معنو په قدر خوار وي
په معنو دهر څیز قدر په مقدار وي
د انسان چې فضیلت مروت نه وي
یو حیوان دی لاحیوان ورځنې ښه وي
حیوان خو د حیوانیت و ته پیدا دی
دا انسان حیوان ښه بد ځنې په دادی
که حجام دحجام زوی شي عیب کوم دی
شاهزاده چې حجام شي نحس دې شوم دی

حکایت

[۱۲]

یوکال نزاع ترمیان دحاجیانو پریوته، شیخ وایې زه هم له څو پیاده و سره حاضر وم، (دطرفین مو سره جنګ وجدل ډیر وکړ)[۱] دا دمو دفسق او دجدل ورکړ (دچا سر مات، دچا ږیره وکښلې، دچا ګریوان پاره، له قهره خاورې په مخ مښلې)[۲] ناګاه یو کجاوه نشین اروېدل مې چې خپل عدیل ته یې ویل: عجب کار دی پیاده دعاج چې عرصه د شطرنج طی کا، فرزین شي، یعني بهتر، اما پیاده دحاج چې بیا بانو نه پی کا، پر حسد پرکین شي.

۱ـ ز.
۲ـ ز.

قطعه

دا پیغام زما بد خوی حاجي ته وکړه
چې دهر چا سره جنګ جدل شورو شردی
چې خپل بار وړي د هیچا آزار نه آخلي
حج تا وکړ، اما ښه تر تا ستا خر دی

حکایت

[۱۳]

دیوه خام ریش[۱] په سترګو درد پیدا شو، بیطاري لره ورغی، چې زما د سترګو دارو وکړه، بیطاري هغه ته وایي چې دارو د چار پایانو کاندي. بیطاري یې په سترګو دارو پورې کړه، چې د چارپایانو په سترګو یې پورې کول. خو چې دارویې په سترګو کې واچول هغه ساعت ړوند شه، خصومت یې حاکم لره یووړ، حاکم وویې: په ده باندې هیڅ نشته، که دی خر نه وی، بیطاري لره به نه ورته. مقصود له دې حکایته دا دی چې هر څوک چې په ناآزموده کار باندې لوی کار وسپاري، آخر به ندامت وڅکوي، او په نزد به دهوښیارانو په حماقت منسوب شي.

قطعه

د هر چا چې فکر صاف عقل تمام وي
لوی کارونه به نه سپاري په کمین

---

۱ ـ (۱ ـ مردی (لندن نسخه) مردکی (پېښور نسخه).

بوريا باف که بافنده دی په دا څه شو
پرې به کله هوښياران ووري وريښمين
(لوی کار کم ته، کم کارلوی ته نه جوړيږي
دابه نه کا چې يې فکر وي متين)[۱]

حکايت

[۱۴]

ديوه بزرګ زوی وفات شه، چاو پوښتيده چې په صندوق يې د قبر څه و کښنو؟ وې ويې: آيات دقرآن مجيد، عزت تر دا زيات لرې. چې په هسې ځای باندی يې څوك وکښي چې البته څو مدت چې پرې تير شي فرسوده به شي. خلك به پرې تيريږي[۲] دا کمال بې ادبي ده، که ضرور پرې کښل بو يه دا بيتونه پرې وکښئ.

قطعه

چې سبزه به زرغونه شوه په بستان کې
په ليدو به يې څه خوښ شول زموږ زړونه
هسې رنګ به نور په وقت دبهار ګوري
چې زموږ له خاورو شوي وي ګلونه

۱ـ ز
۲ـ و سگان برو شاشند.

رباعي

دالاله نه دي کښلی رُخسار دي
دا سنبل نه دي ویښته مشکبار دي
دانرگس نه دي دکښلیو سترگې دي
چې خاورې شوي پخپل خپل وار دي[۱]

حکایت

[۱۵]

دیو پارسا گذر په یوه ځای باندې وشه چې چا دنیا دار خپل خدمتگار تړلی و، تعذیب یې کاوه، ورته یې ووې: ای ځوانه ! حیاء وکړه له ځانه چې تا غوندې مخلوق یې دتا محکوم کړی دی او ستا یې په ده باندې فضیلت ښنی دی، شکر د باري تعالی په ځای راوړه دا هومره جفا پرې روا مه لره، شاید په قیامت دی تر تا بهتر وي، ته به ورپورې شرمنده وې.

نظم

په بنده باندی ډیر قهر غصه مه کړه
چې یې زړه باندې ښه کیږي هم هغه کړه
ما قبول کړه چې دتادرم خرید دی
ته په ده باندې خواجه دی دې عبید دی

۱- ز.

اما ته يې خالق نه، خالق يې بل دی
چې خلقت دهر اشيا له ده حاصل دی
(باندې مه کړه هومره حکم، غرور، زور
چې تر تا په جهان شته زوره ور نور
چرې نه ښښتن هغه په تا و ګماري
دتا کار په بل ظالم باندې وسپاري
تاترده نه هغه لا په سختۍ بند کا
په ترل د تا دده خاطر خورسند کا
زور قوت دې که دفيل شي يادشير شي
چيرې نه چې خپل ښښتن دې له زړه وهير شي
ته خپل ځان د کمترين رعيت شمار کړه
رعايا سره په خپل موافق کار کړه)[1]

په خبر کښلي راغلي دي، له سرورکائنات صلی الله عيله وسلم چې په قيامت به لوی خسره دهغه وي چې دده بنده په سبب دعمل صالح جنت لره روان کا، او خواجه يې په دوزخ کې په علت دفسق دعصيان کا.

قطعه

په قيامت به ډير بنده آزار ووينې
چې خواجګان به يې بند شوي په زنځير وي
خواجګي منظوره نه ده بندګي کړه
ګدا يې دلته په عزت ذليل امير وي

۱_ دا پنځه شعرونه زياتي دي. په اصل کې ددیو په ځای دا يو شعر دی:
ای خواجه ارسلان وآغوش   فرمانِ ده خود مکن فراموش

حکایت

[۱۶]

شیخ وایې چې له بلخ دشام له قافلې سره همسفر وم، په یو ځای ورغلو، چې له حرامیانو یې ډیر خطر و، یو ځوان په طریق دبدرقه راسره مل شه، درشت اندام (شیرین کلام)[۱] نیزه باز و تیر انداز؛لس تنه بایده ووچې دده لیندۍ یې بیلو دی، اما سایه پرورده، گرم، سردیې د جهان لیدلي نه وو، نا آزموده کار و، تر جنگونو وتلي نه و، دتورو بریښنا د غشیو شرهارېې په سترگو په غوږو لیدلی آرویدلی نه و:

بیت

(چې وبریښي سپینکۍ د لنډ پریو شرهارشي
یو یو زوی وي مور راوړی چې په ځای باندي قرار شی)[۲]

اتفاقاً زه او هغه ځوان په تله هم قدم شو ، په هره ونه چې به راغی له بیخ به یې وکنبه، په هره لویه گټه چې به ورغی، له ځایه به یې ورغړه وله، دا وینا به یې ازروی تفاخر وویله:

۱ـ ز.
۲ـ ا ـ نیفتاده در دست دشمن اسیر بگردش نباریده باران تیر

بيت

مست هاتي وی يا مزری وی ځبله واز ميلی زور
ددې نور و حيواناتو خو دښکاره دی زور شور[۱]

په دا حال کې مورږ دواړه سره په لار تللو، چې ناګاه يو دوه تنه چې ديوې تيرږی پناه ناست وو، را پاڅيدل، قصد يې زمورږ دقتال وکړ، ديوه په لاس کې ډانګ و، دبل په لاس کې کاڼی. ځوان ته مې وويل: قضا نيولی په خپلو پښو قبر لره راغله وار دې دی، درنګ نه بويه.

بيت

خود بخود خون ګرفته راغله و ګورته
ستا هم ډيره غلطي ده وخپل زورته

وه مې ليده چې دځوان اندامونه په لرزه شول، غشي ليندهِ يې له لاسه پريوتل.

نظم

نه هر څوك چې موشګاف قادرانداز وي
دحملې په وقت يې جنګ و ته وار ساز وي
ډير په ميان کې دغليم چې چيرته کښيوځي
له هيبته يې وسله له لاسه پريوځي

آخر مو وسله او جامې ورکړې، امان موترې وغوښت، ځانونه موترې سلامت خلاص کړه .

۱ـ ۱ـ پيل کو ؟ تا کتف و بازوی ګردن بيند   شير کو؟ به کف سر پنجه مردان بيند

نظم

چې تیر شوی تر جنګونو آزموده وي
هسې څوان و سرداري ته ستوده وي
که هر څو دلاور زړه لري پیلتن وي
چې لیدلی یې نه جنګ نه یې دښمن وي
اعتبار لره داهسې ځوان نه ښایي
په تنګسه دی له ځان سره نه بیایې

حکایت

[۱۷]

یو تونګر بچه و، دپلار په قبر ناست و، درویش بچه سره یې مناظره کوله چې صندوق زما د پلار سنګین، (دی په نقش په نګار ساز شوی.)[۱] ستا دپلار په قبر خو یو څو اومې خښتې دي، خاورې پرې اچولې دي، ددرویش زوی ځواب ورکړ: څو ستا پلار له هومره درنو کاڼیو راوځي، زما پلار به په جنت کې داخل شوی وي.

رباعي

(مرګ یې آسان وی چې سبکبار وي
کوچ د دروند بار یو هرګور دشوار وي

---

(۱) و کتابه، نګین، و فرش رخام انداخته و خشت فیروزه بکار برده.

مرګ د فقرا و تمام راحت دي
مرګ د چا سخت وي؟ چې دنیا دار وي(۱)

حکایت

[۱۸]

شیخ وایې: یو بزرګ مې وپوښتیده له معنی ددې حدیث: "اعدا عدوکَ نَفْسکَ اَلتی بین جنبیکَ،" وې یې: په حکم ددې چې هر چې دښمن وي احسان ورسره وکړي دوست شي، مګر نفس، څو له ده سره نیکي او مدار کیږي دده طغیان و مخالفت زیاتیږي.

قطعه

دفرښتو په خوی سړی په لږ خوراك شي
چې ډیر خوري یا بهیمه شي یا جماد
دهر چا چې مراد پوره کړې ستا تابع شي
مګر نفس چې پوره مشه دده مراد

۱ــح:- و در خبر است که "موت الفقرا راحة" درویش چیزی ندارد که بحسرت بگزارد.

قطعه

مرد درویش که باربتم فاقه کشید
بدر مرگ همانا که سبکسار آید
وآنکه در دولت و درنعمت و آسان زیست
مردنش زین همه شک نیست که دشوار آید
بهمه حال اسیری که ز بندی برهد
خوشترش دان زاسیری که گرفتار آید

حکایت
[۱۹]

(دشیخ رحمة الله علیه دیوه مدعي سره مجادله واقع شوه، په بیان د تونګری ددرویشی)[۱] شیخ وایي یو مي ولیده ددرویشانو په صورت، نه ددوی په صفت چې په مجلس کې ناست وه، دفتر یې د شکایت آغاز کړی و، له توانګرانویې خبره په دا مقام رسولې وه چې د درویشانو لاس د قدرت نشته، دتوانګرانو پښې دارادت نشته

بیت

چې کریم عالي همت دی ورڅخه نشته درم
چې ښښتن دډیر دولت وي همت نه لري کرم

داخبره په ما[۲] سخته ولګیده، وی مې: ای یاره!(یو زمان توقف وکړه، ژبه بند کړه، زما خبره غوږ باسه)[۳] تونګران دخل دمسکینانو دی، ذخیره دګوشه نشینانو، مقصد دزایرانو، پناه دمسافرانو، محنتونه، مشقتونه دسودا ګری دنوکری ددهقانی په ځان اختیار کا، راحتونه فراغتونه ددوی په دولت نور و ته حاصل شي، همسایه ورڅنې خشنود، اقارب ورڅنې رضا مند.

۱ـ دا عبارت په اصل نسخو کې په طور د عنوان لیکلی شوی دی.
۲ـ ح :- (مرا) که پرورده بزرگانم.
۳ـ ز.

نظم

تونګران دی چې وقفونه مهماني کا
سرسایه زکوة عتاق او قرباني کا
(پل مسجد کوهي دلارې ښه سرایونه
ساز وي د خدای دپاره کا خر څونه
د غازیانو دغزا اسباب دوی جوړ کا
دحاجیانو په خدمت سره زړه سوړ کا)[۱]
ته به کله ورسیږې د دوی کار ته
ته ددوی په بد ویل بد شوی هوښیار ته
دوه رکعت لمونځ ادا،په سل وسواس کړې
له غروره کښیني ځان افضل الناس کړې

که قدرت وجود دی، که قوت دسجود، تونګرانو ته موجود دی، که پاکیزه پوشاك دی که لطیف خوراك دی، ددوی ته میسر دی (هغه چا سره چې غم دځان داولا د د پوشاك خوراك و يعبادت به یې کله په حضور دزړه وي.)[۲]

قطعه

زړه تر سل غمونو لاندې په شپه ځملی
چې صبا چیرته حاصل داولاد قوت کا
(تونګر شاکر په جمع زړه ولاړوي
درسته شپه طاعت وحی لایَموت کا)[۳]

۱ـ ز.
۲ـ أـ و قوت طاعت در لقمه لطیف است و صحت عبادت در کسوت نظیف.
۳ـ أـ مور گرد آورد به تابستان تافراغت بود زمستانش

معلوم دی[۱] چې له تهی دسته به څه خیر کیږي، او له پاشکسته څه سیر، فراغت له فاقې سره نه یوځای کیږی، جمعیت له تنګدستۍ سره صورت نه تړي، یوه تړلی تحریمه د نماز خفتن، بل په زیرمه په فکر دخوردن، کله سره برابر وي.

بیت

یوپه جمع زړه دحق په ذکر مشتغل
بل دقوت په فکر پریشان ګرځه تنګدل

مثل[۲] دی دعربو: «اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الْفَقرا لمکب وَ مجاوِرَةِ الَّذِیْ لَایُحبّ» په خبر کې راغلي دی: اَلْفَقر سِوَادُ الْوَجْهِ فِی الدَّارَیْنِ، وي یې: دا د اوریدلي دي، هغه د نه دی اوریدلي، چې فرمایلي دی صلی الله علیه وسلم: اَلْفَقرِ فَخْرِیْ، وې مې: خوله پټه شه، مراد له دې فقر هغه فقیران دي، چې په قضا دحق راضي دي (تر شته په نشته خوښ دي.)[۳]

بیت

(چې په نشت ددنیا خوښ په شته دلګیر وي
دهغه فقر ښایې وا عتبار ته)[۴]

۱ـ ح:- از معده خالی چه قوت آید و از دست تهی چه مروت زاید.
۲ـ پس عبادت ایشان بقبول اولی ترکه جمع اند و حاضر نه پریشان و پراګنده خاطر اسباب معیشت ساخته و باوراد عبادت پرداخته.
۳ـ و تسلیم تیر قضاء.
۴:

نه هغه چې خرقه يې د ابرار واغوستي وي، او ادرارونه دظالمانو خوري.

رباعي

اى چې پټ عيب هنر ښر ګند لرې
طبل خالي يې آواز بلند لرې
(رنګ منظور نه دى مزې پکار ده
که رنګ دسيب لرې دحنظل خوند لرى)[1]

داخبره[2] چې مې وکړه، درويش بى طاقته شو، جلب يې د تحمل له لاسه خلاص شو، تيغ يې دژبې دخولې له ميانه راويوست، پريشان يې ووې: [3] چې دا ښه مناسب دى تا لره چې هومره مدح او صاف داهل دنيا و کوې، ګويا خو هم دوى درنځونو ترياق دې، يا کنجي دخلق دار زاق دى، اهل دنيا ښه دى متکبران دي؟ مغرور، له خلقه، نفور مشغول په مال په نعمت، دحق تعالى له ياد و په غفلت[4] پريو تلي په چاه کې دجاه (درانيولو لاس يې اوږده، دورکولو کوتاه، لکه ښځې په رنګا رنګ جامو آرايش دتن کا، لکه

---

۱ ـ ر - اى طبل بلند بانګ و در باطن هيچ بى توشه چه تدبير کنى وقت پيچ
روى طمع از خلق به هيچ ارمردى تسبيح هزار دانه بردست ميپچ

۲ـ دلته د اوږد عبارت حذف شويدى . ممکنه ده چې د کاتب نه پاتې شوى وى. ولې دغه عبارت دکالج او داکيدمى دواړو قلمي نسخو کې نشته .(دلته په چاپى نسخه کې دلمن ليک متن نه لوستل کيږي ځکه را نه وړل شو. مهتمم)

۳ـ اسپ فصاحت درميدان وقاحت جهانيد و بر من دوانيد .

۴ـ ز .

چارپايې يا خوردن کا يا خفتن کا، حلال مال ددوی چيرې دی، چې خيرات يې مقبول شي، چې دروغ خوشامد ورته کيږي، خوشحال وي، په رښتيا خبره ملول شي.)[۱] علماو ته نظر په حقارت کوي، وايې حريصان[۲] د ي. فقر او ته چې ورځنی سوال وکا، جواب يې په سفاهيت وکا، (چې بی نمازان فاسقان دي. ورکړه يې هم په هغو عالمان وي چې ددوی مداهنت کا، خيرات يې هم په هغو فقيرانو چې ددوی ستاينه مدحت کا، بتر تر واړو ځان ښه ګڼي)[۳] دحکيمانو له قوله بی خبر چې ويلي دي هرڅوك چې په طاعت له نور کم وي په دولت زردار په صورت تونګر دی، په معنی خوار(دولت هغه دی چې په آخرت پکارشي په دنيا کې به څوك تر قارون دنيا دار شي.)[۴]

قطعه

(که هر څو يې سيم و زر انبار انبار دي
چې يې ګنج دعبادت نه وي نيستګار دي
چې نبي پناه له فقره په خدای غوښته
هغه فقر د طاعت، نه د دنياردی)

قطعه

ای چې زړه لرې ککړ په غير و مينو
په ظاهر لباس زاهد عارف په خوله يې

۱ـ ز.
۲ـگدايی.
۳ـبفرت مال که دارند و غيرت جاهی که پندارند بر تر از همه نشنيد و خود را بهتر از همه شناسند، نه آن در سر دارند که سر بکسی فرو آورند.
۴ـ ز.

زر دانه تسبیح په ګوتو مه جار باسه
مخ له خلقه وجارباسه که میړه یې[1]

وې مې مذلت ددوی روامه لره، مذمت یې ډیر مه وایه ښتن دکرم دي، وې یې غلط دې ووې: بنده ددنیار د درم دي، څه فایده که اوره وي چې نه وریږي (که اوبه دي چې څوك پرې نه خړوبیږی)[2] توان یې څه پکار چې ناتوانا نو پکار نه شي، دخدای د پاره چا سره قدم نه ږدي، بی منته دچا په لاس درم نه ږدي، مال په مشقت ټول کا په خست یې وساتي په حسرت یې پریږدي، حکماو وویلي دي: زرو سیم دلیم له ځمکې هاله راوځي چې دی په ځمکه ننه ووځي.

قطعه

(په معنی بخیل جندره دخپل مخزن دی
عاقبت به دا جندره کا اجل ماته)[3]
خزانه به دده نور حریفان یو سي
بی محنته بی کوشښه بې آفاته

ورته مې ووی، هیڅوك په بخل دنعمت دښتنو خبر نه شول، مګر په علت دګدایې هر څوك، چې طمع پریږدې بخیل سخي

۱ـ په اصل کې ددی دواړو قطعو په ځای دا شعر دی:
ګربی هنر بمال کند کبر بر حکیم　　کون‌خوش شما ر اګر ګاو عنبر است
۲ـ ز.
۳ـ(۱)ـ برنج و سعی کسی نعمتی بچنګ آرد.

پرې برابر شي، محك پوهيږي چې زر مغشوش دی يا خالص[۱] گدای پوهيږي چې فلانی شخص ممسك دی (فلانی جواد و مخلص)[۲] و ې يې په تجربه درته وايم چې دربانان غليظ او شديد په دروازه کې ناست لري، ښه عزيز خلق ورشي بارنه مومي، ده وته دورتلو لار نه مومې،ورته ووايې دلته څوك نشته، په حقيقت کې خورښتيا وايي:

بيت

د هر چا په علم ورکړه ښه همت عقل رای نشته
ښه ځواب يې دربان ورکا چې خواجه ددې سرای نشته

وې مې: هم يې په سبب د گدايانو د طامعانو له لاسه چې په ځان شوي د ي دربانان يې کښينولي دي، که څوك خواست لره نه ورتلی، رقعه يې ورته نه کښلی، دوی به له چانه پټېدل. محال دعقل دی، چې حريصان د چا په ورکړه ماړه شي، گدايان له سواله ساړه، که دُرشي ريگ د بيابان-ماړه په نه شي گدايان.

بيت

حريصان به ماړه نشي له درم
لکه چاه چې نه ډکيږی له شبنم

۱ـ که زر چيست.
۲ـ ز.

(که هر څو تلخي ویني سختي څکوي، لکه مگسان ورپریوځي)[۱] حلال حرام نه گوري.

قطعه

که سپی وولي په لوټه څوك له ورایه
له شادی پری حمله کا چې استخوان دی
جنازه که په نظر دگدای کښیوځي
له حرص گمان و کاندي چې خوان دی

اما دولتمندان له دیو کارونو محفوظ دي،(په خپل کور ناست محفوظ)[۲] هر گز دې لیدلي دي، چېددولتمند لاس چا پرې کړی دی، چې سارق دی، یا یې دچا پرده دعصمت څیرې کړې ده ؟ کفن یې له قبره وکښلی دی؟ مگر نیستگار ښه پهلوان مزری ځوان په سبب دلوږې دچا کور ماتوي، ونیو شي،گردن یې لکه د سپي وواهه شي، نفس آماره چې مراد خپل طلب کا، موجود څه نه وي، چې هغه مراد یې پوره شي، خواه ناخواه سرې وبلا ته واچوي، که سارقان دی، که قماربازان دي، که ټگان دي، که کفن کشان دي، که کیسه بران دي، واړه خواران تهي دستان دي، یو مفلس چا له یوې بهیمي سره په قبیح حالت ولیده، شرمساري وروررسیده، چې واهه یې هم دا به یې ویل چې ای مسلمانانو ! لاس مې دنکاح نه رسي، صبر کولی نه شم، معذور مې کاندئ، جمعیت آرام حق

۱_(۱_هرکجا سختی کشیده و تلخی چشیده را بینی. خود را بشره درکار های مخوف اندازد واز توابع آن نپرهیزد. و از عقوبت آن نه هراسد....

۲_(۱_ و بحلال از حرام محفوظ.

تعالی توانګرانو لره ورکړي دي، دوی ورځني په امان دي، ښه ښایسته صورتونه چې حلال نکاح ورته میسر وي څه ضروري دي چې التفات به ناروا فعلونو ته کوي. ډیر ستر خلق په سبب د نیستی له عفته وتلي دې، لوږه، خواري ډیر نیکنام زشت نام کا حاتم طایې که صحرا نشین نه وی، دګدایانو له لاسه به بیچاره و، په عالم به یې ګریوان پاره و، درویش ووې زه ددې په حال رحمت لرم، ځکه دا وایم. ما وې: په مال ددوی حسرت لرې، په دا سبب دا وایې، په دارنګ ګفتار، زه او دی ګرفتار، چې ده به پیاده راوړاندې کړ ما په یې دفع کوله، چې ما به شهرخي ورکړه، دی به په غصه شو، آخر یې ترکش خالي کړ، دلیل یې پاتو نشه، ذلیل مې کړ.

رباعي

څوک چي زده کړ ي خبر کا ندي
نه چې سپر واخلي دده دوړاندې
دکو ټ دننه سړ ی څو ک نشته
خا لي و سلي دي را آو یزاندې

نور یې زبان درازي پریښوه، دست اندازي یې آغاز کړه، دی زما ګریبان ګیر شه، زه دده ریش ګیر. ښکنځل یې راته وکړل، بیهوده مې ورته ویل، خلکو راپورې خندل. مثل دی" پردی جنګ نیم واده وي."

قطعه

ده په ما لاس لګولي ما په ده وو
ده ګریوان زما نیولی ما یې ږیره

سرتور دواړه محكمې لره روان شو
چې قاضي ته به داحال وايو په ځيره

القصه: (قاضی لره ورغلو احوال مو ورته طرفين بيان كړ)[۱] قاضي سر په ګريبان دفكر ننه يوست، پس له مدته يې سر پورته كړ، ويې ويل: اى چې په توانګرانو دې ثنا ويله، په درويشانو دې جفا كوله، زده كړه و پوهيږه هرځاى چې ګل وي هورته خار وي، هر ځاى چې ګنج وي هور ته مار، چې شراب وي خمار ، هورته چې درشهوار وي، نهنګ مردم خوار وي، (ددنيا له عيشه لذت سره دمرګ تلخي دقبر د مارانو چيچل لوړه تنده قبلول هاله بهشت لره ورتلل)[۲]. (هسى رنګ په تونګرانو كې هم حرصناك شته او هم صبور.)[۳]

نظم

(كه همه خلك په پوهه كې يكسان وى
بايده وو چې حكيم هر يو انسان وى)[۴]
كه ړلى غوندې پر يوان په جهان درومي
بازارونه بايده وو، چې ترې پر وى

۱-(۱-مرافعه اين سخن پيش قاضى برديم و بحكومت عدل راضى شديم. تا حاكم مسلمانان مصلحتى بجويد. و ميان توانگرن و درويشان فرقى بگويد. قاضى چون حيلت ما بديد و منطق ما بشنيد.

۲-(۱-لذت عيش دنيا را الدغه اجل در پس است و تعيم بهشت را ديواز مكاره درپيش. بيت.

جور دشمن چه كند گر نكشد طالب دوست گنج و مار و گلو خارو غم و شادى بهم اند

۳-(۱- همچنين درزمره تونگران شاكر اند و كفور و درحقله درويشان صابر اندو منجور

۴_ ز .

مقربان دحق تعالی تونګران دی درویش سیرت(۱) بهترین دتونګرانوهغه دی چې غم ددرویشانو خوري. بزرګترین ددرویشانو هغه دی چې له توانګرانو امید قطع لري،پس يې مخ له ما وجار يوست، درويش ته يې ووې: ای چې وايي تونګران مشغول په مناهي دي، مست په ملاهي، بعضې هم دغه هسې دي لکه ته وايې. قاصر همت، کافر نعمت دنيا کيږدي نه يې خوري، نه يې ورکوی، (په حسرت يې پريږدي)(۲) ددرويشانو له احواله غافل که څوك له لوږې مري پروا دار نه وي(۳) وايي:

قطعه

که نور خلك له خوارۍ خراب هلاك شي
نه په چايې دزړه رحم نه تپاك شي
که تمام جهان دنوح په طوفان غرق شي
دهيليو له طوفانه کله باك شي

اما بعضې تونګران دي چې خوان يې د نعمت عام غوړولی وي، دوست دښمن يې له دولته محفوظ وي، طالب ددين ددنيا دمغفرت، (او دعزت دنيا يې مزرعه داخرت کړې وي، يايې له څانه سره وړې وي.)(۴)

۱ـ ح : و درويشان اند تونګر همت.
۲ـ ز.
۳ـ ب‌اگر بمثل نبارد و يا طوفان جهان را بردارد با عتماد مکنت خود از محنت درويش نپرسد.
۴ـ ز.

بیت[۱]

(زرزبون سړی ته بد دی نه چې بد دی وښه ځوان ته
وقارون ته زَر بلا شول نه بلا شول سلیمان ته)[۲]

قاضی په شرح بسط احوال دفقیرانو ددنیا دارانو بیان کړ، موږ دواړه سره رضا مند شوو از روی تدارك مو ځبله قدم بوسي وکړه، سره بغل ګیر شو، ختم دخبرې په دا وشه :

قطعه

(دشکایت دفقیرۍ مه کړه درویشه
پرې شاکر شه که دې توان نشته صابر
له کفرانه پستنه اوسه تو نګره
خو ره خور وه باندې صابر اوسه شاکر)[۳]

۱_ددی نه وروستو په اصل کې څه عبارت دی چې سوری پکې دخپل ممدوح صفت کړی دی.(په موجوده چاپي نسخه کې نه لوستل کیده، نوځکه هغه فارسي متن رانه وړل شو(مهتمم)
۲_ز.
۳_ مکن زگردش گیتی شکایت ای درویش که تیره بختی، اگر هم برین فسق مردی
تونگرا چو دل دوست کا مرانت هست بخور بخش که د نیا و آخرت بردی

اتم باب

په بیان دادبونو دصحبت

حکمت

[۱]

مال دعمر دآسایش دپاره دی، نه عمر دمال د ټولو لو دپاره، چا یو عاقل و پوښتیده چې نیك بخت څوك دی؟ بد بخت څوك ؟ وې یې: نیك بخت هغه چې وخوري، یوسي. بد بخت هغه چې ومري نور یې تر ې یوسي.

قطعه

نمونځ هر ګز ورباندې مکړه هیڅکاره و
پریږده هسې یې بې نماز په ګورکې کښېږدي
چې دنیا په مشقت کاندې حاصله
ترې وانه خلې فائده هسې یې پریږدي

حکمت

[۲]

موسی علیه السلام،قارون (علیه اللعنت)[۱] ته ډیر نصیحت کاوه چې اَحسِن کَمَا اَحسَنَ اللهُ اِلَیکَ. یعني احسان کوه لکه حق تعالی احسان کړی له تا سره. نه یې اورید،اوریدلی به دې وي چې څه یې ولیدل.

قطعه

خیریت ددین دنیا که پرې حاصل کړې
پکار هاله ستا دینار شي ستا درم
که دې زړه وي چې بهره له زرو واخلې
پرهر چا باندې عطا کوه کرم
دعربو یو مثل دی جُد وَلاَ تمنُنّ لِاَنّ اَلفَائِدَۃُ اِلَیکَ اَلعَایِدَۃُ،
یعنې: ورکوه،بخښه،منت په چا مږده، چې نفع درته بیا ورسي.

قطعه

سخاوت په مثال څه دی میوه داره شجره
چې منت ورسره مل کړې ویخ یې سکنې په اره

۱ـ ز.

رباعي

شکر دخدای کړه چې توان يې درکړ
خيرات دې ځکه دفقير ورکړ
(تو نګر به کله اد اد شکر کا
چې بل فقيرشه دی تونګرکړ)(۱)

حکمت

[۳]

دوه تنه ومړل، رنځ يې بې فايده وځکوه: يو هغه چې مال يې جمع کړ، پکاريې نه شه، دويم هغه چې علم يې زده کړ عمل يې وربانديې ونه کړ.

قطعه

که په علم کې هر څو تحصيل تمام شي
چې عمل وربانديې نه کا ناداني ده
کتابونه باندې کښلي دي يو خردی
په نصيب ئې سخت عذاب و پښيمانی ده(۲)

۱_ منت منه که خدمت سلطان همی کنم منت شناس از و که بخدمت بداشتت
۲_ح: آن تهی مغز را چه علم و خبر که برو هيزم است يا دفتر

قطعه

(چې عمل يې خپل علم باندې نه وي
لا بتر تر جاهلا نو د انشور دی
که په خره باندې څوك بار کا کتابونه
هيڅ بزرګی به يې ونشي خر خو خردی)[١]

حکمت

[۴]

علم دعمل د پاره دی ؟ نه دجاه، دپاره ددنيا دټولولو .

بيت

وسيله چې ددنيا علم عمل کا
دنيکۍ خرمن يې ساز کړ اور پرې بل کا

حکمت

[۵]

عالم نا پرهيز ګار ړوند وي، مشعله دار. يعنې دی ترې فايده نه اخلي،نور ورځنې مستفيد شي.

١ـ ز.

بیت

(هر عالم چې متقی پرهیزگار نه وي
وړانده و ته چراغ څه په کار نه وي)[۱]

حکمت

[۶]

ملك له خردمندانو جمال مومي ، دین له پرهیزگارانو کمال، بادشاهان محتاج د خردمندانو دي، نه خرد مندان محتاج ددوی.

قطعه

زما پند دزړه په غوږ وواوره بادشاه !
سودمند تا وته هیڅ نشته له دې پنده
خردمند و ته سپارل د عمل بویه
که هر څو نشي عمل له خرد منده

حکمت

[۷]

دری څیزه بې درې څیزه پایدار نه وي: مال بې تجارته، علم بې درسه، ملك بې سیاسته .

۱ـ (- بیفایده هر که عمر درباخت چیزی نخرید وزر بینداخت

قطعه

ویل هور ته په نرمی په لطافت کړه
چې صادر شي له اصیل ګناه یو ځله
ځای ځای کار ترخه دارو کا ترخه بویه
ګل قند نه بویه هغه ته بې حنظله

حکمت

[۸]

رحم کول په بدانو ستم شي، په نیکانو، عفو کول له ظالمانو ظلم کیږی، په مظلومانو.

رباعي

(ګوره نن ګانده روزګار پسو کیږي
نیکي له بدو بدي له ښو کیږي
چې ظالمان وي بد کار مردار وي
دخلقو مینه هم په هغو کیږي)[۱]

بیت

د بدذاتو تربیت غریب نوازه
مکوه که کړې بلا به شي درسازه

۱ـ ز.

حکمت

[۹]

دبادشاهانو په مهربانۍ باور نبویه، نه په خوش آوازۍ دهلکانو اعتماد. د هغه په لږ څه مهر په قهر بدل شي. ددوی آواز تغیر شي یا په خوب یا په باد.

قطعه

(د بادشاه په مهر مینه غلط مشه
نه دوی رګ لري له چانه نسبتونه)[۱]
په هغې معشوقې څه باور دکړو دی
چې په هر لوري یاران لري زرګونه

حکمت[۲]

[۱۰]

(هر راز که دې رضا وي چې پټ وي هیچاته مه وایه چې هیڅوك ستا په راز ترتا مشفق تر نشته، اګر چې یار دې وي دهغه به بل یار وي).

قطعه

خاموشي دراز ساتل سږي ته بِه دي
چې راز ووایې بیا وایې مه یې وایه

۱ـ ز

۲ـ ح. هر آن سری‌که داری بادوست دربیان منه اگر چه دوست مخلص باشد چه دانی که وقتی دشمن گردد و هر گز ندی که توانی به دشمن مرسان که باشد وقتی دوست گردد.

چې اوبه په جوي کې راشي بندیې گران دی
بویه دا د چینې سر بند شي له ځایه[۱]

حکمت

[۱۱]

ضعیف دشمن چې اطاعت قبول کا دوستي ظاهر وي، مقصود یې دا وي چې په دشمنۍ کې قوي شي. هوښیارانو ویلي دي: په دوستۍ ددوستانو اعتماد نشته، په تملق د دشمنانو کوم اعتبار.[۲]

بیت

ددې وقت دوستان بتر له دشمنانو
کوم اعتبار په دشمنانو دی دوستانو

قطعه

وژنه هیڅ صرفه پرې مکړه چې لا لړ دي
چې داور لنبې لا نه دي ډیر ې بلې
تر هغه پخوا چې دی لینده په ژۍ کا
د غلیم وینې ته کړه په ځمکه تلې

۱_ح:-" سختی درمیان نباید گفت کان سخن بر ملا نشاید گفت"
۲_ح_"وهر که دشمن کوچک را حقیر شمارد بدان که اتش اندک را مهمل گذارد»

حکمت

[۱۲]

د دوو دشمنانو تر منځ هسې خبره کړه چې که دوستان شي ته يې تر منځ شرمنده خجل نشې.

نظم

جنګ ددو تر منځ په مثل د آتش دی
سخن چين بدبخت تر منځ هيزم کش دی
دا هغه سره بيا خوش کاندي بد زړونه
تر ميان تور د سخن چينو شي مخونه
چې ددوو تر منځ بل اور د عداوت کا
ما اور بل په خپله خو نه په محلت کا

حکمت

[۱۳]

هرڅوك چې ستا له دښمن سره صلح لري تا سره يې خيال ددوستۍ نشته.[۱]

۱ـ "هرکه با دشمنان صلح میکند سر آزار دوستان دارد"

بيت

دهغه له دوستی پريو نيځه لاسونه
چې دشمن سره دې کاندي پيودونه

حکمت

[۱۴]

چې په دوه کاره کې متر دد شي هغه کار اختيار کړه چې له آزاره لري دی.

بيت

که عمل کوې په عقل فرهنګونه
چې څوك صلح غواړي مکوه جنګونه

حکمت

[۱۵]

چې کار په نرمی[۱] ترسره کاوه شي، نه بويه چې ځان په خطر کې اچاوه شي، عرب وايې "آخِرُ الْحِيَلِ اَلسَّيْفُ."

بيت

چې تر واړ و حيلو کار دسرې تير شي
له هغه پسه ډلاس تورې له وير شي

۱ـ۱ـ به زر

حکمت

[۱۶]

هر څوك چې بد ووژني خلق له بلا خلاص کا، دی له عذابونو.

بیت [۱]

هیڅ صرفه پرې مکړه وژنه مار لړم
په دوی رحم ، ستم کیږي په آدم

حکمت

[۱۷]

نصیحت له غلیمه اورېدل روا دي، قبلول خطا، چې په خلاف دده ویلو کار کول عین صواب دی.

نظم

په ویل چې ددشمن کوي کارونه
په هغو باندې پرېوځي نا تارونه
سمه لار که غلیم ونښيي پرېمه ځه
دکږې لارې په لوري درومه خوځه

۲ـ ح : پسند بد است بخشایش و لیکن منه بر ریش خلق آزار مرهم

حکمت

[۱۸]

خشم زیات ترحده کول و حشت راوړي او لطف بې وقته دهشت وړي، نه هومره غضب درشتي بويه چې خلك ورځنې ګريزان شي ، نه هومره نرمي چې ګستاخ دې په ځان شي.

نظم

درشتي نرمي د دواړه موافق وي
چيرته داغ چيرته مرهم ږدي چې حاذق وي
(کم ظرفان په لږه ويره کې زبون شي
چې زايله ځنې ويره شي افزون شي
په محنت کې ځان ګيدړ کاندي يا تروړی
په راحت کې پړانګ دتورې يا دتوری
الا مان له هسې شاه له هسې خانه
پيدا مشه قبيله کا خپله ورانه)[1]
مه بد خوی شه چې ويزار درځنې خپل شي
مه داهسې چې زړه ور درباندې بل شي
(چې په ځای دګلو ګل شي دخار خار شي
مور وپلار ډېر هغو ځوانانو ځار شي)[2]

۱ـ ز.
۲ـ ز.

شپانه وویل و پلار ته خر د منده
سرفراز مې کړه مفید له شاهي پنده
وې یې زویه مهر کړه په خلق باندې
نه شر مخ چې حملې په رمه کاندي

حکمت

[۱۹]

دوه تنه غلیمان دخپل ملك دخپل دین دي: یو حاکم بې حلم بل زاهد بې علم.

نظم

(هر حاکم چې زغمل نه لري زر زغلي
رعیت یې په آرام کله څملي)[۱]
مه کړه خدای هغه سړی دملك سردار
چې دی نه وي دخپل خدای فرمانبردار

حکمت

[۲۰]

بادشاه ته بایده دي چې په دشمنانو هومره غضب نه کا، چې د دوستانو اعتماد پاخي. دغضب اور اول دغضب کړونی کور وسوزوي پس دنورو.[۲]

۱ــ ز.
۲ــ پس آنگه زبانه بخصم رسد یا نرسد.

نظم

ستا خه کار له قهره کبره آدم زاده
ته خاکي یې اصل مه باسه له یاده
ته چې خوښ په دا تندۍ په سرکشي یې
معلومیږي خاکي نه یې آتشي یې

حکمت

[۲۱]

چې غلیم په لښکر کې تفرقه پریوځي. ته زړه جمع کړه، که دوی اتفاق وکړ(ته مشغول په سامان سرانجام دجنګ شه.)[۱]

قطعه

له دوستانو سره ناست او سه عشرت کړه
که اخته دې غلیمان شي په خپل جنګ
که خبر شې چې یې صلح سره وکړه
دوسلې سامان دکوټ کړه د تفنګ

حکمت

[۲۲]

سر دمار په غلیم و ټکوه چې دواړه لور په ستا خیر دی.[۲]

۱ـ از پریشانی خود اندیشه کن.

۲ـ ح: اگر دشمن غالب آمد مار کشتی و گر نه از دشمن برستی.

بیت

(که مار چیری پیدا شي مرګ یې حکم په دښنه کړه
په دود کې هر چې و مړ سینه یخه په هغه کړه)[١]

حکمت

[٢٣]

هره خبره چې زړه ته آزار رسوي ته یې مه وایه، پرېږده چې بل یې ووایي.

بیت

(په بلبلو باندې زیری دبهار کړه
بد خبر کارغه ته پرېږده ځان وزګار کړه)[٢]

حکمت

[٢٤]

احمق تر دسړ یو هغه دی چې دبل په ستاینه ځان غلط کا، خپل افعال اقوال ته نه ګوري.[٣]

١ـ ف: بروز معرکه ایمن مشور خصم ضعیف که مغز شیر برآرد چو دل زجان برداشت.
٢ـ ف: بلبلا مژده بهار بیار خبر بد به بوم شوم گزار"
٣ـ ف: هر که نصیحت خود رای میکند او خود به نصیحت گری محتاج است

قطعه

(که څوك ووايې چې غوړ دتاسپی یووړ
خپل غوړ وګوره له سپه پسې زغله
په پوکل د باد فروشو پر باد مشه
نیك و بد دخپل ځان وګوره په خپله)[1]

حکمت

[۲۵]

په متکلم چې اعتراضونه وشي خبره يې هاله اصلاح پذیرهٔ شي.

بیت

په ستا ینه دنادان په خپل پندار
مغرور مشه چې فصیح لرم ګفتار

حکمت

[۲۶]

هرسړي ته خپل عقل کمال ښکاريږي، دخپل فرزند صاحب جمال.

۱ــ ز.

قطعه

د جهود د مسلمان مناظره وه
نندار چیان یې چا خندا کړه څوك حیران
مسلمان وې که په دا کې زه دروغ کړم
په قیامت پا څم جهود نه مسلمان
جهود ووې په تورات زما څو ګند دی
که دروغ کړم مسلمان شم ستا په شان
که دا عقل له جهانه منعدم شي
هم به ځان ته څوك ونه وایي نادان

حکمت

[۲۷]

آدم زاد لس تنه په یوه سفره طعام وخوري، دوه سپي په یوه مرداره ګذران نه کا، حریص به په تمام جهان موړ نشي، قانع په یوه روټۍ موړ شي.(۱)

قطعه

دسړی ګیډه نیم سیر غله کا ډکه
د حرص سترګې دده کله ډکیږي

۱ـ ح: حکما گفته اند؛ درویشی بقناعت بِه از توانگری ببضاعت.

(که دمزکې نعمتونه و ده ورکا
هسې رنګ يې زړه و نورو ته څوشېږي)[1]

نظم

يوه پلار په وقت دمرګ زوی ته پند وې
پټ يې نه وې په عالم کې يې څرګند وې
چې ای زويه د شهوت له اوره ډار کړه
په مړه ول ددې آتش ځان پرهيزګار کړه
د دوزخ له اوره اور د شهوت تيز دی
له دې اوره دنبي ولي پرهيز دی

حکمت

[۲۸]

هر څوك چې په توانايي کې نيکي ونه کا، په وقت به دناتوانۍ سختي ويني.

بيت

هر بد بخت چې بداندېش مردم آزار وي
مه کړه خدای چې په محنت کې يې څوك يار وي

۱_ ز

حکمت

[۲۹]

هر چې زرېږي کمال وشي زرېږي زوال وشي.

قطعه

په څلويښت کاله چيني شي پرې شندلې شي سرې سپينې
کودي گورې په ورځ سل شي خود يې قد ر قيمت وينې

قطعه

شيشه ځکه ده بې قدره ډک ترې هر چيرې بازار وي
چې هر چيرته مونده نشي لعل ځکه قدر دار وي[1]

حکمت

[۳۰]

کار په صبر تر سره کيږي، بيړندی په سر لګيږي.

قطعه

په اول منزل شاطر تر قاصد تيرشي
په دويم دريم قاصد شي ځنې وړاندې

۱ـ دا داصل قطعې د دريم شعر ترجمه ده، اولنی دوه شعر ونه چې دلته يې ترجمه نشته دا دي:
مرغک از بيضه برون آيد و روزی طلبد آدمی زاده ندارد خبر از عقل و تميز
آنکه ناگاه کسی گشت بچيزی نرسيد دين به تمکين و فضيلت بگذشت از همه چيز

دا په دا چې قاصدورو په دمه يون کا
شاطران په لارې تله په شتاب کاندي

حکمت

[۳۱]

نادان لره بهتر تر خاموشي څه نشته، که به دا پوهيدی نادان به نه و.

بيت

چې دې نشته چندان علم عقل پوهه
خاموشي کوه چې خلاص وې له اندوهه

قطعه

يو احمق و چې ناری به يې په خره کړې
ورښيل به يې وده و ته حرفونه

يو حکيم ورباندې راغی چې دا څه کړې
په دا کار به په تاشي ملا متونه
ګويا يې بخره خاصه دآدم زاد ده
حيوانات له اصله کله ګويا وونه
ته له دوی نه علم زده دخاموشۍ کړه
چې حاصل دې شي ددوو کونو سود ونه

نظم

چې په صبر و تحمل نه کا جواب
هغه کله جواب کاندي باصواب
یاسړیو غوندي کړه جواب په هوش
یا چارپایو غوندي ناست وسه خاموش

حکمت

[۳۲]

چې له تا دانا وي دهغه سره مجادله ناداني ده.

بیت

اعتراض د دانا یانو په گفتار
هرگز مه کوه چې نشي شرمسار

حکمت

[۳۳]

هرڅوك چې له بدانو سره کښیني،نیکي به نه ویني.

نظم

که فریښته مصاحبت وکا له دیوه
پرې اثر وشي د دیو له مکرو ریوه
له بدانو زده کول دښو محال دي
چې په سرکې یې داخیال هغه خام خیال دی[۱]

حکمت

[۳۴]

پټ عیبونه دچا مه رسوا کوه، دوی به فضیحت کړې ځان به بی اعتباره بې قیمت کړې.

حکمت

[۳۵]

هر څوك چې علم وکا عمل پرې نه کا، قلبه کرځوي، تخم نه غورځوي.

حکمت

[۳۶]

که هره شپه شب قدر وي،شب قدر به بې قدره و.

۱ـ نکند گرگ پوستیندوزی.

بیت

که دا کاڼي واړه لعل دبد خشان شي
لعل به هم لکه دانور کاڼي ارزان شي

حکمت

[۳۷]

نه هر ځوك چې صورت ښه لري، سیرت ښه لري، (قدر مرتبه په موافق دخوی وي، نه د روی، مغز پکار وي نه پوست ظاهر، یو وي دشمن او دوست.)[۱]

قطعه

په یو دوه ورځې ښکاره د مرد خوی بوی شي
چې دا خوی دایې هنر دای علوم
له باطنه یې ایمن مشه حذر کړه
دنس خبث په کالونو شي معلوم

حکمت

[۳۸]

کمزوری چې له قوي سره ستیزه کا، خپل ځان په خپله په خپل تیغ وژني.

۱ـ ز

بیت[۱]

زر به ووینې سرمات ماغزه وتلې
چې له مړه سره ټکر وهې پرې زغلې

حکمت

[۳۹]

پنجه بازی له شیره، مشت زنې له شمشیره، کار د هوښیارنو نه دی.

بیت

په هرکار کې اندازه لره ساتلې
که دې نه دې ددانش سترګې وتلې[۲]

حکمت

[۴۰]

هر څوك چې نصیحت نه آروې خواهش دملا مت دآرویدو لرې.

بیت

چې نه اروې دنیکخواه نصیحتونه
آخر وشې په هغو ملا متونه

۱ـ ح: خویشتن را بزرگ می بینی / راست گفتند یک دو بیند لوچ
۲ـ جنگ و زور آوری مکن با مست / پیش سر پنجه در بغل نه دست

حکمت

[۴۱]

هنر مندان بې تقصيره دبې هنر و بدي شي، لکه دولتمندان دغلونو.[۱]

حکمت

[۴۲]

که ګيډه نه وي هيڅ مرغه به په دام کې نه پريووت، بلکه صياد به دام نه کښيښى.

بيت

ګيده بند ده د لاسونو هم زندان ددواړو پښو
چې له دې قيده څان خلاص کا سړی هاله شي په ښو

۱ـ بی هنران هنر مند را نتوانند دید. چنانکه سگان بازاری سگ صید را مشغله برآرند و پیش آمدن نیارند . یعنی سفله چون به هنر با کسی برنیابه خبثش در پوستین افتد بیت:

کند هر آئنه غیبت حسود کوته دست که درمقابله گنگش بود زبان مقال

حکمت

[۴۳]

مشورت له زنانو سره تباه دی، سخاوت په مفسدانو ګناه.
(ترحم په لیوګانو ، ستم دی په ګوسفندانو.)[۱]

نظم

چې له بدوسره ښه کړي   زما جنده دا ښه نه کړي
چې رحمت کړي په لیوګانو   ستم به خپل ورغوی ته کړي
په لستوڼي کې چې مار ږدي   په خپل ځان به شنده وکړي[۲]

حکمت

[۴۴]

پس له فکره ګفتار بویه پس له صبره ګذار.

بیت

چې ښکاره په خپل ګذار کې ناصبور وي
همیشه یې له نخچیره غشي دور وي

۱ـ دادی شعر ترجمه ده : ترحم بر پلنگ تیز دندان   ستمگاری بود بر گوسفندان
۲ـ په اصل کې دلته دا شعر دی:
ترحم بر پلنگ تیز دندان   ستمگاری بود بر گوسفندان

حکمت

[۴۵]

دحکیم چې له جاهل سره (صحبت واقع شي،)[۱] توقع دې عزت ورځنې نه کوي، که جاهل په زبان آوری په حکیم غالب شي عجب نه دی. يو کانی به ځو جواهرمات کا،(يو کارغه به ځو عندليبانو خاموش.)[۲]

بيت

که بلبله له زاغانو په قفس شي
زاغ غوغا کا دبلبلو بندنفس شي

حکمت

[۴۶]

په جفا دنااهلو قدر عزت داهلو نه کمیږي.[۳]

قطعه

آزاده که له سفله جفا ويني
چیری نه وي زړه آزار کاندي برهم شي

۱ـ درافتد
۲ـ ز.
۳ـ په اصل کې دا حکمت نشته.

که په کاني کا پیاله دزرو ماته
نه عزت دکاني زیات نه به زر کم شي

حکمت

[۴۷]

استعداد بې تربیت دریغ دی، تربیت بی مستعد ضائع، ایرې نسبت علوي لري، پیدا له اوره دي، اما چې په خپل ذات کې هنر نه لرې، له خاورو برابر دی. قیمت د شکر ونه په سبب دګني دی،بلکه خوږ والی خو دخاصیت ددوی جبلي دی.

نظم

چې په اصل کې کنعان و بې هنره
په دا څه که و پیدا له پیغمبره
هنر بویه چې حاصل دخپل وجودشي
ګل له خاره ابراهیم دی له آذره

حکمت

[۴۸]

مشك هغه د ی چې بوی لري، نه هغه چې عطار صفت وکا، دانا سړی لکه دبلی د عطارانو دی، خاموش هنر نمایي. نادان لکه نغاره آواز بلند منځ خالي.

رباعي

عالم په میان کې دجاهلانو   مصحف په کورکې دکافرانو
کښلی میلمه د بې بصرانو   مسجد په کلي کې د بې نمازانو

حکمت

[۴۹]

عقل په لاس کې دنفس هسې ګرفتار دی، لکه صالح سړی په لاس کې د بد عورتې.

بیت

وردې نور دخوشحالی په ځان بند کا
چې په کور کې یې آواز ښځه بلند کا

حکمت

[۵۰]

تدبیر بې قوته مکر فریب دی، افسون بې تدبیره جهل دی یا جنون.

بیت

اول عقل تمیز بویه بیا له پسه سرداري
ملك دولت دنادانانو لوی اسباب دی دخواري

حکمت

[۵۱]

هرجوانمرد چې خوري او ورکوي بهتر دی له عابده چې روژه لري، دنیا خوندي کوي.

بیت

چې قبول دخلقو غواړي هر عابد ګوشه نشین شي
دنیا هومره حاصل نه کا لکه لاړو رځنې دین شي[۱]

حکمت

[۵۲]

یو یو لښکر شي[۲] قطره قطره سیلاب، یعنی که قدرت دانتقام درځخه نه وي، خوړلي کاڼي ساتلي لره. په وقت دفرصت دغلیم ماغزه پرې وباسه.

بیت

څاڅکی څاڅکی سره ټول شی باندې نوم جوړ شی دنهر
نهر نهر څبله ورشي باندې نوم کیږدي دبحر[۳]

۱ـ دا شعر په اصل کې یو بل پند سره راوړلی شویدی. داصل شعر دادی:
عابد که نه از بهر خدا گوشه نشیند بیچاره در آئینه تاریک چه بیند.
۲ـ ا ـ اندک اندک خیلی شود.
۳ـ دادعربی دیو شعر ترجمه ده. خو دې سره دفارسی دا شعر یې حذف کړیدی.
اندک اندک بهم شود بسیار دانه دانه است غله در انبار

حکمت

[۵۳]

دډېرو کالونو دوستي نه بويه چې زر په دشمنۍ بدلېږي.
چې شل کاله دې له چا وفايدلې وي که جوانمرد يې سل کاله يې جفا يو سه، شل کاله خو جور دده څکول لاړم دي.

قطعه

بې بې رايشه زما دير ينه ياره!
څو د زړه هو مره جفا کړه بې وسواسه
پرورده د ستا دمهر دوفايم
مکړه خدای چې آزار شي زما له لاسه

حکمت

[۵۴]

علماؤ لره بايده دي، چې حليم متحمل وي، اما نه ترديه حده چې سفيهان پرې زبان دراز شي.[۱]

نظم

څونرمي ورسره کړې لطف خوشي
لا زياتيږي د سفله گردن کشي

۱ـ عالم را نشايد که سفاهت از عامی بحلم درگذرد که هر دو طرف را زيان دارد.
هيبت اين کم شود و جهل آن محکم.

(کله پلك کله سوهان کله اوبه شه
کله اورله هغه پسه استا د ته شه
هغه څوك چې په ازل پيدا نيکبخت وي
له پستو سره تل پوست له سختو سخت وي[۱]

حکمت[۲]

[۵۵]

نصيب دغني له دنيا آرائش دی، دفقير برخه آسايش، هغه صورت لري آسوده،زړه لري فرسوده،دا صورت لري فرسوده،زړه لري آسوده، هغه دوزخ دی پټ په شهواتو دا جنت دی پټ په مکاره.

نظم

دنيا دار جامې اغوستې معطر خوشبو يې
ننه زړه يې واړه خساد ی په بد بوی د بد خويې
که فقير په صورت خار دی ننه زړه يې درست گلزار دی
په باطن کې تونگر دی په ظاهر څه شوکه خوار دی

۱ـ ز.
۲ـ دا حکمت په چاپ شوو نسخو کې نشته .

حکمت

[۵۶]

معصیت له هر چا بد ښکاري له عالم بد تر، علم په معنی دده وسله د ی،دوسلې ښبتن چې ژوندی په بند بیوه شي، شرمنده تر وي، له هغه چې وسله یې نه وي. (هغه جاهل چې پریشان روزگار وي، بهتر د ی‌له دانشمند چې نا پرهیز گاروي، هغه نا بینا و لارې غلطه کړه، په لوړ و ژورو کښېوت دا بینا و په کوهي کې پریوت.)[۱]

حکمت

[۵۷]

حق تعالی د بنده دوست دی، شیطان یې دشمن، حیف چې په ویل ددشمن مخالفت کوي ددوست.[۲]

قطعه

په ویلو ددشمن شوې دخپل دوست پیمان شکن
څوك به مرد وايي وتاته چې ته شوې بتر تر زن

۱ـ دا عبارت ددوو شعرونو ترجمه ده.
۲ـ ۱ـ "جان در حمایت یکدم است و دنیا وجودی میان دو عدم. دین بدنیا مفروش که دین بدنیا فروشان خرند. یوسف را فروشند تا چه خرند."

تف په تا دې تا په عقل څوك دې پرېښ د چا یار شوې
دوست دوستدار لرې بې شماره ته بې دوسته پاتو خوار شوې

حکمت

[۵۸]

یوسف علیه السلام[۱] په قحط سالۍ کې چې دمصر بادشاه و په مړه ګېډه یې طعام نه خوړ چې وږی مې له زړه وهیرنه شي.

نظم

چې یې زیست په تنعم کې په راحت وي
له احواله د خورانو فراغت وي
چې دلوږې یې خوړیږي ننه سږي
ښه پوهیږي هم هغه په حال دوږي
په احوال ددرمانده درمانده ښه زده
چې یې کار همه پوره وي هغه څه زده
ای چې سوریې په نیلي شملې پریښی
خردې نښتی دی په لای خور جي پریښی
که هرڅویې آس تازه تزك وي زغلی
هم بایده دي چې سوریون کاندي دېلي

۱_ح : درتنگی خشک سال.

په ورو ورو رفتار کوه دخدای دپاره
رانده گوړ دکاروان شته کاروان سالاره[۱]

حکمت

[۵۹]

درویش ضعیف مه پوښته چې څه حال لري . مگر په دا شرط چې مرهم یې په پرهارکیږدې، نقد و جنس هر چې موجود وي ورته پریږدې.

قطعه

که څوك ووینی چې باریې وي پرتیلی
په یوا ځې ځان یې نشي آچو لی
یا پوښتنه دحال مه کړه ترې دومه
یا مددور سره وکړه ثواب مومه
رسول یې ورته بویه تر منزله
ځان داخل کړه د مردانو په شمار دله

حکمت

[۶۰]

دوه څیزه محال دعقل دي: خوراك زیات تر رزق مقسومه، مرگ پخوا تر اجله معلومه.

۱-۱- ای که برمرکب تازنده سواری هشدار
آتش از خانه همسایه درویش مخواه
که خر خارکش مسکین درآب و گل است
کانچه از وزن او میگذرد دود دلست

نظم

په هيخ رنګ به دقضا حکم نور نشي
له ازله به سپين هيڅري تو رنشي
(قسمتونه د ښو بدو په مقدار دي
سپور به غور غور به دهيخ سري سپور نشي)[۱]
آه اوه مکوه قضا وته تسليم شه
تبدل د قضا ستا په شر شو ر نشي
(سکندريې کوښښ وکړ خضر نوش کړې
د ازل له نصيبې سره زو ر نشي
په نيم جام قناعت کړه چې دې قسمت شه
فهم وکړه په حرص چې نسکور نشي)[۲]

حکمت

[۶۱]

تونګر فاسق کانی دی ملمع دی په زرو، نيستګار پرهيزګار صالح ښايسته دی آلوده په خاکسترو، دا دلق دموسی دی عليه السلام مرقع، هغه ږيره دفرعون عليه اللعنت، مرصع. دولت دنيکانو لکه صبح صادق[۳] روز افزون دی، دولت دفاسقانو (لکه صبح کاذب)[۴] دم په دم سرنګون دی.

۱ـ ز.
۲ـ فرشته که دکيلست بر خزانه باد   چه غم خورد که بميرد چراغ بيوه زنی
۳ـ ز.
۴ـ ز.

نظم

جاه دولت که وسیله دآخرت کړې
تړی به هاله حاصل ځان ته منفعت کړې
ګنه هیڅ به دې سود نه وي له دولته
که یې جمع په محنت په مشقت کړې
ستا په بحره مشقت نور به یې یوسي
ته به هسې خالي لاس ځنې رحلت کړې

حکمت

[۶۲]

حسود په نعمت دحق تعالی بخیل دی او بیګناه خلق لره غلیم.

قطعه

یو مفلوك و سرکودن له ډیرې لوړې
مشغول شوی په غیبت داهل جاه
بل یوه ورته آواز کړ بخت ستا بد شه
ددې نورو نیکبختانو څه ګناه

رباعي

هیڅ بلا مه غواړه په حاسد باندې
دی خو دله ځان سره دشمني کاندې
نور واړه خلق عیش عشرت کا
د ده په زړه دې بلا هړ اندې

حکمت

[۶۳]

شاګرد بی ارادته عاشق دی بی زرو، سالك بې معرفته مرغه دی بې پرو، عالم بې عمل و نه دی بې بره، زاهد بې عمله کوټه ده بې دره.

حکمت

[۶۴]

مراد د قرآن له تلاوت ښه خوی حاصلول دي، نه په خوش آوازۍ په مخرج لوستل .

حکمت [۱]

[۶۵]

عاصي چې ځان له خلقه بتر ګڼي، ښه دی له هغه عابد چې عجب په سر کې ځان بهتر ګڼي.

قطعه

سپاهي چې په خوی ښه وي دلداري کا
له هغه فقیه بهتر چې آزار آخلي

۱_ ح :عامی متعبد پیاده رفته است و عالم متهاون سوار خفته.

(دنسب حسب هېڅ پوښتنه نشته
دقیامت په ورځ خبرد کردار آخلي)[۱]

حکمت

[۶۶]

عالم چې بې عمل وي لکه مچۍ دی چې بې عسل وي.

قطعه

دا پیغام مچې ته وکړه چې بد خويې
ګبينه درڅخه شته دی چیچل مکړه
وممسك ته ووایه که ورکړه نه کړې
فقیرانو ته کنځل او رټل مکړه[۲]

حکمت

[۶۷]

هر مرد چې مروت نه لري زن دی، هر عابد چې طامع وي رهزن.

قطعه

وعالم ته دې ظاهر جامه ده سپینه
دعمل نامه لري واړه سیاه

۱- ز.
۲_ ز.

له دنيا نه لاس کوتاه که ميړه يې
که لستوڼي داوږده وي يا کوتاه

حکمت

[۶۸]

ددوه تنو به هرګز حسرت او ندامت له زړه لاړ نشي، يو سوداګر چې مال يې په ما ته بيړۍ کې په سيند دوب وي، دويم وارث چې د قلندرانو محبوب مرغوب وي.

قطعه

مکړه يا د قلندر سره ياري — کند د پهوړې کړه تياري
آشنايې دمهاوت سره نه بو يه — يادکور دروازه کړه ترهاتي لويه

حکمت

[۶۹]

سرو پاى د بادشاه اګر چې عزيز دي، خپله خيرې خيرې جامه ترې عزيز تره. چې وخورې دچا کره طعام الوان الوان، اګر چې عزيز وي دخپل کور سپوره روټۍ په خپل واړه دستر خوان خوړل لذيذ تر.

بيت

وچ ټوك خپل چې له سرکې وي يا تره
ښه تر برنج ددنيا داربريان بره

حکمت

[۷۰]

مخالف دعاقلا نو د فکر دی[۱] ،دارو په گمان خوړل، اولا ر لیدلی نه، په کاروان پسې تلل.[۲]

حکمت

[۷۱]

محمدغزالی چا وپوښتیده رحمة الله علیه،چې په دې مرتبه په څه ورسیدې؟ وې یې: هر علم چې مې نه زده و له پوښتنې مې یې ننگ نه کاوه.

قطعه

امید وار د بیمار هاله دصحت شی
چې طبیب و ته احوال درنخ ښکاره کا
چې دې نزده شرم مکړه له پښتنې
له پښتنې ننگ نا اهل هیڅ کاره کا

۱ــ خلاف رای صوابست و عکس رای ابو الالباب.
۲ـ۱ـحد کاروان رفتن.

حکمت

[۷۲]

هرچې پوهيږي چې خود به ښکاره شي په پوښتنه يې تعجيل مکوه.[۱]

قطعه

لقمان وليده په لاس کې د داود
په اعجاز يې آهن شه په لاس کې موم
هيڅ پوښتنه يې تر ي ونه کړه چې داڅه کړې
خود بخود يې شه احوال ورته معلوم

حکمت

[۷۳]

يو له لاژماتو دصحبت دادی چې حکايت مذکور په موافق طبع د مستمعانو کيږي.[۲]

قطعه

له هر چا سره چې کښينې په مجلس کې
دمجلس په موافق دې شي خبرې

۱ـح: که هيبت سلطنت را زيان دارد.
۲ـ که خانه بپردازی يا با خانه درسازی.

و مجنون ته د لیلې خبری بویه
که هر څو نورې خبرې وي نادرې

حکمت

[۷۴]

هرچې له بدانو سره کښيني که طبیعت اثر پرې ونه کا، په فعل ددوی متهم خوشي. لکه څوك خرابات لره دنمانځه دپاره ورشي منسوب شي په خمر خواري.

نظم

په خپل ځان دې ناداني وکښي رقم
چې دانا له نادانانو شي همدم
یاد لرم د دانایانو د خولې پند
هرگز مکړه له نادان سره پیوند (۱)

حکمت

[۷۵]

لم داوښ معلوم دی، که هلك يې تر مهار ونسي په سمه لارې بیایې، سل کروه به ورپسي متابعت کا، گردن پیچي به نه کا، اما که په بده لارې راولي چې موجب یې د هلاکت وي، مهار ترې وښکوي، اطاعت یې نه کا، چې په وقت ددرشتی نرمی مذموم ده.

۱ـح: که گر صاحب تمیزی، خو نمایی اگر نا دانی احمق تر نمایی

قطعه

په نرمی چې درته وايې خاك پاى شه دنيكانو
که درشت ستېزه‌رو د ى حكم مه ورہ دهغه
(په صيقل سره چې زنګ له تيغ نه ځي نور ضرور دی
چې سوهان ورته پيدا شي تراش يې وكاندي ډير ښه)(۱)

حكمت

[۷۶]

هر څوك چې دنورو په خبرو كې ګډ شي ، چې كه فضيلت مې ښكاره شي جهل يې معلوم شي.

قطعه

هرسړی چې دانشمند و هنر ور وي
جواب نه كا چې دبله كاندي سوال
چې يې نه پښتي ګډ ګډ شي په خبرو
حماقت يې دی تمام جهل كمال

حكمت

[۷۷]

اَعَزّ دخلق از روی ظاهر سړی دی، او اذل دموجودات سپی، په اتقاق د خرد مندانو سپی حق شناس بهتر دی، تر سړي ناسپاس.

(۱) ("سخن بلطف وكرم با درشت خوی مگوی - كه زنگ خورده نگردد بسوهن پاك")

قطعه

سپی هرګز نه وهیره وي د تا مړی
چې يې خوري د تا له لاسه ستا له څنګه
په محنت کې په راحت کې له تانه شي
که هرڅو يې په جفا ولې له سنګه
دبد ذات سره تمام عمر نیکي کړه
په لږ بد به عارونه کا ستا له جنګه

حکمت

[۷۸]

له نفس پرورده هنر پروري نشي او له بې هنره سروري.

نظم

رحم مکړه په هغه که هر څو خوار وي
پرورش چې تل دتن کاندي ډیر خوار وي
چې يې فکر همیشه څربښت دتن وي
خرغځکی دی که ددوست که ددشمن وي

حکمت

[۷۹]

په انجيل کې راغلي دي: اى دآدم زويه! که تو نګر دې کړم مشغول به شي په مال په دولت لما نه، که نيست ګار دې کړم تنګ دله شي پريشان، کله به دما عبادت کوې، په کوم وقت به حلاوت زما له ذکره مومي.

نظم

په نعمت متکبر مغرور غافل شي
په نکبت کې طاعت کړى نشي تنګدل شي
ته به کله دحق ذکر عبادت کړې
چې حاصل به و خپل ځان ته سعادت کړې

حکمت

[۸۰]

نيك بخت هغه دى چې په خپل ياد يې مشغول کړ، که په تخت وي که زمکه.(۱)

بيت

سليمان به په تخت ناست و د حق ذکر يې مونس و
که يې ځاى دماهي نس و هسې رنګ ذاکر يونس و

۱ـ ارادت بيچون را از تخت شاهى فرود آرد و ديګرى را درشکم ماهى نکو دارد.

حکمت

[۸۱]

که تیغ دقهر وکاږي انبیاء اولیاءبه واړه له هیبته سرونه کښته کا، که خپل لطف اظهار کا اشرار به واړه اخیار کا.(۱)

حکمت

[۸۲]

هرڅوك چې په تهذیب ددنیا لار بیا نه مومې په تعذیب دعقبی گرفتار شي، قوله تعالی:
وَلَنُذِيقَنَّهُمْ مِنَ الْعَذَابِ الْأَدْنَى دُونَ الْعَذَابِ الْأَكْبَرِ.

بیت

دبزرگانو اول پند بویه بیا بند　　　دا مثل دی و هر چاو ته څرگند

حکمت

[۸۳]

نیکبختان د گذشتگانو له حکایتونو له قصو پند اخلي، پخوا ترهغه چې نور ددوی له واقعې پند اخلي.(۲)

۱_ح:"گر به محشر خطاب قهر کند-انبیاٴرا چه جای معذرتست
پرده از روی لطف گو بردار - کا را امید مغفرت تست."
۲_ دزدان دست کوته نکنند　　تا دست شان کوته نکنند.

رباعي

هيڅ مرغه به ورنږدې نه شي و دام ته
چې دی وړاندی بل مرغه وويني بند
پند عبرت له نورو واخله که ميړه يې
چې لا نور عالم له تا نه واخلي پند.

حکمت

[۸۴]

چې غوږ و نه يې ارادت کاڼه کړل، کله به آرويدی شي چې په کمنديې دنيك بختۍ څکوې: څرنګ به نه وردورمي[۱].

رباعي

چا ته له تا ژاړم بې څوك زه لرم
زما هيڅ نشته ستا دي چې څه لرم
چې ته ورته لار ښيې هغه به ورك نه شي
زه ورك بې له تانه رهبر بل نه لرم

حکمت

[۸۵]

ګدای نيك بخت سرانجام بهتر دی تر بادشاه بد فرجام.

۱ـ ح: شب تاريک دوستان خدا / می بتابد چو روز رخشدند
اين سعادت بزرو باو نيست / تا نه بخشد خدای بخشنده

بيت

عاقبت يې چې ښادي په غم بدليږي
ځوك به څه له دې ښاديو خوشحاليږي

حکمت

[۸۶]

مزكې ته له آسمانه نثار كيږي، له ځمكې و آسمان ته غبار خيژي. كُلُّ اِنَاءٍ يَتَرَشَّحُ بِمَا فِيْهِ.

رباعي

اى چې ويل كړى و ما ته ښه نه يې
ښه چې زه بد يم ښه چې ته ښه يې
زه به هغه كړم لكه چې زه يم
ته هم هغه كړه لكه چې ته يې

حکمت

[۸۷]

حق تعالى د بنده عيبونه ويني ستا ري كا، خلق هېڅ نه ويني بهتان وايي، عمل شماري كا.(۱)

۱ـ ح: "نعوذبالله اگر خلق غيب دان بودى كسى بحال خود از دست كس نياسودى"

حکمت

[۸۸]

زرله کا نه په کان کندن راووځي، دبخیل له لاسه په ځان کندن.

قطعه

سفله نه خوري وایې زرساتلي ښه دي
وایي دا چې امید ښه دی له خوارکه
په صباح یې واغوندي سر و پایونه
نن پرې کا یوه زړه قبایې چا که

حکمت

[۸۹]

هرڅوك چې په زیر دستانو رحمت نه لري، په جور یې دزبردستانو گرفتار کا .

قطعه

نه هر څوك چې زور قوت لري دلیچو
رسوي و ضعیفا نو ته گزند
(چې بل څوك پرې زوره ورنه دي خالق دی
مخلوقات دي یو په بل باندې زورمند[۱]

۱ـ بردل گزندی که درمانی بجور زورمندی.

حکمت

[۹۰]

عاقل چې دچا تر میانه خلاف ووینې ترې وتښتي، ځان کناره کاه او چې صلح ووینې هورته سکونت اختیار کا، ځکه چې هورته سلامت په کناره کې دی او هلته حلا وت په ګډون کې.

حکمت

[۹۱]

اول څا چې[۱] ګوتی په لاس کړه جمشید و، چا ورته ووې: زینت لا یق دښې لاس و وکېڼ لاس ته تاولې ورکړو؟ جمشید ووې: ښي لاس ته دا زینت هم تمام دی چې ښي دی.

قطعه

فریدون وویل نقاشو ته دچین
چې چا پیره په خرګاو درج کا دا مقال
د بدانو سره ښه کوه هوښیاره!
نیکان خو د دي بزرګان په نیك افعال

۲ـ ح: علم به جامه کرد.

حکمت

[۹۲]

نصیحت ویل بادشاهانو ته هغه ته مسلم دی چې نه ویره دسرلري نه امید د زرو.

قطعه

موځد که یې په پښو کې توی کړي زر
یایې توره فولادي کیږدي په سر
امید ویره یې هرګز له چا نه نه شي
بنیاد دادی د توحید که له چا وشي

حکمت

[۹۳]

دهر چا غاښونه په ترشي پخیږي دقاضي په شیر ینۍ.

بیت

قاضي که له تا وخوري په رشوت سره بادرنګ
روا به درته باغ دخربوزو کا هغه درنګ

PROPERTY OF
14048

حکمت

[۹۴]

لولۍ چې زړه شي توبه کاله بدو کارونو، کوتوال چې معزول شي ترک کا مردم آزاري.

بیت

مردهغه چې په ځوانۍ کې توبه گار شي
له عصیانه نه زاړه خود بخود لاچار شي

حکمت

[۹۵]

یو حکیم چاو پوښتیدو چې دا هومره ونې دې نا مدارې دهېڅ ونی مې په آزاد نشته، مگر سرو ته آزاد ویل شي، باوجود چې میوه هم نه لري څه حکمت دی ؟ وې یې: هره ونه چې میوه داره وي په وقت دمیوي تازه وي چې میوه ترې لا ړه شي، پژمرده شي، مگر سرو چې میوه نه لري همیشه تازه ده.

قطعه

په هرڅیز چې بقا نه لري زړه مه ږده
ډیر شاهان ددجلې یاد دي دبغداد
که دې لاس رسي کرم لکه خرما کړه
یا له هر څه لکه سرو شه آزاد

PROPERTY OF ACKU

حکمت

[۹۶]

دوه کسه ومرل حسرت یې یوړو: یوهغه چې درلل یې نه یې خوړل، بل هغه چې پوهیدل نه یې کول.

قطعه

که عالم وي که فاضل وي چې بخیل وي
خلك واړه بد ګویي ځنې کوینه
دسخا څښتن که هر څو ګنهګار وي
واړه خلك یې عیبونه پټوینه

الحمدالله چې په تاریخ دڅلورویشتم درمضان دا کتاب چې موسوم په ګلدسته دګلستان دی په اتمام ورسیده .

قطعه

دا کتاب چې ګلدسته دګلستان دی
که دتاج که ددستار یې درته بویه
چې ګلونه یې لري په سر کې یبني
چې مجلس دمعطر وي له دې بویه

مننه او کوروداني!

داومر دموسسې له مشر ښاغلي الحاج فضل کريم عبدالرحيم زي ځخه چې ددې اثر د کمپوز په لګښت کې يې مرسته کړې.
دپښتو څېړنو دنړيوال مرکز له غړي ښاغلي محقق عبدالرحيم بختاني څخه چې ددې کتاب لومړني پروف يې لوستي دي.
دکابل مجلې له مرستيال ښاغلي عبداللطيف احمدي څخه چې په خپلو هنرمندانه ګوتو يې ددې کتاب د کمپوز او ډيزاين چارې سر ته رسولې، دزړه له کومې مننه کوو او کور وداني ورته وايو.

دپښتو څېړنو نړيوال مرکز
دتأليف او ترجمې څانګه

Gul Dasta

By

Abdul Qader Khan Khattak

(Pashtu Translation of Gulistan)

Academy of Sciences of Afghanistan
International Centre for Pashto Studies

Effort by:
Researcher Sayed Mahayuddin Hashami

Kabul -2004